# غزليات

بسم الله الرحمٰن الرحيم

## (الف)

صورتگر چه ښه صورت په ديوال ساز کا
کل عالم ئې په صفت زبان دراز کا

د هغه نقاش په صنع نظر نه کا
چه له څه څاڅکي نه دا نقش و طراز کا

سترگې ورځې پوزه نور کښيږدي په مخ کښ
غاښ و شونډې ژبه خوله سره پرداز کا

يو سر بل سر په سر جوړ کا دوه غوږونه
چې په دواړو اوريدنه د آواز کا

بند په بند د لاسو گوتې و بله کښيږدي
سر تر پايه درست صورت سره يو راز کا

که څوک زر کتابه وکښي له دې بابه
که په کښل شې زر به نور پسې آغاز کا

هر ويښته چې په صورت باندې ليده شې
که پر ځير شې د شناخت وَر به درته واز کا

خاص بنده د خداى هغه گڼه خوشحاله
چه د ځان په معرفت ئې سرفراز کا

اورنگزيب چه آرايش د تخت او تاج کا
تخت و تاج به ئې مرگئ تاخت و تاج کا

په جهان کښ به ئې پاتو ښه بد نوم شې
ده زده چارې د کسرى که د حجاج کا

زه غمجن په عيد په جشن خبر نه شوم
که درست خلق د دهلئ ابتهاج کا

اوبه سترگو لره لاړې اور د زړه شو
څوک به څرنگه ژوندون په دا مزاج کا

چه په رگ مې گټُي کښيږدي رنگ ئې زيړ شې
طبيبان مې به په څو د رنځ علاج کا

جدائي دِ ما په زړه کا هسې چارې
لکه باز ئې په تارو يا په دراج کا

دوه مين چه په هواد و بله بيل شې
خداى ئې څه شکل د تش سلام محتاج کا

څما اوښې د کوگل په جوش پيدا دي
لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا

هر ناوک چه د قضا له شسته خيژي
زمانه د خوشحال زړه ورته آماج کا

Ketabton.com

بازيگر چه د بازيو صندوق وا کا
په يوه زمان کښ څو بازئ برپا کا

نندارچي چه ورته گوري حيرانيږي
بازيگر چه په بازيو کښ بلا کا

عارفان د سر په سترگو گتُي کښيږدي
د خپل زړه په سترگو گوري تماشا کا

دا عالم لکه طفلان ورته ښکاريږي
د طفلانو په بازي پورې خندا کا

هميشه خوښي د چا ده، د هغه ده
چه په زړه کښ د دنيا چارې فنا کا

د هغه په وفا څه خوښي خوشحاله
چه وفا درسره کا بيا زر جفا کا

بيا رباب د مغني ښه سرايت کا
په نغمه کښ نوې نوې حکايت کا

شيخ دِ کنج د صومعې زه به گلگشت کړم
د بهارگلونه ما ته هدايت کا

گدايانو لره غم د گيډې ډير دی
بادشاهان دی غم د ملک و ولايت کا

د وفا مهر کرم به ئې لا څه وِي
په جفا کښ چه دا هونبره عنايت کا

په ماښي ئې هم خوشحال شم هم دلگير شم
لکه څوک چه له چا شکر و شکايت کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دِ ما د بخت اثر نه دی نو څه دی    له رقیبه چه شکوه پدا غایت کا
په داَ ښهر کښې څرګند شراب خرڅیږي    محتسب د باده نوشو رعایت کا
که د کښلیو[1] د دیدن مینه ګناه ده
سکه خوشحال خټک درست عمر جنایت کا

په هر ځای چه طمع خپل هنر څرګند کا    ډیر هوښیار ماهی مرغونه طمع بند کا
بادشاهي د بحر و برده که باور کړې    قناعت دِ که په خشک و تر خورسند کا
په هغه ځما سلام خرم دِ اوسی    چه د چا سره نه مهر نه پیوند کا
خلق واړه داند وه په دریاب ډوب دی    کله کله له دریابه سر بلند کا
درویش بحره خوښی غم د هغو دَی    چه په شمار د زرو ناست دی چون و چند کا
هوښیارانو څخه ډیری اندیښنی دِی    چه ملنګ د مسلې، هغه انند[2] کا
و نور چا وته به څه وته څه وایی
و خپل ځان وته خوشحال خټک دا پند کا

په عاشق باندی غوغا غماز پدول[3] کا    چه ګلونه پرې کوی اغزی قبول کا
ارسطو تر افلاتون ښه وُ سکندر ته    په جهان کښې هر څوک مینه پخپَل کول[4] کا
څو می زړه په بیغمیَ پسی درومی    هونبره نور تازه غمونه را وصول کا
دا تازه تازه مضمون چه په بیاض کښم    خبر نه یم چه له کومه را نزول کا
آشنایی لکه ښه تول[5] چه ورته اش[6] کړی    جدایی لکه ژلی ورانی د تول کا
یو ښکاره د قیامت علامت دا دی    په فاعل باندی چه اوس تیری مفعول کا
دریغه یَو هسی پیدا شی چه په عشق کښ    دا دِ ما لیونَی زړه څه خو معقول کا
زه د عشق په کنج توانګر یم که نور خلق    ټولوِل د زر و مال، متاع د پول کا
ځما دوې سترګی و لاری ته څلور شوې    که ښکاره د یار له لوریه خدای رسول کا
ګنُدی وی چه د وصال په خوښی خوښ شی
چه خوشحال په جدائی کښی ډیر نول[7] کا

په اختر په جمعه څه غرض زما    زه مجنون یم سر نیولَی په صحرا
هغه وخت د ما اختر د ما جمعه ده    چه دیدار راته ښکاره کا د لیلا
عاشقان د عشق له کاره انکار نه کا    فاسقان به پخپل زړه کښ لَرِی غلا
د یاریَ لایق نه دی رنګ ئې ورک شه    چه ئې نه وی په یاریَ کښ وفا
د رښتینی[8] یاریَ لافی ډیر عالم کا    ولی ما پکښ و نه لیدَل رشتیا

---

۱. ښکلیو.
۲. عیش.
۳. بیهوده.
٤. یا به مصدر وی په معنی د (کردن) یا به مخفف د کهول وی په معنا د کورنی.
۵. کښت.
٦. په پښتو کښ د تعجب او مسرت کلمه ده.
۷. غم، ویر.
۸. رښتنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هی توبه د عشق د پټو سرو لمبو نه
نه واښه نه ئی لرگی لگی په تا
په یرغ په مصلحت د عشق کار ندی
په لیدل په اورېدل شی را پیدا
نه په پنډ لویېږی له هر کانې بخرې
دی سوخته سره بکر[1] لَرِی سودا
دا رنگینی معنې چیری دی خوشحاله
چه را درومی لکه گل په بیاض ستا

تا وې چه غم مه کړه نور زه ستا یم ته ځما[2]
زه خو دِ ژوندی کړم که دروغ کړې که رشتیا
څه بلا زیبا ئې، بې نظیره محبوبا ئې
که دا عیب د نه وی په زړه سخته ئې بلا
که کل جهان خوبا شی په هر لوری محبوبا شی
عجب که لا پیدا شی یَوه تا غندی زیبا
په هونبره ډېر مقتولَ ته لا هیڅ نه ئې ملوله
که سل خونونه وکا د جلاد ترو څه پروا
چه گل غواړم له تا نه، ستا له باغه له بوستانه
که خس را عنایت کړې هم په گل نیولَی ما
څو زه بنده زنده یم، د هغو زلفو بنده یم
چه تل ئې سل سل زړونه په هر تار دی مبتلا
که لوی دی که هلک دی دواړه ستا په نعره[3] ورک دی
په ښهر کښې څوک نشته چه میَن نه دی په تا
د سبر ونه گوره په زمان شی نامنظوره
چه وخوځې په باغ کښې ته په دا قدر و بلا
نسیه جنت سبا دی، د زاهد دی د ملا دی
په لاس جنت موندلی نن خوشحال دی ستا لقا

تل که دادی د خوبیَ طمطراق ستا
نور دِ لاس له ځانه پری وینځی عشاق ستا
نن پدا دور هغه ښایسته ته ئې!
چه په هر لوری ثنا وائی آفاق ستا
دواړه شونډې دِ تریاق زلفی ښامار دی
جار وتلی دا ماران دی تر تریاق ستا
لږ شکیب ورته په مثل د لوی غره دی
په شکیب کښې به په څو پائی مشتاق ستا
د بازیو دِ موندلی یم غلوه می
د هلک غندی رشتیا گڼم مزاق ستا
ته خپل ځان لره مهمیز کړه څه پروا کړې
که قدم د چا په سر کښېږدی براق ستا
لکه تل وه همیشه په هغه شان دِی
هیڅ ملا مرشد بدل نکړ اخلاق ستا
لکه باد د صبا راشی گذر کا
ما خوشحال چه آزمیلی دَی میثاق ستا

تلم په خپله لار را سره مله شوه نگارا
شوخه غمزه گره خنده رویه خود آرا
رنگ ئې د سرِی وُ اما خوی د ښاپیریو
تن ئې لکه سیم وُ په زړه سخته سنگ خارا
راغللم په ښهر لاس په لاس شوه له ما ورکه
کوی په کوی جار وزم پسې غواړم بخارا
ډیری لری نخښی[4] د صورت د زیبایيَ
څخو درته وایم یو څو نخښی آشکارا
دنکه[5] تازه کنکه[6] قد عرعره مو کمره
ښه ئې ترگلونو د گلابو عذارا
غاښ ئې د گوهر په لب شکر ابرو کمانه
تور باڼو ناوک په دواړو سترگو خونخوارا

---

۱. بکرۍ.
۲. دا بدله په چاپی نسخه کښې نسته.
۳. په لوری.
٤. نښی.
٥. د سید راحت په لغاتو کښې ابتدا په ساکن او په گ دا کلمه په معنی د لوړ قد اوجگ راغلې ده.
٦. څربه پیغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوزه ئې غنچه وه د زنبق سيب سپينه زن ئې     مښک د مخ خالونه په مخ ښکلې مه پارا
هار د جواهرو دوه لړی د مرغلرو     تور وربل ؤ دلی الفی ئې عنبر سارا
واړه ئې د تن جامی گلگونی زرنگاری     درسته سره لمبه وه چا ليدله خدارا
بيا هسی مدد کړه چه خوشحال سره دِ تل کړ
بخته! د دې ورکی سراغ نخښنه[1] و مارا

ځان ئی سر تر پايه جوړ کړ بيا بلا کا     د زلفينو په هر وله د زړونو غلا کا
معشوقې ته چه ئې هونبره حسن ورکړ     دا په دا چه د عاشق خونه تالا کا
په هر ځای چه څو محبوبه[2] سره کښينی     هغه ځای می تر جنت ښايسته لا کا
دوه مين که سره هر څو، مرور وی     خپله مينه ئې بيا زر سره پخلا[3] کا
تور باڼو ئی تور توبری دی را څرخيږی     که را پورته محبوبا سترگی شهلا کا
څو د شاه په ښکلی مخ باندی خالونه     ما به هم په هونبره داغ مبتلا کا
همگی ئې ستا له مخه گفتگوی شِ     چه دردمن وبله ټول شی مشغولا کا
په خيرَ خير ئی مخ ته مه گوره خوشحاله
په خاطر به دی اور لمبې والا کا

څه عجب دلخوا دی دا صهبا     چه ساقی ئې راکوی په مرحبا
دَ غنچې خندا محاله په چمن ده     که نسيم پر گذر نه کړی هر سبا
مصلحت ئې د بلبل په کار کښ دا ؤ     چه صبا کړ دَ غنچې کميس قبا
دَ بلبلی قدر زده کړه اې گله!     که هر څو ئې په دا خپل حسن زيبا
چه علاج ئې وابسته پخپل مطلوب دی     د عاشق له رنځه څه زده اطبا
بې دَ يار دَ زيبا مخ گمان مکړه
چه خوشحال به په بل مخ شی شکيبا

چه يار مهر وفا نکاندی څوک څه کا     چه بی جور و جفا نکاندی څوک څه کا
دَ جهود به هم زړه سوی را باندی وشی     چه يار رحم په ما نکاندی څوک څه کا
ما وی زړه ئې گندی نرم په ژړا کړم     چه اثر پر ژړا نکاندی څوک څه کا
که وصال ئې په دنيا له عمره خوږ وی     چه تل عمر وفا نکاندی څوک څه کا
حال دِ هيڅ له ياره پټ نه دی خوشحاله
عنايت چه په تا کاندی څوک څه کا

چه په ما باندی ئې زړه سيځی تپاک کا[4]     الحذر چيری به ځان دَ اور خوراک کا
ما پخپله ملامت وته ځان ساز کړ     عالم عالم دی په ما سل ځله بلغاک کا
که دَ خضر په چشمه باندی می کور شی     دَ فراق اندوه به هور ته ما هلاک کا
چه بقا ئې په چمن کښ يوه ورځ وی     لاله ځکه دَ کميس گريبان چاک کا

---

١. نښه.

٢. محبوی.

٣. پخولا.

٤. دا بدله په چاپی نسخه کښ نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ اسمان له عاشقانو سره کست دی | هر زمان ئې په هجران سره غمناک کا
ترې به سل رنگه گلونه شگفته شی | هر سړی چه خاکساری واخلی ځان خاک کا
زه خوشحال په هغه چا پوری حیران یم
چه له یاره نه جدا شی په څو ژواک کا

چه دَ پلار سره دروغ نفاق خلاف کا | دَ نور چا سره به څه رنگه زړه صاف کا
گوره بیا ئې کوم دروغ نفاق په زړه دی | منافق پخپل گناه چه اعتراف کا
نه به زه د ناخلف گناه مراف کړم | نه به خدای د عزازیل گناه معاف کا
دا واړه غرونه لا هیڅ ندی راضی یم | که په میان کښې مو خدای غر دَ کوه قاف کا
حال[1] دَ خپل زوی ئې خپل پلار وته معلوم دی | څوک به څه لره دَ عاق راته اوصاف کا
نه به ده غندی دروغ دروغجن وائی | نه به ده غندی سړی مکر و گزاف کا
هم هزار رنگه دروغ خلاف په زړه کښې | هم هزار رنگه په خوله دَ صدق لاف کا
په ژوندون ئې دیدن مه وینم هاله هم | پسله مرگه که دَ مار د گور طواف کا
چه می هسی تربیت دَ نا خلف کړ | دا په دا چه دی له ما سره مصاف کا
په ژوندون په ئې ارمان وزی له دله
زمانه که دَ خوشحال سره انصاف کا

چه دنیا ورته ښکاره شوه بې وفا | و دنیا ته به مخ نکا بې قفا
دَ غرض یاری هیڅ یاری نه دی | که یاران دی خو اخوان دی دَ صفا
که کاته دی که لیده که اوریده دی | دا دَ ښو یارانو واړه دی شفا
چه په چا باندی مین شوې قبلوه ئې | سل نازونه سل ناسازی سل جفا
که په وصل کښې ئې هر ساعت یو کال شی | لا په دا د عاشق نه وی اکتفا
له ما خوار سره څو قاف[2] وهې وری کړې | جگی جگی څه خو لا وطی وفا[3]
دا بیدرد عالم پرې هیڅوک خبر نشو
و خوشحال ته ئې خوله ورکړه په اخفا

څوک چه مخ کا په مذهب دَ خپل مولا | دَ هغو په خدمت ودری دنیا
څوک چه مخ په لمو روان شې خو دی گوری | چه سایه ورپسې درومی په قفا
درویشان که اشارت وکا و غره ته | دَ غره کانې به هم شی لکه طلا چه کیمیا
کیمیا کیمیا یادیږی په جهان کښې | کیمیا څه ده ښه نظر دَ اولیا
که دَ تخت دپاسه ناست وی صاحبی کا | دَ درویش په زړه کښې هیڅ نه وی هوا
خیری زنگ ورځنی نن دی چا وللی | دَ درویش جامه له ځایه[4] ده صفا
مړه و ده وته ژوندی وی ژوندی مړه وی | دَ درویش هونبره قوت دی د دعا
مگر چیری دَ درویش په مهر یاد شی
چه خوشحال ئې کړ دا هسی بینوا

---

۱. ځان.

۲. ق،ه،ر: قهر.

۳. ل،ط،ف: لطف.

٤. ځانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه خپل خوی شی په جهان بد خواه دَ چا — دَ خپل خوی دی نه چه دی تباه د چا
من فلیل په یوه مچ سره بد بوی شی — بد دی نشی یو زمان همراه دَ چا
کاڼی لعل دَ بدخشان، گیا کیمیا ده — چه ئې نه بیژنې ته گناه دَ چا
چه بادشاه ئې ستمگر شی خلق خوار شی — خدای دی نکا ستمگر بادشاه دَ چا
زه که سل حیله وفا کړم یار جفا کا — بخت دی نشی په دنیا سیاه دَ چا
دَ جمشید او دَ سکندر فلک پرې نښوې — پرې به نږدی همیشه کلاه دَ چا
دا دنیا لکه لولیِ ده خوشحاله!
که ئې گورې گاه دَ چا شی گاه دَ چا

جار تر هغه مخ شم چه به ما په ځان مین کا[1] — سحر دی که دم دی که څه نوری فتنې فن کا
زړه بویه چه خوی ئې دَ بورا یا د بلبل وی — درومی کرزی غواړی خو په گل باندی وطن کا
وسیځی په اور کښ پتنگ، هو چه پتنگ نه وی — وتښتی له اوره ځان پخپله دروغجن کا
ډیر په باغ کښ گډ شی څوک خالی وزی له باغه — څوک ئې میوه وخوری په گلونو ډک دامن کا
ما ئې چه مزه د خوږو شنډو ده موندلی — ناست وم که ولاړ وم زړه می هرکله من من[2] کا
خیال ئې دَ زلفینو لکه غل دَ خپلی خونی — هر کالی لیدلی فراغت ئې دزدیدن کا
سترگو ته ئې وگوره څه ښې توری زلفی — څړ په سنبل زار کښ دوه هوسیه دَ ختن کا
هر چرته چه گرزی لکه سرو سمه درومی — هر چرته چه کښینی هغه ځای لکه گلشن کا
تن ئې آزاریږی په کمیس دَ سری[3] صافو
گل دَ چنبی بویه چه خوشحال ئې اغوستن کا

چه می ولیدې دا توری سترگی ستا — زه به نکړمه هیر نوری[4] سترگی ستا
یا دَ باز یا دَ طاوس یا دَ شاهین دی — یا دَ تور هوسیِ که گوری سترگی ستا
لکه وژغوری کبلی په مرغزار کښ — دَ خواره وربل تر سیوری سترگی ستا
لکه پټ سپاره دَ جنگ نیزه په غاړه — دا اوږده باڼو پرې پوری سترگی ستا
چه دی هسی و هر در وته ولاړ کړ — دَ عاشق دی اور په کوری سترگی ستا
لکه څوک په میو مست شی هسی شم — زه چه ووینم میخوری سترگی ستا
که شیخان که زاهدان که عابدان دی — دَ هر چا د زړونو چوری[5] سترگی ستا
چه دی غوښت هغه دیدن دی ورته گوره
که خوشحال ندی[6] کوری سترگی ستا

چه می ښکته پورته اوښکی تگ و پو کا — دَ خپل یار په طلب گرځی جستجو کا
زه په دا طمع دَ شاه دِ سپیو مل شوم — گوندی ما دَ خپلو سپیو سره تو کا

---

۱. دا بدله په چاپی نسخه کښ نسته.
۲. د اغزو خواره.
۳. یو ډول کالی.
٤. نور هیری.
٥. غلې.
٦. نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر چه ستا په کښلیِ مخ باندی مین دی
هغه درسته شپه له ما همه گفتگو کا
که زه ورو وایم خبری گرم می مه کړه
ځایگی ویشتلی تل خبری ورو کا
ستا له غمه چه و چا وته ویل کړم
لا می حرف ویلی نه وی چی هو هو کا
په هر ځای چی درې څلور و بله ناست وی
چی پرې غوږ باسم خبری دَ مهر کا
پادشاهان یې ارزومند دَ نندارې دی
گدایان به ئې دَ خولې طمع په سو کا
دَ گلونو دور تل نه وی خوشحاله!
ښایسته به په خپل حسن کبر څو کا

حقیقت راته معلوم شو دَ هر چا
باور نشته په آشنا په نا آشنا
چه په سر دی سوگند خوری ور ځنی ډار کړه
یوه ورځ به ستا دَ سر وکا سودا
دَ هر چا نه چه دی طمع دَ وفا وی
هم هغه درته ښکاره شی بې وفا
یا څو وُ دا جهان واړه بې وفا وُ
یا دِ ما په دور ډیره شوه جفا
آدمیت له آدمیانو نه خدای واخیست
تر دوه پایو نه بهتر وینم چارپا
که هندو که مسلمان که بل فریق دی
په هیچا کښې به بیا نه مومې رشتیا
نه دَ دین دَ چاری شناخت مهر و وفا شته
نه په شرم ننگ څوک ښږ دې د دنیا
دَ تقلید رسم عادت یاری خپلوی کا
دَ هر چا نظر پخپله مدعا
همگی واړه یاران دَ خپل مطلب دی
بیهوده ناز و منت کاندی په تا
مخامخ دِ په ثنا په صفت سر شی
سل بلا درباندی وایی پسی شا
دَ دو دام ترې سرېونه بهتر دی
اې خوشحاله ځه له ښهره په صحرا

خدای دی مخ د هیڅ غافل را ښکاره نکا
دَ غافل سره دی ما آواره نکا
په هر لوری نوبهار دی غوړیدلی
سترگی وخوره چه به دا ننداره نکا
هغه څوک چه دَ الفت په توری پوه شو
نور په خوله دَ نورو توریو شماره نکا
هغه څوک دی چه په حال ځما خبر شِي
چه گریوان به تر لمنۍ پاره نکا
په یوه نظر ئې هر څه له ما یووړه
چه هیڅ نشته نور نظر دوباره نکا
دَ چارپایو په حساب دی سړی ندی
چه په ساز د سوختگانو ناره نکا
طبیبان دَ رنځ و هر لوری ته ډیر دی
رنځوران ولی دَ وخته چاره نکا
دَ تقوی غلیمی دف کښیږده له لاسه
په ډهلی ښهر کښې څوک نقاره نکا
واړه ستا دا توری سترگی خوشحال وژنی
دا قتلونه څه طالع ستاره نکا

خدای چه تار په تار یاران بیا سره ټول کا
توری خاوری به په سر د رنتبول کا
دَجهان غمونه یو سر، ځما بل سر
که سړی ئې دَ باور په تله تول کا
نه می یار نه می غمخوار شته په دا غم کښې
لکه بې اوبو څوک بند په گرم چول کا
که په پوهه کښې دانا دَ زمانې ویې
دَ زړه غم ئې تر هلکو کچوکول[۱] کا
چه ئې ډول واهه ځما په دلگیرۍ
اوس دی ترپه[۲] نڅا هم په دغه ډول کا
چه مستان دَ یوه جام دی غم ئې نشته
که ئې هر څو زمانه په لاس کچکول کا

---

۱. په قلمی نسخه کښې یوه محشی "نادان" ورته کښلی دی.

۲. ترپی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ پساله صفت ئې شِی د رنگ ئې نشِی　　ځوک چه پوری په بدرنگی ناوی پسول کا
که د اسپنو کلا وی چه بخت یار شی　　خاوند خدای به ئې آسانه لکه شپول کا
چه گلونه دَ بهار واړه تمام شی　　دَ زړه سود شیدا بلبله په خټول[۱] کا
خال ئې مست خونی هاطی دی سنبال کړی　　چه ښکاره شی شا به ورته دِ غم غول[۲] کا
دَ خوشحال دِ رنځ علاج په یوه خدای شی
چه له درده سره تل ښوری آشول[۳] کا

خپل عمل چه سړی سپک کا　　لکه خس هسی ئې ورک کا
بد عمل لیونَی سپَی دَی　　چه حملې پخپل کنډک کا
مگر نه گوری و ځان ته　　چه احوال پیغور دَ پک کا
مزری ښکار کا د گاوزو　　پیشو گرزی ښکار مبږک[٤] کا
دا خبره ده که کښېږی　　که کیسه د دو تک کا
چتَی[٥] باز په پرونو نشو　　که الوزی پر پرک کا
چه بیزو د بازیگر شو　　نن څه ناسته په انډک[٦] کا
ځما ژبه نده اور ده　　گذارونه دَ توپک کا
چه ځما اختیار ئې خور کړ　　خدای دی خوار هغه ختک کا
خوشحال ناست په بَرموَل دی
ارمانؤنه دَ اټک کا

د دنیا یاران په خوی دِی د دنیا　　بی وفا لکه ئی مخ هسی ئی شا
که د دین دپاره تا سره یاری کا　　له هغو غواړه که غواړی څه وفا
د دنیا ښادئ غمونه سره گډ دِی　　په خندا خندا دِ ژړ کا په ژړا
چه فتنې ترې پیدا کښېږی واړه نفس دی　　نفسانی یاران به نه وی بې بلا
اولیاء دَ اولیاء سَرَه بد نه وِی　　دا پدا چه ئی د نفس نشته هوا
په دنیا د بادشاهانو سره ضد دی　　امرا سره دښمن وی امرا
یا په نه یاری کښې سود دَی که پوهیږی　　یا په نه وَیَل کښې سود دَی د دانا
بیا هاله د بل جفا وته نظر کړه　　که ته نه وینې په ځان کښې هیڅ جفا
لکه تا سره ځوک څه کاندی خوشحاله
ته هم هسی زیست روزگار کړه له هر چا

---

۱. یو خودرویه گل دی.

۲. په قلمی نسخه کښې محشی (فوج) ورته کښلی دی، ممکنه ده چه دا د پښتو یو ورک لغت وی، په قندهار کښې داسی ویل کیږی (غولئ غولئ خلق راغله) ممکنه ده چه د دې دوو کلمو اصل یو وی یعنی فوج فوج.

۳. په قلمی نسخه کښې محشی آه و فریاد ورته کښلی دی، ما تر اوسه دا لغت ندی اوریدلی.

٤. ښکار د مبږک.

۵. یعنی شب پرک.

٦. پر یوه انډی ناسته د تکبر علامه ده محاورتاً.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرغه ئې که وزر شته الوته کا — څه په دور لکه باز هسی خاته کا؟
که مته[1] غندی تیره لری مېرک داړه — څه مته غندی ګزار وَته واته کا؟
په ارمان دَ دیدن مرم پری سلام دی — چه ځیر ځیر می دَ یار مخ وته کاته کا
ښایسته په جهان ډیر دِی ښه هغه دی — په ښه خوی چه د عاشق د زړه ساته کا
لکه سترګی تصویری ځنبل می نه وی — چه می سترګی ښه جمال وته کاته کا
څه خوښی ئې پکښی ېښی دِی پوهېږې — هر نفس چه دِ واته ننواته کا
په هر څه کښ ئې لذت فرحت راحت دی — لکه ساه چه وَاته ننواته کا

که په تن خوشحال ختک دَی ځنی لری
د ده زړه د یار په کوی کښ جار واته کا

د عشق په بادیه کښ مېرده ګام د تمنا[2] — هغه څه عاشق ندَی چه وړی نام د تمنا
زار[3] ځما د زړه دَی، زار ځما دَی په دا کار کښ — که دا طور به تل درومی ایام د تمنا
مرم دَ یار له شوقه سره دواړه نه جوړیږی — آغاز د یار د وصل او انجام د تمنا
څه شوه هغه مینه چه د سترګو په کاته کښ — ښو به ئې را واستاوه[4] پیغام د تمنا

قدم زده د هغه عاشق په پله باندی خوشحاله
چه کام ئې خپل موندلیَ په هنګام د تمنا

دنیایی یاران چه طمعَ د دنیا کا — عاقبت په یوه طمع ځان جدا کا
دیدنی یاران په کار دِی په دنیا کښ — چه یاریَ د دیدن په تمنا کا
د ګونګټ مینه په غُل په غوښایه دَه — خاصګی مینه په ګل باندی بورا کا
که پخپله رضا درومی چاره نشته — که ځما په رضا درومی خوله به را کا
په بار بار د هغه یار منت را باندی — چه پلَو په مخ نیولَی مخ ئې وا کا
سل رحمت د عاشقانو په همت شه — چه په طمعَ دَ دیدن د سر سودا کا

په رقیب به ئې بې تیغه مرګ روا شی
که دلبره د خوشحال مقصود روا کا

دروغ دروغ وعده چه دل سنګین سره پیوند کا[5] — عاشق له ډیره خیاله ځان پروین سره پیوند کا
بلا کاندی خوله وازه د فتنو آتش تازه شِی — چه نازو جلوه دواړه نازنین سره پیوند کا
آزاد تر سینه درومی د ځګر دنَنه کښیني — چه غشی لینده دواړه مه جبین سره پیوند کا
که نور مهر دِ نشته څه خو کړه د حال پوښتنه — چه تا په زړه ویشتلَی سر بالین سره پیوند کا
څه زه څه می مجال دَی، چه دِ وصل غواړم دریغه — که ځېرَه توره شړیَ ځوک وریښمین سره پیوند کا

که ځان غواړې خوشحاله له چشمانُو ئې حذر کړه
خپل ځان وژنی تځری[6] چه شاهین سره پیوند کا

---

١. محشی په خربشوی ترجمه کړَی دَی، ما ته د دې کلمې حقیقت نسو ښکاره.
٢. دا بدله په چاپی نسخه کښ نسته.
٣. د راز بله املا ځار دی په معنی د ایثار او قربانیدو، مګر دلته دغه کلمه معنی نه ښندی، ښائی کاتب به غلط سوی وی، دلته د زار پر ځای زیار یعنی زحمت ښه ور سره لګیږی.
٤. را ستاوه
٥. دا بدله په چاپی نسخه کښ نسته.
٦. بله املا د دې کلمې تنزرَی دی په معنی د تیهو او کبک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی دِ توری سترگی لکه دوې توری بلا / دوې دِ توری ورځې لکه دوې توری تر ملا
بیا دِ تور باڼو د دواړُو سترگو کربلا [1] / بیا دی توری زلفی تر ښامارونه بلا
له هسی رنگه حاله، راته ووایه اصلا / د هغو به څه احوال شِي چه په تا وِی مبتلا
عاشقان دِ واړه سر کړل همیشه په واویلا / چه هسی رنگ ستم به په هیچا نه وی اصلا
د خاطر بخچه می هسی تا خالی کړله تالا / لکه غل د خپلی خونی همیش روږ دیی په غلا
نه به بل څه وکی نه به کاندِی نور املا
دا بنده خوشحال او ستا له عشقه مشغولا

د خوبیَ نوم دِ ولاړ د بد خو هم لا / پخپل کلی په اولس په هر سو هم لا'
ته چه هسی په دا خپل جمال نازیږې / گله ستا به دا جمال نه وی بو هم لا
چه بد مست شِي په مجلس کښ هغه نه یم / که کښُو د میو تش کړم سبو هم لا
ستا له جوره له ستمه هورته لاړی / هغه ځای چه آدم نه وی آهو هم لا
د نماستی په وخت ئې واکړه آزار مه شه / د وربل غوټې کوڅې د گیسو هم لا
د خوشحال خټک دپاره چه میخور شو
په مغان می وښی کښیښوول باهو [2] هم لا

دوه زړونه چه یو شی غر به هم پاره کا / ځار تر یگانگی چه نعمتونه را ښکاره کا
توری زلفی بویه خط و خال زر و زیور هم / مخ چه ښایسته وی خلقه ئې ننداره کا
ځوک چه په اخلاص و بله مین شِي په دنیا کښ / زر سازی ناسازی په دنیا کښ آواره کا
خلق په شیطان باندی لعنت لرینه / چاری په سرِیُو واړَه نفس اماره کا
سل رنگه غمؤنه لور په لور د نفس له لاسه / دوه سوه د حرص له مخه نور را اجازه کا
چه ویش وی د شکرو ډیر عالم ورباندی ټول شِي / چه واخلی خپلی بخری نور ځانونه کناره کا
خوبی د خپلی چاری ځوک په مټ په کوښښ غواړی / ځوک خپل کارُونه واړه حواله په ستاره کا
ځار تر یکرنگی چه زړه ئې یَو یو ئې اقرار وی / هر چه دو زبان وی خپل غمونه دوباره کا
هر ځوک دِ دعا کاندِی چه حاجت ئې چا ته نه وِی / ولی بادشاه نه وِی چه حاجت ئې بیچاره کا
گل و سرِی ورکړه چه خوشحال په یوه گل شِي
خره غوایه نظر کله د گل په پشتاره کا

د بی ننگو پښتنو له غمَ ما / لوئی پریښوه ونیو له کمَ ما
دا هم ښه که پدا کار کښ هونبره کار وی / چه که واخیست انتقام له گرمَ ما
چه د ننگ گوهر می مات شو دواړه سترگی / په ژړا کړې یو دم بې نمَ ما
هغه دُر می په لاس نه راغی [3] بیږیه! / استاده کړه په ساحل له یمَ ما
هغه ملا مِی چه په هوډ سره لوی غر ده / په ناکام کړه و مغل ته خمَ ما
هم د بخت و ما ته شا شوه هم د خلقو / په مغل کړ ځکه مخ له همَ ما
که می لاس وَی په رضا می به کښې نښول / د مغل په لوری دوه قدمَ ما

---

١. تر دې کلمه لاندی محشی (لویه بلا) لیکلې ده، ممکنه ده چه مخفف د (کره بلا) وی، یعنی خاصه او خالصه.

٢. بله املا ئې (باؤ) دی، په معنی د بنگړی چه د ښځو یو پسول دی.

٣. نه راځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو د خولې کړې خبرې اَروم — چه خبره ورته نکړه سمَ ما
دم دَ خپلو دَ پردیو را معلوم شو — که هر څو ساته خپل ځان له دمَ ما
په هغو لویو خبرو شرمسار یَم — چه هر چا وته ایستې له فمَ ما
سل غندنې پیغورُونه را دو څار شول — چه به ځان ساته همیش له ذمَ ما
دا الم می هیڅ الم سَره سَم نه دَی — که لیدلي دی هزار المَ ما
مگر بخت را سره بیا مدد آغاز کا — چه فارغ کا دَ اندوه له سمَ ما
هاتی ځکه په سر لَوَنی دا خاوری
چه خبر کړ دَ خوشحال له غمَ ما

راته څه وائې چه یيار در سره څه کا — که وفا کا، که جفا کا واړه ښه کا
دا تَل دود د ښایسته وو، دَ یاریٔ دی — چه یک لخته دَ زړه مهر په چا نه کا
سل بلا ئې قبلوه ور پسی درومه — ښایسته دَ جهان کل واړه خپل زړه کا
چه د کبر خیال دماغ وته ئې گورم — اندیښنې می ویښ بیدار ورته اوده کا
که په نه عمر ئې نه گڼم زه خوار شم — هغه عمر چه جدا له یاره تله کا
تیره چار به د هیچا په لاس را نشی — که په ډیره ژړا سره دواړه لیمه کا
د بتانو په دیدن د زړه نشاط شی — کله باغ پانی گلونه په اُوبه کا
په درتللو ئې شرې په تلو ئې بولې
چه ئې نه پریبږدې په هیڅ کښ خوشحال څه کا

راشه وگوره نن دا طراز ځما — حقیقت سَرَه قرین مجاز ځما
درست عالم ئې په بازار په کوڅه وایی — لا و چا ته ښکاره ندی راز ځما
د نیازمنو عمر غواړم په دا څه شی — که بی نیاز وگړی نه وړی نیاز ځما
د عمزې په تیغ می وژنه صرفه مه کړه — څوک به نه غواړی لتانه ساز ځما
د مسجد محراب د چا دَی د عابد دَی — په محراب ئې د ابرو نماز ځما
ښایسته د بڼ طاوس ور لره بویه — دا واړَه ښکارونه نه کا باز ځما
چه په خوږو زړونو بلوسی سزا مومی — ښه چه خوار شو پدنیا غماز ځما
ته په ما باندی تل ناز کړه معشوقه ئې
زه خوشحال ختک عاشق یم نیاز ځما

زړه چه نه وِی مبتلا — پرې دِ سازه شی بلا
تر عاشق دِ صدقه شِی — که زاهد دَی که ملا
عاشق هر زمان غزا کا — په تیره توره دَ لا[1]
که عاشق د یار په تیغ مری — پری منت دَی د یار لا
زاهد خوښ کنج د خلوت کړ — عاشق خوښ دَ یار بالا
گل د عشق دَی غوړیدلی — و عاشق ته دَه صلا
د ادنیٰ چاری ادنیٰ وی — د اعلا چاری اعلا
که شیخی زاهدی غواړې — پخپل لاس کښ ده لالا

---

۱. نفی له غیره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکیور[1] دستار په سر کړه سر وهه په مصلا
یا مسواک کښېږده په سر کښ یا ئې و ټونبه تر ملا
په تسبیح خوځوه شُونډې نور ټګی کوې که غلا
مرد هغه ګڼه خوشحاله
چه ئې کیږی مشغولا

زه تا پیژنم هوا واړه تا کړم[2] سر هوا
چه همیش ئې په عالم کا د جهان ګوره غلوا
په نوا ئې بې نوا کړل بې نوا شول په نوا
د هر رنځ دارو موندل شی د بد خوی نشته دوا
عاشقۍ ځنی په ګور کړل څوک پراته دِی په زګروا
چه می وینی د کوګل خورې وینې کله دِی روا
د چمن ګلونه وا شول
د خوشحال نه شو زړه[3] وا

زاهدان چه د رندانو تَل پیغور کا که توانیږی ازلی قسمت دِ نور کا
ښه چه سپین د زهد لیری له ما ګرزی چه و تورو ته نزدې شِی سپین هم تور کا
که رشتیا وایم وَیل ئې په ما اور دِی څوک چه ما سره بې عشقه بل بیور[4] کا
که په خوله مُهر وهلی د عاشق دَی په سینه کښ ئې زړه وګوره څه شور کا
د لیلی نه نوریده د مجنون مینه چه می زړه له یاره نیسِی خلق زور کا
نازنینی د دې ښهر واړه بویه چه نن ناز و غمزه ستا له سترګو پور کا
ځما یار په هر محفل باندی چه راشی په ښایست د ښایسته وُو بازار خور کا
یو زمان د زړه خوښی په لاله زار کښ دا فلک ئې بل زمان را باندِی اور کا
چه دیدن د مین نه وی زه ئې څه کړم که ګلونه شګفتن راته هر لور کا
تیر یاران به نور و نه وینی په سترګو
که خوشحال ورپسی دوه سترګی څلور کا

سور پیزوان دِ په زرګر نَوی سواریا[5] بیا دَ زړونو آزار آخلې پاریا پاریا
په خاوند می دِ سوګند وِی باور وکړه چه هیڅ دم می له خاطر نه ئې وساریا
زه هر ګوره دماغی په ځان غره وم ولی ستا سترګو ځما دماغ اوتاریا
د چړې د کټارې حاجت هیڅ نشته د ښو په غشیو تا بیچاره ماریا

---

١. دا کلمه په هره نسخه کښ په جلا املا لیکل سوې ده، په یوه نسخه کښ (لکور) په بله کښ (لکیور) په بله کښ (لکه یور) کښلې ده، په یوه نسخه کښ محشی (شمله) هم ورته لیکلې ده. ممکنه ده دا د کاتب غلطی وی او په اصل کښ (لکۍ ور) وی.

٢. واړه تا کړمه رسوا.

٣. زړه نه شو وا.

٤. تر دی کلمی لاندی محشی (مشغولا) ترجمه کښلې ده، د سید راحت په لغاتو کښ بیوره په معنی د ښکاره، او ظاهر او روښان کښل سوی دی.

٥. په دې بدله کښ د بیتو وروستنی کلمات ټوله هندی دی چه د لمړی بیت د لمړی مصراع د اخیری کلمی اصل نسو را معلوم، د دغه بیت پاریا په معنا د کناره ګیری او د دوهم بیت آخر په معنا د فراموشی او دریم بیت په معنا د کښته اچولو او څلورم په معنا د ویشتلو دی، په څلورم بیت کښ د کټارې کلمه په معنا د خنجر ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله ئې له حاله خبر آخله
بیچاره خوشحال خپل زړه در پسی هاریا[1]

ښه سړی د چا په بدو نظر نه کا / که څوک بد ورسره کاندې دُوی به ښه کا
په بارداره ونه تل وریږی کاڼی / ورته گوره چه بارداره ونه څه کا؟
د جهان کینې غصې واړه تر شا کا / که سړی په وخت د قهر مرگ تر زړه کا
دا پدا چه خودبینی ور څخه نشته / د جهان نندارې ځکه دوه لیمه کا
په کینه په حسد هیڅ د چا و نه شې / هر سړی چه حسد کاندی ځان اوبه کا
نصیحت د نیکو ښه دَی نه د بدو / کم بدبختان به بد فعلی د چا په خوله کا
و سړی ته ئې اختیار ورکړ هوښیاره / گه په هره چارکښ خدای واړه خپل کړه کا
ورځ او شپه په لار روانی قافلې دې / نیک او بد د قافلې په لاری تله کا
یک تنها په لاری تله[2] نه ده خوشحاله
په دا هسی لار څوک څه د لاری مله کا

که بی نمازه د قیامت په ورځ ممتاز کا / و جنت ته ئې روان په ډېر اعزاز کا
نمازگذارو ته ئې هسی حکم وشی / چه فرښتې ئې د دوږخ په اورگذار کا
اولیا او انبیا به هیڅوک نه وی / چه تر شونډو به بیرون نری آواز کا
تر عاصی نه لا بتر هغه عابد دی / چه په خپل طاعت به عُجب یا به ناز کا
دا ځای کار د هیڅ طاعت ندی خوشحاله
گوره څوک به پخپل فضل سر افراز کا

که یَو ځل دِ د وصاله بهره مند کا / په هر دود به دِ خرم خوشحال خورسند کا
په زمان به دِ پیوند له هر چا پرې کا / که محبوبه د دِ ځان سره پیوند کا
نوې میاشت به دِ په مخ گوری وگړی / که په مخ باندی دِ جوړ سم د سمند کا
زه به ځان لکه پتنگ ترې صدقه کړم / که له ورایه د دیدن مشغل څرگند کا
مبتلا خاطر می مری د یار له لاسه / بیا له مینی هم د یار په سر سوگند کا
چه له سوزه له گدازه ئې حذر شې / زمانه به ئې گلاب نه به ئې قند کا
د هر چا قدر قیمت پخپل هنر وِی / د گنی قدر څرگند د گنی خوند کا
چه د عشق د لیونیو په حلقه شې / کله وی چه هغه غوږ د چا په پند کا
د جاهل سره گلگښت لکه دوږخ دی / له دانا سَرَه راضی یم که می بند کا
که د خپلو سپیو نوم ورباندی کښیږدی
خوار خوشحال به په عالم کښ سر بلند کا

که دِ زړه لری بها[3] / ځان به نه کړې کم بها

---

۱. بایلو.

۲. تلنه.

۳. لمړیٰ بها په معنا د روښوالی او دوهمه په معنا د پلور ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وې څه به شې خبر شه      ابتدا په انتها
چه به کانده[1] تنها کیږې      خو لا نن ښه ئې تنها
چه ئې نور له تا آخلی      پخپل لاس ئې کړه رها
ته خبر نه ئې له ځانه      چه په تا کیبری څه، ها[2]
درته وایم نه پوهیږې      څه غفلت لری هاها
بل مخ مه گوره خوشحاله
مخامخ شه په شها[3]

له دلبری نه می خوله غوښته اما      ډکه خوله ئې راته دا ووې "له ما"؟
د ماښی په وخت ئې تل هسی خواب ؤ      گوره بیا ئې په څه زړه بد دَی له ما
هسی یار سره څوک څه لره یاری کا      چه له کبره ئې نظر وِی په سما
زه به هیڅکله له عشقه نه وا نوړم      پندگویانو خپل پند وساتی شما
څه خبر یې چه اول په عشق کښ څه ځی      په اول وصلت[4] ئې ځی د سترگو ما
د چا زړه لکه کابل د چا بگرام دی      د یوه نصیب ساړه د بل گرما
که جمال راته ښکاره کا زه به ورکړم      دا گټلې دنیا واړه رونما
زه وشحال چه ستا په مخ باندی مین شوم[5]
پاسایی غواړې له ما نه صنما؟

نو بهار شو بیا نرگس په باغ مستی کا      چه صبا می په سنبل دراز دستی کا
په پنځه ورځی کښ گل د باغ تازه وی      په شپږمه ورځ فنا خپله هستی کا
مبتلا بلبله سر د گل په پښو ږدِی      لکه برهمن دَ بت بت پرستی کا
تواضع زده کړه په تن له سرو ونی      چه په هسی بلندی[6] کښ پسی کا
کرلاښی لا نور شراب نوشلی ندی
دا مستی واړه په جام الستی کا

نادیده په نادانیِ څه بلا کا      الف بې ئې لوستی نه وی ځان ملا کا
روستایی تر دښته نه وِی رسیدلی      بیهوده وَیَل دَ دښت کربلا کا
وکافرو[7] ته روغ کړی د دین توره      مسلمان ته ئې مشرک سړی تر ملا کا
و دانا وته بلا شوه خپله پوهه      چه ئې تل په سل غمونو مبتلا کا
دا همه د بد خوییِ علامت دی      چه سړَی زنا خونونه، ټگی غلا کا
په جهان کښ چه خویونه د بدیَ دِی      یو دروغ تر زرو بدو تیرَی لا کا

---

۱. ښایی چه دلته د کاتب غلطی وی او اصلی ئې دا وی (چه په کانده تنها کیږې).
۲. "ها: د افسوس کلمه ده که یو ځای (چها) وویل شی، هم صحیح دی.
۳. شها یا شهی په ښنتو کښ لکه لیلا د معشوقو عام نوم دی.
٤. یا به وهلت وی یعنی پلا، په بله نسخه کښ رحلت هم راغلی دی.
٥. یم.
٦. چه په هسی بلندی کښ ئې پستی کا.
٧. په بله نسخه کښ داسی دی "وکافر ته روغه کړې د دین توره".

(c) ketabton.com: The Digital Library

عطارد[1] دِ نور قلم له لاسه کښېبږدی　　چه په دا خوبی بهرام انشا املا کا
دا خبری د خوشحال و چا ته نه دی
خو هم دَی له خپله ځانه مشغولا کا

واړه مست شه بد ویل کا　　و سړیو ته ښکنځل کا
سل بلا تر خوله وباسی　　په تیره توره ورژل[2] کا
چه خپل زړه و چا ته ورکړی　　هغه چاری په تاتل کا
زه به څه ماڼه له چا کړم　　په ما دا چاری زړه خپل کا
ځان به واچوم و سیند ته　　څک به دا هونبره زغمل کا
ده پخپله دا فتنې زده　　که بد خواه ورته ښیل کا
نه ئې ویره د آزاد شی　　نه می رحم په ژړل کا
چرته ځم په چا فریاد کړم　　څوک به داد ځما دَ دل کا
بل تاراج نشته خوشحاله
واړه عشق دَی چه نتل کا

هر بیمار چه د[3] طبیب سره شدت کا　　که ئې گور و خپل ځان وته آفت کا
د ماهی ژوندون دریاب دَی که ترې ووت　　په خشکی کښې به دَی کله فراغت کا
ساپیرک چه له آفتابه نه پټیږی　　د افتاب د کومی چاری خسارت کا
و مهتاب وته د سپیو غپا کیږی　　په غپا غپا ځان هسی فضیحت کا
د گونگټې[4] د گل د بویه نه بلا ده　　ژواک ژوندون واړه په بوی د نجاست کا
انبیاء چه کافرانو وته بد شول　　واړه چاری د شیطان په مصلحت کا
خوار هغه چه د غلیم په نغوته[5] درومی　　مدعی غلیم د نیکو نصیحت کا
یو د رود په غاړه تږی تشنه لب مری[6]　　هر خسیس په خساست کښې خپل عادت کا
د فرقان په هدایت فاروق پوهیږی　　نه بو جهل بو لهب ته هدایت کا
طهارت د مسلمان کیږی خوشحاله
نه اودس غسل د کبر طهارت کا

یار په څه بې وفائی کا　　چه بی جرمه جدائی کا
لکه شمعه له ما درومی　　په بل ځای به روښنائی کا
عاشقی دِ هغه کاندی　　چه قبوله رسوائی کا
څو ښایست لَرِی دلبره　　هونبره کبر و منائی کا
خوار خوشحال ته د سرو شونډو
بوسه ورکړه گدائی کا

---

١. ستوری چه منشی د فلک ئې بولی.
٢. غوښی کوټل او ټک ټک کول.
٣. له طبیب.
٤. جعل.
٥. یعنی اشاره.
٦. دا بیت په بله قلمی نسخه کښې داسی دی "بو تیمار د رود پر غاړه تشنه لب مری"، اما دغه صورت ئې لکه چه صحیح دی بوتیمار په پښتو کَکوَی بولی، چه د رود پر غاړه سوی سوی نارې وهی او مشهوره ده چه دا نارې ئې له تندی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یار می مَروَر دَی که څوک وِی چه ئې پُخلا کا[1] — ژر پاڅه روبیاره ځما زړه پسی بلا کا
تل به د جفا په دریابونو کښې غوټې خوری — څوک چه زړه د دَور په دلبرو مبتلا کا
څه ګنده عالم دَی مه ئې دود وَی مه ئې رسم[2] — وَړِی په ځای پریږدِی و مَړو وته صلا کا
هیڅ سزا ئې نشِی باندی لاس د ما د زړه شوِی — توری زلفی ستا دِی چه دایم د زړونو غلا کا
ستا د تورو زلفو ظالمی څه پټه نه دَه — مست چه زورور وِی ظالمی په ملا کا
ته چه عاشقی کړې قبلوه په عاشقی کښې — تل په عاشقانو باندی خلق الالا[3] کا
ستا خخونخوارو زلفو زه تنها نتَلی نه یم — څو به د ما خوار غُندی لا نور هسی جلا[4] کا
راشه که ئې ګوری دا پخپل جمال مغروره
څو رنګه نازونه په خوشحال خلا ملا کا

یار چه تل هسی جفا کا — ظلم، جور، سل بلا کا
نور څوک هم شته په دنیا کښې — څو که تل به ئې په ما کا
راشه ګوره ستا له لاسه — څوک خندا کا څوک ژړا کا
د هغو په حال خبریږه — چه په در، درته دعا کا
که رشتیا ور څخه نشته — مرګ ئې مه وه تَل رشتیا کا
څه ئې شته په زړه پوهیږم — دا چه ځِی نظر تر شا کا
مخ ئې ګل دَی زه بلبل یم — تل بلبل دَګل ثنا کا
هیڅ مانه مکړه خوشحاله
ښایسته خپله رضا کا

په سپین جمال چه تار په تار دوې زلفی عنبر فام کا[5] — محبوبه به غواړِی دا چه رڼا ورځ په عاشق شام کا
چه ډیری دَ یار زلفی یادوَم مقصود می دا دَی — چه ما د یار د زلفو د حلقو دیوانه نام کا
عاشق چه په جهان کښې خپل ژوندون له خدایه غواړی — د زړه مقصود ئې دا دی په ځان ځار تر دلارام کا
زه مست بیخوده پروت یم په یَوَه پیاله د میو — ساقی ښیښه نیولې راته فکر د بل جام کا
په مخ د ښو محبوبو زَه مین چه هونبره نه یم — چه یا به ئې څوک وکی یا ئې شرح څوک مدام کا
دلبره چه له دله د عاشق په مرګ راضی شِی — د سترګو په کاته کښې و عاشق وته پیغام کا
چه تا منع کوی د بت په عشق کښې ورته وایه — کعبه د کاڼیو ګوره ترو دې څه خلق احرام کا
که غټ د عنایت په سترګو وګورې خوشحال ته
د ده مقصود به واړه په یوه نظر تمام کا

نشته په دا ښهر څوک چه نه دی خریدار ستا[6] — څرنګه ډیر تود دَی چه می ولیده بازار ستا
ښه ده سرو ونه نه چه ښه ده ستا تر قد — شهد که شیرین دی نه شیرین دی تر ګفتار ستا

---

١. دا بدله په چاپی نسخه کښې نسته.
٢. څه ئې دود دی څه ئې رسم.
٣. یعنی شور او غوغا، په بله قلمی نسخه کښې "غل غلا" کښل سوی دی.
٤. سوځل او بلول.
٥. دا بلدله په چاپی دیوان کښې نسته.
٦. دا بدله هم په چاپی دیوان کښې نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې دَ هوسۍ سترګې دی، نه ښې دی ستا تر سترګو
ښه د زرکُو یون دی نه چه ښه دی تر رفتار ستا

څوک دی چه تا ووینی مین در باندی نشی
هر هوری ته ډیر دَی که ئې ګورم خریدار ستا

چا چه تا ته کړَی یَو نظر دی په درست عمر
څو په دنیا پایی نور به تَل وِی طلبګار ستا

زه به ورته نه وایم سړی چه تش کالبد دی
هر چه ته ئې ولیدې لوټ نشو په دیدار ستا

ګل د لاله داغ لَری سختی دَ رابیل پاڼی
چا وې چه لاله دَی یا رابیل دَی ګلعذار ستا

ډیر طبیبان راغله لکه راغله هسی ولاړل
راشه حال ئې ګوره چه څه حال لَرِی بیمار ستا

وې می و طبیب ته چه د رنځ دارو می وکړه
وَئې چه دارو وکړم اور بلیږِی په پرهار ستا

سر لَرِی خوشحال درته پیښکښ که دِ په کار دَی
بِه تر دا نور څه چه د چا سر راشی په کار ستا

## (ب)

خوار عاشق په خاصیت دَی د سیماب
څو ونه مرِی څنی نه ځی اضطراب

ولی هسی خپل عاشق په جفا وژنی
نه دیت شته نه قصاص شته نه عذاب

ستا د سپیو سره ګرزم ستا په کوی کښ
ګندی ما ورسره ګڼ کړې په حساب

خو خوښی دِ د خپل یار دَ دیدن مومم
که په ویښه میسر شی یا په خواب

دا چیستان دِ یار له شونډُو راته حل شو
ارویده شو یو ځای نَقل او شراب

چه په ډکه خوله دِ ووې یاری نګړم
د بلا په خوله دِ ورکړم زه خراب

په ملال ملال کاته عاشقان[1] وژنې
ستا په سترګو کښ چړې دِی دَ قصاب

ما ته څه وایې چه وایه څوک دِ وَژنی
ته له خپلو سترګو غواړه دا خواب

که دِ زړه وِی چه به زړه د خوشحال ګورم
راشه وګوره په اور یښې کباب

خپل بیمار می حواله کړ به نصیب
ورته زهر شوې ګولیِ د طبیب

برامد ورباندِی صوت د غراب شو
خوشامد ورته آواز د عندلیب

طبیعت چه مخبط شِی سود ئې نشته
نه په پند په نصیحت نه په ترکیب

په اعجاز د محمد خلقو اقرار کړ
د بوجهل ته ناری وې د تکذیب

عمارت لکه خطا هسی خطا ځی
په اول ئې چه خطا پر یوزِی ترتیب

نصیحت د ناصحانو باندی باد شی
چه زوال د چا د چاری شِی قریب

دانشمند دَی خپل دانش لیری ساتلی
د تعلیم او هنر اثر په ذئب

د پخو په حال اومه کله پوهیږی
د مقیم په حال خبر نه وی عریب

نصیحت بې ځایه واړه جګر خون دَی
ځکه ژبه تر غاښ لاندی کړه ادیب

د هلک مینه په چا وِی په هلکو
د لبیب قدر په چا وی په لبیب

په زرګونو می دنیا و هر چا ورکړه
په جهان کښ پیدا نشو یَو حبیب

د خوشحال خټک په شمار په حساب ندی
په هر ځای په هر دیار لَرِی رقیب

---

۱. په یوه قلمی نسخه کښ داسی دی: په ملال ملال کاته زړونه ورژلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د مخکی په مخ ولیده مهتاب
چه خجل ترې دا مهتاب دَی هم آفتاب
د زلفینو تر نګهت ئې مشک شرمیږی
د خولې[1] تر بوی ئې نه رسی ګلاب
د وربل په هر هر پیچ کښ ئې نافې دِی
مشاطه ئې چه پرانزی[2] پیچ و تاب
نور شراب ورته اوبه د ترخو بی[3] دی
چه ئې مست وی دَ لبانو په شراب
وې می زړه می ستا د مخ په اور وریتیږی
وې ئې پریږده چه ښه وریت شی دا کباب
ستا په زار می صورت سر تر پایه پر دَی
زړه می ګوره په تصویر کښلی کتاب
عاشقان می کشتګان د معشوقې دی
کشتګانو څخه نشته سوال ځواب
که ته څه خو اشارت وکړی دَ سترګو
د خوشحال خټک به ووینې شتاب

نول د تن د ځان شیون د زړه آشوب
یوه څه بده بلا دی عاشق توب
وایی ته په چا مین ئې راته وایه
بې له تا له نورو مینو توبا توب
خوله چینه ده د حیات په تور ملسل[4] کښ
نوم ئې شته لا هیڅوک ندی پرې خړوب
ستا له تورو شهلا سترګو ئې سیالی کړه
نرګس ځکه کښیښ سر دَ دار په چوب
خار و خس به دِ په لاری کښ پرې نبردم
چه ئې توږم د مژګانو په جاروب
واړه شونډی په لذت سَره یَو نه دی
څوک حلوا دِی د نباتو څوک اتوب
لکه باز خال دِ تارو دا ښګار دَ ده دی
که څه شِی ځما دَ زړه په تلا توب
دا ځما د سترګو اوښی وینی ندِی
د ویشتلِی زړه له سترګو ځِی زهوب
ستا د مخ په یاد ئې دواړه له زړه ولاړَل
د خوشحال دَ زړه آرام د سترګو خوب

## (ت)

په جهان کښ څلور قسمه دَی نعمت
عاقلان ئې دِی خبر په حقیقت
لمړنَی نعمت د علم، د ښه خلق دی
دا نعمت په دواړه کونَ دَی راحت
بل نعمت په دا جهان د ډیر دولت دی
چه هر شان پرې ابلهان کا فراغت
بل نعمت د ریاضت دی که ئې ګورې
په هغه جهان راحت دلې محنت
په خپل مټ، په خپل کوښښ نه ده خوشحاله
هر آزاد بنده ته رسی خپل قسمت

---

١. د خولو.
٢. پرانځی.
٣. په چاپی نسخه کښ "تر خولی" لیکل سوی دی چه معنا ئې نسوه را ښکاره.
٤. مطلب ځنی زلفی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه مین شوم د بلندی په قامت — راته وَدریده دار دَ ملامت
چه بلا ئې د قامت راته ښکاره شه — گویا پاڅیده بلا دَ قیامت
چه محراب ئی د ابرو راته ښکاره شه — هغه دم می ناره وکړه قد قامت
د مژگانو ناوکی ئې هسی نه دِی — چه به څوک ورځنی درومی سلامت
چه نه مَی نه معشوقه نه کښېتَ دگلو — تیر ئې عمر دَی په غم په غرامت
نن دکښلیو دَ دیدن ننداره گوره — او کنه کانده به درشِی ندامت
چه دکښلیو نندارہ ور څخه ولاړه — خبر نه یم کوم گنا وه کوم شامت
چه نظر به دکرم پر خوشحال کاندی
لا به کله وی دا فضل وکرامت

چه می ولیده په سترگو ستا ښایست — ښاپیریو څخه نشته دا ښایست
هم هغه دربا‌ندی هسی شان مین کړم — چه درکړی ئې وتا دی دا ښایست
مخ ئې کله د لاله غُندی زیبا دی — د لاله تر گل ئې ډیر دَی لا ښایست
گرمه نه ئې چه خپل ځان ستايې نگاری — وایې نه لَرِی قمر ځما ښایست
لور ثه لور به د بلبلو بړغ پرې وشی — که صبا کا دگلونو وا ښایست
د نرگس گلونه هم هرگوره زیب کا — ستا د سترگو وینم لا زیبا ښایست
عاشقان دِ پرې پتنگ کړل چه وریتیږی — خدایه تا کړ په جهان پیدا ښایست
ملاحت وه نزاکت وه لطافت وه
د خوشحال دلبره سر تر پا ښایست

چه د پلار بدگوئی سر شی پوت[1] — صد لعنت د ده د مور په گنده چوت
چه د مور په چوت ئی خیر و برکت وی — له هغه موره به نه زیږی کپوت[2]
بختور ئې هغه پلار هغه ئې مور وی — چه له موره نه فرزند زیږِی ثبوت
د بد زویه بړغ د فسق و د فساد ځِی — د ښه زویه ځِی نارې په ملکوت
د مزری په خوی پیدا شی ځِنِی زویه — ځِنِی غواړی دگیدړ غُندی خپل قوت
چه ئې نوم په جهان پاتو شِی د نیکو — هغه زوی دَی په جهان کښ لا یموت
د صورت وته ئې مه غَرَوه سترگِی — د خپل زوی خو عمل گوره کرتوت[3]
د سپین توب چه مزه وِی په څه کار دی — که ښه خوند لری ترې ښه گڼه تور توت
ډیر ځوانان چه احمقان دِی لکه پیاز دِی
و خوشحال ته هوښیار مښک دَی پیر فرتوت

---

۱. محشی فرزند او زوی ورته کښلی دی.

۲. محشی " نه زوی" ورته کښلی دی چه مطلب ئې نالایق دی.

۳. چلند، عادت، عمل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ شوم سړی له کوره که اُوبه وِی دَ حیات[1] په ما باندِی لګیږِی لکه زهر دَ ممات
موسٰی څخه هیڅ نه وُ ور څخه یَوَه عصا وه قارون څخه دنیا وه خود ئې ولیده آفات
هر چا څخه چه مال وِی وبال هم ورسَره مَل وِی دانا به هسِی کار کا چه ئې نه وِی وبال زیات
د ګل د عمر کار، دَ دنیا مال، د سفله مهر دا درې څلور کارُونه بې بقا دِی[2] بې ثبات
چه شرم ننګ ئې نه وِی نه هنر لَرِی نه پوهه[3] په مال ئې نظر مکړه مه په حسن مه په ذات
دانا په جګر خون کښِ د نادان خوښی افزونه عالم واړه حیران دی پدا هسی واقعات
چه تَل به پرې ښادی وِی غم به نه وُرځی په عمر هیچا راوړی نه دَی په دنیا کښِ دا برات
عادت دَ فلک دا دَی هم دِ ښاد هم دِ غمجن کا که هر څو ښه صفا وِی بیا زنګ ونیسی مرآت
خوشحاله څه اندوه کړې خوښ پدا اوسه خوښی کړه
چه بې ما له غنی دی نه ئې حج نه ئې زکات

ما چه نظر وکړ په ذرات په موجودات ګول په جهان راغلم ترې به ګول دروممِ هیهات
یو څادر تر میان وِی فهم پاتو شی له کاره دا هونبره کیسې هونبره ادراک د سماوات
هیڅ بنی ولی ئې درست اسرار موندلِی ندی لویه کارخانه ده که وګورې کائنات
وزیږی[4] له نوحَ د طوفان په موج فنا شی زوی د آذر وموِمی له ناره نه نجات
کار دَ بل حکیم دَی چه څه کاندی هسی کانَدن واړه سر درګم دِی د آبا دا امهات
دخل دَ ساعت دَ طبیعت دَی که د نور څه نیک زیږِی له بدو له بد ذاتو نه نیکذات
هونبره[5] علم زده کړه چه فرښتو ته سبق ورکړی بیا به خبر نه وِی دَ جهان په ترهات
رد دِی که مقبول دِی که معقول که نا معقول دِی ګوره نندارِه کړه، تر دا دم مه وهه زیات
سر په سجده کښیږدی وایی نمونځ کوم خوشحاله
زړه ته نظر نه کړی، پکښِ څو لات و منات

نن می ولیده هغه مست غنچه خوله ئې نیست و هست[6]
په دوو زلفو عنبر پاش په دوو سترګی[7] می پرست
څه[8] شیوې دِی په جهان کښِ دَ همه شیوو همدست
منفعل ئې ګل تر مخه تر ښه قد ئې سروپست
اوس می بیا مونده په کور کښِ چه دایم ئې وم په مرست
دَ بالا بلا ئې ښه دَه
دَ خوشحال سَرَه پیوست

---

۱. دا بدله په چاپی نسخو کښِ نسته.

۲. وی.

۳. چه شرم ننګ ئې نه وی نه مهر دی نه پوهه.

٤. مطلب ځنی د نوح زوی دی چه کافر وُ او د آذر زوی ابراهیم وُ.

۵. همره شی عالم چه فرښتو ته.

٦. خوله په اعتبار دَ تنګیِ ګویا نیست ده.

۷. سترګو.

۸. چه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که عطار د خپلو مښکو کا صفت[1] | په دا څه خو ئې روان نَشِی نگهت
مشاطه دِ دَ دَرَیُو آرایش کا | ولی دریغه که دَ ناوی وِی صورت
که دَ خره زین دَ سرِی واړه سره زر کړې | خر به آس نشَی په دا زیب و زینت
کوری هم لکه یاقوت هسی لیده شِی | جوهری ئې خبردار دَی په قیمت
د هوښیار چه زیست روزگار شی له نادانو | شیرین عمر پرې تیریږی په حسرت
په نصیب ئې دغه دواړه توکه نه وی | چه هم بخت هم ئې د عقل وی نعمت

د خوشحال که نه د تن وی نه د گیډی
و سفله لره ورشه په حاجت

## (ټ)

که د شمع غُندی کښیناستې مخ پټ | تجلی دِ د جمال وینم تر څټ
ته ورځه په نجاست باندی پیرې کړه | د گلزار له گلو څه غواړی گونگټ
د چندڼ دونی لږ لرگی تحفه دی | نه د بلِی بدِی ونی درسته سټ
په وکښلو به ئې څوک وی چه بد وایی | د گنډهیر ونه که خیژی تر بُنسټ
که په څو را باندی وخیژی خطا شی | راته وایه چه دِ پر یوزه دواړه مټ
مگر مرگ ئې په ارمان و بله جدا کا | د جیجی[2] جدائی نشته له لویټ

چه دِ زړه هغه به ووینې خوشحاله
خو یوه قطره که تیر شې تر دا خټ[3]

## (ث)

چه بد نه کاندِی خبیث | نور به څه کاندِی خبیث
ځنِی طمع د ښو مکړه | کله ښه کاندِی خبیث
چه دَ بل ښیگړه وینِی | ځان اوبه کاندِی خبیث
که ئې ځای وکړې په زړه کښِ | خوږ دِ زړه کاندی خبیث
که ځما په خوله شِی خدای دِ | زر ړانده کاندِی خبیث
چه جهان ور ځنی خلاص شِی | خدای دِ مړه کاندِی خبیث

دَ میبرِی غُندی خوشحاله
الوته کاندِی خبیث

---

۱. دا بدله په نورو نسخو کښ نسته، له یوې قلمی نسخې څخه نقل شوه.

۲. محشی ورته لیکی: چه جی جی او لویټه دوه مرغونه دی چه یو له بله هیڅکله نه بیلیږی.

۳. خط.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یار می بیا دَ سترگو تور کا الغیاث واړه جور ظلم زور کا الغیاث
په ما خوار باندِی ئې نر نا حقه لیږدی[1] سل بلا د ښنگه نور کا الغیاث
زاهد هم هسی له عشقه خالی ندَی په عاشق به څه پیغور کا الغیاث
چه دَ وصل په دولت وِی[2] سَره جمعَ جدایی به هغه خور کا الغیاث
د خزان دوک ئې لیدلی دَی په سترگو چه بلبلی هونبره شور کا الغیاث
هونبره اور چه دَ خوشحال په خاطر بَل دَی
څوک به مَړ دا هونبره اور کا الغیاث

## (چ)

ته چه خیال په زرزری جامو کړې غچی[3] د اسمان ستوری به نشِی په دا ټچی
که بادشاه دَ مملکت شِی په تخت کښینی چه به تل په جهان نه دِی دا په پچی[4]
ځان چه کم گڼی تر بله هغه لوی شِی دَ سلیمان گتُې پدا راغله په خچی
ځما ستا په خوله به مرگ کا توری خاوری که ته هر کله حلوا خورې زه خچی[5]
ودانی دَ درست جهان په محبت شِی راشه گوره محبت دَ مچ دَ مچی[6]

زه خوشحال که خپل مین په ژړا مومم
په ژړا به پسی نه کړم سترگی وچی

## (خ)

چه صاحب نفر پرور نه وِی هم هیڅ په نفرو کښِ چه هنر نه وی هم هیڅ
په پالنگ دَ معشوقې وُرځې سر تیرَی هر عاشق چه تیر تر سر نه وِی هم هیڅ
له معشوقی نه شیوه بویه څو رنگه دَ عاشق چه پرې نظر نه وِی هم هیڅ
که په زر رنگه خوبیَ اراسته وِی چه زلمی په بلا بَر نه وِی هم هیڅ
هوښارانُو لره عقل فکر بویه لیونِی چه بې خبر وِی هم هیڅ
چه له شور و شره خلاص دِی مردگان دِی دَ ژوندَیُو چه شورشر نه وی هم هیڅ
که بادشاه څخه بی شماره خزانی دی چه ئی ښه جنگی لښکر نه وِی هم هیڅ
مَړَنَی چه بې وسلې شو په څه کار دَی چه سخی سَړی تونگر نه وِی هم هیڅ

---

۱. تلنگ او راهی کیده او لیږل.

۲. دی.

۳. په دې بیت کښ دَ غچ او ټچ معنی جوته نسوه، سید راحت لیکی چه غُچی یو تکیه کلام دی چه په اصل کښ (خوچه) وُ، دا بیت حل طلب دی.

٤. یعنی دَ پچی ارزش لَرِی.

٥. باجره یا بد جواری.

٦. مؤنث دَ مچ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوړ سړی که تر ځنګ کښېنَوی ښه ناوې — چه قوت ئې دَ ذکر نه وِی هم هیڅ
سوداګر که وقوف دار دَ هر کالی وی — په کیسه کښې چه ئې زر نی وِی هم هیڅ
که سَړی د جهان واړه علم وکا — چه دَ ده د عمل چر نه وِی هم هیڅ
باز که لوی کتېه خو شرنګ دَ ډېر صفت وِی — چه تیز پر په زړه زړه ور نه وِی هم هیڅ
یَو دَ بل له حاله پند اَخلیِ خوشحاله
دَ سړِی چه دا سیر نه وِی هم هیڅ

## (ح)

کلک خراباتی یم له ما مه غواړه صلاح — ډکی پیالی اخلم تر صباحَ تر رواح
څوک دِی چه دَ نمر خوبی به ستا مخ په څیر کا — نمر مثال څراغ دَی ستا جمال لکه صباح
مه پوښه زاهده د ښه مخ له نندارو نه — سترګی چه دا کار دَی په فتوای د عشق مباح
توی کړه په هنګام د حادثې ساقی په جام کښې — می چه باد را پاځی په زجاج کښې ښه مصباح
پاڅه محتسبه خوشحال راغَی جنګ ته جوړ شه
غسل په می وکړه دَ مومن وضو سلاح[1]

## (د)

د خدای عرفان می وشو په عرفان د محمد — پاک دَی محمد پاک دی سجان دَ محمد
راشه نظر وکړه په طه او په یسین[2] کښې — خدای دَی صفت کړَی په قرآن د محمد
ډېر خلق پیدا دی انبیاء که اولیاء دی — نشته په خلقت کښې یو په شان د محمد
خدای سره موسی په کوه طور کړلې خبری — دَی د عرش د پاسه لامکان د محمد
پیک ئې جبرئیل وُ دَ رفرف جلب نیولَی — پاس ئې چه معراج وُ په اسمان د محمد
خوان د موسی خوړمن سلوی یو لک وګوری — انس و جن مړیږی تل په خوان د محمد
خواست به نور څوک نکا دَ خسته وُ و عاصیانو — خواست به محمد کا، خاندان د محمد
لاس دی لګولی ما خوشحال په دواړو کونه
غم اندوه می نشته په دامان د محمد (ﷺ)

ډېر عالم ځما په یاد — راغَی تیر شو لکه باد
هم دا هسی راشی تیر شِی — په ځای نه لری ایستاد
عجب لویه کارخابه ده — چه پیدا کړه لوی اُستاد
و حباب وَته نظر کړه — څه حباب څه ئې بنیاد
هسی نه ئې که پوهیږې — ښه مثال شو درته زباد[3]

---

۱. الوضوءُ سلاح کلؤ من، یعنی اودس د مؤمن وسله ده.

۲. راشه نظر وکړه په طه په یسین باندی.

۳. یعنی یاد او بیان او ثانت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ خبر نشوې له ځانه — هی فریاد، فریاد، فریاد
غمجن والی دِ په څه وِی — بیا په څه شی هسی ښاد
څه سختی لری خوشحاله
دا دِ زړه دِی که فولاد

سپَی چه ولامبی په رود — لا بد بوی شی دا دَی دود
په بهار او په خزان ئې — هیڅ و نه شو ځما سود
لیونی لیونی تر شِی — څو چه شِی ورته سرود
په سوړ والی کښِ چه کار شِی — و هیچا ته مشه تود
چه ئې قصد دگزار نه وِی — هغه نکا زغره خود
که ته کام غواړې خوشحاله
کام به مومې په مښود

عمر هر زمان رفتن کا لکه باد — مرگ دِ هر سړَی همیش لَرِی په یاد
چه د عمر ئې بیناد هوا اِیښَی — په دا هسی ژوندون څه دَی اعتماد
د آدم خاوری د غم[1] په اوبو نم دی — خمیره[2] په قدرت کړې چل بامداد
انبیاء او اولیاء لاړل وگور ته — ته به وائې چه دَ دوی نه وُ بنیاد
د دنیا ژوندون هیڅ ندی که ئې گورې — چه هیچا ځنی بیا نه مونده مراد
همیشه که ژوندون[3] غواړې درته وایم — همیشه کوَه د نفس سرَه جهاد
مسافر چه ئې سفر وِی څو دَ وړاند — په مقدار دَ هغې لاری اخلِی زاد
راشه زړه له غیرو پریکړه اې خوشحاله
په امید ئې د دیدار لَرَه زړه ښاد

و دِ نه زیږی فرزند — د با با په غولی وند[4]
د مریخ په کوکب شوی — شوخ بې باک بلا لوند
دَ زهر په ستوری زیږه — خوش خرم خوشحال خورسند
نخس او سعد اُوه ستوری — تر دا نور شته لا بلند
په هغه طالع چه وشِی — په عالم کښِ شِی ځرگند
بختور دا نامخ رُونَی — دَ وگړی دلپسند
دَ ده زړه په هره چار کښِ — د همت سرَه پیوند
همگی په خوړو ډک وِی — نه سبق دَ دانشمند
د ده علم عطائی وی — به سبق د دانشمند
چه تر ژبه څه وَباسِی — نصیحت وِی وعظ، پند
پخپل شرم ننگ راغلَی — نه په شخوند وِی نه په خوند

---

۱. د مرگ په اوبو.

۲. خمرت طینة آدم اربعین صباحاً.

۳. ژوندون که غواړی.

٤. سید راحت وند په معنی د خندق او غنډی را وړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ته څه وايې خوشحاله
خرو ته څه ورکوې پند[1]

هر گروه له خپله گروهَ دَی خوشنود
هر سړَی لَرِی نظر پخپل مقصود
دانشمند دَ دانشمند په صحبت خوښ دَی
د جاهل په صحبت گډ شِی جاهل زود
مسلمان ئې په بزرگی په لویی پوه دی
د جنید له حاله څه پوښتې جهود
د جماع په لذت حیز کله خبر دِی
که ئې حوره په پالنگ کښینی څه سود
چه په خوی دِ خبر نشو غیر جنس دَی
غیر جنس سَرَه خوشحاله کوم بهود؟

## (ذ)

د خوږو شونډُ وئی ډیر دَی تلذذ
تر همه خواږه ئی تیر دَی تلذذ
ما وی زه به ئی غسل سَره نسبت کړم
د دشنام ئی په بل پیر دَی تلذذ
له شکرو زړه نیوه شِی نه له ده نه
د پیوروی[2] په څه څیر دَی تلذذ
څو می یاد د هغی خولی دَ مچی خوند دَی
نور می کل له دله هیر دَی تلذذ
د ناوک ئی هم[3] لذت تر حساب تیر دَی
ولی زیات ئی دَ[4] شمشیر دَی تلذذ
لکه وُ د زنخ سیب په هغه شان دَی
نه چه اوس ئی تیر و بیر دَی تلذذ
ستا دَ ژبی دَ سر ډیر منت را باندِی
په دا یم ئی را بر سیر دَی تلذذ
په هجران دَ شکر لبو په جهان کښ
په خوشحال زهر و گنډ هیر دَی تلذذ

## (ر)

آه دا هونبره استغفار
چه ئی تل کړی په اسحار
که رشتیا دا استغفار دَی
بیا گناه څه گناه کارَ!
که دا کار دِ په دروغ کړی
شرم وکړه له دی کارَ
هم دروغ کړی هم گناه کړی
ترس د نشِی[5] د قهارَ؟
هم توبه کړم هم گناه کړم
ته می وینی کردگارَ
زه عاجز بنده عاصی یَم
پرده پوښ مِی شی ستارَ
د خاصانو توبه راگړه
ما خوشحال ته استوار

---

۱. قند.
۲. دا کلمه په هره نسخه کښې جلا املا لري (پیووړي، پیووري) اما اصل بی (پیروي) یې چه په پارسی ئی قیماق بولي.
۳. دِ.
٤. دَ.
۵. ترَس دِ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

با تو خلوت برگزینم در تو بینم خیر خیر　　گرچه وقت نوبهار است باوجودت هیر هیر
پنج روزی بیش نبود صحبت گل با هزار　　ای دریغا در گلستان گر بماندی ډیر ډیر
باران صبر است این سیب زنخ در دست ماست　　کز رقیبان تو می بردم جور تیر تیر
آهوی چشم تو از شیران عالم دل ربود　　گر چه بر شیران ندیدی هیچ آهو چیر چیر
گفتم ای جان جهان از من گهی یاد آیدت　　گفت وقت قتل می آیی بیا دم ډیر ډیر
می نیاساید دمی خوشحال بی دردت بلی
لشکر دردِ تو اکنون کرد دل را زیر زیر

تا غُندِي به نه وی یوه کښلي په دا دور　　یُون دِ دَی د زرکی دواړه سترګيِ دِ د میور[1]
وخت دَ نو بهار دَی راغ و باغ واړه ګلزار دی　　راز دَ کردګار دَی دا ګلونه طور طور
بار[2]دربانِدی مه وه زه هم زړه لَرم ویریږم　　باز خوری دَ زړه غوښې، یا ئی ته خوری یا ئی بور[3]
نور عالم بی غمه زه دا یم په درد و غم کښ　　عشق نه دَی بلا دَی چه ئی وینوم په څور
می شته چنګ و نی شته ساقی راشه باده راکړه　　تَل به بهار نه وِی چه تیریږِی وخت دَ ثور
کښنیم وَ رودبار ته چه روانی اُوبه ګورم　　عمر غُندِي درومی چه ښه وکَم باندِی غور
یار دی که دَ کورَ[4] دین قبول کا پدا څه شِي　　شرط دَ محبت دَی ته هم واخله دین د کور
مینه[5]دَ مجنون په لیلا لا شوه ډیره ډیره　　څو به چه عالم وَربانِدِي وکړه هور زور
طبعَ دَ خوشحال ده لکه ښه باغبان په باغ کښ
ګل و هر چا ورکا چه ئی زړه وِی علی الفور

په تازه عاشقی مهر کوهٔ مهر　　چه آشنا شو نور که مهر کړی که قهر
که دَ زهرو پیاله وِی ستا له لاسه　　تر عسلو به لا ښه وِی هغه زهر
چه له لویو له هلکو جفا اروم　　مګر دود دَ وفا نشته ستا په ښهر
په عالم کړی بلا ستا سترګی نزولی　　څوک به څه لَرَه تهمت وایی په دهر
زه هاله دَ عافیت ناوِی قبول کړم　　چه می خپله تمنا ورکړه په مَهر
د وصال ورَځِی هلکی ترګړی دِی　　بی لیدلو میاشتی کال شوی ګړَی پهر
دَ دیدن تږَی بی حده تلوار کاندی　　ګوره کله به خړوب شی ستا په نهر
خوار خوشحال ئی لکه خس هسی لاهو کړ
چه دَ عشق سیلاب را وخوت لهر لهر

---

١. یعنی طاوس.
٢. په قلمی نسخو کښ پار هم راغلی دی.
٣. یعنی پړانګ.
٤. محشی تر کور لاندی کافر کښلی دی.
٥. مینه د مجنون به په لیلا وشوه لا ډیره　　څو به چه عالم درباندی ډیر کړ هور زور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چه مخ په آینه کړی برابر — ربړه[1] شی په دا منځ کښې مخ دَ نمر
مَړَنی سپاره دَ مخ دِی دا دوه توگه — توری ورځی توری سترگی مخ لښکر
چه پلو له مخه واخلیِ زه دعا کړم — هر چا زده چه دعا ښه دَه په سحر
د یوسف غُندیِ مخ پټ کړه په برقع کښې — چیری نه وِی چه پری ولگی نظر
مخ هغه چه ئی ستاینه درست عالم کا — نه هغه چه لکه ستایی د لال خر
زاهد مخ په محراب وینو سجود کا — ستا د ورځیو په محراب نه دَی خبر
مخ دِ هسی شان لیده شِی په خالونو — که ئی گوری لکه گل دَ پیغمبر
ستا دَ مخ مخی به نه کړم نور مخونه — نور که ستوری دَ آسمان دِی ته یی نمر
دا دَ مخ خوبی ئی وگوره خوشحاله
دَ شرابو دَ مستیٔ لَرِی اثر

چه مرغونه دَ آسمان ساتی دا کار[2] — دَ هوښیار دَی دَ بیدار دَی خبردار
زه دا نه وایم چه زه هوښیار بیدار یم — د ما هم له لاسه ولاړ دِی څو دینار[3]
دَ نادان خطا لا هسی گرانه نه وِی — که خطا دَه خو خطا دَه دَ هوښیار
هو دا هونبره تفاوت تر منځ لیده شِی — چه میر ښکار سَړی پوهیږی پخپل کار
سرښته دَ میر ښکاریٔ ور څخه نه وِی — بیهوده مرغه ضایع کا نا میر ښکار
ښه مرغه د نامیر ښکار تر لاس ورمه شه — او که ورشِی یا به خاوری شِی یا خوار
د خوشحال خبره نغوږه پری عمل کړه
تجربی ئی دی لیدلی دَ روزگار

څه سړی څه ئی تدبیر — هم هغه شِی چه تقدیر
که جهان شِی تیره توره — ستا په مرگ شی خلق خیر[4]
بی تقدیره به وَ نه مری — نه په توره نه په تیر
بی اجله مرگیَ نشته — تیغ وَهَه مکړه تقصیر
لکه کار دَ مَړَنی دی — هسی کار نه دَی دَ پیر
دَ غازیانو شهیدانو — پروا نشته دَ سعیر
گُل گټښه دَه دَ توری — که کابل دَی که کشمیر
مَړَنی دِی چه[5] یادیږی — په سندرُو هم په ویر
چه دروغ دَ توری لاف کا — دَ[6] هغو نه یم دلگیر
توره بخره دَ خوشحال ده — کان[7] په کان خلق خبیر
تر اووُ پیړیو پوری — واړه مړه په تیغ په تیر

١. دا توری د هری نسخی لیکونکی په جلا ډول غلط کړی دی، چه هیڅ معنی نه ښندی مگر ربړه صحیح دی، د سپوږمیٔ سپکی رڼا ته وایی، یا نوره سپکه رڼا.
٢. دا بدله په چاپی دیوان کښې نسته.
٣. محشی ورته کښلی دی چه څو دینار بازونه.
٤. څیر.
٥. که یادیږی.
٦. په هغو.
٧. کال په کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دَ خان ستاینه نه دَه
حقیقت وایم په ځیر[١]

چه له خپله هوډه نه واوښت منصور — که وګړي په سولی[٢] کړ مخ ئی سور
ملامت چه په عاشق باندِی وایه شِي — په مذهب دَ عاشقانو دَی معذور
عاشقان په معشوقه باندِی پتنګ دِي — له جهانه به ولاړ نشِي دا دستور
څو دَ عشق مینه زیاتیږِی په کوګل کښ — دَ عاشق په پوهه نورُ علیٰ نور
دَ عشق کار په لیونتوب دَی نور څه ندی — راشه واوره، نه په عقل نه شعور
معشوقی وته بادشاه لکه بنده شِي — که قیصر دَی که خاقان دَی که فغفور
روغ ئی هیڅ په حال خبر نه وِی له دردَ — که په درد کښ قراری نکا رنځور
زړه می سر تر پایه واړَه آبله دَی — په فراق کښ، لکه وَړی دَ انګور
هر ګوره له خپله ګرده سَره سرور کا — د ما هیڅ نه شِي له چا سره سرور
عاشقان په عشق کښ واړه نا صبور دِي
څه خوشحال یواځِی نه دَی نا صبور

چه مکیِ لَرهَ څوک درومی[٣]په خره سور — که حاجی شِي نه ئی ننګ وِی[٤] نه پیغور
چه خبر په هنر نه هغه کم عقل — چه دَ خط سترګِی ئی نه وِی هغه کور
چه ئی خدای و چا ته ورکا دَ هغه[٥] دی — بخت دولت نه په کوښښ دَی نه په زور
اصالت هنر چه دواړه سَره یَو وِی — لکه ښه کنبیده روغه[٦]په انځور[٧]
په[٨]خصلت هنر سیرت دانش باقی وی — قد قامت صورت فانی دی سپین و تور
دا همه له نا پوهَی پیدا کیږِی — خر خنبی دعوی نا سازی شر و شور
پیرځوینه، ښه سلوک، نمځنه[٩]، عدل — که دِ دا خویُونه شته څه غواړِی نور
کبر جن، حریص، بی زړه چه دروغ وایی — دَ یاریَ لایق نه دِی دا څلور
که وعده ئی قیامت وی دَ غوښتنِی — دَ هوښیار سړِی به نه وِی په کار پور
که طالع ئی دَ دولت په شربت ډک کا — بیا آخر شِي دَکم عقل جام نسکور
دَ یاریِ دَ دوستیَ لایق هغه دِی — چه آزاد ورځی نه وِی پلار و مور
که ځوانمرد یی ځوانمردی به دِ هاله وی — سل بدیَ آواره کړه دَ خپل ورور
په ایمان په ځان په دواړه خرفه نکا — چه دَ خپلی ژبی وَلګیږِی اور
دَ هوښیار[١٠]سَره مجلس ښه دَی خوشحاله
دَ نادانه سَره ښه ندَی بیور

١. په ځیر.
٢. یعنی دار.
٣. ورشی.
٤. شته.
٥. دَ هغو.
٦. جوړه.
٧. نقش یا د نقاشیَ اسباب.
٨. چه.
٩. دا کلمه په څنو نسخو کښ فقط (نمځنه) لیکلی دَه، چه معنی ئی نسوه راته جوته، ممکنه دَه چه نمځنه حاصل مصدر وِی له نمانځل څخه یعنی لمونځ کول.
١٠. دخاروی سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل پرَدی[1]راته په خوله وایی زر زر    و عالم ته تر هر څه دی بهتر زر
اوس په دا دَور ما وَلیدَل خوارِه دِی    تر پدر تر برادر تر پسر زر
نورُو چارُو وته څه گوری دا گوره    چه صاحب دَ مسلمان کا کافر زر
که دِ قصد کینه حسد ور سَرِه پریوزی    په وژو دَ سید درست کا محضر زر
فیروزه الماس یاقوت لعل له کانه    له دریابه نه وَکاږِی گوهر زر
مځکه څه چه دَ اسمان ښایست په زر دی    ستوری زر دِی آفتاب زر دَی قمر زر
شاهزاده بی زرو گُنبی تنها گرزی    دَ هندو سَرَه روان کا لښکر زر
زور، قوت، حرمت هوری درومی چه زر وی    دَ پادشاه په سر څوک کښیږدی افسر زر
خدای دِ ما دَ قانعانُو په حساب کا    چه و دیو وته یَو دی حجر زر
ښه ځوانان ئی لیدَل نه مومی له ورایه    دَ نامرد په غیږ کِی ورکا دلبر زر
جوهری قدر قیمت زده دَ جوهرو    قلب سَرَه سَرَه جدا کا زرگر زر
دَ گیدړُو نوم په خوله څه لرَه اخلی    دَ زمری له تنه هم پری کا سر زر
هر مراد چه دَ سړِی وِی په دنیا کښ    دَ طلب په وخت ئی ورکا در بر زر
که چمیار دَی که نداف دَی که جولا دَی    تر اصیل سړِی ئی کښینوِی بر زر
نه به دی په لړُو زور نظر وَکا
نه به پریوزی و خوشحال ته غر غر زر

دَ غریق اوبه چه پاس واوړی تر سر[2]    دَ جهان له حاله هیڅ نه وِی خبر
خبر دار ئې په پساره په اوږده نه وِی    چه دریاب تر کومه لاړ دَی پهن تر
اوس می درست صورت دَ غم په دریاب ډُوب دَی    په هیڅا باندِی می نه لگی نظر
اندرون بیرون همه په غم کښ ځار شوم    هم دَ غم سَرَه مِی یَو شو درست پیکر
ژواک ژوندُون مِی همگی واړه په غم شو    هم دَ غم سَرَه مِی یَو شو درست پیکر
ژواکب ژوندُون مِی همگی واړه په غم شو    غم په مثل لکه اور زه سمندر
شش جهته می خالی ندی له غمه    په هر لوری واړه غم شوم زه احقر
غم په هسی شان مبهوت بې خوده یووړم    چه می وهیر شو د یارانو ښه بشر
هغه څیز چی له نظره نه پناه شِی    وایی هیڅ یې په جهان نه و اثر
د غم شپه لکه یو کاه شوه، نه تیریږی
په خوشحال باندی به کله کړې سحر

دَ دولت لَمن نیوه نشِی په زور[3]    ړوند که سترگی په سمه کا لا پیغور
دولت څه دَی په مثال ښایسته ناوې    دَ نامرد کره ئې عمر وِی په اور
د گنده ټټو نه بد ټټو پیدا شِی    ښه آسونه دَ میدان راوړِی ښه مور
دَ دولت په آس دِ هر ناسور سوز نشِی    که سواری وربانِدی کاندِی خو شاه سور
چه په کور کښ می اول ټټو راغلَی    د ما بخت وُ لا اول له ځایه تور
ټټوگی دِی تازه گی دی ترې زوولی    همیشه کا په پایگاه کښ شروشور
نه یَو ښه لایق فرزند دَ پلار په خونه    نه دَ سرو دَ سپیموُ گنج دَ ده په کور
ربه ډیر اولاد دِ راکړِ منت دار یم    دَ خوبیَ بږغ ئې بیایې په هر لور

---

۱. خپل پردی په خوله په زړه وایی زر زر.
۲. دا بدله په چاپی نسخه کښ نسته.
۳. دا بدله په چاپی نسخه کښ نسته.

چه په ورُونېو کښې نفاق کا نا لایق دی    یا ئې ښه کړه یا ئې مه گرزوه نور
دَ خوشحال په دعا غوړ دَ سترگوُ وَرکړه
که بهرام[1] عابد دِی واړه کروکور

دَ بازوُنو ښکار دَ چا دَی د زردار    هم زردار هم بی پروا قلندر وار
که ئې غم دَ هوس کا دَ زیان ئې نکا    که ئې مرِی په قوشخانه کښې څو دینار[2]
دَ هغه سړِی څه کار دَی په بازُونو    چه بنده دَی دَ درم او د دینار
دَ ښکار کار په مصلحت په سیالِی نه دی    دا یَو عشق دَی چه ئې ورکا کردگار
چه په اصل کښې شجاع عالی فطرت وِی    دَ هفه په زَړه کښې حُب پریوزی دَ ښکار
قمار باز به له قماره صبر وکا    مست به هم شِی له شرابوُ توبه گار
زه خوشحال به دَ بازوُنو ښکار پرېنږدم
څو ژوندَی[3] یَم دا می کار دَی دا روزگار

زه ژولیده تر یم که مجنون ژولیده تر    هیڅ خبره مکړه[4] سَرَه دواړه سر په سر
گوره چه څه حال دَی ستا په زلفو کښې دَ زړه مِی    باد را لَرَه راوړ نن پریشان پریشان خبر
مخ دی مسلمان دَی واړه[5] زلفی دِی کافری    دواړه مِی قبول دَی مسلمان دَی که کافر
گل دَ لاله ښه دَی راته وایه که بارخو می    ستا زیبا بارخونه له گیاه کړم برابر؟
نه په گنبت دَ باغ ځِی نه په سیل دَ گلوُنو    څوک چه په کوڅه دَ دلربا لَړِی مقر
تا وَته دَ خپلوُ شونډُو قدر ښکاره ندی    ما زده چه عسل دِی یا نبات دِی یا شکر
مخ په پَلَو پَټ کړې رڼا ورَځ ور باندی شام کړې    بیا چه پلَو واخلې په عاشق شِی سپین سحر
ډیر[6] په غیږ کښې پروت قدر ئې هیڅ نه نه ئې زده شِی    چا دَ سر قیمت زده جوهری صاحب نظر
سترگو ته ئې وگوره خوشحاله بانُو ورځِی
ستا دَ مرگ دَپاره په څو جوړ لَړِی لښکر

راشه گوره دَ بهرام دَ نفاق چر    گاه سنی گاه رافضی گهی کافر
کله ښه زویَ دَ پلار ښه ورور د ورور شِی    گاه له دواړو توگه گرزی پر نځر[7]
دا تاثیر دَ بد پتِی دَی که د تخم    چه غنم باندی کرې کیږِی جودر
که لوگی دَ اور فرزند دَی په دا څه شو    چه دَاور غُندِی ئې نشته خیر و شر
په مادر کښې ئې بلا وِی که په پلار کښې    چه دا هسی ځنی زیږی گیدی[8] خر
بهرام خان[9] دَی سعادت دَی هم یحیی دَی    په خصلت کښې سَرَه یَو تر[10] بل بدتر
و خانِیَ وته ځغله هنر هیڅ نه    و عالم وته پیدا کړه درد سر
خانی کار دَ هر چا نه دَی دَ هغه دَی    چه صرفه ئې نه په زر وِی نه په سر

---

١. بهرام او عابد د خوشحال خان زامن وه.
٢. محشی ورته کښلی دی: یعنی دینار بازونه، ممکنه ده چه یوه نوعه د باز وی.
٣. په ژوندون دی له ما نه درومی دا کار.
٤. نده.
٥. توری زلفی.
٦. در په غیږ کښې.
٧. دا کلمه په چاپِی دیوان کښې پرنځر او په نورو کښې هم ډول ډول لیکلې ده چه حل طلبه پاته سوه.
٨. سید راحت گیدَی په معنی د خره راوړی دی.
٩. بهرام، سعادت، یحیی د خوشحال خان زامن دی.
١٠. سره یو تبله بتر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یکباره ئې په نظر کښ شرم ننګ وِی دَ دنیا په سود زیان نه وِی خبر
دَ خوشحال خټک که سل زویه نمسِی دِی
لا لایق دَ خانیَ نه وینم پسر

راشه مه کوَه ډیر جور زه هم خوی لَرَم یَو طور
زه فرهاد دَ زمانې یَم ته شیرینه دَ دې دور
دَ غماز په خولې[۱] می وژنې نه انصاف لَرې نه غور
په خبرو دِ پوهیږم که ته رنګ لَرې دَ میور[۲]
ګُندی راشې په منګلُو درته پروت یَم لکه بور
په خوشحال کړې ځنی چاری
دَ غمزې په هور زور

ستا په داغ راغلَم له موره خدای مِی مکړه د غمه[۳] نوره
کم خدمت یَم په خدمت کښ ځان لازم وینم هر ګوره
که زه هر څو کم خدمت یَم ته خپل شرم وَته ګوره
خانه زاد بنده کین یَم هم بې توانه هم بې زوره
توان او زور می واړه ته یې بې تا نه پیرم[٤] په توره
بد غلیم راته په ځو[٥] دَی له غلیمه مِی وَژغوره
ته شفیع دَ قیامت یې
خوشحال وساته له اوره

شپه ئی وینځه بی بی نور تور زنګی نوم ئې کافور
مرده شوی چه منافق دی مړ جهود بولی مغفور
نادیده چه منیه[٦] لولی ځان ملا کاندِی مشهور
سفله ټول کا څو درهمه تر خواجګانوُ شِی مغرور
دروغجن تر ټوپه[۷] ورشی دَ کابل کاندِی مذکور
خپله بل وته نیولِی په پردِی باندِی غیور
پُټی ډکِی پیالې اخلی ښکاره مه خوره یَو انګور
موحد دَ رسالو شه تر ځان کوز ګڼه[۸] حضور
د خوشحال سَرَه خندا کړه
بیا ئې ژاړه په سرور

۱. په خوله می.
۲. طاوس.
۳. تغمه.
٤. مخامخ کیدل او وار و نوبت.
٥. په چاپی نسخه کښ څو لیکلی دی په بله نسخه کښ پځو دی چه معنی ئې حل طلبه ده.
٦. دَ فقه له لمړنیو کتابو څخه دی.
۷. په ننګهار کښ د یوه زاړه عمارت کنډواله ده چه ښایسه ټوپ ئې بولی ، دا ټوپ زما په خیال له هغی زړی کلمې (ستوپه) څخه پاته ده، چه پخوا ئې د بودائی دین معابدو ته ویله.
۸. منصور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشق تر ځوانَ نه زوړ کا ژر نسکور[1]     په پخه ونه لا ښه لګیږِی اور
اندرون دَ هر چا شین دَ عشق په شین دَی     دا یو اور دَی لګیدلَی لور په لور
چه په عشق کښې څوک پیغور تړی په نورو     هم په دَه پوری به لګ وِی دا پیغور
زاهد وَرچانی[2] انکار کاندی له عشقه     نلدمن[3] لیلا مجنون لولِی په کور
چه دَ مځکی دَ اسمان په منځ کښې څه شته     زه همه وینم له عشقه سپین و تور
زه حیران یم دا می څه دی په کوګل کښې     چه ورَځ و شپه پر تل وی شر و شور
په وصال کښې سل هراسه دَ هجران دِی     په هجران کښې خو غم یو دَی نه وی نور

جهان واړه کور دَ عشق دَ محبت دَی
په خوشحال باندی بانړه[4]شو رنتبهور

که دِ زلفی نه وَی تار تار     ما به نه ژړله زار زار
ستا له خاره خاره عشقه     په سینه کښې می خار خار
چه په تا ئې دَ زړه مینه     هغه تل ګرزی خوار خوار
زړه دَ یار له لاسه مرینه     بیا مدام وایی یار یار
توری سترګِی دِ ګواښ ګرندِ     بانړه ستا وایی مار مار
ستا دَ شکرینو شونډُو     اشتیاق لَرم بار بار

خوشحال ستا له مخه وایی
واړه ښه وایِی ځار ځار

که په خوله را سره جنګ کا هغه یار     په زړه مهر رنګارنګ کا هغه یار
چه له ما سَرَه راځی غاړه غړیَ     څه مِی لیری له زړه زنګ کا هغه یار
هیڅ حاجت دَ توری نسته مانَی بس دَی     که مِی مرګ وته آهنګ کا هغه یار
چه مشال ئې دَ جمال راته ښکاره کړ     بیا به ما باندِی پتنګ کا هغه یار
چه ملنګ دَ مسلې غواړِی خپل مخ ته     عاقبت مِی به ملنګ کا هغه یار
له هر چا سره خندا په اَرت زړه کا     خو په ما باندِی زړه تنګ کا هغه یار
مرصع بسیر[5]دِ نور لَرِی په پوزه     اکتفا په تور لَونګ کا هغه یار
زه فقیر یم دَی بادشاه دَی باندی ښائی     که ځما له یاریَ ننګ کا هغه یار

رقیبانو وَته نرم شِی تر مومَ
و خوشحال وَته زړه سنګ کا هغه یار

که مسجد ګوری که دیر     واړه یو دِی نشته غیر
یو می بیا موند په هر څه کښې     چه می وکړ دَ زړه سیر
هغه ځای په سیر ګرزم     چه تر نه رسیږِی غیر[6]

---

۱. دا بدله په چاپی نسخه کښې نسته.
۲. یعنی دروازه تړی.
۳. د یوه عاشق نوم دی چه جلا کتاب لری.
٤. یعنی ګوچنی کلی، کلا.
۵. دا کلمه په هره نسخه کښې په جلا ډول لیکلی ده، په چاپی کښې بیر، په بله کښې پسر ده، چه اصل ئې نسو را معلوم.
٦. طیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پە احوال باندِی یو دوە شِی ‌ ‌ ‌ ‌ څکە نشتە باندِی خیر
خوشحال یَو وینِی خوشحال دَی
ورتە ورک دی غیر و زیر

لکە کار لَرِی نظر ‌ ‌ ‌ ‌ هسِی ژبە کا اثر
ماهیت ئې موندە نَشِی ‌ ‌ ‌ ‌ چە څە څیز دَی دا بشر
هم ترکیب دَ نیک و بد دَی ‌ ‌ ‌ ‌ هم معجون دَ خیر و شر
هم فرښتە دَی هم حیوان ‌ ‌ ‌ ‌ هم مومن دَی هم کافر
کلە اور کلە اوُبە شِی ‌ ‌ ‌ ‌ کلە تورە کلە سپر
کلە خورب شِی لە بادە ‌ ‌ ‌ ‌ کلە بیا پە هیڅ ډنگر
لکە دَی دَی پە جهان کښ ‌ ‌ ‌ ‌ بل بە نە وی دیدە[1] ور
دَ څلورُو[2] میندو زویَ ‌ ‌ ‌ ‌ دَ اتو پلارُو پسر
څە خو لږ تر خدای را کوز دی ‌ ‌ ‌ ‌ کە ئې نە دی برابر
دا وَ چا تە کړې خوشحالە
د مستیې شور و شر

لیونی سَرَە[3] بە څە کړې نور تدبیر[4] ‌ ‌ ‌ ‌ لیونی لَرَە زندان بویە زنجیر
دما زړە ئې پە حلقە دَ زلفو یووړ ‌ ‌ ‌ ‌ لکە لوی ماهی پە شست دَ ماهی گیر
کە خوښی دە پە جهان کښ دَ لیدو دە ‌ ‌ ‌ ‌ نە خوښی دَ بادشاهیَ دَ سریر
کە یوسف ئې دَ کنعان دَ ښاهَ وَکینښ ‌ ‌ ‌ ‌ پە نیک بخت ستوری زوولَی وُ بشیر
دَ شکرو پە دکان هندوُ بچە دَی ‌ ‌ ‌ ‌ کە تور خال دَی ستا پە سرو شونډو جایگیر
دَ بهار پە وخت پە بوړە[5] د سرای گرزە ‌ ‌ ‌ ‌ نە پە بوزە دَ کابل او دَ کشمیر
دَ لنډیَ[6] اوبە هغە گڼە خوشحالە
چە یادیږی پە جنت کښ جوی دَ شیر

مرد بە نشې پە گفتار ‌ ‌ ‌ ‌ څو پیدا نە کړې کردار
چە دی وښکنځی مرد نە یی ‌ ‌ ‌ ‌ کە لە تا نە وِی پە ډار
چە څە دَی خو انتقام دی ‌ ‌ ‌ ‌ دَ مردانو کار و بار
عفو هورتە ځای لَرینە ‌ ‌ ‌ ‌ چە نە عیب دِی نە عار
چە غیرت ور څخە نە وِی ‌ ‌ ‌ ‌ هغە مرد نە وِی پکار
هم مهرە لَرِی هم زهر ‌ ‌ ‌ ‌ ښە مردان وِی لکە مار
چە هم تندرە هم باران دِی ‌ ‌ ‌ ‌ تر هغو مردانوُ ځار

---

١. د پدر.
٢. مطلب څلورو مندو څخه څلور عنصر دی، او اته پلاره به ممکنه ده، اته عرض وی، په اصطلاح د قدیم حکمت، مگر په بعضو نسخو کښ (د نو پلارو پسر دی چه محشی ورته کښلی دی مطلب څنی نه فلک دی.
٣. لره.
٤. دا بدله په چاپی نسخه کښ نسته.
٥. دا کلمه په هره نسخه کښ جلا املا لری. یو ځای پوژه، بل ځای بوژه، بل ځای ښه لیکلی ده، ممکنه ده چه دا کلمه بوښی سره چه نن په قندهار کښ رواج لری، نزدیوالی ولری، ولی چه اوس بوښه په معنی د گوښه علاقې او لیری دښت یا غره ده.
٦. د پیښور پر خوا د یوه رود نوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرد به غم دَ خپل هنر کا
نه دَ زر نه دَ دینار
مرد به غم کا دَ خپل شرم
دَ عزت دَ اعتبار
نا مرد فخر په نسب کا
مرد نه مور لَرِی نه پلار
دَ خوشحال خبری گوره
لعل و دُر پیئی په تار

نه میِ لاس رسی په یار
نه طاقت دَ انتظا
دا ستم په ما خپل یار کا
که گردش دی دَ روزگار
پکښې ستا غمونه ځای دِی
که یَو زړه دَی که هزار
تر ویښته ضعیف وجود می
ستا دَ زلفو دی یادگار
غم دَ یار د بیلتانه دَی
چه تر هر څه دَی دشوار
خپلې اوُښی میِ دریاب شوې
پکښې نه موم کنار
چه می تل په دیو زورې
ستا په شونډُو لَرم کار
چې څوک سوځی، هغه سوځی
هم پتنگ گوره، هم نار
ځما زړَه څه اسان ندی
چه ئې وړې نه ترس نه ډار
دَ بوسې وعده دِ وکړه
زه خوشحال لَرَم تلوار

ننگیالی قبلوی گور[١]
گور خو نه وِی[٢] رنتبهور
لس په کال پرې نَنوزِی
ځنی وزِی درې څلور
مور زادی بلا پروټ[٣] یَم
چه بلا هورې مِی کور
ننگیالی دَ ننگ دَپاره
په هر څه لگَوِی اور
سر په باد دَ سړِی پریوزه
چه ئې نه وِی ژوندُون نور
چه په نام و ننگ آړنه وِی
خو دِ نشِی ویَی[٤] سپور
سر په دار لک شوی ښه دی
نه لک شوی پر پیغور
په همت سړَی پورده دَی
نه دَ مست هاتی په زور
د خوشحال سلام په واړو
زیات ئې لا پخپله مور

نه د ما د هنر شته څوک طلبگار
نه د ما دَی ددې ملک هنر په کار
خپل ځانونه هوښیاران کښی نادان دی
خدای د ما د هسی خلقو کړ روزگار
په یو ژبه ویل سرَه پښتو کړو
ولی هیڅ ځبله[٥] نشوو خبردار
چه دَ سوات په ملک کښې ما نداره وکړه
بل اولس تر یوسف زیو نشته خوار
زور زیاتی خود پسندی خصلت دَ واړُو
هر سړِی ئې طمع خواست وته تیار
که په کور کښې مال دولت لَرِی سترگ وړِی
ملکان ئې لا تر نورُو دِی مردار
حقه چار به دَ عزیز کاندی نا حقه
که په بډِی رشوت مومی یَو دینار

---

١. دا بدله په چاپی نسخه کښې نسته.
٢. خو نه دی.
٣. وټ لاری او سړک ته وایی.
٤. په یوه قلمی نسخه کښې وهی لیکلی دی.
٥. وبله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خټکی له خټکی نه رنگ آخلی — عالمان شیخان ئې لا دِی ناپکار
چه مِی ولیدَل له نورُو خبر نه یم — دا خو واړه[1] یا غوایه دِی یا حمار
دا په هر دیار کښ سیل هم بد نه دَی — چه خوشحال وته څرگند شو هر اسرار
چه د سوات د سیمی خاوری خوشحال بوی کړې
یَو سړَی[2] به څئِی نه وِی وفادار

نخښنه نه ولی همیش لیندئ په سر — کله منځ کله ښَی کیڼ کله لَر بر
دا یو لحظه دَ هوښیار غلطی نه وی؟ — یا هر گز دَ لانبوزن نه وِی خطر؟
په زمان کښ به خپل ځان تر هر چا ښه کا — دَ سړی که لاس رسیږی په قدر
بخته! چیری یې له ورایه را ښکاره شه — چه می ښه تر عراقی شِی لاشه خر
دانشمند په خواری خوار جاهل کامران دی — دَ سړی طالع په کار دَی نه هنر
هنر مند سړی په هر دیار عزیز وی — په هر ځای قدر قیمت لَرِی سره زر
دَ بلبلو په کار گل دَی نه دا نور څه — په چمن کښ خار و خس بلا بتر
چه دَ زرکو ښکار په غره کښ پیدا کیږی — باز په دا سبب نیولَی دَی لوی غر
اول فکر دَ زړه وَکړه بیا وَیل کړه — کاتبان تر کښنو پخوا وهی مسطر
هیڅ خبر دَ ورځو شپو په حساب نه دَی
همیشه ښه دَ خوشحال خټک اختر

ولی په کوڅه دَ هغه یار نکړې گذر — وَرلَرَه دِ بولی ته لا گرزې در په در
خاورِی دِ په سر شه چه به ورپه ورجار وزې — زده کړه دا خبره درپه در خاوری په سر
یار دِ په ښایست کښ دَ بهار تر گلو ښه دَی — ولی ئې له مخه لاله گل ته کړې نظر
هر چه ته ئې غواړی هغه یار درته حاضر دَی — دواړه سترگِی وَخورې هیڅ په ځان نه یې خبر
دایم درته وایم ستا بد خواه نه یَم نیکخواه یَم — فکر دَ توښې کړه چه پخوا لَرې سفر
زرکی تور تارو تمځری هر لوری ته ډیر دی — هسی باز در څخه تا ئې وَتړل سهپر
تخم شته هم مځکه هم قبله لَرې تیاره — هر اسباب دِ جوړ دَی ولی نکړې کار د کَر
کانده به حساب وی مو بمو به سوال ځواب وی — څه دِی پکښ کښلی راشه گوره خپل دفتر
مه اوسه بی غمه غلیمان لکِی له همَ
فهم کړه خوشحاله چه دا لار لَرِی خطر

هر ساعت چه په چا ځِی هسِی بې کار — تر هغه نه زه لا ښه گنم بیگار
رنځوران که کاروبار نکا معذور دِی — روغ سَړی به ولی نکا خپل روزگار
که هیڅ کاروبار دِ نه وِی درته وایَم — هَسِی مه کښینه بیکاره نا پکار
په هر څه چه غم غلط شِی واړَه ذوق دَی — که په نرد که په شطرنج وِی که په ښکار
سړی هر ساعت هر وخت په بل بل[3] حال شِی — همیشه په یَوَه حال دَی کردگار
ستا به نوم په جهان پاتو شِی خوشحاله
یَوَه لویه مشغولا دَه ستا دَ کار

---

۱. دا خو بی غوږو لکئ دی حمار.
۲. به پکښی نه وِی.
۳. بیل بیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يَو دا هسې ښه بهار — بيا پرې صوت دَ هزار
څوک سپاره په عراقيانوُ — تر چا لاندې ښه رهوار
په لاس ناست خاصه بازوُنه — په هر لورې خاصه ښکار
ښه کرجی[1] وړاندې نيولی — دَ بازونوُ سرَه يار
ښه تازی په دور تړلی — پرانتلی په وار وار
زړه فارغ له هره لوريه — پکښې واړه خيال دَ يار

تر دا هسې ښه هوس به
زه خوشحال کړم دنيا ځار

ړ

په سرو شونډوُ دِ بازار دَ شکر مات کړ — تورُو زلفو دِ ناموس دَ عنبر مات کړ
چه دَ صبر په آهن مې وه تړلې — تا دَ زلفو په حلقه هغه ور مات کړ
چه ئې ستا دَ خط و قد نندارە وکړه — صورت گرو مې پر کار و مسطر مات کړ
سحر گرُو اوس دَ سحر دکان ونغښت — دواړُو سترگوُ دِ دَ سحر هنر مات کړ
پدا دوه سپاره دَ مخ يعنی ستا سترگی — تا مې درست دَ پارسايَی لښکر مات کړ
په هوس هوس راځې طره پريېښې — گوره بيا دِ دَ چا نَویَ سنگر مات کړ
چه آرزو لرم په زړه کښې ستا دَ ورځيو — دې ارزو مې په ځگر کښې خنجر مات کړ
تا وې نور به قول مات نکړم سوگند دَی — په سوگند سوگند دِ لا څه بهتر مات کړ
په بارخو دِ مار حلقه شو که صبا مې — ستا دَ تورُو زلفو خولې وته سر مات کړ

ماتوه دَ خوشحال زړه بيا به وَوايې
چه مې څه لره دا هسی گوهر مات کړ

په دا شکر چه ئې بوی ښکاره آتش کړ — اگر[2] درست صورت وَاوروته پيشکش کړ
زړه پخپله هغه مخ لَرَه لاړ نشو — دَ ذلفينو ئې هر تار ورته دلکش کړ
دا بيغش شراب دَ کومی ميخانې دِی — چه ځما دَ زړه ئې ليری غِل و غش کړ
ليونتوب ئې مبارک شه تَل ترتَله — چه ئې يار دَ زړه په غوره پريوش کړ
په ياری ئې نر باحقه نازيدلَم — بيهوده مِی په سراب دَ اُوبو اَش[3] کړ
مشوش ئې کړ روزگار دَ پرهيز گارُو — چه کاکل ئې په جبين را مشوش کړ

ما وې سپينه خوله به ورکړې وَ خوشحال ته
په خندا ئې له ناخوا له پنج و شش کړ

---

١. په قلمی نسخو کښې کرځی ليکلی دی يعنی زوړ باز يا جره.
٢. عود.
٣. د تحسين او تعجب کلمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه مې زړه دَ مال و ملک په هوا نه ولاړ[1]
که په کښلیو پسې لاړ شو ښه چه ښه ولاړ

عقل و هوښ صبر و آرام ورپاتو نشِی
دَ هر چا چه په دلبرُو پسې زړه ولاړ

هر چه خورِ دَ کښلی مخ په مینه نه وِی
دَ جهان په مخ اُوده راغَی اُوده ولاړ

هم مې زړه په غمزه وړی هم ځان نادان کا
راته وایی وایه بیا دِ زړه په څه ولاړ

محبت دَ کښلی مخ ځما په زړه کښې
باور وَکړه لکه اور په وچ واښه ولاړ

دَ هجران په شپه ئې درست ټوکر ټوکر شو
په ژړا ژړا مِې زړه تر دوه لیمه ولاړ

هغه یار را څخه وایې هر گز نه وُ
هیڅ مِې نه زده که همیش را سره وه ولاړ

هر زمان به ئې شا راته په مانِیْ وه
یوه ورځ بې غمه نه وه تلتل ته ولاړ

نور به بیا په بیارته را نشی خوشحاله
گذشته عمر پسو لکه اوبه ولاړ

چه مې ښه توریت[2] دَ خپلې چارې ځیر کړ[3]
ځان مې واړه حبطه پخپل تدبیر کړ

لکه واچوی دانه دَ دام په منځ کښې
خلقو ما سره په مهر کښې ترویر کړ

ما پدا سترگې لیده دَ دنیا خلق
څو ئې ډیر دَ دنیا سود[4] هونبره ئې ویر کړ

مور زاری کانړه هر گز نه هوښیارېږی
نصیحت په تور زړگی کله تاثیر کړ

په ناپوه باندې بې غمه بې غمی ده
دَ دانا آفت ئې خپل ضمیر منیر کړ

راشه وگوره یو گز مځکه نیولې
چه ئې مټ دَ خپلې خونې په توفیر کړ

دَ ارمان لاسُونه مړه مړی په گور کښې
چه مو ولی په نیکیَ کښې تقصیر کړ

دَ هر چا مې خپل هنر بلا دَ ځان دَی
خپلو پرونو په خزه بندی کجیر کړ

چا ئې وصل پخپل مټ حواله کړَی
چا دَ هری چارې حکم په تقدیر کړ

لیونی د لیونتوب په سبب بند شِی
مست هاتی خپلې مستِیْ په زنجیر کړ

په بار بار دَ خپل استاد منت را باندې
چه له زنگه ئې صفا ځما ضمیر کړ

دَ زړه ښهر مې چه ځای د قناعت دی
په ناحقه مې حرص پکښې امیر کړ

که وَیل ئې دَ غماز منلی نه دِی
بیا ئې ولی له حیرانه زړه دلگیر کړ

پوره زر اتیا کالونه په کابل کښې
دا غزل مې په بیاض باندِی تحریر کړ

دَ خوشحال دَ زړه خوښی نشِی بې سرایَ
خپل وطن ئې په هر چا باندِی کشمیر کړ

څو ئې بوی په هر طرف بهیر و نه کړ[5]
په گلونُو عندلیب نفیر و نه کړ

ځما اوښیو کانِی هم په مخه یوړل
ولې ستا په زړه ئې هیڅ تاثیر و نه کړ

په ژړا په بې صبری له لیدَل مومم
ما په دواړو توگه هیڅ تقصیر و نه کړ

په خندا خندا دِ مرگ وته نیژدې کړم
ترو دِ څرنگه په ما تزویر و نه کړ

خو لا زه یم چه له غشیه نه دِ درومم
گڼه هونبره مټ په تور نخچیر و نه کړ

۱. دا بدله په چاپې نسخو کښې نسته.
۲. د طالع ستوری، نجوم.
۳. دا بدله په چاپې نسخو کښې نسته.
٤. سور.
۵. دا بدله په چاپې نسخو کښې نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مگر زه سهل غرځه وم ستا تر فهمه　　چه ځما په مرگ دِ هیڅ تکبیر و نه کړ
اوس به څرنگه خلاصیږم له دې غمه　　چه لمړی می دَ خلاصئ تدبیر و نه کړ
د کعبې په لار به څرنگه برَی کړې　　چه هر گز دَ یوه شپه شبگیر وَ نه گړ
په صورت به دِ تل ویر وی پسله مرگه　　که د ځان دِ په ژوند ونی ویر و نه کړ
زه خوشحال چه سر و تیر ځم ستا له تیره
هیڅ ارمان دِ دَ غمزې په تیر و نه کړ

خدای یَو هسِی فکر راکړ[1]　　چه ئې ملک راته رڼا کړ
چه په ملک په ملکوت دِی　　پرې خبر ئې زړه دَ ما کړ
په اعلی په اسفل واړه　　را ښکاره ئې هر اشیا کړ
که په نورُو توره شپه دَه
په خوشحال ئې سپین سبا کړ

لکه خدای چه دَ یار حسن بې نظیر کړ　　هسی ما دَ زړه په سر باندی تصویر کړ
د مجنون غُندی په درد دَ عاشقئ کښ　　پخپل حال می همگی خلق خبیر کړ
ما وې گندی تفحص وکا پخولا شِی　　تر پرونه نه ئې نن ما بنَی کبیر کړ
ښایسته د قندهار دَ چا په یاد دِی　　پدا حسن ئې بنده واړه کشمیر کړ
دا څه حسن څه جمال څه ئې اقبال دَی　　چه شاهانُو ئې په وَر کښ ځان فقیر کړ
زړه پخپله هغه مخ لَرَه ولاړ نشو　　دَ زلفینو ئې هر تار ورته زنجیر کړ
نه گناه نه ئې خطا نه نیت ئې نور دی
نر ناحقه ئې خوشحال په زړه دلگیر کړ

مخ ئې فکر دَ نسرین را څخه یووړ　　خط و خال ئې مشک چین را څخه یووړ
د ترسا زلفی زنار شوې را تر غاړه　　شکر شکر چه ئې دین را څخه یووړ
بې د یار دَ شونډُو تل چه یادوم ئې　　مینی نور ذکر تلقین را څخه یووړ
درسته شپه ژړا نارې آه و فریاد کړم　　بیا ئې خوب په څه آئین را څخه یووړ
دواړه سترگی ئې شاهین شهپر ئې زلفی　　ځما زړه کوتر، شاهین را څخه یووړ
په راتله ئې درست آرام را لَرَه راوړ　　او په تله ئې درست تسکین را څخه یووړ
د چمن گلُونه کوز گوری دا وایی　　چه دلبری هر تحسین را څخه یووړ
چه مِی زړه وړی ما وې پاسه په اسمان ده　　ولی تُرکی په زمین را څخه یووړ
زه هاله دَ عافیت ناوِی قبول کړم　　چه هوس ئې په کابین را څخه یووړ
تل اوبه په نری ځای باندِی ماتیږی　　عقل و هوښ ئې نخستین را څخه یووړ
هغه ورَځ مِی زړه له خپله ځانه موړ شو　　چه له لاسه دل سنگین را څخه یووړ
چه دعا ځما دَ صبر کا وَگړِی　　عشق دَ دې دعا آمین را څخه یووړ
ما وې زه به ئې لا فکر دَ علاج کړم
ولی خوار[2] خوشحال زړه خوړین را څخه یووړ

---

۱. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
۲. ولی خوار عاشق زړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دَ ښکلیُو ننداره کړه زاهد ننګ کړ[1]
ښه خو دا چه خدای دَی هم دما په رنګ کړ

هغه وخت چه را په یاد شِی ډېر خوشحال شم
چه به ما درته دعا کړه تا به جنګ کړ

زما زړه ئې په قلاب دَ زلفو یووړ
ور سرَه ئې اوده کړی په پالنګ کړ

که ژوندی نشی له خوبه[2] عمر ئې شوم دَی
چه په خاک ئې دَ پایلو باندِی شرنګ کړ

ښکلی مخ ئې لکه څراغ هسِی بلیږِی
خوار عاشق ئې پدا څراغ باندِی پتنګ کړ

ملنګان ئې دَ دربار درویزه مومی
ما هم ځکه ځان دَ یار دَ ور ملنګ کړ

ته دَ ځانه هسی نه وې دا څه حال دَی
چه په ما باندِی دِ زړه دا هسِی سنګ کړ

## ز

پر د قاز شته پر د باز[3]
لکه پر هسِی پرواز

لکه سترګی لیده هونبره
لکه خلق هسِی آواز

لکه قد جامه هم هونبره
لکه حسن هونبره ناز

دَ دانش ښښیده بویه
نه دَ سرو زرُو طراز

بیړیَ ګرزِی په بیله[4] ښښ
په قلزم ګرزی جهاز

سګ لاهو غُندی خو نشته
مېږک که هر څو وی اوباز

په دا پړانګ نشو خوشحاله
که پړانګ[5] پش دَی پړانګ ته ساز

چه هر یار ته می تر خوله ویوست آواز[6]
زر په واړه عالم خور شو هغه راز

که د زړه دَی چه رسوا په هیچا نشې
د قلوب دننه ښه دی ساز ناساز

که آواز دَ زرګُو نه وَی په درو ښښ
چا به چیرِی ور پسې ګرزاوه باز

چه ناري کا تور تارُو په مرغزار ښښ
باز جره ئې ښتِی یوسی د طراز

چه ځما تر خوله و نه ووت چا وَ نه وې
خپل نفس دَی په سرِی باندی غماز

په سبا به هغه راز په کلی خور وُ
چه په شپه به ما وَ زوی ته وی په ناز

ډېر یاران می تر سر تیر دی ځوان وَم زوړ شوم
په زرګونو ښښ پیدا نشو دمساز

پخپل زړه ښښ جګرخون کوَه خوشحاله
خپل پردِی ته دَ زړه راز مکړه آغاز

لکه غشی لَرَه بویه تیر انداز
هسی شعر لَرَه بویه سحر ساز

همیشه دَ زړه په لاس تله دَ وزن
زیات و کم دَ وزن یو توری غماز

په تور آس دَ حقیقت ناوې سپَره کا
په سپین مخ پلَو نیولَی دَ مجاز

---

۱. دا بدله په چاپی نسخو ښښ نسته له یوې قلمی څخه نقل سوه.
۲. له مرګه.
۳. دا بدله له یویې قلمی نسخې څخه نقل شوه، په نورو ښښ نسته.
٤. یعنی جزیره.
٥. د زنګله یاغی پیشی چه لکه پړانګ داسی ده.
٦. دا بدله په چاپی نسخو ښښ نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سل جلوې سل کرشمې سل مکیزُونه     په نظر کښې ئې ښکاره دَ سترگو ناز
دَ صنعت زیور په څو رنگه پریوزی[1]     د تشبیه چندن چووه باندې طراز
دَ تجنیس پایلی جوړی[2] په پښو کړی     د ترصیع منی[3] په غاړه اوږد دراز
د مضمون د نزاکت غمزه ورځخه     سر تر پایه درست صورت سرَه یو راز
که په نظم کښې کارگه او تپوس راوړی[4]     هم دَ زړونو په ښکار گرزی لکه باز
چه یوه وینا ئې وکړه هوښیار هغه     عاقلان به وَیل کاندې په ایجاز
و پښتو ژبی ئې ډیره خوبی ورکړه
چه خوشحال کا په پښتو شعر آغاز

## (س)

په رموز د عاشقانو عاشقان پوهیږی بس[5]     په طلب دَ طالبانُو طالبان  پوهیږی بس
په ضمیر دَ نخلبندُو نخلبند سړَی خبر وی     په تصویر دَ نقاشانو نقاشان پوهیږَی بس
چه کښتیِ پکښې بیایی په عظیم دریاب گډیږی     په بیلو د کښتیِ ملاحاان پوهیږږی بس
چه گردش ئې ورځ و شپه کا دَ کامل انسان دپاره     په اسرار ئې کاملان یا دا آسمان پوهیږی بس
سپینی بږیرِی وَته بویه چه نظر پخپل قوت کا     او هوس دَ شوخی شنگی پدا ځوان پوهیږی بس
نادانان دَ ملک څښتن کا دانا هسی ورته گوری     دغه پوهه دَ چا نه دَه پرې سجان پوهیږی بس
چه خوشحال ئې په بیاض کښې دا تازه تازه خبری
نو په دا تازه خبرُو سخندان پوهیږی بس

په درست کلی کښې می یار دَی هغه کس     چه په درست تومن اوځار دَی هغه کس
که په شکل شمایل سړی لیده شی     سر تر پایه پریوار دَی هغه کس
ځکه زه وَرباندې هسی عندلیب یَم     چه په حسن یَو گلزار دَی هغه کس
که هر څو راته ښکنځل کا یا قهریږی     په خوله واړه شکر بار دَی هغه کس
که ئې زلفې که کاکل که ئې گیسو دی     همگی مشک تا تار دَی هغه کس
چیری نه چه په تولی کښې ئې غلط کړې     هوسی سترگی گلرخسار دَی هغه کس
دَ جایفل په ځای به سر ورته پیښکښ کړم     که په سرمی مینه دار دَی هغه کس
چه زه خوله ورځنی غواړم نور ښکنځل کا     بی حسابه ستمکار دَی هغه کس
سر تر پایه زرزری جامې آغوستی     سر تر پایه زرنگار دَی هغه کس
زرکی! څه لَرَه پخپل رفتار غره یې     لا تر تا نه خوش رفتار دَی هغه کس
چه صورت سیرت ئې دواړه سرَه جوړ دِی
دَ خوشحال دَ زړه پکار دَی هغه کس

---

١. پریوزی یا پرې پوری.
٢. څوړی.
٣. امیل.
٤. دا درېې بیت په نورو نسخو کښې نسته، له یوې نسخی څخه را نقل سوه.
٥. دا بدله په چاپی دیوان کښې نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لحد کښې به هوا نه وي هوس[۱] — در سَرَه به خپل عمل دروِمي نور بس
بې طوطي نه قفس هيڅ نه دَی باور کړه — روح په مثل دَ طوطي دَی تن قفس
فهم وکړه چه ضائع در ځخه نشي — لکه در بې بها دَی دا نفس
چه دا در بې بها هسې تلف کا — دَ ښارويو په شمار دَی هغه کس
د خانانو په خاکونُو گذر وَکړه — زرغونه ئې په خاکونو خار و خس
هر چه شوي نه بد ليږي دا په څه کړي — هونبره ډيرې انديښنې هونبره وسوس
نصيبه به له جهانه يو کفن وړي — هغه هم اته يا نه گزه يا لس
دا به واړه له تا پاتو شي اې جانه! — که ښې جونه که آسوُنه که اطلس
تياريږه وخت دَ کوچ راغی خوشحاله
په هر لوري ناري آروې دَ جرس

ته څه زړه لرې څه لاس — واړه گنج ئې کوز و پاس
گاه دَ مځکې طراحي کړې — گاه په عرش کښېږدې اساس
لکه ډک شې هسې تش شې — د شناځ دَی ستا اماس
لکه پونړ[۲] يې وَ اور ته — وَ اُوبو وَته قرطاس
هم گوهر يې هم شبه يې — هم کُتني[۳] يې هم کرباس
هم ملک يې هم مِلِک يې — هم خنزير يې هم خناس
په افلاس کښې دِ دولت دی — په دولت کښې دِ افلاس
ته له ديوه په هراس يې — دَی له تا نه په هراس
نه اطلس دَی نه زربفت دَی — لا څه ښه دَی ستا لباس[٤]
واړه ښه وايې خوشحاله
وايه هيڅ نشته وسواس

چه ئې غم لرې دَ مخ هم دا وصال بس[٥] — انديښنه ئې د جمال دَ خط وخل بس
بادشاهان دِ زر زري جامې اغوندي — دَ قانع گدای په شا باندې يو شال بس
په بهاندُو اُوبوکښېنه ننداره کړه — دَ جهان دَ تيريدَلو دا مثال بس
خو يوه گيډه خواړه دوه درې خرخوړي — که دانا يې په جهان کښې دا جنجال بس
و حريص وته درست مال دَ دنيا لږ دی — وقانع ته يَو فلوس دَ دنيا مال بس
زاهد سترگې ترې پوښې زه کښلي گورم — که جنت لَرَه مې بيايي دا وبال بس
که لايق ئې دَ جمال دَ ليدو نه يَم — که ئې بيا مومم وصال په خوب و خال بس
دواړه کوَنه د هغه چه ئې طلب کا
ستا دَ سترگو ننداره د خوار خوشحال بس

---

۱. دا بدله په چاپي ديوان کښې نسته.
۲. ياپوڼ دا يو راز قديم اورلگت وُ، چه وچ لرگي او نور وچ اور اخيستونکي مواد به وه.
۳. هم کيمخا يې.
٤. ستا پلاس.
٥. دا بدله په چاپي نسخو کښې نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه که زه تا ته نیژدې کیږم په افلاس[۱] — زر مې ګند په غاړه کړه یَو مات کچکول په لاس
ته که په دا خوښ یې چه خاوند د ملک و مال وم — مال و ملک مې هونبره کړې چه تیروی تر قیاس
هسې مال را مه کړه چه ئې ځای وی تر زړه کښته — هسې اموال راکړه چه ئې ځای دَ زړه دَ پاس
لاس مې همیش بر لَره په واړُو غلیمانو — دوه مې غلیمان دِی یو مې نفس بل مې خناس
طمعَ که حسد وی که حرص که بد خویونه — واړه له ما پریکړه د خپل فضل په الماس
توان د طاعت راکړه چه اخلاص ور سَره مل وی — نه هغه طاعت چه شِی په رسم په لباس

یا بارَ کریمه! د خوشحال خټک دا خواست دَی
تل دَ ده په زړه کښ لرې ټینګ دَ دین اساس

زه هغه سړی یم چه قلم واخلم په لاس[۲] — ناظر مې عطار د دَی چه به څه کښ په قرطاس
نائب دی د تقدیر د ما تدبیر په مصلحت کښ — صائب دَی ځما فکر د هرام په اساس
د تورُو په میدان کښ چه سودا وِی د سرونو — هغه زمان مې ګوره تل به سور وِی دما آس
حاسد مې لکه کاڼی دا صحرا په هیڅ حساب دی — په قدر په قیمت کښ یا یاقوت یم یا الماس
که حال مې د قضا په حکم هسې محول وی — قمر وَته نظر کړه کله بدر کله کاس
ظاهر لکه شهباز یم که وَ ما وته نظر کړې — باطن لکه خورشید یم هیڅ مې مه غواړه په قیاس
که لافې د کوزې د هسکۍ وهم باور کړه — تر تورُو خاورُو کوز یم تر اسمانه یَم لا پاس

ویَل کوې و چا ته چه د ما ویل سَرَه زر دِی
ړندو وته خوشحاله لکه زر هسې رصاس

سړَی ښه دَی حق شناس — سر دِ وخورِی ناسپاس
دَ یوی دانې اوربشې — احسان ډیر دَی تر قیاس
چه احسان وته ئې شا شوه — مخ ئې تور شه نه دَی ناس
څو اخلاص ور سَره نه وِی — یاری نَشِی په لباس
یار ئې مه ګڼه اغیار دَی — چه ته پریوزې در کا لاس
تل خالی دَی[۳] له خلله — دَ رشتیا مینی اساس
که دِ یار دَی هغه یار دَی — چه خپلوی ئې بې وسواس
بی وفا دِی دا درې توکه — توره، ښځه، دریم آس

دَ خوشحال خبری دُر دِی
چه ئې کښلی په قرطاس

کله باز کا و مرداری ته هوس — دغه کار دَی د کارګه و د کرګس
و ګفتار وَته ئې غړوه سترګی — په کرده په عمل ګوره کس ناکس
که ئې سر په لَکیٔ اوړی هغه دی — په هیڅ رنګ به نور څه نشی سګ مګس
په ظاهر شماره که لس سَرَه دوه پنج وِی — د ابجد په حساب نوی وګڼه لس
دوه سړی په باغ کښ ګډ شی یَو ګل ګوری — دویم ګرزی په طلب د خار و خس
زه دا یم په بیلتانه کښ له هغو یم — چه دَ یار بې یادو ندی یو نفس

---

۱. دا بدله په چاپی نسخو کښ نسته.

۲. دا بدله په چاپی نسخو کښ نسته.

۳. وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هر څو ښایسته روغ دی څوک ئې څه کا     د طوطی له مخه ښه یشی[1] قفس
خوار شوخحال به ځنی څو شړې په جور
که سرې شونډې دی شکر دی دَی مگس

که د موړ نفس کښې څه وِی لکه وی هسی به اوس[2]     چه په څه دِ زړه مینه هم هغه مینه به بوس
لاس دَ زړه دَپاسه کښېږده چه څه حال درته معلوم شی     څه تسپې په لاس کښې نموړیې څه په ږمنځی ږیره پوس
که د باغ دِی که دَ راغ دی په څولونه دِ ی دا ونی     څوک سپیدار څوک چنار دی څول پلو[3]دی څوک پلوس
اینځر نه لری گلوُنه میوه سپینه لَرِی توره     د انگور ژنکوری گوره میوه گل لَرِی نلگوس[4]
دا جهان پټې پټې دَی جنس دَ جنس سَرَه خوښی کا     مار له ماره یوزله یوزه خرس له خرسه کوس له کوس
له عصمت فتوت نه وی واړه وسیځه په اور کښې     چه په خیال په هوا گرزِی زیږ پړونی سر منډوس
الحذر دَ عشق له اوره که دِ لاس رسی زړه ژغوره
دَ دلبرو مینه اور دَه اې خوشحاله زړه کړه بوس

## ش

توراني خو د جنجال دِی د پرخاش[5]     دروغجن سوگند خواره بهتان تراش
ایراني د آشنایيِ د وفا دِی     د خلقت د مروت دِی دَ معاش
پښتانه دَ بد نیتيِ د خصومت دِی     په حیا په شجاعت ئې وکړه شاش
که بلوڅ که هزاره واړه چرکین دی     نه ئې دین نه ئې مذهب ستر ئې فاش
که هندی دِی که سندی دی مخ ئې تور شه     نه حیا نه ئې وفا نه نان و آش
کشمیری که نرکه ښځی واړه هیڅ دِی     د مردیِ ورڅخه نشته هیڅ قماش
د آدم له نسله نه دِی گوره څه دِی     دواړه ورک شه یو اوزبک بل قزلباش
لغمانی بنگښ سواتی تیراهی واړه     موټ مټر لوبیا چڼه دی مهی ماش
هر احوال ورته ښکاره دَی دَ وگړی
د خوشحال خټک په پوهه کړه شاباش

## ښ

دا ښایست چه ئې په تا باندِی کښیښ     دَ زړه داغ به ئې په ما باندِی کښیښ
که جمال ئې و یوسف نه وُی ورکړَی     چا به غم په زلیخا باندِی کښیښ
مگر گل په اشارت کښې ورته وَ وې     چه[6]بلبل ټټر په ما باندِی کښیښ

---

۱. نعنی ښه ایسی.
۲. دا بدله په نورو نسخو کښې نسته، له یوی قلمی څخه را نقل سوه.
۳. دا کلمه عیناً ولیکه سوله حل طلبه ده.
٤. د دی کلمی تلفظ د قندهار په خوا کښې نرگوس دی، مگر دلته په ټوله نسخو کښې په لام لیکلی دی، نو موږ هم پر دغه املا پریښود.
٥. دا بدله په چاپی نسخو کښې نسته.
٦. چه بلبلی ټټر بیا باندی کښیښ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دَ زلفو[۱] مار ئې وخوری عاشق ګرم دی　　چه ئې لاس په اږدهار باندِی کښیښ
زه که ستا په لړ شوبو[۲] باندی پروت نه وی　　دَ سپی نوم به دی په چا باندِی کښیښ
که هر څو به دِ له خپله وره
خوار خوشحالَ به قدم لا باندِی کښیښ

## ض

له تا به ستا له تیغه عاشق چیری کا اعراض　　د شمع د اور پښتی[۳] مینه نه ځی په مقراض
د خپل خاطر احوال به زه خپل یار وته معلوم کړم　　بیمار به له طبیبه په څو پټ لری امراض
تر دا نه به ته کوم طاعت ته به مومې اې دله　　چه یو ساعت می کښینې دَ زاهد سَرَه مرتاض
سودا ئې د چشمانو په ژړا ژړا ابتر شوه　　د اوښیو محرمی[٤] ئې اوس وړینه په بیاض
د یار کوڅه می بیا مونده َ یار له بویه پُره　　هوا به دَ ګلونُو نوره څو کړم دَ ریاض
خوشحاله مستعد اوسه و فیض ته قابل یې[٥]
وریږِی دَ قابل په زړه تل فیض دَ فیاض

## ظ

چه دَ کښلیوُ په لیدَل نه وِی محفوظ　　د سرود په اَرویدل نه وِی محفوظ
چه حاصل ئې دَ خپل یار ننداره نه وی　　په ګلزار ئې سوخته دل[٦] نه وِی محفوظ
که شیخان که زاهدان که عابدان دی　　په دا خپل عمر به تَل نه وِی محفوظ
چه ئې دواړه شونډی کښل کړم پرې محفوظ شم　　څوک به هم په می خوړَل نه وِی محفوظ
کله کله هسی وخت په سړی راشی　　چه دَ ګلو په کتَل نه وِی محفوظ
دَ خوشحال ویل[۷] هنر دی هغه خر دَی
چه به دَی په دا ویَل نه وِی محفوظ

زړه می بې له عشقه په بل کار نه وِی محفوظ[۸]　　بیله کښلیه مخه په ګلزار نه وِی محفوظ
کله مړنَی دی چه د توری په میدان کښ　　دَی دَ تیرې توری په پرهار[۹] نه وِی محفوظ
هر چه عاقلان دِی په فتویٰ دَ عقل کار کا　　هر چه عاشقان دِی پدا کار نه وِی محفوظ

---

۱. د زلفینو مار کې وخوری.
۲. دا کلمه عیناً ولیکه شوه حل طلبه ده.
۳. یعنی پتن.
٤. د اوښیو محرر ئې اوس درینه په بیاض.
٥. شه.
٦. خسته دل.
۷. د خوشحال ویل هنر نه د هغه دی.
۸. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
۹. ګزار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر چه بل ئې وَولِی بیا دی پرې غشی لک کا — هیڅکله ښکاری په هغه ښکار نه وِی محفوظ
خاوری ئې په سر حبطه ئې عمر تیر شو — هر چه نن دَ کښلیُو په دیدار نه وِی محفوظ
عید شو هم بهار شو وَ صحرا وته خلق ووت — زار دی دَ هغه چه پخپل یار نه وِی محفوظ
دور دَ عاشقانُو دَی که وَګورې په عشق کښې — پند که ورته وایی پخپل پلار نه وِی محفوظ
هر کله چه راشې ورته وخاندې له ورایه
خوار خوشحال به ولی په بار بار نه وِی محفوظ

## ع

سخت ساعت دِ دَ وداع — په آشوب و په صداع
چه یَو ځل سَرَه څوک بیل شِی — بیا په بخت وِی اجتماع
عجب هر زمان نیاز کا — نوی نوی اختراع
چه په لږ مانې وه نزع — ترو به څه وی په نزاع
هم می وغلوی بیا وایی — نه پوهیږِی په خداع
شونډه بوڅه په نخوال[1] کا — چه مې وَوینی اوضاع
دَ بورجل غمجن په رقص — دَ پایلو په سماع
چه تېرې دَ لیدو لارِی — څه دِ خیر دَی مناعَ!
نه ئې یو دیدن خوشحاله!
نه دَ درست جهان متاع

## غ

خلقی سَرَه یاری کا په دروغ — و به نه وینې دوه زړُونه سَرَه روغ
د شودو پیو عوض ئې وِی په زړه کښې — چه سفله و چا ته ورکا چیری دوغ
د هغو صحبت کیمیا دَی که ئې مومې — چه ئی بیا مومې په ناسته کښې فروغ
د دې دور یارن واړه منافق دی — په خوله تا سره هو هو کا په زړه یوغ[2]
په قیامت به ئې په کوم عبادت پټ کا — په آزاد دَ خپل پدر تړلَی توغ
نور کارُونه اوس په کار ندی خوشحاله!
یا و چا څه ورکوه یا الچوغ[3]

که یو ګل و ما نه راکړې دَ خپل باغ — خدای دی تا تر و تازه لَرِی تل باغ
ستا له باغه یو ګل ما لره دولت دَی — نه په سل رنګه ګلوُنه دَ بل باغ
چه ورتله دِ باندِی نه وِی سپیره ډاګ وی — په راتله دِ شی درست ملک و بورجل باغ
په خوږو خوږو میوو په ګلُو ډک وِی — چه ښکاره کړې راته ته په ښکنځل باغ

---

۱. نا خوال.
۲. بوغ، تور رنګی مجازاً چه راز نه شی ساتلی.
۳. سر کوزی، ملامت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ ښه مخ دَ ګلاستان بلا هجران دی    تل کلونه په خزان ریژول باغ
نور باغونه دَ نوروز په وخت غوړیږی    په اهاړ کا غوړیده دَ کابل باغ
همیشه به پرې نارې وِی دَ بلبلو
دا چه ساز کړ نن خوشحال په وَیل باغ

## ف

را معلوم شو دَ اورنګ عدل و انصاف    دَ ده ښه مسلمانی ښه اعتکاف!
سَکه ورونه وار په وار واړه وژلې    پلار په بند کښ اچولَی په مصاف
که هزار ځله څوک سر وهِی په مځکه    یا په صوم تر شمځَی وروِلی ناف
څو نیت[1] د ښه عمل سَرَه جوړ نشِی    عبادت، طاعت د واړه دی خلاف
چه دَ ژبی لار یَوه دَ زړه ئې بله    په چاره ئې شه ځګر شګاف شګاف
مار په تن دَ پاسه ښه ښایسته روغ دَی    ولی نه[2] اندرون لرَی ناصاف
مړنی په کرده ډیر وَیَل ئې لږ وِی    د نامردُو لَږ عمل وِی ډیر ئې لاف
که دلې دَ خوشحال لاس په ظالم نشته
دَ قیامت په ورَځ ئې خدای مکړه معاف

## ق

چه بنیاد ئې پیدا شوی په نفاق[3]    د هغه[4] نه طمع مکړه اتفاق
چه وودلې وِی په ذات توره شړیَ    سپینول ئې وَ هر چا وَته دی شاق
چه په باغ کښ رنګارنګ میوه پیدا شِی    لَون لَون ئې مزه وِی په مذاق
دَ عسل سَرَه ئې خوره خوږه به نشِی    مَرَغونې چه ترخه دَه په میثاق[5]
دَ دانا به دَ ناپوه سَرَه څه زیست شی    کونګَی[6] هیڅکله دَ باز نه وی مشتاق
که اخلاقِ ناصری په یاد ووایی    په اخلاق کښ به ښه نشِی بد اخلاق
دَ طاوس سَرَه که زاغ په قفس بند کړې
تر وصاله ئې خوشحال وی په فراق

خر دَ سرو زرو دَ زین نه دی لایق[7]    ښه څرَی ور لره بویه موافق
بوالهوس چه عاشقی کا عاشق ندی    په خالی هوس ئې مه بوله عاشق

---

۱. څو دِ نیت.
۲. نه د دنه مخخف دی په چاپی نسخو کښ دا مسری داسی ده: ولی تن ئې اندرون لری ناصاف.
۳. دا بدله په چاپی نسخو کښ نسته.
٤. د هغونه.
۵. یعنی په ازلی تړوُن.
٦. یعنی جغد.
۷. د بدله هم په چاپی نسخو کښ نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نفساني تاريکه شپه صادق هغه دی
چه سهار غُندی سینه لَری صادق

څه په علم په تلقین سَرَه نور نَشِي
چه راغلیَ له ازله دَی فاسق

د سینا[1] زویَ له ځایه شیخ ملا وُ
آراسته نشو په درس په خوانق

په ادب آداب به نه فائق تر چا شِي
چه له ځایه په فطرت نه وِی فائق

صالحان له ظالمانو نه پیدا شي
له زاهدَ نه پیدا شِي غل سارق

دَ بد خوی دَ خوی علاج ملکَ الموت دی
نه په ډیر علاج خبر حکیم حاذق

هغه باغ هغه باغوان هغه ئې گل دی
چه فرهاد باندِی بلبل وُ یا وامق

زړه سوخته مینان ډیر دی په جهان کښ
څه یوائې یَو مجنون ندَی عاشق

که کارگه غُندی ئې فهم وِی خوشحاله!
هیڅ استاد به شین طوطا نکړی ناطق

ډیر دَ خیال سپاره ترې لاړل معلق[2]
سپور په شا پریښی نه دَی دې ابلق

په دا طشت کښ هَره ورځ وینی توئیږی
ښکارَوَل ئې هر ماښام کاندِی شفق

په ازل چه دا نسق دَ بیلتانه دی
تر ابده به وران نشی دا نسق

وگدای وته به ځرنگ پاتو کیږِی
د بادشاه له تنه خیژی دا یلمق[3]

روغ له هاله دَ دردمن په حال خبر شي
چه په زړه باندِی رسا وَخوری شلق

پیدا کیږِی، فنا کیږِی، نه ښکاریږِی
پدا سیند کښ جهازُنه هم زورق

که د مرگ سبق دِ هیر دَی گوری گوره
خپل یاران به درته یاد کاندی سبق

که هر څو په سود سودا گرم لیده شِي
تر ماښامه دَی دَ دې بازار رونق

عاقبت به واړه سترِی شی خوشحاله
که څوک ژاړِی ناړی مرگ گنِی ناحق

دریغه سره تش کړَی دا ډک زړُونه دَ فراق[4]
ټول کړلی په تله دَ چا زیات شوی اشتیاق

مرگ به ما قبول کړ نه بیلتون له خپله یاره
څه کړم چاره نشته حکم دا وُ په میثاق

ویش چه په ازل وُ دَ هر چا دَ قسمتونو
غم وُکه محنت وُ په نصیب شو دَ عشاق

څوک په عاشقی ولاړ چه څه پاتو هجران وتوت[5]
اوس به له ما څه غواړِی وَگړِی خوی اخلاق

هر محنت، آفت، شدت، نکبت په جهان ښه دی
یَو بیلتون بلا دَی تر هر څه په اتفاق

عشق ئې دَ زلفینو لکه زهر دَ مارُونو[6]
ښوری په ځگر کښ د واړه لب ئې دِی تریاق

تل سبا بیگا باندی دَ آه د ناوکیو
ووری[7] سپین توبری څه ښادی کا اهل نفاق

تل شهد و شکری که خوشحال خوری گمان مکړه
چه بې هغو لبانُو به خوږ شِي دَ ده مذاق

---

۱. بو علی سینا د اسلام مشهور حکیم او فیلسوف د څلورمی هجری پیړیَ.

۲. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.

۳. محشی ورته لیکی چه یو راز کالی دی.

٤. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.

۵. دا کلمه په نورو ټولو قلمی نسخو کښ دغسی ده مگر په یوه نسخه کښ داسی ده: چه څه پاتو وه هجران یو.

٦. مارانو.

۷. دَ اوسپنی توبری څه ښادی....

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دَ سرو شونډو سَره غواړې تحقیق[1] — دَ یمن په ملک به نه وِی دا عقیق
خوله ئې هسته دَه که نیسته نه پوهیږم — دا رموز دَی و هر چا وَته دقیق
په زرگونو راته لاف کړی دَ یاریَ — ما یَو یار پکښ وَ نه لیده صدیق
په هر لور می غورزَوِی په سر لگیږم — زمانې کړم لکه سنگ دَ منجنیق
اول غم دَ یار وَ ما وَته غلیم وُ — اوس تر دَه نه بَل څوک نلَرم شفیق
په لمړِی قدم دی سر له تنه پرې کا — چه قدم کښیږدې پدا خونی طریق
چه دَ عشق په بحر ډُوب دَی حال ئې گوره — دَ دنیا په حال خبر نه دَی غریق
طلبگار ئې دَ وصال په لوی طلب وی — له ازله ئې راوړَی دا توفیق
آزاده عالم بندی دَی که ئې گورې — د زلفینو په خنځیر ئې دِی عتیق
گڼه زیان دَ عشق یوازی دَ عاشق دَی
امید قطع کړه خوشحاله دَ رفیق

یَو څه بحر دَی عمیق — دَ سیماب غُندی حریق
په شنا ترې واته نشِی — څو چه بخت نشی رفیق
په ساحل وَلاړو څه زده — چه څه حال لَرِی غریق
حال د مایو معما دَی — پَت پالی د خپل فریق
چه می یار دَ طریقت وه — په کار نشو هیڅ طریق
یو له بله بهره مومی — په اخلاص او په توفیق
چه ئې زه لَرم په زړه کښ — عجب فکر دَی دقیق
سل بلا دَ جهان کل وَی — جدایی نه وَی تفریق
په نامه به شقیق[2] نشِی — که څوک نوم کښیږدِی شقیق
پدا ښهر کښ اکبر دَی
دَ خوشحال یار شفیق

## ک

چه په رُوی به ئې بخښل شِی پاک نا پاک[3] — بل سړِی نه دَی صاحب دَی دَ لولاک
تر هلال ئې صدقه شم تر بلال (ص) — په اخلاص یَم زه دَ دُوی دَ تلی خاک
دَ بوذرؓ او دَ سلمانؓ ئې درویزگر یم — تَل دَ دُوی په محبت دَی ځما ژواک
ذوالفقار ئې اږدهار وُ دوې ئې ژبی — چه دَ دین مخالفان ئې وُ خوراک
په دا هسِی مړنتوب ئې آفرین وُ — چه په کار ئې محمد (ﷺ) شو فرحناک
که سپاره ئې مَړَنِی دَ لښکر ډیر دِی — لاس ځما دَ دلدل سوار دَ زین فتراک
د خیبر په کوټ ئې هسی زور ښکاره کړ — چه له ویخ ئې را ولوړل تاک[4]
محمد (ﷺ) دَ علم ښهر دَی ئې وَرِوُ
تر قنبر ئې شه خوشحاله خټک فداک

۱. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
۲. حضرت شقیق د بلخ یو لوی ستانه دی.
۳. دا بدله په چاپی نسخو کښ نسته.
٤. چه له ویخ ئی راونړول پاگ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دال[۱]و د محرم دَ صفر[۲] اک[۳] — دَ ړومبی خوری دروښیم څه یک[٤]
دَ دوهمی خور ړونبیه اتلسمه — دَ دریمی خوری یا[٥] مه وکړه شک
څلورمی خوری[٦]دال چه سَره ید شِی — دَ رجب دی ب[۷] ویج د شعبان دک[۸]
دَ روژې د میاشتی جک[۹]پوره حساب دی — حې[۱۰] شوال ذی القعده بط[۱۱]ذوالحجه وک[۱۲]
چه په هَرَه میاشت کښ دوې ورَځِې دِی نحسی — هم دغه دَی چه حساب وشو خوبک
بیا وروستیَ چارشنبه دَ هری میاشتی
نحسه ورځ دَه، وایی ښه خوشحال خټک

که زه نه وَی تا به ځان لَره بلل څوک — په پالنگ به دی دا هسی در ختل څوک
واړه عشق دَی چه ئې سر راته گیاه کړ — گنِه[۱۳]زه په ځان مین دَ سر ښندل څوک
چه پتنگ ته روښنایی دَ څراغ ښکاره شی — نور له څراغه نه ئې غواړی جار وتل څوک[۱٤]
بدرگه که محبت را سَرَه نه وِی — یک تنها به په خونخواری لاری تلل څوک
دَ دې[۱٥]میُو پیالې ډیرُو دِی آَخستی — ولی ما غُندی به نه وی لا یعقل څوک
دَ زنخ په څا دِی بند دَ شونډُو مست ویی — روغ هوښیار به په کوهی کښ پریوتل څوک
چه پخپله[۱٦]راته ووایی چه وایه — کنِه زه دَ مینی راز ښکاره وَیل څوک
ته مِی وژنه دَ قصاص اندیښنه مکړه — دَ خپل خون په تور به ونسم[۱۷]یو بل څوک
ښه خو دا چه دَ چا نوم پکښ یادیږی — په فانی دنیا به نه وِی ژوندوی تل څوک
تا پخپله سپینه خوله و خوشحال ورکړه
گنِه دَی دا هسی شونډی کښلول څوک

---

۱. دال یعنی څلورمه او (و) یعنی شپږمه ورځ.
۲. په دی بدله کښ پر زاړه نجوم مطابق د ابجد په حساب د هری میاشتی نحسی ورځی بیان سوی دی.
۳. یعنی لمړی اوک یعنی شلمه ورځ.
٤. ی یعنی لسمه اوک یعنی شلمه ورځ.
٥. ی یعنی لسمه یا یعنی یولسمه ورځ.
٦. ی یعیی لسمه او دال یعنی څلورمه ورځ چه دواړه حروفونه ید کیږی.
۷. ب یعنی دوهمه او یج یعنی دیرلسمه ورځ.
۸. دال یعنی څلورمه اوک یعنی شلمه ورځ.
۹. ج یعنی دریمه اوک یعنی شلمه ورځ.
۱۰. ح یعنی اتمه او ی یعنی لسمه ورځ.
۱۱. ب یعنی دوهمه او ط یعنی نهمه ورځ.
۱۲. و یعنی سپږمه اوک یعنی شلمه ورځ.
۱۳. کنه.
۱٤. نور له څراغه دَ ده غواړی جار وتل څوک.
۱٥. د دیو میو.
۱٦. ته پخپله راته ووایې چه وایه.
۱۷. ونسیم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرد هغه چه همت ناک برکت ناک / دَ عالمه سَرَه خوږ په زیست و ژواک
مخ ئې مخ، قول ئې قول، عهد ئې عهد / نه دروغ، نه ئې فریب، نه تش تپاک
لَږ ویل ډیر ئې کوَل په خاموشی کښ / دَ غنچې غُندی خوله ډکه سینه چاک
چه خبره د پستۍ د بلندی شي / په لوئی لکه اسمان، په پستی خاک
په تمکین کښ لکه سبر په پستی[1] کښ / په هر لور ځانگی ږنگوری لکه تاک
لکه گل شگفته روی تازه په باغ کښ / همیشه دَ ښو بلبلو پر بلغاک
چه دا هسی ښه ویل کا زه حیران یم
چه خوشحال راوړ له کومه دا ادراک

نه[2] په خوله گولۍ خوږلې دَ ټوپک / نه نمړی دَ لیئمانُو دَ ښانک
که دَ تن وینی یو جام وڅښې لانبې دِیی / نه اوگره دَ بخیلانُو یَو کاشک[3]
که اوبه دی دَ بخیل دَ منگی وڅښې / ستا دِ وَخیژِی دانه په چنغړک
نه دَ شوم دَلاسه سل بیری خوږلی / نه[4] د مرد دلاسه پانړِی دَ پالک
دَ نامرد سَرَه مکې ته رسیدلی / ښه دَ مرد سَرَه په بید بید یا ورک
مخ دِ سوَی دَ دوږخ په لمبو ښه دی / نه چه سم کړې وَ ممسک وته ورسک[5]
دَ منت سره حلوا مه خوره خوشحاله
تر حلوا نه لا بهتر دَی وچ کنډک[6]

## ل

اقربا راته اقرب شول / رضا من مِی په تعب شول
دواړه ترُونه مِی نااهلَ / ابو جهل، بو لهب شول
زه ئې بند کړم په مغولوُ / په خانی[7] او په منصب شول
رشوتونه ئې قبول کړه / په تلاښ کښ زوز و شب شول
دا لوی زویَ می لوی مشه / دَ زرو بلا سبب شول
زه ئې هند لَره روان کړم / په نشاط او په طرب شول
خپلخانه می شوه په غُرونو / پرې کارُونه پیښ عجب شول
ناز پروره زوی مِی واړه / په فریاد و په شغب شول
چه ئې نمر لیدلَی نه وُ / په ځنگلو تشنه لب شول
درست اولس قبیله واړه / گرفتار په ډیر غضب شول
په آه آه دَ فراقجنو / زړُونه وړی دَ عنب شول

---

۱. په سخا کښ.
۲. ښه.
۳. د قاشق مفغن دی.
٤. ښه.
۵. ورسک: وربوز درلودنکی اوگردنه درلودونکی غر یا د کلا برج (سیند).
٦. دلته کنډک په معنی د یوه ټوک ډوډۍ دی.
۷. په خانیو په منصب شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحال نه مونده خټکوُ
کښ ئې هر څو په طلب شول

بد زحمت شی په بازُونو یو یو کال — نوم ئې څه دی په پارسی سیه پیخال
طعمه اَچَوِی طلب دَ اُوبو ډیر کا — تور پیخال کاندی دَ لویو په مثال
په نبات دَ غوا په غوړِ سَرَه باز صاف کا — یا علاج د سنگَتا وکړ دم در حال
دَ سنگتا و ترتیب اوبه دَ دریاب واخله — د صحرا په غوشیو تاوده سفال
پکښ اچوه چه ښې اوبه په جوش کا — بول[1] ناس، نبات پکښې مثقال مثقال
دا سنگتا وکه دَ اوبو سَرَه باز څښینه — فائده ئې تجربه دَه دَ خوشحال
که یوه ذره لونگ هم پکښ وینه
په ښیښه کښ ئې ساته په ماه و سال

په درست جهان به نه وی یو د ما غُندی وی رسوا بل[2] — ورځم توره وکښلې چه مین واروم په تا بَل
یو تیر د وَویشتمه چه د ما دَ درد دارُو شو — هان اې د ما طبیبه! چه ښه روغ نه یَم یَو بیا بل
که سبر که عر عر که صنوبر ستا تر قامته — څه نوری دَ باغ ونی؟ چه په څیر ستا دَ بالا بل
نن ما وته چا ووې چه اشنا غواړې خپل تیغ ته — دَ خدای دَپاره کوم به له ما به وی اشنا ستا بل
ستا زلفو می زړه یووړ سترگی ستا راته پخو دی — تاراج به دا ترکان کا نه به څیز یوسی په غلا بل
نه ننگ لَرِی نه شرم تا وې هر چه عاشقان دی — بې ننگ دِی که بې شرمه هیڅ عاشق نشته تر ما بل
ملا ئې فتنه گر دَی ور ښئی فتنی جنگونه
تعلیم ته ئې خوشحاله زر پیدا شوی یَو ملا بَل

چه په زلفو ئې پابست شول — دَ ماهی غُندی په شست شول
دَ خمار ویره ئې نشته — چه دَ شاه دَ سترگو مست شول
چه په لام[3]و بې ئې مینه — دَ سرو میو مَی پرست شول
دَ هغو ښادی به تل وِی — چه دَ شاه دَ غم تر دست شول
چه دَ خولې رموز ئې بیا موند — عاشقان له نیسته هست شول
دَ خوشحال خلاصی له کومه
چه ئې تا غُندِی په کست[4]شول

خپل پردِی چه دَ شمشیر شول — کشتنی تر شماره تیر شول
توره وَنغاړه خوشحاله — اوس به څو وَژنې چه ډیر شول
که صاحب[5]وکه تُر سم وُ — خټک ډیر دَ دُوی په څیر شول
هسی چارِی کا ستا زویَ — چه آتش[6] شاهی بیگ هیر شول
چه نظر وَکړم خپل ځان ته — څو غمُونه را چاپیر شول

---

۱. یعنی د انسان بولی.
۲. دا بدله په چاپی نسخو کښ نسته.
۳. ل،ب: لب.
٤. قست.
٥. که ساهب وه که تور سم وه.
٦. د مغولو طرفداران او د مرحوم شاعر مخالفین وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پیری ده که طالع دَه　　　چه گیدړ وه راته شیر شول
هیڅ دم مه وهه خوشحاله!
چه نبات درته گنډهیر شول

دَ ښه یار دیدن وَی تَل　　　سَرَه ځای چمن وَی تَل
تر کنار او تر آغوش مِی　　　هغه گلبدن وَی تَل
لکه سیب ځما په خوله کښې　　　غه[1]شیرین ذقن وَی تَل
رقیبان وَلاړ له ورایه　　　له ما هم سخن وَی تَل
جدایِی نه وَی له یاره　　　سَرَه ځان و تن وَی تَل
مه مانِی وَی مه عتاب وَی　　　په رقیب شیون وَی تَل
دَ خپل یار دَ کوڅې خاوری
دَ خوشحال وطن وَی تَل

راشَه بر چشمم نشین ای شاه خوبان چگل[2]　　　لمعهٔ خورشید را بر چشم باشد جای تل
تا وَیل قند و نبات و شهد یکجا دیدهٔ؟　　　آری آری آن دهان و آن لبان و آن وَیل
سر[3]دهم تا هر چه فرمائی ترا فرمان رواست　　　از تو حکم ای پادشاه مهو شان از ما منَل
ځار و قربان تو گردم گر به تیغ خود کشی　　　نی به تیغ دیگران خونم ترا باشد بحل[4]
نن بمن میگفت در کوی تو میرفتم رقیب　　　شوخ چشمی بر نه میگردی ازین کو بر شړل
څو په تن گشتم ضعیف و لاغر و خوار و نحیف　　　نیست اندر فرقت خوبان مرا خوب وخوړل
تا جفا و جور از حد و نهایت بیش کړ　　　من نیاز و عجز و زاری مینمایم یَو په شل
تل سبا بیگاه آه و ناله و فریاد ماست　　　بر دل سختت نشد تاثیر زاری و ژَړل
هیچیری مثل تو دلبری نیاید در نظر
زین سبب خوشحال میل دل نمیدارد په بل

مخ دی لاله گل دی لا بهتر تر لاله گل　　　سرې شونډِی دِ مل دی لا بهتری دِی ترمُل
ډار کړمه لازم شم چه پریشانی کړې خبری　　　مښک دی که عنبر دِی ستا پریشان پریشان کاکل
زلفی دی ښکاره کړه چه خجل شِی په خپل کار کښې　　　څه لَره ښیوه کا لکه ستا زلفی سنبل

نه زه ملک غواړم نه مال　　　نه دَ دهر نور جنجال
نه په تله دَ جهان غم کړم　　　نه په راغله ئې خوشحال
دَ اسفل فکرُونه نه کا　　　په اعلی ختلَی[5] فال
په اسمان باندی پیره کړم　　　دَ همت په پر و بال
دَ خپل خدای منت را باندِی　　　چه ئې رانه کړ بل خیال
بخارا بخښم هغه یم　　　په دیدن دَ یوه خال

---

۱. غه مخفف د هغه دی.
۲. چو گل.
۳. سرور ما هر چه.
٤. بحل عربی دی یعنی بخښلی.
٥. ئې قیل و قال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَ جهان وَته ئې شا دَه
که خوشحال مُومِی وصال

یو ځله که ووینمه بیا وچلوی دَ یار خپل
نور به تر قیامته شکر وایَم دَ دادار خپل

هر چه بار ئې پریوت په ځای پاتو شه له ملونُو
بې وفا یارانو تیارَی وَکړې دَ بار خپل

ښه سَرِی پردَی په دلاسا په نیکښ خپل کا
کومه ښاغلتیا دَه چه څوک بدکا زړَه دَ یار خپل

درد دَ زړه پنهان ساته که وینی دِ ځگر شِی
مه وایه دښمن ته که د دم خیژِی اسرار خپل

زه خو امیدوار یَم کُندی وِی چه مرهم کښیږدِی
پسله انتظاره په پرهار دَ امیدوار خپل

حکم حکم ستا دَی که آشتی کوې که جنگ کړې
ما له لاسه واچوه اوس حکم انتظار خپل

زړه که عافیت غواړې نظر په کښلیو مکړه
هر چه کښلی گورِی نور د واچوِی قرار خپل

گبر که ترسا دَی که جهود که مسلمان دَی
دین قبله لرِی، زما قبله دَی مخ دَ یار خپل

مه وایه و چا ته دَ خاطر له دردہ دُوکه
اې ځما لیمه چه څوک به نه مومی غمخوار خپل

یَو ځله دَ زړه په غوږو فهم کړه خوشحال ته
تا وته چه عرض کا گښُی گښُی دَ زړه زار خپل

## م

آشفته دی دَ جمال یم
همیشه دی پدا خیال یم

نورُو مینُو ته مِی شا کړه
مین ستا په زلفو خال یم

چه مِی اُوښی په گریوان ځی
دا په تا پسی بې حال یم

ځای مِی ته یې په خاطر کښ
ته ریحان یې زه سفال یم

نور می هر څه فراموش دی
آرزومن دی دا وصال یم

لا د مهر وَیَل پریږدَه
په ښکنځلُو دی خوشحال یَم

په مردن پروا دار نه یم
په زندان پروا دار څه[1] یم

یو غصه دوهم بیلتون دَی
چه په اور په اوبه زه یم

اشرف خان[2] دی راته کښلی
زه خو خوښ په خط دَ ده یم

پنځه میاشتِی یم په نبد کښ
بابا ډیر ډاډه په زړَه یَم

زویه ما خو غم دَ تا کړ
چه ته ښه یې زه خو ښه یم

چه فلک سَرَه سر باسی
په همت کښ هغه زه یم

کړه یې نه دِی بې حکمته
زه خوشحال دَ ده په کړه یَم

په زړه تر یار ځاریږم دَ پتنگ غُندِی پیرې کړم.
یَوازیدَی په دا کار کښ که په خوله ورته ښیرې کړم

یو باغ دَی دَ گلونو چه وَما وَته غوړیږی
چه یار را سَرَه ناست وِی ورته زه دَ ناز ښیرې کړم

عاشق می پاتی نشو پریږده پخی پرتې اوسی
ښائِی چه بوالهوس ته دَ عمزې توری تیرې کړم

---

۱. نه یم.

۲. د خوشحال خان د زوی نوم دی، چه تخلص ئې "هجری" او د پښتو یو مقتدر شاعر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ځای مې په گلشن وُ هغه زه وم راشه گوره — په هر چرته چه درومم په گلخن باندی دیرې کړم
دا زړه دی که قسمت دَی که څه نور څه کوړی موړی — چه زه ئې مبتلا د ستمگری په شیرې کړم
چه ته له ما نه ولاړ شې، که بالښت که نهالی وی — په درسته شپه چه ژاړم په ژړا دواړه ترې کړم
که پایم په دنیا کښ زه خوشحال په دا زوړوالی
دَخپلوُ دَ پردیُو به لا څو مینی سپرې کړم

ته دلبره که عذار یې زه وامق یم — ستا په مینه کښ هر گوره موافق یَم
ته که له ما نه پایې معشوقه یې — زه به بې له تا په څو پایم عاشق یم
ته تل خانده هوسیړه څما زړه یې — غم به زه کړم چه همیش دَ غم لایق یم
پتنگ ځان په اور کښ وَویشت دا ئې ووې — که می لاف دَ مینی وَواهه صادق یم
که د غشیو باران را باندِی وشی — که به سترگِی له تا واخلَم منافق یم
چه و تورو خاورُو هسی حسن ورکا — ه حیران پاتی په صنع د خالق یم
د نیمگړو طبیبانو دارو اور دی
زه خوشحال په طلب ستَړی د حاذق یم

تا چه زلفی کړې خم خم — ځکه نه وایې سم سم
تا چه سترگی کړې راپورته — پکښ زه وینم غم غم
څو به ته لکه هوسی یې — تل له ما گرزې رم رم
دَ خوبیَ کار په تا دی — نن په دا دور تم تم
که دی ډیر نه وِی په زړه کښ
خوشحال یاد لَرَه کم کم

تا خو یاری پرې کړه واړه زه در پسې دروم — څو در پسې دروم هونبره ډیره خواری موم
هیڅ په ما پوهیږې نوم می څه دی ستا په عشق کښ — قیس دَ لیلی وُ، تا ویشتلی زه لیس نومم
زه څه هغه نه یم چه خوښی غواړې له ما نه — تل دی د غمونو لبالب جامونه شومم
هر چه شهسواران دی واړُو وَتیځلی[1] وړاندی — زه دَ دُوی په منډه دا یم[2] څم ورپسې دروم[3]
ځار تر تا رسوله[4] (ﷺ)! تا می یار لیده په سترگو — راشه را نیژدې شه چه دی دواړه کَسِی چومم
یو لوری مِی نشته مینی هسِی سر هوا کړم
باد غُندِی خوشحاله په هزار طرفه دروم

څه عجب زیبا صورت دَی چه زه پابست دَ ده یم — راشی وگوری عالمه چه په څو تر دست دَ ده یم
دواړه زلفی ئې دَ زړه په قصد دسرَه شکست کړې — زه په ځان و زړه بندِی په هر یوه شکست دَ ده یم
زه حیران یم له دې حاله چه دا چا عالم ته ووې — چه همه عالم خبر شو، چه زه هم نشست دَ ده یم
آوازه شوله په دهر نیک بد واړه خبر شول — چه څما اشنا یَو بت دی زه هم بت پرست دَ ده یم
درسته شپه ئې په هر غولی زه وَلاړ نارې وَهمه — چه اې خلقو عیب نشته که مستی کړم مست دَ ده یم

---

١. یعنی تاخت ئې وکښ.
٢. یعنی لار او شهراه.
٣. لغومم.
٤. ځار تر تا رسول شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دا خپل صورت دی نیست په عشق کښې نن کړې اې خوشحاله!
بیا دَ ځان دَ هستی[1] لاف کړه، وایه زه هم هست دَ ده یم

چه دا هسی دی له جوره مشوش یم
له آزاده می حذر کوه دردکش یم
که قوت دی دَ هاتی په زړه مزری یې
زور قوت را باندی مه کوه آتش یم
دَ جنون بخره می اوس نده هاله وه
چه مین په هغه یار پریوش یم
څوک به ما غُندِی یَو هیښ په زړه ساده وی
چه وفا غواړم له کښلیو په دا اش یم
راته څه وایې، چه ته په چا مین یې
په ایمان به درته وایم پنج[2] و شش یم
که په در می زر خرید گرزی بی شماره
و خپل یار ته زر پیرو دی دَ حبش یم
طعام خورم مزه می نه درومی تر ستونی
همیشه د شیرینی مزه جش یم
غم د اور له تا وه زر لَری چه قلپ وی
ځما څه اندوه له اوره چه بې غش یم
د دې دور حریفان که شوده پیٔ دی
زه خوشحال دَ شودو پیو په سرش[3] یم

ځما خوب له اندیښنو نه شی بیدار شم
و عالم وته په دا تهجد گذار شم
غرُونه غرُونه گناهُونه را په یاد شِی
وَ خپل خدای وته گویا په استغفار شم
استغفار په خوله په زړه دَ شر فکرُونه
بیا له خپله استغفاره شرمسار شم
دَ دې دور دَ شیخانو حال می وکوت
چه ساعت ور سَرَه کښېنم ترې ویزار شم
ما دا هسی شیخی دوی[4] وته بخښلې
په محشر د دَ رندانُو سَرَه شمار شم
چه حلال کسب ئې نه وی شکرانې خوری
خدایه بځن[5] په شیخی دَ شیخ مکار[6] شم
دانا تار چه په جلی ذکر شیخان کا
کله زه په تاخت راضی په دانا تار شم
چه څرگنده سربازی کاندِی دَ تورُو
زه خوشحال ختک تر هسی هنر جار شم

چه دَ عشق په ملک ندیم یم
دَ اندوه په ملک مقیم یم
نه بهښت وَته هوس کړم
نه په ویره دَ جحیم یم
بند دَ یار په اختیار یم
آزاده له هر نعیم یم
سینه زه لَرم روښانه
تا ته تور سیه گلیم یم
هغه قول چه ما کړَی
په هغه قول مستقیم یم
خلیفه[7] اصل ځما دی
لوی نسب یم که یتیم یم
که نور اوس دَ مینی لاف کا
زه عاشق په یار قدیم یم
په غه اور چه عشق ئې نوم دی
گه براهیم کله کلیم یم
دَ یوه نفس دَپاره
په امید، وهم، په بیم یَم

---

۱. دا هسی.
۲. محشی ورته لیکلی، چه د ابجد په حساب ۵، و) پنځه او شپږ راځی، چه (هو) ځنی جوړیږی، یعنی په هومین یم.
۳. محشی ورته (پیروی) معنی لیکلې ده، په یوه نسخه کښې (د مخ رش یم) هم راغلی دَی.
٤. دیو ته.
٥. بځن یعنی وږ سترگی، حریص.
٦. په ځنی نسخو کښې د مکار پر ځای رحمکار راغلی دی.
۷. تلمیح دی په دې آیت شریف اِنی جاعل فی الارضِ خلیفه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خوشحال په خرابات[1] کښ
گرم په امانت عظیم یم

چه ستا له زیبا مخه چیری گل وته نظر کړم. پخپلو سترگو خیر شم چه که ښخ[2] پکښ خنجر کړم
چه ستا له زیبا مخه ځوک بل مخ راته وستایی یو هسی قهر راشی چه که غوڅ ئې دغه[3] سر کړم
که هر څو دَ بهار گلُونه ښه دی په چمن کښ یو گل به په ښایست کښ ستا له مخه برابر کړم
دا مه[4] وایه و ما ته چه ته ولی وَر په ور شوې خپل مخ وته ووایه چه ئې ولی ور په ور کړم
خاطر می څه خو خلاص وُ فراغت وم له غمونو چه مخ دی را ښکاره کړ زه دِ بیا په نارو سر کړم
که واړه خزانې دَ شاه جهان بادشاه ځما شې همه واړه به زه په یوه خال دَ خوبا ورکړم
رشتیا خبره ښه دَه راته غوږ باسه خوشحاله
که تیر تر سر و مال شوې ځما ځانه خوله به درکړم

څه زه څه می مجال دَی چه به وَوایم ستا یار یم دا هونبره عزت لږ دَی چه گدای دِ دَ دربار یم
چه ما زهد، تقوی، طاعت، بندگی لَره ځوک بولی زه کله ستا له عشقه وَ بل کار وته وزگار یم
په لویه ورځ به ستا په گریوان ښخی کړم منگلی څه ته څه دی ویَل دی، ستا د خون څه پروادار یم
په ما باندی ته تل د واړُو سترگو عزیز یې که ستا تر فهم هر څو تر دا تورُو خاورو خوار یم
سودا دَ یار دَ وصل که په سر شِی پایمال شی دَ سر و مال به هیڅ صرفه وَ نکړم خریدار یم
چه وَمرم عزیزانُو تور کفن را لَره بویه پدا سبب چه زه دَ تورُو سترگو سوگوار یم
هزار ځله په کال کښ یوَه میاشت دَ گلُو وخت وی دَ یار په صحبت زه محبوبَ تل تازه بهار یم
څه جک وهې ناصحه چه وَ ما ته نصیحت کړې
در درومه خپل روزگار کړه زه خوشحال پخپل روزگار یم

چه نظر دِ په ټیک[5] د تور وربل کړم دَ جهان بادشاه دَ ځان مخی ته بل کړم
لا د ما طالع بهتره تر هر چا دی چه دا هسی کښلیو سترگو ته کتل کړم!
دَ سرو شونډُو په شرابوُ چه بیخود شم د مستی رقیبانوُ ته ښکنځل کړم
اجابت به ئې لا کله تاثیر کاندِی چه دعا دِ دَ وصال په سحر تل کړم
چه می زړه وریسې سه[6] هونبره سرېږی چه په مخ ئې پرهارُونه په چیچل کړم
د ښه مخ مینه می نه درومی له دله که تَل غوږ دَ ناصحانوُ په ویل کړم
په صوعت می پرهارُونه دی خوږېږی په وار دَ هر پرهار دارُو به تل کړم
دا داغُونه چه می سږ په زړه بنځوس دِی تر بل کال به ئې دَ عشق له لاسه سل کړم
چا په زور را لَرَه غم نه دَی راوړی وَ خپل زړه ته ئې پخپله راوستل کړم
ازلی می دَ غم بخره ده راوړې غم که نورُو لَرَه درومی زه ئې خپل کړم
یو نیکبخت ساعت به وِی چه راته غوږ کا چه په وَر ئې په فریاد ژَړَل کړم

---

۱. په خیر آباد کښ.
۲. سیخ.
۳. که غوڅ د هغه سر.
٤. و مه وایه.
۵. یو پسوال دی، چه ښځی ئې پر ټیکو ځړوی.
٦. سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه لا ښهر دَ دهلی شته خوشحاله
څه فائده که وران په آه سَرَه کابل کړم

چه په خوب شم ستا له خیاله سَرَه خواب کړم
چه بیدار شم دَ مخ سود دِ په آفتاب کړم
چه می ستا دَ خولو بوی تر سپېږمو تیر شو
نور به څه مینه په مښک او په گلاب کړم
بې نصینه لیدل نه میسر کیږی
په لیدو پسی که هر څو اضطراب کړم
ښه لیدَل ئې په مثال آب حیات دیَ
دا تشنه خاطر به کله پرې سیراب کړم
په ښکنځا می کله کله سر افراز کړه
هغه دم چه دَ سوال هیله په خواب کړم
ما ته څه وایې چه چا هسی خراب کړې
چه دَ حال پوښتنه نه کړې تا خراب کړم
ما ته مه وایه چه ولی پیچ و تاب شوې
ستا دې تورُو زلفُو هسی پیچ و تاب کړم
چه له مخه دِ پَلَو واخیست لمبه شوې
بیچاره خوشحال دِ درست سَرَه کباب کړم

څو ژوندَی یې دَ زرق مه کوَه هیڅ غم
خپل قسمت به در رسیږی بیش و کم
قابل غم دَ ننگ و نام کا په دنیا کښ
نه په غم وِی دَ دینار او دَ درم
قارون لاړ تحت الثری لَرَه لا درومی
موسی (ﷺ) پاس په علیین کښیښ قدم
پسله مرگه ښخ دَ مرد تر قدم ښه یم
گور می مه شه دَ نامرد له گوره سَم
دَ خوشحال قدر که اوس په هیچا نشته
پسله مرگه به ئې یاد کا ډېر عالم

چه په ما باندِی مین یم
چه څما په غم غمجن زه ئې غمجن یم
ما وې یَو زمان که بیل شم زه به ومرم
چه جدا پایم له یاره دروغجن یم
که دَ پښو خاوری[1] ئې نه یم باری شکر
چه دَ گرد په دود ئې نښی په لمن یم
په نور څه می دَ خاطر دلاسا نشی
په جهان کښ آرزومن دَ ښه دیدن یم
خوبه راشه! ما اوده کړه چه پخښو[2] شم
په فراق کښ په ژړا ژړا کړمن یم
که رقیب په دا خبر شی ترو به څه کا
چه له یاره سَرَه زه لاس و گردن یم
یمانی چهره می ولاړه حبشی شوه
دَ فراق په اور ئې سوَی لوغړن یم
زه دَ دوو په ځای درې گواه لَرم په عشق کښ
رنگ می زیړ، سترگی لندې، زبون په تن یم
ته محبوبه له شیرینه د دې وخت یې!
زه خوشحال دَ اوسنِی دور کوهکن یم

څوک خو به کیده واړه به نه وه سَرَه سم[3]
ته د کښلیو سر یې، نور تر تا دِی واړه کم
یو کلی یا دوه چه ئې ستاینه کا دا ډېر دی
چوِن کښلی هغه دَی، چه ئې ستایی درست عالم
وخوځه په باغ کښ رنگارنگ گلونه گوره
گل دی دَ گلابُو دَ گلونو مقدم
څه لَرَه اې میاشتی ته خپل مخ ستایې و ما ته
دَ یار په مخ می نور ځِی ستا په مخ درومی تورتم
مخ ئې لکه اور دی، پرې پرتې دِی توری زلفی
څه رنگه بازی کا په سره اور کښ تورا رقم
څوک چه ډېر ډېر گوری یار، دَ زړه مینه لړیږی
څو ئې ډېر ډېر گورم، پرې مین شم دم تر دم

---

۱. خیری.
۲. اروانښاد، خدای بخښلی، آزاد، په یَوَه نسخه کښ بخشو راغلی دی.
۳. دا بدله په چاپی دیوان کښ نده راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا وَيل خوشحاله که مې غم لرې په زړه کښې
خوښ اوسه خَوښې کړه تل تر تله ستا څه غم

چه بازئ په جهان کړم هغه زه يم
هم ئې پوسم[1] هم ترې يوسم اړې پر نه يم
و اغيار ته لکه کانې موم وَ يار ته
په سختې او په نرمې کښې هغه زه يم
و بلا ته دَ اختيار توره په لاس کښې
و قضا وته تسليم په شان دَ مړه يم
لکه بوټې دَ کيميا په مرغزار کښې
چه په حال مې خبر دار شِي دَ هغه يم
تندر هم ځما له ذاته نه پيدا دی
په سپين زړه که دَ باران سپينې اوبه يم
په هر نام چه دِ رضا هغه مِې بوله
آدم زاد، فرښته، پرې، بوده، ليوه يم
دَ کونينُو ننداره دَ زړه په عين
دَ وينې والې په دود کړم تا ته اوده يم
دَ هر چا بازار ځما په سودا تود دَی
خبر دار په سود دَ بحر هم دَ غره يم
هم دَ اُوښ غُندې هلک سَرَه په لار ځم
چه په بده لار مې بيايې هلته نه يم
هم مې څيز هم مې نا څيز کا په زمان کښې
زه خوشحال په حال خبر نه يم چه څه يم

څو به ستا دَ ديو غمونو زغمل تل کړم
دَ يارانُو کمې نشته يار به بل کړم
په قراره قرارې دِ يارې پرې کړه
دَ نيمگړې نيت و چا وَته ويل کړم
چه وعده دې دَ وصال چيرې خطا شِي
په ژړلو خاورې ختې دَ بورجل کړم
هر طبيب لَره چه وريشم ناقص وی
چه له حاله ئې خبر شم ځنې تلَل کړم
نور به هسې يک تنها له خلقو اوسم
دَ هر چا سَرَه چه کښينم غم حاصل کړم
بلا پيرې زړه لرم دا ئې عادت دَی
غم وَ بل لورې ته درومې زه ئې خپل کړم
چه منگې مې تشول دَ مِيُو زه وم
اوس نور ډکې پيالې اَخلې زه کتل کړم
منکرې دَ عاشقئ سَرَه مله دَه
په انکار که دروغجن يم دروغ سل کړم
خالې لاس ورځنې ځم هيله مې نه وه
چه ډک زړه به ئې له ډکه باغه تلَل کړم
پدا هونبره هوښيارئ هسې هيښ يم
څوک چه زهر راته نوش کا، هم مَنَل کړم
غر گناه راته دَ خس غُندِې ښکاريږی
چه په مهر کرم رايشم بخښل کړم
هر غزل مې په بياض باندِې وگوره
زه خوشحال ختک دَ زړه په وينُو کښل کړم

چه مين دې د زلفينو په سلسل يم
خود پخود وَ ليونتوب وَته مائل يم
وايِې ته به دَ مجنون غُندِې مين وې
که وَ چارُوته مې گورې ترې فاضل يم
ما به څه پوښتنې چه څه لَرَه زړه تنگ يې
ستا دَ تنگې خولې په فکر کښې تنگدل يم
دَ گلونو په ليده دِ مخ را ياد شې
ځکه هسې په گلگشت دَ چمن تلل يم
په ځير ځير راته کاته کړې ځيروې مې
چه دِ زړه هسې جفا کړه اوس دِ خپل يم
لکه څوک چې پخپل دين کښې مستحکم وی
هسې زه دَ يار په مينه مستقل يم
چه جدا له خپله ياره ژوندی پايم
زه په دا ژوندون له ياره تل خجل يم
دَ نفر غُندِې مې عذر چاره نشته
هر چه ما وَته څه وايِې په منَل يم
لکه څوک چه خواړه شهد وَخورِې خوښ شې
هسِې خوښ دَ شکر لبُو په ښکنځل يم

---

۱. پوسل: تربيت او روزنه او پالنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه[1] خوشحال په گلریزی کښې بهار راغی
په زیبا وَیَل هر گل ته مقابل یم

حیران یم نه پوهیږم چه زه څه یم څه به شم    له کومه یم راغلی بیا به کوم لُورِی ته ځم
خبر دَ هغو تللیو بیا په بیارته چا رانه وړ    له حاله له احواله ئې که هر څو څوک پوښتنم
دلې چه څوک لیده شِی نن[2] ئې شپه پدا بانډه[3] کښې    آخر ئې له دې ځایه وار په وار واته گنم
جهان یَو کټوری شُو زه په مثل دَ میږی یم    حیران پکښې جار وَزم لاس وپښې پکښې وهم
په هیج[4] کله زړه ښه کړی کله زړه په هیڅ بیا بد کړی    په کام که په ناکام دی واړه باد دی پیمایم
دنیا وَته چه گورم کار و بار ته دَ وگړی    دَ اوړکیو تماشې دی زه ئې هم ور سَرَه کړم
چه ته پرې مبتلا یې که دِ مال دَی که دِ ملک دی    دا واړه بې له خوبه بې له خیاله نه وینم
چه تور ویښته دِ سپین شول خوی دِ نور نشو خوشحاله
باور کړه اوس ناحق دَ سړی نوم درباندِی بردم

دَ صفا په لارِی نه یښی قدم    همیشه له درویشی وهی دم
هغه کله شیخ، ملا، ولی، درویش دی    چه نظر په سود زیان په مدح وذم
درویشان په تفاوت ندی راغلی    خپل پرَدی په سترگوُ واړه گوری سم
دَ درویش تر زړه به نه رسی دا دواړه    آئینه د سکندر که جام دَ جم
و درویش علم په درس په مکتب ندی    تل نظر لَرِی په لوح او په قلم
که څلور دِی که پنځه که شپږ اُوه دِی    دَ درویش تر شرقه غر به دی یوسم
نه په نون دی نه په میم دَی نه په جیم دی[5]    کامل پاس په لام وهلَی دَی علم
چه ذره طلب دَ نمر کاندی خوشحاله
په همت مه شه ته هم تر ذرې کم

دا نه وایم وَ چا ته، چه پارسا یم فاسق نه یم    دَ خدای منت را باندِی چه هر څه یم منافق نه یم
یا ما زده ستا په حسن، یا ځما په مینه تازه ده    که هر څو کښلی ډیر شی نور په هیچا عاشق نه یم
د مخ مشال دی بل کړ دَ پتنگ غُندِی پرې راغلم    بیا ته به راته وایې، چه په عشق کښې صادق نه یم
که ته لکه لیلی یې ما مجنون بوله په عشق کښې    که ته لکه عذرا یې زه هم کم تر وامق نه یَم
یا مست یا لیونَی یم یا می نه زده کار د مینی    ښکاره ښکاره وَیَل کړم دَ رازُنو سارق نه یم
دَ هر ښهر په کوی کښې ناقصان طبیبان ډیر دی    که هر څو پسی گرزم زه لا پیښې په حاذق نه یم
څو ذکر څو مذکور کړې تل ځما دَ گمراهیَ    انصاف ښه دَی زاهده زه مخلوق یم خالق نه یم
دروغ وعده هم ښه دَه دَ سړی دَ زړه امید شی    یو تش مهر خو وَکړه که دَ ډک دِ لایق نه یم
که وایې هغه وایه چه دَ عشق دَ محبت دِی
که نور څه راته وایې زه خوشحاله شایق نه یم

---

۱. د خوشحال.

۲. نن میشه په دا.

۳. له کلی جلا یوه کوچنی بنا بانډه بولی.

٤. که زړه په هیڅ ښه کړی که نه زړه په هیڅ بد کړی.

۵. په دې بیت کښې نون اشاره ده ناسوت ته او میم ملکوت او جیم جبروت، او لام عالم لاهوت ته، چه دا د تصوف په اصطلاح خاص عالمونه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ خپل یار مینی په زړه هسی بیمار کړم
چه په درد کښې ئې هرګوره ناقرار کړم

چه ناقص مې دارُو کا پرې نه رغیږم
دَ حاذق طبیب طلب په کوم دیار کړم

توری سترګی، توری ورځې، توری زلفی
دا همه توری بلاوی[1] زه ئې خوار کړم

که یَو تَش نظر دَ مهر راته وکا
دَ دنیا واړه منصب، مال به ترې جار کړم

زه خو هسی نادیده نه یم اې خلقه!
چه به بِه تر مخ ګلُونه دَ بهار کړم

دَ بهار ګلوُنه اور شِې زه پرې سوځم
چه بې کښلیه مخه سیل دَ ګلذار کړم

بې له ځانه په بل چا می پیرځو نشِې
چه کاته د مهوشانُو په دیدار کړم

چه ډیر ډیر کښلی مخ ته کتَی نشم
دواړه سترګی ئې مزری دِی ځنی ډار کړم

ما خوشحال په ځان پخپله چارِی وکړې:
چه په ملک کښې یو ناترس وی زه ئې یار کړم

دَ تقویٰ د پارسایَې دعا تل کړم
چه د عامی اثر نکا څه ویل کړم

زړه می خدای مین کوی په ښایسته وو
هسی نه چه زه پخپله زړه مایل کړم

چه عالم می اړوی دَ عشق له کاره
زه اقرار ورته په خوله انکار په دل کړم

مګر زه فسق او فجور لرَه پیدا یم
چه بیا بیا ئې ماتوم که توبې سل کړم

واعظ حوری ښه کوی تر دا دلبرُو
که هوهو ورته لَرَم کله منل کړم

زه پدا سبب لیمه غواړم له خدایه
چه دلبرو ته دَ سترګو غَرْوَل کړم

چه دَ عشق غموُنه نور چا لرَه دروهی
زه ئې مخی لَرَه ورشم واړه خپل کړم

عاشقان به دَ جهان په ما پیغور کا
زه که اوس په عاشقَی کښې خوی بل کړم

و هر چا وته ئې راز وایم دَ مینی
د هر چا سَرَه چه یار شم یار خجل کړم

زه لمړی په آشنایَې نازیدلم[2]
واړه غم وُ چه پرې ښه وَپوهیدلم

د زړه زور دَ صورت توان را څخه لاړ شه
چه درانه دَ بیلتانه پیتِی آخلم

آشنایی یاری په مهر په رضا شِې
پدا کار کښې په چا نشی زور و ظلم

سر اول دَ یار دَیار په بالین کښیږدم
له غه پسه په پالنګ باندِی څلم

چه دَ سر په ځای سینه راته بِهِه[3] کا
هم هغه به دَ بنِو په غشیو ولم

ښایسته لکه ګلوُنه زه طوطی یم
چه و هر لوری ته ځم په ګلو ملم

که سیالی له مَرَه[4] شِې نه ئې له بخته
شاه پخپله بې ریباره و بللم

هوسی چا په دَو نیولِی دِی خوشحاله
بیهوده په غزاله وُو پسی زغلم

زه چه هسی په تعجیل او په شتاب ځم
خرابات لَرَه په هیله دَ شراب ځم

د ساقی له لاسه می چه تناول کړم
بیا په بیارته به بیخود دَ مست خراب ځم

دَ ساقی دَ مخ جذبه می مخ ته بولی
چه دا هسی میکدې ته په ترتاب[5] ځم

---

۱. بلا دی.

۲. دا بدله په چاپی دیوان کښې نسته.

۳. محشی نښانه ورته کښلې ده.

٤. له نره شی.

۵. یعنی غم، افسوس، ساندی، نارې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد د درد می ئې له خمه دی نوشلی — اوس په هیله په امید دَ می ناب ځم
چه می نشې بله یو سر بل سر سترګی — له جهانه مخ پوښلَی په نقاب ځم
له دوو سترګو می روان دَ اوښو سیند شو — د دې سیند دَ پاسه زه لکه حباب ځم
خوب و خور می له خاطره فراموش دی — دَ جمال په خیال ئې درسته شپه په خواب ځم
دَ محبوبی دَ جمال شغلې آتش دی
زه خوشحال ئې له لیدَلُو زړه کباب ځم

زه چه تل هونبره ناسازی دَ عالم وړم — دَ خپل یار دَپاره دا جور و ستم وړم
دَ لاله غُندِی داغدار په جهان راغلم — هم دا داغ به له جهانه د صنم وړم
په وصال ئې دَ جهان خوښیِ راشی — چه له کښلیو جدا کیږم ځنی غم وړم
په عالم دَ مجنون بړغ دَی مرد می بوله — په محشر که ځنی وړاندی خپل علم وړم
هر قدم په ځګر خون بردم توئی مشه — دَ شرابُو پیالې ډکی په تور تم وړم
چه نرګس ته نظر نکاندی له کبره — و هغو ته څه ګلوُنه دَ شړشم وړم
کارکنان دَکار فرمای په حکم کار کا — زړه چه حکم فرمایی هوری قلم وړم
هونبره ډیری خرخښې فتنې جنګونه — بیا به وایې چه زه ستا غنجونه کم وړم
په هر دم دَ هغه یار منت را باندی — چه ئې هسی ډیر خیالُونه په هر دم وړم
مخ به چیری راته سم کړی په یاریَ — که دا خوی به همیشه له عمره سم وړم
چه په کوی کښِ دِ مقیم شم دروغجن یم — که به نوم په ژبه جیرِی د ارم وړم
راته وایې نن زړه څه رنګ وړې له ما نه
که دِ خوږین کړ هم ئې خوښ خوشحال خرم وړم

زه چه خپل قدم دَ عشق په خونی راه بردم — هر زمان له تنه سر لکه ګیاه[1] بردم
دَ جمال خوبی دِ زیاته تر آفتاب ده — دَ نظر دَ پاره نوم درباندی ماه بردم
درسته شپه چه ستا له غمه سره تاو شم — هر سحر په افلاکوُنو باندی آه بردم
که ته تیغ دَ جفا وَکاږې و ما ته — ستا وَ تیغ وَته به سر لکه ګیاه بردم
که می چیرِی لاس و واک در وَرَسیږی — په سپین مخ به دی دَ غاښ نخښی سیاه بردم
بیچاره خوشحال چه ستا دَ ور ګدای شو
ځکه زه درباندِی نوم دَ بادشاه بردم

ښه به هغه وخت وی چه به یار لَرَه ور درومم — وایم چه زه باغ و بهار لَرَه ور درومم
زلفی ئې ښکاره کړې مښک غنبر ئې په ما توی کړه — اوس به له دې پسه څه عطار لَرَه ور درومم
خدای په کور کښِ راکړه، هغه توری سترګی تُرکه — اوس به ئې په مرسته څه فرخار لَرَه ور درومم
زار دَ خوږُو زړُونو، خوښ خرم زړونه آزار کا — غم اندوه می دا دی چه خپل زار لَرَه ور درومم
هر چرته چه خار وِی، هغه ځای مومی ګلوُنه — ځکه پدا هیله هر هر خار لَرَه ور درومم
کوم سحر ئې وکړ په ما خوار باندی حیران یم — مرګ و ته می ناست هغه خونخوار لَرَه ور درومم
هم ئې په ما وکړل څو څو رنګه ستموُنه — بیا له نا څاریَ ستمګار لَرَه ور درومم
یار می په ښایست کښِ لکه ګل دَ نو بهار دی — سود ئې دَ جمال کړم چه ګلزار لَرَه ور درومم
ښه خواږه یاران چه ما خوشحال لیدل په سترګوُ
اوس ئې په ژړا ژړا مزار لَرَه ور دورمم

---

۱. لکه کلاه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مین زه په گلزار یمه په ځای یم ‌‌ ‌ که دَ مخ ئې په نندار یمه په ځای یم
چه جدا ورځنی پاتو یم عالمه! ‌ په ژړا که په چیغار یمه په ځای یم
یار می ولاړ شو پدا لار ورپسی درومم ‌ که ډېر سترِی پدا لار یمه په ځای یم
بې له عشقه بله چار نشته بهتره ‌ که دایم دَ عشق په چار یمه په ځای یم
په جنت کښِ هم دَ حورُو صفت کیږی ‌ که طالب دَ ښه نگار یمه په ځای یم
له خوږوُ شونډو ئې سرې شکری اوری ‌ که طوطی دَ شکر بار یمه په ځای یم
زه خوشحال په لیونتوب کښِ خوشحالی کړم
لیونی دَ پری وار یمه په ځای یم

که می هر څو ته بادشاه یې زه گدا یم ‌ مخ له ما نه مه جار باسه مبتلا یم
زه چه ستا له غلامیَ داغ لَرمه ‌ هیڅوک ځان سَرَه سَم نه گڼم بادشاه یم
دَ خاطر ورمی تړَلی دَی په غنو[1] ‌ له عالمه سَرَه ناست په فکر ستا یم
که دِ څوک په درد دردمن دی زه دردمن یم ‌ که دِ څوک د تلی خاوری زه خاکپا یم
کله سَتا دَ راز خبری په کاغذ کښِم ‌ کله سَتا له مخه حال قلم ته وایم
دَ ښه مخ دَ عاشقانوُ دِ شمار نشته ‌ ولی زه په همه واړُو کښِ یکتا یم
خادمانُو له شمارې می محروم مکړه ‌ که دَ نورُو انعامونو دِ تر شا یم
که په ما مهر کرم کوې ته ښایی ‌ که پما جور و ستم کوې سزا یم
تا خوشحال وته ویل چه څه پکار یې
که په کار که نا په کار یم خو هم ستا یم

که همیش دَ ملامت کاڼی په سر خورم ‌ غم می نشته چه په تور ئې دَ دلبر خورم
که دَ سپیوُ دَ کَودِی اوُبه ئې مومم ‌ زه به وایم چه په تن آب کوثر خورم
لکه باد په نرگس ولگی تازه شِی ‌ دَ رقیب ځپیړه هسی په بصر خورم '
زه به لا ورته تلوار کړم لکه تَږی ‌ که تل ستا له لاسه توره یا خنجر خورم
چه په ښاخ ئې ډَول ډَول میوې زانگی ‌ لا به کله دَ وصال دَ ونی بر خورم
تا ویل خوشحاله چپ شه خوله می واخله
زه طوطی یم چیغار وکړم بیا شکر خورم

که گناه نه کړَی آدم ‌ ترو په چا به شو کرم
سکه کرم لَره بایده دی ‌ چه پیدا شوَی نور عالم
په یَوَه توبه گناه ځی ‌ دَ سړی له عمره سم
گرد غبار چه په گل پریوزی ‌ شست و شو ئې کا شبنم
دَ مؤمن گناه په غاړه ‌ دَ شیطان وِی بیش و کم
شاهزاده چه بدی وکا ‌ دَ ندیم سر شِی قلم
دَ ده بد په نور ویشل شِی ‌ یار تر یاره ندی گرم
په لا تقنطوا خوشحاله
تل خوشحال اوسه خرم

---

۱. د اغزونو ونو ښاخونه، چه کروُنکی ئې پر کښت د ساتنی دپاره را گرزوی، یا ئې د باغ په ورکی د تړلو دپاره ږدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرم خو نه يم که ارمان کوم لا ژاړم        دَ باغ گل مې غوړيده زه ځنی لاړم
بل بادشاه نشته اورنگ مې عدل نکا        که سبا بيگا ئې تل په دربار ناړم
دَ طلب غړی مې لاندې شول تر غرونُو        هغه بيل ياران په کومو غړيو غواړم
دَ هواد ياران مې هر زمان يادېږی        چه ئې مخ په خوب کښې ووينم وَوياړم
چه قاصد دَ يار دَ خولې کتابت راوړی        څو ئې لوند په اُوښيو نکړم نه ئې نغاړم

زه خوشحال پخپل قسمت پوری حيران يم
چه په چرته گرزيدم، په چرته ولاړم

گرم خو نه يم که له درد سَرَه ښورم        نور به ډکې پيالې اخلې زه به گورم
لاله زار به شگفته په هغه ملک شِی        چه باران دَ دواړُو ستړگو باندی ورم'
وايې زړه له ما نه وَژغوره که ښه کړې        کشکی ستا له لاسه خلاص شی زه ئې ژغورم
ځان به درکړم، مچه راکړه ښه سودا ده        که ئې ته په بهار پيرې زه ئې پلورم

په دا راز به هر بې نياز کله خبرېږی
چه خوشحال راته دعا کا زه ئې زورم

که غمؤنه د دې خپل خاطر کباب کښم        بويه دا چه دفترؤنه يا کتاب کښم
په بيان په قصيده به تمام نَشِی        که ناسازی دَ سپهر و دَ شهاب کښم
دَ فراق غمؤنه لور په لور انبار دِی        په کاغذ باندې دَ کوم يوه حساب کښم
په ډير غم کښې هيڅ خبر نه يم له حاله        چه زه دا اوپَل په ويښه که په خواب کښم
که جفا دَ زمانی وه که دَ خلق        زه به دا واړه په حکم دَ وهاب کښم
په فلک باندې دَ هيچا حکم نشته        چه ئې ظلم، ستمؤنه، انقلاب کښم
دَ آگرې په کوټ کښې بند شاه جهان دی        دَ دارا به هغه کوم فانی جناب کښم
نه به زړه ځما سړيږی نه به بس کړم        ورځ و شپه که سلامُونه په احباب کښم
خراب شوی دَ فلک له لاسه ډير دِی        اوس به حال دَ هغه کوم يَوَه خراب کښم
که دَ خوږ خاطر له حاله چا ته کښل کړم        يا آهونه يا ژړا يا به عذاب کښم
يَو مکتوب دَ خپل اشنا را لَرَه راغی        اوښی بغرگی تويَوَم چه ئې ځواب کښم
حاسدان مې په حساب لکه گِلاب دِی        حيف ندی چه به جور دَ کِلاب کښم

ما خوشحال په خوب دا حال نه وُ ليدلَی
چه به دا دَ غم بيتونه په پنجاب کښم

له هنره چه څوک ووايې لَرَم [1]        چه مې بخت نه کا ياری څه وَوايم
په جهان کښې دَ وفا هنر کيميا دی        زه ئې څه لَرَه له چا هيله کوَم
دَ وفا ميوه دَ هر چا په باغ نشته[2]        بيهوده ئې هَرَه وَنه لَټوم
غه باران چه په درياب باندېی وريږی        په باران به ئې زه څه حسابوم
نادانی مِی غلبه په هوښيارِی شوه        مرغلَری په درياب کښې تويَوَم
له قسمته به نه لږ نه به څه زيات شِی        غه روزی چه ځما نده نه ئې خورم

---

۱.  دا بدله په چاپی ديوان کښې نسته.
۲.  د وفا ميوه د دهر په باغ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ځما له رزقه زيات ځما څخه وی
امانت غُندِی ئې بل لَرَه ساتم
کوم مکان دَ زمانې له مکره خلاص دی
چه هغه لوری ته تيښت ورځنی کړم
که په تښتی خلاصيدی[1] ځنی به خلاص شم
دَ قضا له لاسه کُوم لوری ته ځم
زمانه می دَ فتنو په کانيو ولی
زه ابله دَ ښيښې سپر په مخ کښيږدم[2]
چه په راغله ئې ښادی را سَرَه نه وه
په هجران به ئې څه زړه[3] زهيرَوم
چا ويَل چه صبر نخښه دَ بری دَی
زه خوشحال په صبر ځکه زړه تړَم

لا به کله خپل مقام وَ دلبر ورکړم[4]
چه ګټَلَی مال همه ورته وَلورَ کړم
يو ويَې دَ دلاسا راته پرې نږدی
ځان که هر څو خپل مين ته مرور کړم
هيچا نه وکړه ځما دَ زړه ساتنه
هر سړَی مِی زړه دردمن کا چه زړه ورکړم
په درست کلی کښ يَو هسی دلبر نشته
چه خپل زړه دَ ده په وصل بهره ور کړم
خبر دار به شی عالم ځما له درده
که دَ آه په اور ډېوزی پيښور کړم
ستا دَ خولې خبری نوری دَ زړه نوری
زه خوشحال ختک پوهيږم پرې باور کړم

ما شراب خوړلی نه په حد واهه شم
که ئې وَخورم خبر نه يم چه به څه شم
په هر لوری چه نظر کومَ اغيار دی
دَ زړه حال وَ چا ته وَوَيلی نه شم
زمانې را باندِی وکړې هسِی چاری
لکه دُر دَ خر مهر و سَرَه پيبه شم
دَ اورنګ بادشاه په دور عدل نشته
تر طناب لاندی په ښهر کښ لوټه شم
که دَ رنځ دارُو می کړې طبيبه وخت دَی
هاله ستا د ارُو وَ مشه چه په تله شم
خپل خونی و چا ته څه ښيم په ګوته
چه دَ چا دَلاسه مرمه خود ليده شم
درسته شپه لکه اَغزی په زړه خرخيږی
دَ فراق غمؤنه، څنګه اوده شم
هيڅ په سترګو ليده نشی يو قصاب دی
نه ئې لاس نه ئې چاړه په زړه ورژه شم
لکه وُ په هغه شان په وفا ټينګ دَی
چه تر يار ئې خجل نکړم ځار تر زړه شم
په دا لوڅو پوڅو نه رسم تر ياره
دَ سيمايا علم می نشته چه مرغه شم
خلق تشی تسلې کا زه له ځلی
دَ هلک غُندِیَ هر سړی په خوله شم
اللهداد چه بند په بندګوتی په تار ږدی
دَ خوږ زړه دمه می شِی څه خو تابه شم
نه شيخان نه طبيبان نه ساحران شته
چه له دې رنځه دَ چا په سبب ښه شم
زه خوشحال له نورُو څه لَره فرياد کړم
په زړه زړه واړه پخپل غشی ويشته شم

ما بې دوده توسنی کړه منځيدلم[5]
عاقبت ئې په کمند وَ څکيرلَم[6]
وړاندِی ورُوستو ئې را واچَول بندونه
په آخور ئې کيزه کړَی وَ تړَلم

---

۱. خلاصی وی.
۲. په مخ کښ ږدم يا په مخ کښ وړم.
۳. زړه څه.
٤. دا بدله په چاپی ديوان کښ نده راغلې.
٥. منځيدل: پورته پورته عمودی غورځيدل.
٦. يعنی پيچل او بندول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ډېچی[۱] هغه ترنډی[۲] له ما ولاړې	چه به خوشی په جلگو کښې گرزیدلم
ریاضت ئې دَ مولا[۳] را باندِی کښینښ	رنگ په رنگ ئې په حلب وَپوهَولم
چه می لاس دا چا تر شا نه وُ راغلی	اوس پخپله شا پخپله زین آخلم
دَ سورلی هنر ئې وښایه و ما ته	په تیمار را و په راتب ئې وَ ساتلم
ورځ و شپه مِی دَ تپاک خبر آخلیِ	که خوراک خورم که وَلاړ وم که څملم
هم ئې نوم دَ ډیری مینی په ما کښینښ	هم ئې زه پخبله ژبه وَستایلم
بیهوده زغاسته واړه له ما لاړه	چه په هر لوری ئې حکم هورې زغلم
چه په ما به ئې نظر په حقارت کړ	هغو واړُه په هنر کښې وَپسندلم
اوس می قدر یو په سله یَو په زر دی	چه اول په څو درمه پیریدلم

اوس په هر توکښې خوشحال خورسند خرم یم
پخپل قدر په قیمت وَ پوهیدلم

مست یم مَی پرست یم رندی کړمه کړمه کړم	واوره محتسبه باده خورمه خورمه خورم
نور شراب می واړه نور عالم وَته بخښلی	لام و بې مِی مَی دی پسی مرمه مرمه مرم
موړ به څنی نشم زه دَ میو مستسقی یَم	تل که هسِی ډکی پیالې څښمه څښمه څښم
لار دَ محبت دَه تل به روغ سلامت نه وم	زه چه په دا هسی لاری تلَمه تلَمه تلَم
څه وائې وَ ما ته حال دی څه وُ په هجران کښې	نور خبردار نه یَم په زړه سومه سومه سوم
خلق راته وایی رنگ دِ بیا زیړ شو عاشق شوې	هیڅ منکری نکړم خلقه شومه شومه شوم

دود دَ عاشق دا دَی چه په عشق کښې ملامت وړی
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وړم

نور به مخ په آئینه برابر نه کړم	نه به دواړه سترگی تورِی په رانځه کړم
نه به سپین لاسُونه سره کړم په نکریځیوُ	نه به نور په ږمنځه ساز دَ سرو پښته کړم
نه به ماتی ماتی څوڼی په مخ پریږدم	نه به لاندِی باندی لب په پانُو سره کړم
چه دَ مینی یار می نشته چه ئې گوری	دَ صورت سینگار وَ کوُم یَوه ته وه کړم
درست صورت می سرې لمبې شی شنې ډډوزی	چه دَ خپل مین دَ مینی راز تر زړه کړم
که ژوندُون تر هر چه خوږ دَی په جهان کښې	اوس بې یاره په ما تریخ شو زه ئې څه کړم

هغه یار چه چرته دَی خوشحال دِ اوسی
دَی دِ خپله خوشحالی کا غم به زه کړم

هغه دم چه دَ ساقی پیاله نوش کړم	په مستیۀ ئې دواړه کونه فراموش کړم
په معنی کښې هم شراب یَم هم ساقی یم	طالبان دَ میو شته چه ئې مدهوش کړم
ناصحان راته دَ عقل دفتر لولی	خدای به نکا چه ئې زه په ویَل گوش کړم
دَ زاهد په صومعه کښې می زړه تنگ شو	له دې پسته به خدمت د میفروش کړم
زه بلبله خوش نوا د دې چمن یَم	په موسم دَ گلو څرنگه خموش کړم

---

۱. یعنی نه رام والی او نه ایل والی.

۲. دا کلمه له ترهند څخه جوړه سوې ده یعنی توند والی، د آس هغه هال چه توریړی چه په فارسی ئې رم بولی.

۳. د سورلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په زړه ئې اثر نه کیږي خوشحاله
څه فایده که تل په ور ورته خروش کړم

هله مخ راته ښکاره کړه دیوانه شوم
په همه واړه عالم کښې افسانه شوم
لا می ستا دَ مخ څراغ لیدلَی نه وُ
زه زړه سَوَی لا هاله پرې پروانه شوم
اشنایی دی له ښادی نه وه غم وه
چه دا هسی له ښادی بیګانه شوم
ستا دَ زلفو دام می ولیده په لاری
له مسجده نه مقیم په بتخانه شوم
ستا دَ زلفو دَ زنځیر هوس می وکړ
نه چه زه له بې عقلی دیوانه شوم
آغرین[1] دی د بڼو نه وُ بلا وُ
چه په ځان و زړه ئې هسی نښانه شوم
زه چه تل دَ لیونیوُ په شماره وم
بیا له کومه په ساعت کښې فرزانه شوم
زه خوشحال هم بې نظیر یم په عالم کښې
چه مین په بې نظیری جانانه شوم

یَوَه نخښه درته وایَم دَ بې شرم
په وعده په قول نه وی نرم ګرم
خدایه ما دَ هغو مل مکړه په لاری
چه ئې نه وی په یاریِ کښې آزرم
دَ ناکس یاری په مثل دَ اُورو ده
چه دَ باد په مخ کښې درومی ترم ترم
یوه بده زمانه شوه دریغه دریغه
په هر چا چه دَ یاریِ باور ورم
که هندو که مسلمان د پَت په کار کښې
چه می ولیدَل دَ هیچا نشته برم
څوک چه نرم ویل کا عمل ئې ګوره
تګان هم په خوله ویل کا نرم نرم
دَ هغو وَ مخ ته مه ګوره خوشحاله
چه ئې سخت په بې شرمی کښې دَ مخ چرم

## ن

په کاته شم وَ عالم وَته حیران
چه دَ نس دَپاره څه کا دا سګان
هَسی چاری ئې پیدا شِی له وجوده
چه په فکر ذکر نه وِی دَ شیطان
تل قرآن دَ وړاندی یښی قرآن لولِی
ولی هیڅ عمل ئې نه وِی په قرآن
په کوم لوری پسی ځم چرته ئې غواړم
دَ کیمیا غُندِی نایاب شول دانایان
ښه سړی لعل و یاقوت دَی مونده نشِی
لکه نور کانِی لړ ندِی ناکسان
که په نور خلقو کښې ښه سړی موندلَ شی
ولی ښه سړی به لَړ وِی افغانان
له هر څو ورته دَ پند خبری وایې
دَ پلار پند ئې هم ښه نه لګِی په ځان
هره چار دَ پښتانه تر مغل ښه ده
اتفاق ور څخه نشته ډیر ارمان
دَ بهلول[2] او د شیر شاه[3] خبری اورم
چه په هند کښې پښتانه وه بادشاهان
سپږ اوه پیړۍ ئې هسی بادشاهی وه
چه په دُوی پوری درست خلق وه حیران

---

۱. دې کلمې ته په یوه قلمی نسخه کښې محشی "غشی" معنی لیکلې ده، په دوو قلمی نسخو کښې آغزین راغلی دی، منسوب وَ آغزی ته یعنی خار دار.

۲. سلطان بهلول په هندوستان کښې د لودیانو د کورنۍ مشهور باچا دی وروسته تر څلویښت کاله پاچهی په (۸۹۴هـ\۱۴۸۸ع) کښې وفات شوی دی.

۳. شیر شاه د پښتنو د سوری کورنۍ مشهور د هندوستان پاچا وُ، چه په (۹۵۲هـ\۱۵۴۵ع) کښې وفات سوی دی، په عدل او انصاف مشهور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا هغه پښتانه نور وه دا څه نور شول  یا دَ خدای دَی اوس دا هسی شان فرمان
که توفیق دَ اتفاق پښتانه مومی
زوړ خوشحال به دوباره شِی پدا ځوان

په تیرو تورُو، ور درومی یکرنګان  په لمبو[1] باندِی ځان ولی پتنګان
دَ کنجکو قدر یَو، د دُرو بل دی  ننګیالو سَرَه څه ژوی بی ننګان[2]
ارتګی دَ زړه دلیل دَ جنتی دَه  دَ دوږخ دَ اور لایق دِی دلتنګان
دَ بادشاه په سلطنت پوری خندا کا  په سپیرو ایرو لَړَلِی ملنګان
نور ماهی ئې تار په تار درومی له مخی  ماتوی لویی بیړِی نهنګان
دَ هاتی دَ پاسه سپور ورته پیکه وی  چه دَ میو پیالې اخلِی سرهنګان
څه دَ ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرهارژلی پلنګان

بیهوده په ځان غره دَی دا انسان  په ساړه په غارمه چینګه خوله حیران
لیونی ملال دلګیر دَ خوب په وړل کښ  نه دَ لوږِی نه دَ تندِی لَړِی توان
په یوَه ذره خبره خوار خسته شِی  په یَوه ذره سر خوړِی شِی په ځان
پدا هسی رنګ څو کبر څو لوئی کا  چه نظر ئې له خودیٔ وِی په اسمان
واړه عمر تیروی پدا غفلت کښ  تر هغه پوری چه ومری پدا شان
په ژوندُون چه دَ خپل ځان فکرونه نکا  پسله مرګه به هغه کا ډیر ارمان
زاهدان شیخان وَ هر لوری ته ډیر دِی
دَ خوشحال خټک پکار دِی عارفان

پنډ بد روز بکر حیران بهاردر خان  هدایت ترین سوخته وُ تر دا میان
شیخ ستار ماشه ټوپک عبدالرحیم وُ  دَ ټوپک کُنده خدای یار جامکی کاموان
دَ ټوبک کُنده هر ګز نه وی بې سیخه[3]  حق ناحق ئې پکښ جوړ کړ جهانخان
دَ تسمو په ځای ګویا دا نور عالم وه  اسفندیار غَندی یو څو ګیدِی پاجیان
مردکی دارُو همه خواجه صادق وه  بند و قچی صاحب صوبه وُ پخپل ځان
پدا هسی غرڅه روخ دَ ګذار نه وُ  په آزار به ئی ګډ وړ کا خدای جهان
په مثال خواجه خضری غرڅه خوشحال وُ
چه ګزار وربانډِی وشو ناګهان

څو ګلرنګی چهرې راغلې په جهان  بیا فنا شوې لکه ګل دَ ګلستان
یَو رمق دَی راته پاتو په فراق کښ  چه په مرګ له ما جدا شول ښه یاران
که دَ زړه سترګی دِ شته ننداره وکړه  په وصال کښ مهیا ګڼه هجران
دَ هغه بقا فنا ده، بقا نده  چه تبدیل ئې په دنیا شیی هر زمان
دا څه توری خاوری ندِی چه پرې درومې  خاوری شوی کښلی جونه دی ځوانان
چه را یاد شِی ښه یاران و ګور ته تللِی  تل په ما وی دا غمونُو ګڼ باران

---

۱. په سوځونکو لمبو سوځی پتنګان.
۲. ننګیالی سره زر کنجکی بې ننګان.
۳. بې سیخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همګی تر مځکی لاندې شول خوشحاله
اوس دَ مځکی پر مخ نشته راز داران

څو خبر په قباحت نشی انسان
نیک و بد هوښیار دادان ګڼی یکسان
که یو کس په زرکی بیا مومې هم ډیر دی
په هر لورې صد هزار دِی ناکسان
هونبره ترس ځما له یېره خو که نشي
څو په زړه یَم له جاهله هراسان
دانایان په ناکامی کښ خوار حیران دی
کامرانی د جهان څوک کاندې؟ خسان
پخپل ښکار باندې غوټې وهې بازُونه
په مرداری باندې ګرزی کرګسان
تفاوت ئې په کرده په فعل ګوره
مچ، مچۍ دِی سَرَه واړه مګسان
چه په درست عمر کښ یو ځله تیره شي
نور اصیله توره نه غواړی متان
چه هر ډُوړ ئې و اودو ته هوس کاندی
دَ زربفتو هنر چیرې دَی آسان
که دِ زړه دَی چه لذیذ شعر ووایم
دَ خوشحال غُندی پیدا کړه خپل لسان

خوږ ژوندُون په سړی تریخ کاندې بیلتون
په سوزانو لمبو پاس کښیږدی لړمون
چه څه زور قوت دَ زړه وِی په کوګل کښ
وار په وار ئې له دوو سترګو کا بیرون
تر دا هسې عمر، نه عمر بهتر دَی
چه تیریږې ورَځ و شپه په ځګرخون
په ځګر ځګر می ولې صرفه نکا
دَ غم لیندیو راته وواهه زنګون
ځما زړه طومار دَ مهر دَ وفا دَی
خیراوه شِی چا ئې زده نکړ مضمون
که کتان چه مهتاب خیری کا ګانده شی
سکه ځماَ دَ زړه به هم وشی ګنډون
کشکی څوک هسې پیدا شی زه راضی یم
چه می زړه دَ یار له لوریه کا څوک ستون
په هجران کښ که امید دَ وصال نه وی
دَ حیران عاشق به هم نه وُ ژوندون
چه قدم په هغه لار کښیږدِی سر درومی
زه همیش په هغه هسې لار کړم یُون
یَو دَ بل په ځای کښینی دَ دنیا دود دَی
زه خوشحال قائم مقام یَم دَ مجنون

دَ زیبا جمال ئې ډیر دَی زیب و زین
ولی زړونه دَ عالم وړی په عینین
یَوَه سترګه ئې رحمان بله رحیم شوه
چه همه مراد پکښې دی د کونین
چه دَ ښهر زاهدان شیخان پیران دی
زړه دَ هر یوه کښان وړی به زلفین
لکه عین دِ خپل پلار خونی وژلی
پسو سرې سترګی راځې په شین شین
واړه لواړ سرونه نغرِی دَ دردمنو
دَ مزری تر خولې بتر دی د عشق عین
پخپل یار می باور شته چه بل به نشی
غمازان که غمازی کا تر دا بین
په رضا ئې خپل خاطر ورکړ خپل یار ته
په خوشحال محصل نه وُ دَ چا تین

دواړه شملې پریږدې بریښوی ورته خپل ځان
ګوره هغه تُرکه به نظر کا په کوم ځوان
څو ګلرنګ مخونه پدا خاورُو کښ بدرنګ شول
څو دَ خیال کړې بګړې یاد لَرِی جهان
دور دَ دلبرُو دَ ښایست دَی یَو څو ورَځی
ژر له برمه پریوزی لکه ګل دَ ګلستان
سرې سترګی اَوُښتې لکه ډیر خونُونه کړی
خدایه خیریت کړې چه را درومی پدا شان
زړه می لکه ګوی دَی دَ مستې په میدان کښ
تل ئې هغه ترک وهی دَ زلفو په چوګان
تل دَ تن هډونه را وکاږم په نوکونو
غم ئې دَ ناوک خورم چیری مات نشِی پیکان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټه په نقاب وَه دَ هر چا ورته نظر وُ — مخ ئې را ښکاره کړ، ورته خلق شه حیران
مخ په وړاندې درومی پټ په څنګ ورته نظر کا
خوښ اوسه خوشحاله بیا ښه پیر وکړ اسمان

را ښکاره شوې کج فهمی د جهان — دَ جهان دَکج فهمیو الامان!
دا هم ځای دَ تعجب دَی که ئې وینې — په بازونو چه غوټې وهي کارګان
دا هم ځای دَ تعجب دَی که ئې وینې — چه مغل کاندې بازې په افغان
دا هم ځای دَ تعجب دَی که ئې وینې — چه ګیدړ په وازدو[1] ډک وَړي زمریان
دا هم ځای دَ تعجب دَ حیرانۍ دَی
چه لښکری په خوشحال کا بهرام خان

عارف سړی هغه دَی چه ئې شناخت وشو دَ ځان — دَ ځان په معرفت کښ معرفت دَی دَ سجان
چه ویرې دَ زړه نه وِی نه عمل لَرِی دَ نیکوو — په دا ئې نظر مکړه چه په یاد لولی قرآن
په کور کښ دِ بلا دِی دا دَ نفس غلطی چاری — که ته په ځان شیطان نشې بل هیڅ نشته شیطان
حرص مکړه هوا پریږده له هر چا نه پریکړه طمعه — بل نوم به پتا نږدم په ځان نوم کښیږده سلطان
چه خدای ئې په لار نکا په وَیل به په لار نشِی — که پاځوې له کوره وَ هغه وَته لقمان
عیسی په معجزه سَرَه ړانده سړی بینا کړه — دانا ئې په دعا نشو په عمر یَو نادان
که هیڅ ور څخه نه وِی غم دی نکا که دانا وِی
خوشحال ختک ګواهی لِی دَ دانا نشته ارمان

ګوره راته څه وایِی دا ستا دواړه چشمان — نور عالم نور ښکار کا، موږ دَ دین او دَ ایمان
مرِی چه لینده وینی کارګه ستا دا خال دَ ورځیو — ناست دَی تور کارګه په څو په موټی دکمان
راغله په خندا خندا وړه وړه پوښتنه — چا ورته وَیَل دا په رقیب نکړم ګمان
ورتې ورتې اُوښی تل ساړه ساړه آهونه — ستا په درد و غم کښ زه هم دا لرم سامان
نوره پیښکښی را څخه نشته په فراق کښ — یار لَرَه به وړمه دُر دَ سترګو په دامان
یَو زمان می نه ځی هغه یار دَ زړه له سره — څه شی که ئې زه په زړه یاد نه یم یَو زمان
پاتو یم له خپله یاره لیری لا ژوندَی یم — خدایږو په دا خپل ژوندون هر ګوره یم پښیمان
پیا به ئې لا کله د بهار په سپوږمی دریغه — ونیسم په لاس کښ توری زلفی ډیر ارمان
خوښ اوسه خوشحاله دَ خپل یار په درد و غم کښ
درد دَ یار دَ مینی لا بهتر دَی تر درمان

که همیش دِ همنشین وِی تور ماران — ښه دَی دا نه چه قرین وِی بد کاران
هر چه ستا عیب وَ تا وته ښکاره کا — په جهان کښ هم هغه ګڼه یاران
په کردار کښ یار اغیار سَرَه بیلیږی — تر یارانُو ډیر لباس کا اغیاران
دَکمذات یاری به هیڅ وفا وَ نه کا — لا په تیره بې نمازان او مَی خواران
لکه تخم هسی بر هسی ئې بوټی — نه ئې خوند مځکه بدل کا نه باران
دَ زړه راز و چاته نه وَیَلَی بویه — چه دَ مځکې په مخ نشته راز داران
په قیامت به یو په یو واړه ځواب لی — که میری ملخی پایمال کا شهسواران

---

۱. وازګو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ خوشحال باندِی سلام بادشاه دَ وخت دِی
په سپيرو ايرو لَړَلِی خاکساران

که هر څو ښايسته يې نه يوسف يې دَ کنعان
که هر څو ډير هوښيار يې نه مخَی يې دَ لقمان
که هر څو ډير حشم لرې بادشاه دَ مملکت يې[1]
په زړه کښ فکر وَکړه څه بادشاه وُ سليمان
څو کښلی ښه مخونه څو هوښيار څو بادشاهان وه
چه راغله هسی لاړل اوس ئې نوم دَی په جهان
يو نوم دَی پاتو کيږی نور به هيڅوک پاتو نشی
په بد بدان ياديږی په نيکِی يادوِی نيکان
که نوم دَ حجاج اروې نوم دَ نوشيروان
په عدل کافر ښه شو، ظلم بد کړ مسلمان
که ښه کړې ساعت دا دَی چه په شمار يې د ژوندیو
نه سود نه به فائده وِی که په گور کښ کړې ارمان
کافر سړَی هغه دَی چه دَ نفس په هوا درومی
مؤمن سړَی هغه دَی، چه تل غم کا دَ ايمان
هيڅ شک پدا کښ نشته چه په مرگ به واړه ومرُو
خو شک پدا کښ کيږِی څوک به مومی گورستان
سخ به دَ هغه وِی چه ايمان سَرَه ئې مرگ وی
گور په عزت بيا مومی پسې لولِی قرآن
وخت دَ ځوانی تير شو اوس پيری راغله خوشحاله
نور کاروِنه پريږده خو دَ گور کوَه سامان

نس می افريدی دَی څه غم نه لَری دَ دين
ښه فکر ئې لَړ دَی ډيرو بدو وته شين
زه دَ درويزه[2] غُنَدی ايمان ښَيم وَ ده ته
دَی دَ پير روښان غندِی دَ کفر کا تلقين
دو شپيته کالُونه په حساب لرم خپل عمر
تور ويښته مِی سپين شو لا می زړه ندی هيڅ سپين
نشته هغه دُر دَ سرو ياقوتو په دبلِی کښ
نه هغه نرگس دَی نه دَ باغ هغه نسرين
زه بې غمه خوب کړم په پاسته بالښت سريښی
پريواته په گور کښ چه ځما وه هم بالين
ډوبی شوې بيړیَ دَ فنا په اباسيند کښ
ډير پکښ لاهو شول چه ځما وه همنشين
څه دَ غم پلَو دَی چه ځما په سترگو پريووت
نه وينم په سترگو حقيقت واړه مبين
هونبره رنځ په ځان کښ طبيبان پدا جهان کښ
مرم دارُو خپل نکړم پدا هسی کار نفرين
ولاړ ځای ئې سقر شو مگر خدای پرې کرم وکا
نفس و شيطان دواړه له خوشحال سَرَه قرين[3]

ندِی لب د جان من[4]
ښه ياقوت دی دَ يمن
نن ما خپل گَنِی له طنزه
ما خو نزده هونبره فن
بختور می ئې نوم کښيښ
لا که نشی دروغجن
څوبی تاو کا چين ئې گورم
شی بنده درته ختن
پښتنې په چين چين څوِنِی
بخښی چين، تبت، ختن
ښې ښې ځی په شين شين
ښه غبغب ښه ئې ذقن
په پښې فيض ځنی زيږِی
په زمين چه ځِی په فن

---

۱. که هر څو ډير حشم لَری بادشاه دَ مملکت وی.

۲. اخند درويزه د پښتنو لوی مبلغ ملا دی دَ پښتو مخزن الاسلام ليکونکی چه د مغولی اکبر پاچا په عصر کې د پير روښان (پير تاريک) د عقائدو پر خلاف تبليغ کاوه.

۳. چه خوشحال لری قرين.

۴. دا بدله له يوې قلمی نسخې څخه نقل سوه، په نورو کښ نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آفرین دِ پدَ سرو سترگو خونخوارو — چه بې تورو پرهارُونه کا په خوارو
تورِی سترگی ئې تور بازبانه ئې نوکی — چه ځما خاطر ئې یووړ په کارو
چه اوچت اوچت وَهَل کا هغه باز وِی — پخپل باز باندِی نظر وِی دَ باز دَرو
دَ وربل په هر هر تار ئې زړونه بند وی — مشاطه ورباندې نور پیبئی په تارو
په مذهب دِ عیادت مگر گناه دَی — چه دِ هیڅ پوښتنه نشِی دَ پیمارو
لا دِ پېۍ له دواړو شونډُو نه څڅیږی — په خُواب دِ ژبی بند کړې دَ هوښیارو
خپل یاران به په پیغور کړې دَ وگړی — چه دِ دَ د مهر نظر دَی په اغیارو
په ښایست که ښایسته تر ښاپیرۍ یې — ولی دَ جهل دِ بد دَی تر گهوارو
تل په تشو تسلو عاشقان تیر کړې — تا څه لږ غلولی ندِی په دَ چارو
بلبلان دَ گلستان په منځ کی گرزِی — کرگسان گرزِی په طمعه دَ مردَرو
زمانه به ئې په سر گلونه نږدِی — هغه سر چه سزاوار وِی دَ پایزارو
طالبان ئې دَ جمال لکه حاجیان دِی — چه کعبې لَرَه ورځِی په لارُو لارُو
نیژدې یار سَرَه ورو ورو خبری کیږی — لیری یار وته ویِل شی په چیغارو

یک تنها ئې دَ خوشحال خاطر یو نه وړ
په جمال ئې زړونه یووړه دَ بسیارو

آفرین دِ په ولول تورُو سنبلو — چه ئې ځای دَ پاسه ونیوه په گلو
ما چه ستا دَ شونډو مَی سره مزه کړل — مستغنی شوم دَ جهان له واړه ملُو
که په اصل پښتنه دَ هندوستان یې — دَ دَ ظلم خوی دِ زده کړ له مغلو
مگر مور دِ دَ خطا دَ ملک هوسۍ وه — چه دَ مښکو بوی دِ درومی له کاکلو
زه په هونبره تمنا کی دَ به څه شِی — چه ته هر کله په هونبره تغافلو
دَ هر گل ثنا صفت کا په زر ژبه — پدَ باغ کی چه غوغا دَه دَ بلبلو

دَ خوشحال په زړه ئې هسِی چارِی وکړې
لکه باز چه زرکه یوسی په منگلوُ

بند و بست دَ کائنات دَی په خبرُو — یو تر سله صدقه شه سل تر زرُو
دَ همت په بال و پر سړِی الوزی — مرغه پورته اَلواته کا په وزرو
ورته وایه توره کنبیږده په صندوق کی — هر سړِی چه مَړَنی وِی په تلبرو
یا دَ سپینی توری مرد شه یا عاشق شه — چه یادیږې په بدلو په سندرو
دَ عاشق بخره خواری زاری نانذری[1] ده — دَ معشوقی څه پروا له مَرَوَرو
له یوه دریابه خیژِی فرق ئې ډیر دی — که نظر کړې دَ دریاب په مرغلرو
چه ئې غم دَ غلیم نشته بختور دَی — خدَیه ما کړې په شمار دَ بختورو

دَ خوشحال خټک خوښی په هغه وخت وِی
چه بریښنا دَ سپینو تورُو شِی دَ زغرو

---

۱. یعنی پیغور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا له کومه لورې بوی راغَی دَ ښونېُو     چه خاطر می په های و هوی راغَی د ښنېُو
دَ اوږده اوږده غمونه پریشانیۍ     چه ځما دِ دَ ئې خوی راغَی د ښنېُو
هم پدَ می به دَ زړه پرهار گانده شِی     شکر شکر چه ئې موی راغَی د ښنېُو
په هر مخ باندِی څه ښونی ښایست نکا     لایق شوی یَو یَو روی راغَی د ښنېُو
چه په خیال ئې په سپین مخ باندِی وَلول کړې     نو بهار ئې په هر سوی راغَی د ښنېُو
پدَ کوی کی چه مقیم شوم خلقه ځکه     چه نگهت ئې پدَ کوی راغَی د ښنېُو
بیا به هم دَ مښکو نوم په ژبه واخلِی
چه خوشحال لَرَه ئې بوی راغَی د ښنېُو

پرې غوغا کانَی بلبلو     تل به وخت نه وِی دَ گلو
دَ گلونه مسافر دِی     کال به تیر کا په راتللو
ستا په مخ به ئې ښنمه     ساقی مهر کړه دَ ملو
ځایکی دِ وَویشتَلم     کم خطا یې په ویشتلو
که صورت ژغورې له غمه     سترگِی نسه له کتَلو
دَ دَ مهر وَیل پریږده     زه دِ خوښ یم په ښکنځلو
ما وې څو می به لا سوځې     په خندَ ئې وې تر تلو
نه به باز نه به شهند شم     نه به راشې په منگلو
وعده درسته کړه خوله راکړه
خوشحال ندَی دَ غلولو

چه می ولیده په زړه کی حال دَ واړُو     مهوشانی قبلَوِی و بال دَ دواړُو
په جمال غره که ډیر و بله ټول شِی     ستا جمال خجلَوِی جمال دَ واړُو
دَ کشمیر که دَ فرخار که دَ تاتار دِی     ښایسته ځما ښه یار دَی سیال دَ واړو
ما ئې ښه تحقیقی وکړه چه عاشق شِی     په هجران باندِی وخیژِی فال دَ واړو
سل و سل خبری کاندِی مرگ ئې مه وه     په یوه ځواب پوره کا سوال دَ واړُو
چه ورتله کا تله به هم ور ځنی کاندِی     سلامت به پاتو نشی مال دَ واړُو
و عنقا وته به څه لَرَه ښوک دَم بِږدی     چه پرې راشِی ښیری کاندِی جال دَ واړُو
که شیخان که زاهدَن که عالمان دِی     له عمل سَرَه جوړندی قال دَ واړُو
چه ئې لاف دَ یاریَ د اشناییَ کړې
و خوشحال وَته ښکاره شو حال د واړو

چه په لار دَ رحیل راغَی روا رَو     څه کسرا او څه پرویز او څه خسرو
ناست په تخت ښوک له منزله خبر نه وِی     چه تخت ځرنگه په باد درومی په دَو
نوی کور لَرَه را درومیِ راشه گوره     ځوانان څرنگه اَخته دِی پخپل لَو
چه می سازه کړه دوهه د ملنگیَ     ما فیها دَ زمانې شول راته جَو
هم ئې وینم هم ئې اَروم ترې تیریږم     چه په ښنگ راته بَروه کا بَوبو
دَ زړه نوی ښه یاران ورځِنی لاړل
دَ خوشحال دَ زړه ژوندُون وُ په دَنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حب دَ دنیا څه دَی، سر دَ کل واړه بدیُو      بده ژبه بیل کا، تا له خپلو له پرَدَیُو
هر چه غل کا سیر دِی دَ هغو سَره مَل مشه      مل دَ غلو کا سیرو په شماره دَی هم دَ دیو
هر چه بد شومت دِی خپل شومت ور لَره بس دی      تل به باندِی تاخت وِی دَ خپل فعل دَ غدیو
یَو نشه په زرکی چه ئې خوی دَ آدمزاد وِی      هر چرته چه گورې خلق سر شه په بدیو
خاندِی په دادور لیونِی په هوښیارانو
پیچی مسخرې کا بې خبر په بخردیو

دَ شهی زلفو مختولو      سر هوا پریشانو طولو[۱]
چه ئې لافی هر سَړی کا      عشق آسان ندِی فصولو
ځما راز مو په ملک خپور کړ      اې ځما اوښیو پدُولو
په کوڅه کی دَ دلبرُو      حساب نشته دَ مقتلو
تاسو مشوَی سَرَه ټولی      گنبی گنبی دَ زړه نولو
دا خبرِی چه خوشحال زده
نه دِی دا دَ نامعقولو

دَ ښادمنو په خندا ړو[۲]      د غمجنو په ژړا ړو
دَ رندانو په رندیَ      د شیخانو په تقوا ړو
دَ وصال په سل خوښیَ      د هجران په زر بلا ړو
د بهار په ښو گلونو      د بلبلو په نوا ړو
چه ترې سبر ونی هیڅ دِ      په هغه قد بالا ړو
چه مکحولِی دِی له نازه      په هغو سترگو شهلا ړو
چه نریَ تر ویښته دَه      په هغه باریکه ملا ړو
چه عاشق ور پسی مرینه      په هغه جمال زیبا ړو
چه راځِی دَ یار له لوریه      په هغه باد صبا ړو
چه پیغام راوړِی دَ وصل      دَ هغه قاصد په پا ړو
چه دوهمه پکښی نشته      د رشتینو په رشتیا ړو
پدا هونبره سوگندُونه      صد هزار ځله بیا بیا ړو
چه تر ځان پتا مین یم
زه خوشحال ختک پتاړو

راته مه وایه پتا ړو[۳]      چه پتا نه ړو په چا ړو
ته ځما دَ سترگو تور یې      پدا تورو سترگو ستا ړو
مخ دِ ورځ زلفی دِ شپه دی      په سبا ړو په مسا ړو
په جهان کی می ځان ته یې      نه چه نور، پتا جانا ړو
یاد می ته یې په خاطر کی      هر زمان پخپل مولا ړو

---

۱. یعنی اوړدو.
۲. ړو په پښتو کی د قسم کلمه ده.
۳. دا بدله له یوې قلمی نسخې را نقل شوه، په نورو کی نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا دَ پښو خاوری توتیا دی
چه ما ستا په خاکِ پا ږو
تمنا لَرم ستا ډیره
پدا خپله تمنا ږو
تر خندا پوری دِ هیڅ دِی
لال و دُر ستا په خندا ږو
یار خو ستا یم دَ چا نه یم
زه خوشحال ستا په لقا ږو

که د زړه څه خو ترس ډار وَی څه به ښه وُ
لږ دِ مهر په ما خوار وَی حه به ښه وُ
زه چه ستا له غمه راز کړمه په ورکی
که دِ غوږ ځما په زار وَی څه به ښه وُ
چه په ما باندِی پیغور کاندِی په عشق کی
ستا له حسنه خبر دار وَی څه به ښه وُ
هر چه نن دَ زهد لاف کا په جهان کی
په لیدو دِ پرهیزگار وَی څه به ښه وُ
پسله مرگه می یو هسی مکان گور شوی
چه پرې تل دَ کښلیو لار وَی څه به ښه وُ
ستا په کوی کی ډیر کوتړه تازی پراته دی
زه هم گډ دَ دُوی په شمار وی څه به ښه وُ
ستا په غم به پدا لږ عمر موږ نشِی
دَ خوشحال عمر بسیار وَی څه به ښه وُ

که قربان شه تر جمال دَ ښو یارانو
ور ځاریږه تر مقال د ښو یارانو
دا صورت می څه ژوندَی په اروا ندی
تل ژوندَی دَی په وصال د ښو یارانو
په خاطر کی می بل حب محبت نشته
پکښی ځای دَی دَ زړه خیال د ښو یارانو
که دوی ستا په رضا درومی یا نه درومی
ته هر کار کړه په  اقوال دَ ښو یارانُو
په جهان کی دَ هر څه مثال مونده شِی
ولی مه غواړه مثال دَ ښو یارانُو
په هر زیان زوال راضی یم پدنیا کی
خو دِ وِی یو زوال دَ ښو یارانو
مرگه ستا علاج که شوَی په هر څه وکړی
چه قتلان کړې په هر کال دَ ښو یارانو
په جهان کی که څه دِی خو ښه یاران دِی
خبر دار شه په احوال دَ ښو یارانو
گنبی گنبی ځان او زړه لَرَه راحت دی
که ئې گورې خط و خال دَ ښو یارانو
دَ یارانو د یارئ په لذت پوه دی
چه ثنا کاندِی خوشحال دَ ښو یارانو

ما خوب لیده په خداږو، چه زه ته سَرَه پخلا یُو
خوږې خوږې خبرِی دَ زړه حال وَ بَله وایُو
ما څخه کتاب دَی پکښې واړه غزلونه
تا څخه مینا ده دَ گلزار  په تماشا یو
لاس تر لاس نیولِی سَرَه گرزُو کښینو پاڅو
خپله خوشالی هوا هوس کړو په خندا یو
پیاله کړې راته ډکه زه ئې ستا له لاسه واخلم
دَ شونډو بوسه راکړې بیا په نوره تقاضا یو
مطرب راته له ورایه په تارونو لیندئ ینښې
په بم په ځیر جار وزِی موږ ئې محو په نوا یو
ته کل واړه خوبئ لرې زه واړه کامرانئ
ښادئ ته مخامخ غم و اندو ته شاپشا یو
ناگاهه له دې خوبه دَ سحر په وخت را ویښ شوم
نه ته وې نه دِ وصل زه دا کار سَرَه جدا یو
څو پایم په دنیا کی دَ چا کار را سَرَه نشته
یو زه یم یَو دِ غم دَی، سره دواړه خواپخوا یو
خوشحال یوائِی ندی څو په ملک کی عاشقان شته
په خوب په بیداری کی سَرَه واړه باد پیما یو

ما هغه سړی شمارلی دِ په ورکوُ
چه په خوی کی بې وفا عادت په سپکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه باز تر مښگریر که لا بتر دَی　　چه غوټې ئې دِی په شلانډو[1] و یا په مړکو
غافلان له دې دنیا سرَه کا لوبی　　لکه پیغله جن بازیَ کا په لوڅکو
عراقی په اشارت کی ځان ځرگند کا　　ټټو سم په لارِی نه ځِی بې چابکو
خه ئې ډیری اندیښنې دَ دنیا نشته　　زه پدا خبره خوښ یم له هلکو
دَ عالم سرَه خواړه نه خورِی له کبره　　لا تر روغه نه بهتر دَی کار دَ پکو
که په شهد ئې ساتِی مزه ئې نه وِی　　ناشپاتی دَ ثمرقند دَ هند په مځکو
دَ خوشحال وَیَل که دُر قیمت بها دِی
وَ ناپوهو ته بتر دِی تر کنجکو

مونږه مَی پرست یُو[2]　　دَ ازل په میو مست یُو
په سما مو قدم یښَی　　لکه مځکه هسی پست یو
هغی خولې وَته نظر کړه　　هغه هسی نیست و هست یو
که په تخت دَ پاسه کښینو　　بیا یو مات کچکول په دست یو
څوک دَ وصل خبری کاندِی　　موږه خوش پخپل بربست یو
تل مو زړه پدا خوشحال دَی
چه خپل زړه سرَه پیوست یو

وَ دِ نی وینم زه ستا وصال په سترگو　　که بې تا را درومی بل جمال په سترگو
میلمستیا می دَ زړه وینی ورته کښیښوې　　چه میلمه مِی شو دَ یار خیال په سترگو
هغه دم می دَ زړه داغ له دله دور شو　　خو چه راغی سا دَ ورځیو خال په سترگو
چه ډیر خلق سرَه ناست وی عجب ښه شِی　　دَ مَیَنو سرَه قیل و قال په سترگو
په غمزو په کرشمو په مکیزونُو　　نن دِ نه وینم په ملک کی سیال په سترگو
عارفان دَ قناعت په گنج تونگر دِی　　چه ئې نه راځی د خلقو مال په سترگو
دَمکې دیوال به نور په خوله یاد نکړم　　ما چه ولیده دا ستا دِوال په سترگو
ستا په گوتو کښیده رومال چه راغَی　　زه له مینی موړم ستا رومال په سترگو
هغه مخ چه مِی به تل لیده اوس گوره　　چه ئې نه وینمه ماه وسال په سترگو
چه بې ستا له زیبا مخه بل مخ گورم　　زه به چیرِی کښیږدم دا وبال په سترگو
وَ ښه مخ وته له ورایه ځلبلاند شم　　لکه وَوینی لوغسی[3] تهال په سترگو
نور عالم خو دَ یارانُو ناز په سر وړِی
تل بازونه وړِی دَ یار خوشحال په سترگو

هر نا اهل مزه څه زده دَ خبرُو　　دَ خبرو لذت ښه دَی تر شکرُو
چه دانا ئې په دانش سرَه انشا کا　　یَوه ښه خبره بهَ دَه تر زرو
بې استاده شاعری بې لاری تله دِی　　یاوه گوی گرزِی په لوړو په ژورو
تفاوت دَ خاص و عامو سرَه ډیر دی　　برابر نه دی شبه دَ مرغلرو
دَ شهبازو دَ عنقا برابر ندِی　　مچ او ماشی چه الوزی په وزرو
په چهارم اسمان به ناست لکه عیسی وم　　که اسمان ته الواته شوَی په خبرو

۱. یعنی چونگښو.
۲. دا بدله له یوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کی نسته.
۳. یعنی لکه دَ لوښلو حیوان چه تهالیَ او دَ لوشلو لوښی ووینی او لوشلو ته نه دریږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عام به چیرِ دَ خوشحال په وَیل پوه شِی
دَ گوهرو قدر څه زده ښیبنه گرو

یا په زړه کی مهر ځای وَی دَ بتانو
یا ئې ورکړَی صبوری وَ عاشقانو
یا حیران عاشق په مرگ وَمړَی چه خلاص شوی
یا ئې هونبره جورمه وَی دَ چشمانو
چه ظاهر باطن ئې دواړه سَرَه جوړ وی
څه عجب خاصه مشرب دَی دَ رندانو
چه په یار پسی روغ ځان سیځی په اور کی
زه پدا رسم مَیَن یم دَ هندوانو
دَ خپل یار په بدو خاندم هوسیږم
چیری زړه نشِی را ښه د رقیبانو
چه می نوم په ژبه واخلی هسی خوښ شم
لکه بږغ دَ خلاصیَ وشی په بندیانو
بیا به صبر دَ خوشحال ختټک اُلجه کا
را څرگنده شوه سره کړې خوله په پانو

یو څه دَغ لَرَم په زړه دَ نادرستو
دَ دې داغ علاج و نه کړ سستو پستو
یا ئې عین په زړه وَخورِی یا زخمی ځِی
چه هوسیَ په پره وریشی[1] دَ چستو
دَ بې ننگو بې ننگیَ می به ارمان شِی
خدای به واړه چاری ښې کا وړاندی وروستو
دَ ښو اوښی مِی وینی شِی ترې ځاځِی
دا دَ تن جامه می نه وِی دَ اغوستو
دَ دردمنو حال دردمن په قیاس معلوم کا
که ئې وایې ښکاره نه وِی په تندرستو
دا غزل چه دَ خوشحال ورشی تر سرایه
ښه یاران به ئې نارې وَکا په لوستو

١. ورسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابلهي بدگماني تر هسی حده
تر نظر ئی له وسوسه ښه هم بده
بدگویی خست بد نیت تر دا پهورته
سکه ورونه ئې پردی کړل له حسده
که ښه نیت که ښه خلقت، که سخاوت دَی
دا ئې واړه له زړه لاړ له خولې له یده
په مجلس ئې بر آمد له منځه تللَی
بَل مذکور پکښې خطا بې خوشامده
چه په ملک دَ پلار غلیم هغه ئې سترگی
په دوستانو ئې د پلار کینه بی عده
که دَ باغ انگور ئې ډیر وَ خپل پلار ته
مگر درست ژنکوری ورکا له سبده
یا دِ ښه زوی پیدا شِی له ښه پلاره
یا دِ هسی تنها اوسِی بی ولده
د ژوندیُو د زړه رنځ[1] دَی دَ مړو شرم
په ژوندُون د بابا ورشه تر لحده
دَ خوشحال عقل خطا نه وُ نور څه وُ
چه خالی ئې په بهرام کړله نامزده

آرزو لَرَم ساقی یَو څو اقداحه
که ئې راکړې دَ خاصه ښیښې له راحه
چه دا هسی نو بهار درومِی بې مَیُو
دا خبره په هر چا دَه نا صلاحه
څما پیر وایی دَ میو توبه گار شه
دَ بهار په وخت توبه دَه نا مباحه
تل به وخت د نو بهار نه وِی گلگښت کړه
په دا باغ کښې تر صباحَ تر رواحه
د نرگس گلُونه پلی سپاره راغله
نندارِه ئې د بهار کړه افتتاحه
رنگارنگ غنچه دِ واکړه په چمن کښې
د خوشحال دپاره ښه راغلې صباحه!

ازلی بخره چه چا راوړه له خدایه
نوریدل به ئې په چا شی راته وایه
چه دی زړه راضی دَ چا په آزار نه وِی
ته پخپله بخره خوښ اوسه همایه
دا ئې واړه دَ فراقه نه فرایاد دی
چه په څو رنگه نارې اَروې له نایه
که په اصل دَ سید بادشاه زاده وِی[2]
چه هنر ور څخه نه وِی مه ئې ستایه
که هر څو دِ زور قوت تر هر جا ډیر شی
دَ خدایی دعوه مکړه که خدایه
یو ساعت چه په طاعت تیر کړی دانښه دی
دَ دنیا له کَر و فره هوی و هایه
کله گل غُندی نمای کله بلبل شې
څوک به نه وِی لکه ته یی خود نمایه
بله بخره به په زور له چا وانخلِی
دَ خوشحال بخره چه توره ده لَه ځایه

آه هم دا هونبره آهونه
دم په دم بیا گناهونه
هم هغه پکښې پریوزی
چه کښېنِی جان ته څاهونه
لکه باد هسِی تیریږی
دَ فانی دنیا جاهونه
اور دَ آه هسی لگیږی
لکه اور په گیاهونه
گوره بیا به په چا سر شی
دَ خوشحال ساړه آهونه

---

۱. د زړه رنځ د مړو شرم.
۲. که په اصل دِ سید یا شاهزاده وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورنگ زیبَ بې دلیله!    په ظاهر باطن علیله!
لکه مچ په انګبین کښې    پسو بند شوې په قلیله
په تسپو کښې دِ بلا ده    هی توبه ستا له تهلیله
دَ یوه صورت دَپاره    خیلخانه دِ کړه قتیله
نه په زویه نه په پلار یې    په هر چا باندِی بخیله
پا هسی بې عدلۍ    هلاکوُ سَرَه عدیله
بیله خدایه بل یَو نشته
دَ خوشحال په سته سیله[1]

اې پخپل ګمان کښې بړوسه[2]    له اصلی کاره مایوسه
دانه نه یې چه دی مغز وِی    بی دانې حبطه بوسه
وَ خپل عیب وَته ړُوند شوی    دَ پردی عیب جاسوسه
چه پیدا ئې خوشبویی شوه    اګر ښه شو تر آبنوسه
د طوطی برابر نه یې    که نګار لرې طاوسه
که غوټه یې[3] په چرګوړیو    په دا باز نشوې ټپوسه
لعل و در پرې حبطه دِی    چه رنګ نه لَرِی عروسه
راشه مخ په آئینه کړه    چه چهره شِی در معکوسه
دَ خوشحال ختمک توبه دَه
ستا له زرقه له سالوسه

اې چه ستا دَ یار له غمه استغفا دَه    که سینه دِ له زنګاره نه صفا دَه
هیڅ دَ خپل مَیَن دَ بدو غارت مشه    دَ اغیار تر وفا ښه دَ یار جفا دَه
دَ یار بد هم لکه ښه هسی حساب کړه    هم پدا دَ عاشقۍ اکتفا دَه
که ئې نیښ زیاده نه ګڼې تر نوشه    بیهوده دِ طمعه کړې دَ شفا دَه
مخامخ دَ یار و غم ته وَدَرېږه    که د غیرو آشنایۍ وَته قضا دَه
آه که یو ځله مې وِلیدې په سترګو    چه مې تل تل ستا له غمه وا اسفا دَه
دَ خوشحال دَ رنځ علاج به څوک په څو کا
چه زګیر وائې له طبیبه په اخفا ده

اې چه اصل دِ یَوَه قطره منی ده    پدا هسی رنګ وجود دِ څه منی ده
راشه زړه ورپوری مه تړه نادانه    که ئې ګورې دا فانی دنیا دنی ده
عارفانو وته تلخه شوه تر زهرو    په غافل باندِی شیرینه تر ګنی ده
له ګدایه نه لا څه خو مخ جار باسِی    تل تشنه ناسته په وینو دَ غنی ده
روغ ئې واړه په کمند دَ مکر بند کړه    آزادی که څنی شته دَ لیونی ده
تل دِ خوښ دَ خوشحال زړه دَ عشق پکار وِی
خو یو عشق دَی چه دَ ده خوښی هنی ده

---

۱. طرفداری او حمایت.

۲. د بړوس کلمه سید راحت په معنا د خفه او ناراض راوړې ده، په محاوره کښې هم دغسی دی. مګر د عبدالحمید ماشوخیل په دیوان کښې هم دا کلمه داسی راغلې ده: که هزار ځله مې بړوس دارو درمان کا ـ داغ مې کله مرور دی ستا له دردَ. دلته یو محشی بړوس ته طبیب کښلی دی، چه هم دلته هم هلته له موقع سره دا معنا سمه راځی.

۳. کښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای چه مخ دی ښایسته دَی په خالُونه      پدا خپل ښایست ډیر مکَوه خیالُونه
همیشه به دِ دا هسی ښایست نه وِی      دَ گلشن گلُونه نه وِی تر کالونه
چه دَ خپلو عاشقانُو وبال اخلې      هونبره ښه نه وِی په غاړه و بالونه
کله ما وته دعا، کله ښکنځل کړې      درته چا ښیل دا هسی جنجالونه
ډیر دِ ما غُندی غلولی په رنگ رنگ دی      څه بلا یې په لباس په ټیټالونه
ستا دَ ورځیو خال کوتره دَ هونړا[1] دَه      تورِی زلفی دِ چاپیری ترې جالونه
دَ بلبل په خاطر هونبره بلا نه وِی      چه غنچه کا غوړیدل په اهمالونه
نه به باز نه به شاهین نه به شنقار شِی      که ټپوس دَ اَلوتو لَرِی بالونه
پدا څو توکه دِ هیڅوک باور نکا      په وعده دَ کښلیُوخوب دَی که فالونه
دَ مجنون په بیړیَ ناست دِی مرگ ئې مه وه      چه په سپینو خولو ئې وښندَل مالونه
خبر دار وربandی روغ لیونیَ ندی
په خوشحال کښ چه پراته دِی دا حالونه

باغ وَی دَ گلونو پکښ ناست وَی زه او ته      گل وَی غوړیدلَی باندِی نماست وَی زه او ته
زیره زعفرانی شوی یا گلگونه معطره      لاس تر لاس نیولی سَرَه زغاست وَی زه او ته
سپینه خوله دِ راکړَی بیا مِی هم در څخه غوشتَی      نور خواستونه نه وَی خو دا خواست وَی زه او ته
تل می درد و غم وَی دَ زړه کاست او مهر مینه      تل پدا دنیا دا کم و کاست وَی زه او ته
رنگ دَ غماز ورَک شه راست روزگار دِ در ناراست کا      ځای دَ ناراست نه وَی سَرَه راست وَی زه او ته
نمر خیژِی خوشحاله چه خروس دَ سحر بانگ لی
شرط دَ پټ نیاز دَی چه بر خواست وَی زه او ته

بذرگر چه دانې لونی په مځکه      دَ یوې دانې زر طمعی لَری ځکه
حقیقت دَی که مجاذ درته ئې وایَم      یَوه ښه ښایسته جل[2]بله کوچکه[3]
چه محنت په ځان قبول کا راحت مومی      خدای به نکاندِی خواری دَ هیچا ورکه
که خبر نه ئې خبر شه حال څه دَی      په ظاهر ډیر ټگِی لَرې له ټکه
هر زمان به دَ اوُبو په فکر نه وُ      بی اوبو که ماتیدَی د تړی[4] سکه
دا پریشان پریشان وَیل می د مستی دی      چه دِ مزی دَ ژوند بولم[5]څو ټکه
تر لیدلُو نه ئې نه لیدَل بهتر دِی      چه و مخ ته ئې نظر کښېږی په کرکه
د دی باغ گلونه واړه ښایسته دِی      چه همیش ئې بقا نشته په کڅکه
چه ئې مینه دَ زړه سنگو روزی نشوه      په قیامت به دَ هغو تله وِی سپکه
که بوسه دَ هغې دنکی[6]دَ خولې غواړې      یا ئې دواړه څوښی نسه یا څونکه
دا دِ واړه ناپوهی نه دَه نور څه دَه      چه دَ لویو چارِی غواړې دَ هلکه

---

۱.  پړکه، لومه.
۲.یعنی نجلیۍ.
۳.  لوچک.
٤.محشی ورته کښلی دی: تنده.
٥.یعنی زلف.
٦.د سید راحت په لغاتو کښ ابتدا په ساکن او په گ دا کلمه په معنی د لوړ قد او جگ راغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ بد گوی دَ خولې خبری واړه روغی　　چاړه[1] توره بې سندانه بې[2] څوټکه
دا می شعر په بیاض کښې نه دَی جمعَ　　په کچکول کښې می پراته دِی څو کنډکه
چه سرې شنوبې[3] ئې چښم په وخت دَ اوُړی　　بادشاهی دَ اورنگ زیب څما غړکه
کوم یاغیان هوډیان دِ پرې یستل له هوډه
چه دا هوښره ډېر دماغ لرې ختکه!

برسیرن شول پیوندونه　　په دل[4] نه لَرِی پندونه
که پدر دَی که پسر دَی　　سَرَه بیل لَرِی سندونه[5]
نه امید شو سَرَه پاتو　　نه باور په سوگندونه
نه سزا دَ بد کردار شِی　　نه دَغله څِی مړوندونه
دَ اورنگ په ظلم مات شول　　دَ بابر دَ وخت بندونه
پدا هسی وخت خوشحاله
مرگ بهتر دی له ژوندونه

بړ بړ راشه نوروزه دل افروزه　　ستا په وخت می آسوده شی سترگی پوزه
ستا په وخت سترگی دَ باغ گلَونه گوری　　پوزه هم کاندی دَ بوی خوښی اندوزه
غوږ لا هم ستا له طفیله حظ حاصل کا　　مغنی شی عندلیب په څو څو سوزه
په وصال دَ معشوقې عاشق فیروز شِی　　دَ گلزار په وخت بلبله وِی فیروزه
خپل غوړوُنه ورته څک[6] کړه کنُدی واروې　　راز دَ مینی دَ بلبلو له لوزه
د نوروز له فیضه بوټی خالی نه دی　　فیض رسی هم تر سپاندِی هم تر څوزه
که همه عمر دَ باغ گلُونه گورم　　څما خوا به پرې سړه نشِی هنوزه
دَ بهار هوا هر گوره ښه هوا دَه　　که آفتاب ورپسې ته نه وی تموزه
په راتله ورلَرَه ډیره خوښی راوړې
په خوشحال باندِی دِ قدر دَی نوروزه

بیا څیره[7] په سر کړه کښیږده له خیاله　　چه خوبا دِ په خوله نوم واخیست خوشحاله
بیا سینه پسی په دواړه لاسه مږم　　لکه باز د هوښائی[8] ووزِی له جاله
زه لا هسی کچوگول نادیده نه یَم　　چه لاله به بِهوَم ستا له جماله
که دَ مښکو انبارې می په لاس کښیوزی　　همگی به صدقه کړم ستا تر خاله[9]
څما مینه هسِی نده چه نوریږِی　　که هزار رنگه جفا کړې څما لاله
دَ عاشق عمر کوتاه دَی لا پدا هم
که دَ عمر هَرَه ورځ ئې شِی سل کاله

---

١. چړې.
٢. کوچنی مطرقه ده.
٣. شلوبې.
٤. پدل.
٥. یعنی کناره او گوښه.
٦. یعنی سم کړه.
٧. لوگۍ، پگړۍ. .
٨. هوښا په معنی د پړکه، لومه ده.
٩. له خاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د مار غندی راضی له خپله بخته — چه د غم له پوسته ووتم یک لخته
بیا هغه حسن و جمال هغه لیده دی — که د بخت سترگی می خوږ وې یو شو وخته
گرد غبار لړی وریځی تر منځ ولاړې — بیا د نمر سترگه ښکاره شوله ویخته
خدای دِ وار، همت ورک نکا دَ مردانو — په دنیا کښ باندی راشی گرانه سخته
زمانې په هر بازار وگرزَوَلَم — خبر دار ئې کړم د هر بازار له رخته
د بهار په وخت ئې بیا نشو وغاوی — په خزان چه پاڼی پر یوزی له درخته
د خوشحال ختک طالع تر خرم[1] ښه دَی
چه بندی شو خاوند بیا وروست تر تخته

بیا له ورایه په خندا راغله نگاره — دَ ښه کال خوبی ښکاره وی تر بهاره
مختوری د رقیبانو دَ یار وصل — فلک ښه را سَرَه وکړه دا دوه کاره
دَ گلزار گلوُنه څه دِی راشه گوره — تر گلونو ښایسته دواړه رخساره
لکه روح چه له قالبه نه واته کا — په دا شان مِی جدایی کښېږي له یاره
دَ ماہی توره ئی څه توری پری باسِی — چه په زړه ئی یَو گزار وِی سل پرهاره
ځما خوار سَرَه چه تل غاړه غړي وه — اوس نظر را باندِی نکاندِی له عاره
دَ عاشق په لاس ژړا دَه تل دِ ژاړِی — معشوقه چه ویره نَکا له آزارَ
د معشوقی دَ پالنگ لافی خطا دِی — څو ځما په سر کښ پروت یی د سر ډاره
دَ دی کلی طبیبان واړه نا ترس دِی — دَ دارُو په طمعَ مه اوسه بیماره
که هر څو ئی پټوی پسی ئی غواړِی — په دا باغ کښ به یَو گل نه وِی بی خاره
هر ساعت سَره یَو نوی نوی خیال وِی — که ځما دَپاره بیا ور شی ریباره
که څوک غواړِی چه خپل زړه په غم اخته کا — آشنایی دَه لاس په لاس فتنه تیاره
په یرغ په مصلحت نه دَه ځائی ده — دَ خوشحال چه سریکا شه له اشعاره
که پوستی له پوستو واوړِی گنُدِی واوړِی
دَ خوشحال خو جار واته نشته له ښکاره

بیا می څه دَ نورُو یار بولې تور مکړه — په ما خوار دِ ظلم ډیر وَکړ نور مکړه
وایې سپی غُندِی مِی څو په کوڅو گرزې — څو ژوندَی په جهان پایم، پیغور مکړه
سر تر پایه اخلاصی یم په یاری کښ — په ناحق مِی لباسی بولې زور مکړه
چه په دوه پیالو دَ میو بد مستی کا — هغه څوک په مجالس کښ میخور مکړه
یَو عجیب دَ میو جام دَی ساقی راوړه — خداوند ئې په دا منځ کښ نسکور مکړه
چه حرمت دَ عاشقانو پکښی نه وِی — په هیڅ رنگ مِی په هغه کلی کور مکړه
آشنایی دَ ناکسانو دَ ځان غم دَه — ناکسان له خپله ځانه خمسور مکړه
زه چه نن دَ بیلتانه په اور وریتیږم — دَ دوږخ لمبه نسبت پدَ اور مکړه
راز دَ عشق دَی فهم دار اوسه خوشحاله
ښکارَوَنه ئې پخپل زوی و ورور مکړه

بې اخلاصه دَ یاریِ جواز نشته — خود پوهیږې بې اَودسه نماز نشته
دَ دانش مرغه هسی پورته ولاړ شه — چه هورې دَ کټه بازو پرواز نشته

---

۱. محشی شاه جهان ورته کښلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هر څو ئې په سَره اور کښې لولپه کړې
دَ یاقوت دَ اوبو ډار دَ گداز نشته

هغه باغ چه تل مأوا وه دَ بلبلو
اوس په ده کښې دَ بلبلو آواز نشته

دَ زړه راز وَ چا ته وَوایم حیران یم
په هر لوری چه نظر کړم همراز نشته

توکلتُ علی اللّٰه وینا یَوَه دَه
دَ خوشحال دَ زمانې سَرَه ساز نشته

پارسایی ئې دَ پارسا له لاسه یووړه
دانایی ئې دَ دانا له لاسه یووړه

چه می کړې وه توبه له می خورُیَ
په چشمانو ئې دَ ما له لاسه یووړه

معجزه چه دَ احیاء ده په دوه لب ئې
لاس په لاس دَ مسیحا له لاسه یووړه

دلبرانو چه دعوا دَ دلبرئ کړه
دا دعوا ئې د هر چا له لاسه یووړه

راته پاتو دا یَوَه مسلمانی ده
دا می هم هغې تر ساله لاسه یووړه

ما وې زه به دَ عشق راز لَرَم په زړه کښې
دا خبره می ژړا له لاسه یووړه

چه دَ زړه صبر دَ یار له مخه غواړم
محبت می دا دعا له لاسه یووړه

که دَ نورُو هوښیاری په عشق کښې پس وړی[1]
د خوشحال ئې لا پخوا له لاسه یووړه

پلاو وخورې یَوه لپه
ننه پریوزې اندر غپه[2]

هیڅ خبر نه وې له ځانه
نه له راسته نه له چپه

نه درود وِی نه دِ ذکر
هندو هم نه وِی بې جپه[3]

چه هوا ئې درته ښه کا
زړه دِ ځی په هغه هپه[4]

په هر ځای چه له چا کښینې
یا د راز وی یا د گپه

ته به ځان تر هر چا ښه کړې
که ښه کښیږې په غرڼپه[5]

که پخپل فهم طبیب یې
د خوشحال تر فهم ټپه[6]

په خونی هاتی سوره شوه می پرسته[7]
زه هم مست هاتی هم مست دَی دا هم مستَه

خدای دَ درې واړه مستانو سره سر کړ
بله نشته یا به نیست شی یا نه هسته

ننداړو لره ئې راشی نندارچیو
یوه لویه هنگامه شوله پیوسته

چه ئې ستا زلفینی کښیوتې په لاس کښې
لاس ئې پریوزه که ئې دَی پریږدِی له دسته

یار د ما څخه په کور دنَنه ناست وُ
زه بې روحه گرزیدم دَ ده په مرسته

نه یاری نه آشنائی واړه لباس دی
چه خبر شوم د وگړی له بربسته

ما په وړیو سترگو ډیر یاران خوړلی
په ځیر ځیر دِ مخ ته نه گورم له کسته

---

۱. پس ځی.

۲. غپ د سپی بړغ ته وایی، دلته نه ورسره جوړیږی ممکنه ده چه غپه وی یعنی غوطه، یا به خپ وی یعنی پټ او مستور.

۳. په هندی ذکر کول او خدای یادول.

٤. خواهش او هوس.

۵. په چاپی نسخه کښې (غړوپ) کښلی دی، چه معنا ئې نه ده جوته، اما لکه په قلمی نسخه کښې چه غرڼپ کښل سوی دی، معنا لری یعنی ځُر او دپ چه ځان لوړ گڼل او بړ بړ ویل دی.

٦. په چاپی نسخه کښې رطب کښل سوی دی چه معنا ئې نسوه راته جوته اما د قلمی نسخو ټپ لکه چه صحیح دی.

۷. دا بدله په چاپی نسخو کښې نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشحال په ځان د ډېرو غشی لک دِی
خو هم ده زده چه دَی مرِی د چا له شسته

په رشتيا ويل غوړيږي د زړه غوټه
د دروغجن خوری لکه سپَی د غُلو سوټه
په درياب کښ خښته واچوی هيڅ نسی
په يو څو ځاځکی خوره شِی اُومه لوټه
د هغې ښځِې صحبت لکه دوږخ دَی
چه ميړه وته تل کښينی په مخ بوټه[١]
پدا کار نادان هوښيار واړه پوهيږی
د کابل خربوزه بِه ده تر پهوټه[٢]
څوک خمؤنه تَشوِی مستی ئې نه وی
څوک د ميو عربده کا په څو گوټه [٣]
د هغه ياری په کار نده خوشحاله
چه له خپلی خولې وباسی وينا جهوټه[٤]

په دا سرو شنډو ئی نه ده وينځه توره
راشه خضر دَ حيوان په چشمه گوره
مخ دَ يار له خط و خاله مستغنی دَی
دَ غنی وِی هر اسباب له خپله کوره
چه ئی سيوره په ما وه لکه بادشاه وم
همائی وه ستا د تورُو زلفو سيوره
ستا بارخو بله لمبه وربل دِ څه دَی
لکه تور لوگی چه ټول پاځی له اوره
دَ خپل پله خاوری دِ بيَه په عنبر کړی
درته چا وی چه په دا بها ئی پلوره
په څو بل لوری ته گوری ځان نادان کړی
چه په ما باندی غوغا شِی لور دَ لوره
ته په دا حسن دَ گل غنُدی زيبا ئی!
که زوولی ئی له خپله پلاره موره
چه په خوله ئی نوم آخلی روخ ئی نه دَی
عاشقی چه ويره کاندِی له پيغوره
زه له ميو توبه وکړم توبه گار شم
دَ ساقی پياله می بيا کا توبه نوره
چه ئی څوک په کوڅه پَل ږدِی هغه سر خوری
په جوار باندِی ئی مه گرزه سر خوره
که ئی ناز وَی که خيال وَی ما به يووړ
ولی ما سره ډېر کبر کا هرگوره
زور ئی واړه دَ خپل مخ[٥] ورته ښکاره کړ
خوار عاشق ئی ځکه درست پری يوست له زوره
چه معنی ورسره نه وِی وَيَل سپور وِی
خدای به نکا دَ خوشحال خبره سپوره

پدا ساه نشته ويسا
هر دم ته وايه الله
هر نفس يو غنيمت دَی
پهره دار اوسه دَ ساه
دَ سالک په وَيَل کار کړه
که دَ ځان نه يې بد خواه
دَ سالک وَيَل هم دا دِی
ته ئې وايه بې اکراه
چه له خلقه نه زړه پريکړه
زړه پيوند کړه له الله
که هوا دِ کړله ترکه
نور قبول يې دَ درگاه
بادشاهی به دَ هر تن کړې
که دَ خپل تن شې بادشاه
مُو وتواقَبُلَ اَن نموُتوا[٦]
پدا راز شه انتباه

---

١. يعنی په تريو تندی او نا رضايی، په بله قلمی نسخه کی دا مسریَ داسی ده:
چه ميړه وته کښينی په نغر لوټ.
٢. محشی ورته ليکلی دی چهوټل بې خونده خټکی دی مگر دا د هند مشهوره ميوه ده.
٣. يعنی يوه هنده او يوه جرعه.
٤. يعنی دورغ، دا کلمه هندی ده.
٥. ځان.
٦. حدِث شريف د ی: يعنی تر مړينی دمخه ځانونه مړه کښ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جوار ئې دَ قربت کښې دَ کم شناختو نشته راه
دَ بیدارو دِ نصیب وی ښه دولت دَ سحرگاه
څه امید دور و دراز کړې پدا لَږ عمر کوتاه
تل توبه کوَه خوشحاله
چه دِ محو شِی گناه

په جهان که لویه چاره دَ میر ښکار ده که دا چار گورې هر کار لَرَه پکار ده
څو قابو تالابښ دا واړه دِی په ښکار کښې چار دَ جنگ دَ مړنتوب که دَ پیکار ده
ورته هیڅ دَ ښکار دَ ذوق خبری مکړه دَ هغه سړِی چه طبعه دَ بیکار ده
آلوده دِی په ډیر غم دَ عمر ورځِی چه په شمار دَ عمر نده ورځ د ښکار ده
په خوشحال باندِی د ښکار هوا ژوندُون شِی
مرده دله که پتا باندِی بیگار ده

په خوله کلمه لولی نمونځ روژه کاندِی کافر شته دعوی کا دَ شیخیَ تر شیطانه لا بتر شته
منطق معانی لولی درس فتوی قاضی گری کا اکثر پدا فرقو کښې که ئې گورې کون خر شته
له کوره لوڅه واخلِی استنجا لَرَه روان شِی تقویٰ تر هسی حده په اولجه ئې وړِی که زر شته
دَ بل کرَه چه ورشی پخپل روی بندیان پرانزِی په ځان باندِی چه راشِی کله روی دَ پیغمبر شته
یو ځای آلوده ندی په دا هسِی درویشانو پدا دور که گورې دا ناپاک په هر کشور شته
بادشاه قطب اقطاب دی اُمراگان چه ورته گرزِی کږې څیر تړلی دَ هر چا په سر میزر شته[1]
چه خاص د زمانې دِی حال ئې دا دَی نور وگړِی دَ غواوُ د خرو کلِی خالی نوم باندِی بشر شته
چه حال دَ پرهیزگارو سراسر واړه دروغ شو رشتیا غواړې له چا نه چرته پاتو دا هنر شته
نه مهر محبت نه مروت نه وفا صدق عالم سرَه برهم دَی څو دی دور دَ قمر شته
آشنا له هیچا مشې له پخوا آشنایی ښه وه چه اوس له چا آشنا شی نور ئې څو رنگه خطر شته
تر دې ژوندیو ښه دِی مړه پراته په گورستان کښې چه نه ئې دا مکرونه نه دا فعل نه دا شر شته
دروغ وَیَل هغه کا چه ئې ویره وِی یا طمع
خوشحال پدا اړ ندی حق به وایی څو ئې سَر شته

پدنیا کښې نعمتونه رنگارنگ شته دَ دیدن دَ نعمت کوم نعمت همسنگ[2] شته
عاشقی دِ هغه کا چه لیونی وِی دَ هغو غرض پرې څه چه ئې فرهنگ شته
ما په عشق کښې دا همه واړه تر شا کړه ته لا ښه یې چه دِ غم دَ نام و ننگ شته
ما وې زه به دَ زړه حال ورته عرضه کړم یَو غماز ئې تر شیطان بتر تر څنگ شته
په آشتِی کښې کشتن دَی عاشق وژنی همیشه ژوندون هم دا دَی چه ئې جنگ شته
خدایه ژر یو بل اورنگ لَره پیدا کړه په جهان کښې ښادی نشته چه اورنگ[3] شته
په وار وار ئې دَ خوشحال خاطر صیقل کړ
ولی کږه[4] ته ئې لا پاتو څخو زنگ شته

---

١. کږې څیرې تړلی دَ هر چا په سر میزر شته، دا مصراع په دو نسخو کښې دوه ډوله ده په قلمی نسخه کښې تر میزر لاندی محشی پرونی کښلی دی.
٢. هم څنگ.
٣. یعنی اورنگ زیب چه پاچا وُ.
٤. ولی کښته ئې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروت یم ستا په ورکښې په خیرات می یاد لَره
دا ناښاد خاطر می په پوښتنه ښاد لَره

څو کړې ظلم جور په څو رنګه طور طور
وکړه فکر غور اندیښنه دَ داد لَره

خیال دماغ دِ ډیر دَی تر حساب تر حده تیر دی
مرګ قیامت دِ هیر دَی ښه دا هونبره یاد لَره

مرم په انتظار کښې نشی هیڅ په زاری زار کښې
سخت ځما پکار کښې ترسندان فواد لَره

شرعَ شته کتاب شته دَ عذاب دَ خوی عذاب شته
ښه که څه ثواب شته ته دا خوی معتاد لَره

خدای وته څرګند دَی چه د خپل خاطر پسند دَی
څه مهر پیوند ئې هونبره دا عناد لره

خوی خصلت چه ستا دی واړه پټ ندی پیدا دی
مهر نازکه دا دَی ته ئې تل بنیاد لَره

ملک شته کښته پورته ګورم ستا دَ سترګو لور ته
مه درومه بل لور ته ځای پدا سواد لَره

زلفی دِ زنجیر دِی پکښې ډیر زړونه اسیر دِی
څوک پدا تدبیر دِی، چه خوشحال آزاد لَره

پدا کلی کښې څوک نه لرم نیکخواه
چه رشتیا وایَم هم دا لَرم ګناه

له ځوان مرده په خندا په هوس درومې
له نامرده جدا کښیږې په آه آه

لکه سیوره وړاندِی وروستو را سَره ځِی
چه و هر لورِی ته ځم سبا بیګاه

لکه لاس په شمار دَ زرو پول توریږِی
په دوستی ئې سړی هم سِی روسیاه

زه په رغم دَ صوفی خراباتی یم
چه دَ مکر ذکر کا په خانقا

دَ زاهد پکار کښې څو رنګ اشتباه وِی
دَ اوباش پکار کښې هیڅ نشته اشباه

که څوک زړه سوځِی په ما ځای دَ زړه سوی دِ
که می لاس وَی زه به ولی وم اکراه

چه ئې لافی دَ پاکئ کړې څه ناپاک شه
راشه ګوره چه څه حال لَرِی تباه

وایې سر په عاشقی کښې درته څه دَی؟
درته وایم که باور کړې یو ګیاه

رعیت لکه عیال ساته خوشحاله
په یاغی باندِی مهم کاندِی بادشاه

په هر کار کښې مصلحت شته
خپل پرَدِی ته نصیحت شته

چه لر بر له مصلحت شې
کله خیر برکت شته

دَ سړی هونبره ښادی دَه
چه په زړه کښې ئې همت شته

چه همت دَ سړی نه وِی
مهیا ورته نکبت شه

سر هاله په تنه ښه دی
که دَ سر سَرَه عزت شته

دَ سړِی چه عزت نه وی
دَ ژوندون ئې څه حالت شته

په صحیح غنی هغه دَی
دَ هر چا چه قناعت شته

دَ نیستئ ئې اندوه مکړه
که په تن کښې دِ صحت شته

چه صحت دَ صورت نه وِی
څه په کار که دِ دولت شته

دین دنیا دِ مبارک شه
که دَنا سَرَه صحبت شته

اوس یاری مکړه خوشحاله
دَ یارئ سَرَه آفت شته

پخپل قسمت راضی شه، تل دَ بل قسمت مه غواړه
فراغت دِ مبارک شه که دِ ونیوه دا دواړه

دَ ژوندُون پیوند تَړَلی په یوه اومه سپڼسی دِ
دَ جهان غمونه پریږده نور به څه ژاړې ځان ژاړه

خپل دِی که پرَدِی دِی قلم وڅکوه په واړُو
دور دَ فساد شو پخپل زوی و ورور مه ویاړه

هر چرته چه ګرزم ځنی هسِی چاری وینم
کار مدار په نن شو، دَ سبا اندیښنه ولاړه

ګوره کوم یِو باد دَی چه په درست جهان را والووت
زړه په چا ښه نشی لباسی شه خلق واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې کلي میشت دَي چه په کلي باندې راغلم | نش کنډر پراته دې خالي مینه دَه اوجاړه
هر چرته چه ګرزې په لاحول ترې تیرېږه | سل بلا په زړه کښې سل دانې تسپې په غاړه
ډېره سودا وشوه سل دعوې دَ سود په طمعه | وخت دَ مازدګر شو دلَ دادکان ونغاړه

تل وایې خوشحاله چه دنیا وته به شا کړم
لا خو دا دنیا دَه مخامخ درته وَلاړه

په هره تنګه خوله کښې برابر ندې خواږه | په څنو کښې حلوا دې څوک نبات لَرِی تاړه
سَمِې کړې ډېرې پخپل زړه لرې خپل یار ته | څکه د دَ ذلفو ویښته سَم وِی هم کاږه
بخت دَی چه ئې اوس ستا له لبانو سرَه څښمه | تا مې چه دَننه زړه په سره پیزوان څاږه
زه دَ زړه بدخواه وم ما پرې وکړه پرهارونه | څه لَره مې وَی دَ یار غمزو لَره لاړه
اور لرې په مخ کښې چه پټا مین کښدلم | ما به پدا بله لمبه ننه زړه څاږه
زلفې دِ تور مار دِی زه ئې هسې وخوړلم | مرَم راباندِی نه څِی دَ دم ګویو هیڅ پاږه

مست یم مَې پرست یم زه خوشحال په خرابات کښې
له میو به وانوړم که مِې وژنی په وراړه

په دا باغ کښې به دِ پاتې نه وِی ګله | که خبر شې دَ خزان له تطاوله
دا څو ورځې غنیمت ګڼه په باغ کښې | چه په تا باندې سینه وهِی بلبله
مرتبه دَ هغه باغ څه پاتو نه وِی | چه خالی وِی دَ بلبلۇ له غلغله
و هغې ښیښې ته نه غړېږِی سترګې | دَ ساقی څخه چه تشه شِی له مله
په دا پُل باندې دَ خلقو ګذر ګوره | څوک پر یوزی، څنی پور یوزی تر پله
په درست عمر به ئې نه ووزی له یادو | چه لیدلې وِی تارُو دَ باز منګله
مقدر به په هیڅ رنګ مبدل نشې | که په ځان باندې تل لولې څلور قله
عاشقان چه عاشقی کا غم به نه کا | دَ رقیب او دَ غماز او له چغله
څه کړم لاس و دست مې نشته قلندر یم | کنه ما به دنیا وبازله کله
په پالنګ به خوب په څو بې غمه کاندی | چه خبر وِی دَ فلک له تزلزله
هسی یار لَرَم ښایست ئې تر دا قیاس کړه | چه دَ مښکۇ بوی ئې هیڅ دَی له کاکله

دَ دلبرۇ په مانې کښې هم مزه شته
بیچاره خوشحال ئې مری له تغافله

په دا ښهر کښې دِ نه وینم څوک سیاله[1] | خبر دار نه یَم دَ بل ښهر له حاله
په ښایست کښې دی ارمان دَ صورت نشته | دریغه دریغه په خوی هم وی څه خوساله[2]
په دردمنو کښې نن زه یَم بی مانند | په دلبرُو کښې نن ته ئې بې مثاله
په دا سپین تندِی دِ طعن په آفتاب شِی | په آبرو دِ ګرو وَړِی له هلاله
نن به ته دا کبر نه کړې نور به څوک کا | چه په خلقُو دِ نارې دِی دَ جماله
که تل جنګ و خرخښې کړی زه پرې خوښ یم | ښایسته دَ جهان نه وِی بې جنجاله
چه دَ حال پوښتنه نه کړې مرګ مې راغی | کله کله مې خبرېږه له احواله
په پنځه وخته چه لاس په دعا هسک کړم | ستا دَ عمر دعا کړم په ډېر ډېر کاله

---

۱. دا بدله هم په چاپی دیوان کښې نسته.

۲. محشی ورته کښلی دی یعنی میانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا بې وخته سپین ویښته نه ؤ بلا ؤ
چه دَ کښلیو زړه ئې تور کړ له خوشحاله

په زړه مې هسې نهال یې اېږ له دوو سترګو غائبه — که بله نامه وایم نامه ستا راشی په ژبه
هر دم مې ډېره څله اظطراب شی ستا دیدن ته — په تېری باندِی تل وی دَ اوبو مینی غائبه
تروه ترخه که نه دَی د خوږو قدر به نه ؤ — سکه ځکه جدائی شوه آشنایئ سَره واجبه
یوه دَ بیلتانه رنځوری ګرانه ده که نه وِی — نور همه زحمت آسان دی که نس خوږی دِی که تبه
ناځاپه دوه مشتاق چه سَره وَوینی په سترګو — تر دا به بله نه وِی په جهان کښې عجائبه
په ډېر ضرور خوشحال دَ یار له مخه جدا کیږی
اروا کله راضی وِی چه بیلیږِی له قالبَه

په ښیوه ښیوه رفتار کاندِی غزاله[۱] — وایې پښې په مځکه نه کښیږدی له خیاله
و غمزو وَته ئې حکم دَیَ چه وژنه — هم هغه چه مینه کا ځما له خاله
دَ زړه حال ئې امانت پکښی لیده شِی — چه ئې تن په صافی صاف دَی تر زلاله
له دوو سترګوُ خبر واخله چه ئې وژنې[۲] — نور به څه پوښتې ځما دَ زړه له حاله
که شیرین اشنا وفا در سره نکا
په جفا ئې هم خوشحال اوسه خوشحاله

په هره کوڅه ګرزم که مې چا لیده رنګینه — ګل مخه عنبر بویه هوسی چشمه مه جبینه
په خوله غنچه دهانه، په غاښونو در دندانه — په دواړو خوږو شونډُو تر شکرو لا شیرنه
په زنی لکه سیبه په غبغبو دلفریبه — په غاړه لکه زانې سبر قده تن سیمینه
په تور بانړه ناوکه په ابرو لینده بې شکه — په پوزه لکه لندی[۳] چه را پاځی له کمینه
ګلګوُنی ختی واړه مرصع منی په غاړه — ټیکه پر تندِی ایښې په زلفینُو عنبرینه
په خوی خونی خون ریزه مهر جنه چنګ امیزه — بې باکه عاشق کشه بې پروا له دا دودینه
که زر خونُونه کاندِی زړه ئې نشِی لاندِی باندِی
لا نور ورپسِی غواړِی خوشحالیږی څو چه مرینه

په هر لورِی دَی فغان دَ مرګ له لاسه — په هر لور په هر مکان دَ مرګ له لاسه
دَ آدم صورت ئې مرګ لَرَه پیدا کړ — خرابی شوه په جهان د مرګ له لاسه
همګِی پیغمبران که اولیاء وه — دُوی په مځکه شول نهان د مرګ له لاسه
عاقبت به شی بې شکه بی ګمانه — دا وَدان کورُونه وران د مرګ له لاسه
راسه ته هم دَ توښې په سر انجام شه — کاروانونه شول روان دَ مرګ له لاسه
ای خوشحاله که په تن شاه جهان شې
هم به درومې په ارمان دَ مرګ له لاسه

په طلب کښې د سستی وینم درویشه — چه وتَلی یې د دې خونی له ویشه
نعمتونه رنګارنګ دِی په هر لوری — په غوښتونی بندی نده جفا پیشه

---

۱. دا بدله په چاپی نسخو کښې نسته.
۲. چه مې وژنې.
۳. د سیند نه استلی شوی لښتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو طلب هونبره موندل دی په دا دور
بلکه لا تر طلب بخره مومی بیشَه
د عسلو خواږه کله هغه مومی
چه حذرکا دَ مچۍ له بده نیشه
لا دَوخته دَ طبیب طلب بایده دی
څو لا پایې په دنیا دَ زړه له ریشه
په هیڅ دین کښ ما وفا لیدلې نه دَه
خبر دار یم د هر چا له دین وکیشه
په هر غشی چه زخمی شوم بیا می وکوت
هغه غشی وُ په تن ځما له کیشه
هیڅ پروا اندوه دَ بل د بدُو نکړم
خو[1] دِ پانځی بلا له ځانه خویشه
په پیغام د بوسې[2] سود نشی خوشحاله
چه ځما[3] په خوله مین یې را نیژې شه

په هغه جهان به خلاص وِی له عذابه
که دلې ئې سریکار وِی له کتابه
واړه زه یم چه می هسی شراب بدکړل
گنه کومه بدی غواړې له شرابَه
د شیطان له چارو لیری لیری گرزه
یَو درنگ مه اوسه بې چنگ و بې ربابَه
د ښه مخ په ننداره کښ خیریت دی
که ځما له لوریه چار نشی خرابَه
چه دا هسی ارت ملک په خپل سر تنگ کړې
په خلوت کښ دِ څه سود دَی شیخ و شابَه
چه ئې سرې لمبې په ځان کړلې قبولی
د ښه بوی نفس پیدا شو له گلابه
هم حیوان یې هم سَړی یې هم ملک یې
که ته ښه په ځان خبر شې له حسابه
که خبر له حاله نشې درته وایم
په بَل نام نه باله نشې بې دوابه
که پخوا ئې خرابی دَه چا لیدلې
بیا به هم وِی د وجود مینه خرابه
هر طناب ئې و دانا وَته معلوم دی
دا خیمه وَلاړه نه ده بې طنابه
دَ خوشحال ختک په ژبه برکت شه
چه ویَل کا په پښتو له هرِه بابه

تا وې نورِی تر ما ښې دِی پسی درومه
راته وایه تر تا ښه دَه بله کومه
چه مِی ستا وَ خرخشو ته نظر وَکړ
دَ جهان په مخ به نه وی هسی سلومه[4]
دَ خاطر مرغه می ستا په زلفو بند شو
اوس به چرته ځِی چه نښتی دَی په لومه
دا چه وایې درومه صبرکړه له ما نه
بیا می کومه بې صبری وه در معلومه
په عاشق باندی ئې تل ظلم و ستم وِی
ستا دَ سترگُو ویره نشِی له مظلومه
زه لا اوس په زړه تنگی نوی عاشق یم
په خندا خندا بورجل لَرَه را درومه
په خوشحال باندی که تل نارې سورې وِی
باز پروا کا دَ کارگانُو له هجومه؟

تا هنر دَ سرداریِ نه زده بهرامه
سرداری دی په خپل دورکړه بد نامه
هم تمامی خیلخانې لَرَه بلا شوې
هم خپل ځان لَرَه بلا شوې بد فرجامه
تا طاهر دَکم عقلی په جرگه مړکړ
اوس فارغ شوې دَ طاهر[5] له انتقامه
تا خپل ځان لَرَه دَ مرگ رخنه پیدا کړه
خیلخانه دی په بد خوی کړه بې آرامه

---

۱. څو پانه ځی بلا له ځانه خویشَ.
۲. په پیغام د بوسې سود د خوشحال نشی.
۳. که ځما.
٤. څرگند، نوموړی.
۵. ظاهر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دا هسی بد خويۍ بې بخت نه يې
چه لا نه يې دَ خونی هاتی تر زاله
مشر ورور دی په زندان کړ ته خانی کړې
دا خانی دِ شه په ځان پورِی حرامه
چه خانی ته دِ هوس دی زړه په زور کړ
لا ځايی وه ستا دَ زړه انديښنه خامه
نور دی نوم د ما دَ زويُو په شمار شمار مشه
د خوشحال خټک وينا پدا تمامه

تل په ځان کښيږدې تازه تازه نومونه
زه دِ بيژنم دَ زلفو په خمونه
نه ئې ځوک وينی په سترگو نه په خون کښ
چه را رسی ستا له غمه دا غمونه
که مې ته دَ زړه له سوزه خبر نه يې
خبردار می پدا حال دی عالمونه
لکه ستا بانړه په شمار په حساب ندی
هسی ستا دَ سترگو ډير دِی ستمونه
بيا مِی هسی دا غمزې په غشيو وله
لکه تل دی په ما خوار کړل کرمونه
نه چه زه يوائې ناست يمه ويرژلَی
لور په لور دِی ستا له لاسه ماتمونه
ستا دَ تورُی دَگزار حاجت هيڅ نشته
په وکيل ئې د عالم خيژی دمونه
مگر ځوک په غاړُو غرونو ژوندی گرزی
ستا سپرؤ په وينُو وَلړل سمونه
چه ډير ډير به ئې کښيښول پرې پرهارونه
طبيبانُو ځخه ورک شول مرهمونه
اوس دِ غم لکه لوی غر دَی راته پاتُو
غر به نه اوړی دَ چا په اړمونه
يا دِ ستا دَ مخ ثنا خوشحال خټک کښی
يا دی نه نيسی په گوتو قلمونه
چه خوشحال ئې په کاغذ يا په قلم کښی
په خاطر کښې هونبره ندی المونه

تل چه ارته لمن ځکوی په مځکه
غره توب لرې دَ مخ په خوبی ځکه
په بسير دی رنگارنگه ټکی گوره
پدا شان به ښايسته نه وِی لوځکه
چه دا هسی شيوه گره ځنی زو وې
سَړی نه وُ ښاپيرَی وُ ستا ادکه
دَ مستی له مخه دا پريشان ويَل کړم
چه دی مزَی دَ ژوندون بولم ځو ټکه
زه به تا وَته نژدې شم تا به گورم
که د ما گنده نه نکيبړِی ستا کرکه
په بوسه می دَ لبانو سر فرازکړه
هميشه په زړه لَرَم دَ شربت سکه[1]
ليونی دی د جمال نه يَم نور څه يم
چه پخپله خونه نه پريږدم کځکه
لَون لَون شو لانونه[2] دَ شاهانؤ
دَ هر در رالَرَه بس دِی ځو کنډکه
سر بازم وصال دی غواړم هغه زه يم
لکه ځوک چه په بل لوری غواړِی ورکه
دَ ښايست بخره ئې ورکړه د ترکانُو[3]
محبت را پيدا کيبږِی له تاجکه
چه ئې توره په کار نه وِی حبطه دَه
که ئې روغه وِی دَ سپينُو زرُو تکه[4]
مگر تا څخه سامان دَ سلطنت دَی:
چه په هوډ می سپينه خوله غواړې خټکه!

تور وربل دِ په سپين مخ را آشفته شه
سمن زار دِ په سنبل کښ نهفته شه
عاشقانو دِ آرزو وکړه ليدن ته
چه دَ کښلِی مخ صفت دِ شنفته شه

---

۱. محشی تنده ورته ليکلې ده په چاپی نسخه (ځکه) ليکلې ده، يعنی ذائقه.

۲. محشی ورته طعامونه ليکلی دی.

۳. و ترکانو.

٤. د قندهار په اصطلاح تيکی يعنی غلاف.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه خو سر له غرفې هسک کړه وئې ګوره        لاله زار دِ په جوار کښ شګفته شه
تا چه زلفی پیچاپیچ سَره وَلول کړې        په ګلونو کښ یو تور منګور خفته شه
هغه دُر دِ فخر کا که ئې تمیز شته        چه ئې پاسه دَ ټیکی په تار سفته شه
ستا دیوال مګر دَ عشق په خښتو روغ دی        چه ئې شیخ تر سیورِی کښیناست آشفته شه
ځکه هسی رنګه بوی لَرِی خوشحاله
دا غزل چه دَ بهار په وخت ګفته شه

توره چه تیریږِی خو ګزار لَرَه کنه        زلفی چه وَلول شِی خو خپل یار لَره کنه
ولی راته وایې چه په کښلیو نظر مکړه        سترګی چه پیدا دِی خپل خپل کار لَره کنه
شیخ دِ نمونځ روژه کا زه به ډکی پیالې اخلم        هر سړَی پیدا دَی خپل خپل کار لَره کنه
تا وې چه ځما دَ خولې بوسه لکه دارو دَه        غواړم دا دارو دَ زړه پرهار لَره کنه
وینی مِی دَ زړه خورې مګر نور څه لَره ندی        زړه ځما پیدا دَی تا خونخوار لَره کنه
څه ژړا فریاد کړې دَ شهیَ دَ تورو زلفو        ته ورتلې پخپله دې تور مار لَره کنه
خود به ستا تر مخه دَ ګیاه غُندِی څرګند شی        ګل دَ لاله راوړه خپل رخسار لَره کنه'
مَی شته چنګ و نَی شته دَ خپل یار سَرَه خوشحاله
خپل بیاض په لاس کښ خو ګلزار لره کنه

تونګران په ملک و مال لَری تکیه        درویشان په ذوالجلال لَری تکیه
دَ عارف ژبه ئې بند کړه له مقاله        عالمان په قیل و قال لَری تکیه
دَ عاشق سَرَه چه هونبره استغنا کا        ښایسته پخپل جمال لَری تکیه
که تکښه دَه خو تکښه دَ یوه خدای دَه        چه په بل ئې کړې څه حال لَری تکیه
دا نابودی تکئې ګوره دَ وګړِی        چه په ستورِی چه په فال لَرِی تکیه
دَ دنیا تکئې ئې ولیدې په سترګو
نور به چا وته خوشحال لَرِی تکیه

تر هر چا دَی د ما یار ښه        شکر لب و شیرین بار ښه[1]
تر سنبولو ئې ښې زلفی        تر ګلونو ئې رخسار ښه
توری سترګی تورِی ورځیِ        تور ګیسو ئې تار په تار ښه
تنګه خوله ئې نیسته هسته        لکه خوله هسی ګفتار ښه
لکه دُر هسی غاښونه        لا تر درو سپین هموار ښه
تر وېښته ئې ملا نریَ        تن ئې لا تر سپین چوتار ښه
قد ئې ښه تر سبر ونی        لکه قد هسی رفتار ښه
چه هر ځای وته ئې ګورم        سر تر پایه پریوار ښه
خدایه ماتِی هغه خولې کړې        چه به وایی هندو بار ښه
هونبره کلی ډیر ښهرونه        پکښی نشته یَو نګار ښه
چه پکښې خواره یاران دِی        پیښور تر هر دیار ښه
په موسم دَ ښو ګلونو[2]        تر هر څه دَ میر ښکار ښه
ښه په هند کښ چنبا ګل دی        تر دا ګل دَ وطن خار ښه

---

١. خدایه راکړه د ما یار ښه شکر لب و شیرین کار ښه.
٢. دَ درې وروستنی بیته له یوې قلمی نسخې څخه را نقل شوه، په نورو کښ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ سرای قدر نور چا نزده
په خوشحال دَی تر فرخار ښه

تا وژلی هم له خپله لاسه ښخ کړه    له دِ زړه باندِ یخیږی زړه پرې یخ کړه
رقیبان دِ لکه سپی دِی په کوڅه کښ    چه انگڼ دِ پاکیزه شی واړه چخ کړه
دَ جنت میوې[1] میِ نورُو ته بخښلی    کله کله څما په خوله سیب دَ زنخ کړه
هغه واړه مهیا دی په هجران کښ    چه واعظ وَ ما ته شرحَ دَ دوږخ کړه
که پرواز دِ دَ شهباز دَ شاهین ندی    دَ مطلوب په لوری پرونه دَ ملخ کړه
چه دَ قدر دَ وصال نه وُ خوشحاله
په فراق دِ ښو یارانو اوس آوخ کړه

ته چه دا حسن لرینه    ځکه هونبره کبر کړینه
تورِی سترگی په کجلو    په تنبولو شونډِی سرینه
په مثال لکه شاهین یې    چه دَ زړونو غوښی خورینه
که ته هر څو ښایسته یې    کبر مکړه وَ به مرینه
دَ خوشحال خاطر مفت ندی
فهم وکړه چه ئې وړینه

ته چه هسی په غوغا درومې سیلابه    ولی هسی په ساعت کښ شې بې آبه
آفرین دِ په همت دَ لوی دریاب شِی    چه په هیچری ئې چار نده کریابه
چه په پورته د کاغذ وگډی[2] درومی    که رشتیا ده دا دِ درومی بې طنابه
د طوطی ژبه استاد غواړی د نطق    گنه دَی به لا بتر وُ تر غرابه
چه په مخ کښ دِ نابود شِی واړه ستورِی    د اسمان په ستریو وخیژه آفتابه
که لمبې ور باندِی بلی کا ایرې شِی    د ژوندون هنر به نه ځِی له سیمابه
له یاقوته دِ هاله سیالی شِبَه[3] کا    که د اور په تاو کښ دا نشِی بې آبه
چه مرغونه وزر بیا مومی آلوزی    هیڅ مقصود تر سَره نه ځِی بې اسابه
په ځوانۍ کښ اوده وُ په زوړ والِی
د خوشحال سترگی بیداری شوې له خوابَه

چه په درست تومن اوڅاره[4]    نن هغه ده څما یاره[5]
لا جنو تی سرکُنډِی    چه حجاب نه کا له پلاره
یَو سورکی پیزوان په پوزه    ور بلوټِی یو څو تاره
مخ نسرینه مه جبینه    سنبل مویه پری واره
شکر لبه پر طربه    هوسۍ سترگی گل رخساره

---

۱. منې.
۲. کاغذ باد.
۳. په چاپی نسخه کښ لمړی توری زیر او دوهم توری زور لری، په قلمی نسه کښ محشی (مشکنۍ) ورته کښلی دی، چه په مصونوعی مرۍ څنی مطلب دی.
٤. ظاهر، ښکاره، مشهور.
٥. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قد عرعره مو کمره سر تر پایَ قلم کاره
په زړه سنگه شوخه شنگه جفا خویه زره آزاره
زه ئی قتل په لیدل یم دا را نه ده پروا داره
چه می نوم ورته څوک اخلی و ښکنځولوُ ته تیاره
څه کړم کوم فکر علاج کړم دم واهه نشِی له ډاره
د دی خوی خصلت دا هسی ځما دَه مینه بسیاره
دا یَو څه علامت وشو په ما خوار دَ خدای دَپاره
که پَټ نیاز ورځنی غواړم په نیاز نه ده خبرداره
که خپل زور باندی ښکاره کړم خیلخانه لَرِی خونخواره
که ئی وغواړم په زرُو زر هم ډیر غواړِی بی شماره
نه په زور شی نه په زر شِی په جهان دِی دا دوه کاره
دَ خوشحال تکیه په خدای دَه
بیا پتا دَه شیخ رحمکاره

چه پلَو له مخه نه اخلِی دلبره مگر شپه دَ خوار عاشق شوه بی سحره
نه ئی زړه په ما نرمیږِی نه گروهیږِی[1] خدایه څه مِی سریکار شُو له کافره
نه مِی خوب نه مِی قرار نه مِی آرام شته همیشه را باندِی تبه وِی شیبره[2]
دَ وصال امید رمق دَی لَږ را پاته او کنه بیلتانه وَوژلم اکبره!
په یَوَه نفس کښ زر خطونه راوړِی په هر لور چه غورزَوَم دَ زړه کوتره
دَ معشوقی په پالنگ به هغه خیژِی چه له سَرَه نه بیرون کا دَ سرویره
غلیواز چه هنر نه لَرِی آزاد دَی باز په دواړُو پښو بندی دَی له هنره
څه وه څه شوه خبر نه یَم بیا به څه شِی ای یوه خدایه ځما په حال خبره
څه یَوَه نیزه څه دوه څه تر دا زیاتی دَ غریق اوبه چه پاس واوړِی تر سره
مگر خضر می مدد شِی دعا را کا چه لاهو بیږیَ مِی وَوزِی له خطره
څو ئی ځله هر ساعت شِی هونبره ځله
دَ خوشحال سینه لگیږِی له حجره

چه په عشق کښ ئې و نورُو ته پیغور شه اخ چه لاس په لاس په دَه پورِی دا تور شه
محتسب چه په اهداد وُ دَ مستانو دَ رندانُو سَرَه ناست دَی باده خور شه
چه پرون ئې فاسقانُو سَرَه جنگ وُ نن هغه تر فاسقانُو لا څه نور شه
چه غیبت ئې بداوه دَ بل تر زنانه[3] راشه گوره په عیبت دَ پلارو مور شه
که دَ ډیرِی په وکښل ئې ورته وایم نصیحت دَ نیکخواهانُو باندِی اور شه
گوره څو عالم به لاندِی کا تر چلو نن چه دا دریاب را وَخوت موج ئې زور شه
صنوبر چه هونبره ضیره ډیره لوئی غوښته ځکه هسی په باد ته په باد نسکور شه
چه ئې زړه تر کاڼی سخت هغه مِی یار دی بدِی بخری څه ځما کاڼِی په کور شه
توری سترگی ئې بلا دِی عاشق گوره په بلا باندِی ور دروِمی کر و گور شه

---

۱. گروهیدل یعنی گرویدن، پیروی نمودن.
۲. شیبره یعنی محرقه تبه، چه په پښتو ئی لویه تبه یا توره تبه هم بولی.
۳. تر زیانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دَ خپل عمر دلیل وکړه خوشحاله
چه لاله په باغ کښ وَغوړیده خپور شه

چه پیدا چیرِی په ملک کښ یو حبیب شه
لکه خار ورته په څنګ کښ بل رقیب شه
محمد (ﷺ) ته ابو جهل نصیحت کا
راشه ګوره څک رنځور شه څوک طبیب شه
دَ دانا پخپل وطن کښ قدر نه وِی
دُر هاله قدر پیدا کړ چه غریب شه
په چمن کښ رنګارنګ ګلونه ډیر دی
دَ زړه داغ می دَ لاله دَ زړه نصیب شه
که ئې رنګ و بوی و ګل نه وَی ورکړی
مبتلا به باندِی ولی عندلیب شه
راشه تور و سپین دَ سترګو ننداره کړه
هغه یار را سَرَه لا تر دا قریب شه
چه پرون را سَرَه یار وُ خبر نه یم
نن له ما نه بیا ویزار په کوم تقریب شه
تناوُنه ئې دَ زلفو دِی دا زړه مِی
لکه ملک دَ یاغی لاندِی تر تخریب شه
چه ئې پرینبوه یارِی دَ لیونیُو
ګمان مکړه چه خوشحال ختک لبیب شه

چه می زړه پرې ښه کیده له واړُو بد شه
ښه خو دا چه اوس یوائې دا حد شه
که ژوندُون دَ خلقو دا دَی چه لیده شِی
ښه وَ ما ته مړِی خلق دَ لحد شه
دَ دنیا یاران مِی ولیدَل په سترګو
هر سړَی ځما په سترګو لکه دد شه
نه حیا شته نه وفا شته نه خپلوی شته
خلق واړه په معنی لکه مرتد شه
چه ئې نن کانده له ما سَرَه خپل قوم کا
مګر دا جور له قومه په احمد شه
تفحص دَ تورو سپین نشته په چا کښ
دَ همه عالم په سترګو کښ رمد شه
نور به چا ته یادَوَم چه رد ګمراه دِی
چه پیدا ځما له ځانه خلق رد شه
فرزندان چه مِی له ګیډِی نه پیدا دِی
پوخ ځما له نا خلفو نه کبد شه
په طالع په بخت دَ مال و ملک څښتن دِی
بخت هغه دَی چه په بخره دَ بخرد شه
له هغه بخته ځما توره بلا دَه:
چه له هَرَه ناهمواره په مدد شه
چه دَ پلار له ځانه ښه زویه پیدا شِی
ته به وایې چه ژوندون ئې مجدد شه
چه قابل ئې پیدا نشِی په اولاد کښ
که هزار زویه دَ پلار وِی بې ولد شه
دَ بهار ګلونه هیڅ دِی چه تیریږِی
ښه هغه وَ ما ته ګل دَی چه سرمد شه
که په ذات کښ دَ خوشحال آل و اولاد شته
په صفات کښ لم یلد و لم یولد شه
یخ دَ نمر وَ تا وته نه دَرِی خوشحاله!
په دا څه که یَو څو ورَځِی منجمد شه

چه ګټِل خورول بخښل کا ځوان هغه
چه توره[1] لَرِی دَ توری خان هغه
کان دَ لعل دَ یاقوت دَ ګوهر څه دَی
چه احسان ترې پیدا کیږی کان هغه
چه ئې ته په ګیډه وخورې حبطه شِی
دَ مجلس سَرَه چه خوړ شِی خوان هغه
که د مال دَی که دَ ملک دَی که د لیچو
چه ئې توان دَ چا پکار شی توان هغه
په تمامه شپه په ورځ په میاشته کال کښ
چه دَ خدَی په یادو درومی آن هغه
چه دِ څوک دَ وړاندِی وروستو ځی دا څه شِی
په تنها وجود چه شان دَی شان هغه
وَ نور چا وته وران مه وایه خوشحاله
چه په قول عهد وران شو وران هغه

---

۱. پیسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دا هسی ښایسته یې زیړه ګله
ځکه تا په ځان شیدا کړمه بلبله
چه ئې طور ستا دَ تورُو زلفو واخیست
ځکه بوی دَ مهر نه ځي له سنبله
دَ لبانُو بوسه بیا ورکړه مشتاق ته
چه مستی ئې لا اثر وکي تر مله
چه په پټُو سترګو ناست لیدل دَ یار کړم
خلق څه خبر له هسې رنګه شغله[1]
راشه خپل وژلې ګوره پخپل وَر کښ
په غمزو په خرخښو په تغافله
چه دَ خلقُو له نظره ئې امان وِی
همیشه وربانديِ لولم حُلور قله
لکه یار را سَرَه وُ په هغه شان دی
ښه چه بیا دِ مخ توری وشو چغله
لا به کله سر ځما په غیږ کښ کښیږدي
چه دَ مښکُو بوی دی درؤمی له کاکله
څوک چه صبر ستا له مخه راته وایی
ځما څه غرض له صبر و تحمله!
درست عالم د په خوشحال باندِي غوغا کا
باز پروا کا[2] دَ کارګانُو له غلغله

چه دا هسی په پالنګ راغله نوخیزه
الوداع دَه دَ خوشحال خټک پرهیزه
عقل و عشق چه سَرَه دواړه په دعوه شی
بل مجال دَ عقل نشته بې ګریزه
هم پخپله جنګ آغاز کا جنګیالیِ
هم پخپله صلح کاندِي صلح آمیزه
په بازی بازی وژلی کُټل نشی
په خندا خندا خونونه کا خونریزه
زه د کښلیوُ په دا کار پوری حیران یم
چه له چا نه زده کَوِی هونبره مکیزه
که له دله ئې شلوم شلوله نشِي
دَ دلبرُو یاری څو ده دلاویزه
غچول ئې هسی نه دِي چه څه پریږدِي
تر الماس ئې دَ غمزې توره دَه تیزه
قند و ګل سَرَه دا هونبره لذت نکا
چه خوله ورکا دَ زورل سَرَه آمیزه
د معشوقی نوم عاشق په جهان خورکا
د شیرینی بازار تود دَی له پرویزه
که می بې له تا نه نوره یاری وکړه
راته ګوره را څکوم حدیث په بیزه
په کاته کاته زړه لا درته تاو تاو شِی
دَ لرګی لښتی په غاښ کړې زیز مزیزه

چه د زړه اخلاص دِ نه وِی له معبوده
لا عجب که ئې راضی کړې له سجوده
محرمانو اجازت موندلی نه دَی
ګنه ډیر به ئې خبر کړل له دې سوده
محبت غلام بادشاه بادشاه غلام کا
خبر واخله له ایازه له محموده
خدای ځما تر فهم ښه[3] د عشق هنر کړ
که دا چار ده نور عالم وته نابوده
تورو زاغو دګلونو قدر څه زده
له جماله ئې بلبله شوه خوشنوده
په سند به د همه زړونو مردود شې
که دِ چار شِی تر یوه پورې مردوده
تر مطلوبه پوری شرط د رسیدو دَی
که تمامه لار په وینو شی آلوده
خو یَو بخت دِ ناسازی را سَرَه نکا
تل کینه کَوه له ما سره حسوده
کل مقصود دَ زړه هورې چه هغه یار وی
بخته راشه ته می وروړه تر مقصوده
ما خوشحال ئې سودا کړې نادیده دَه
که کالی په بها نه ځِي بې نموده

---

۱. شخوله.
۲. باز پروازکا.
۳. خوښ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه مې ستا کوڅه مأوا شه    غم ځما له زړه سوا شه
ستا کوڅه لکه بهشت ده    په بهشت کښې مې زړه وا شه
زړه مې ستا دَ مخ په دور    له چمنه بې پروا شه
هغه راز چه دَ خلوت وُ    وَ هر چا وَته رسوا شه
عالم درد لَره دوا کا    دَ یار درد ځما دوا شه
سانه ورو وهَه په زلفو    پکښې زړه مې سر هوا شه
چه ته مهر باندې نکړې
خوشحال څکه بینوا شه

چه دَ دواړو سترګو شیر در څخه شته    پر ئې خوره له ځانه سیر در څخه شته
آئنې وته نظر کړه او ګل بوی کړه[1]    چه خپل مخ دَ ګل په څیر در څخه شته
که د زړه ځما په زړه دَی چه ئې ټول کړې    ټولَوَه ئې چه کمشیر[2] در څخه شته
ډیر به ما غُندې په عقل تیر و بیر کړې    چه وربل دِ تیر و بیر در څخه شته
تل دعا دربانده‌ې کا څنې خبریږه    یو څو خوار له دله هیر در څخه شته
که جمال که ناز و خیال که کرشمې دِې    دا تر شمار تر حساب تیر در څخه شته
لَږ دَ مهر دَ وفا خویونه زده کړه    دَ جفا خویونه ډیر در څخه شته
عاشقان غریبان وژنه صرفه مکړه    دَ غمزې تیره شمشیر در څخه شته
لکه ډک مهر دَ خولې په خوشحال وکړه
خو که تش مهر برسیر در څخه شته

چه دا هسې رنګ مانې کړې بې ګناهَ    ویره نه کړې دَ عاشق دَ زړه له آهَ
چه په هر لورِ روانه په ښیوه شې    در سره ځما دعا درومی همراهَ
چه دِ هونبره ډیر دماغ وته وَګورم    بل دِ سیال په جهان نشته بې بادشاهَ
معشوقه مې دَ عاشق غندی نه نه کا    ګل بورا وته ونه وې توره سیاهَ
یا په ما باندې مَیَنه کړې دلبره    یا مې مینه څنې ماته کړې اللّهَ
چا ته حال دَ زړه معلوم کړم خبر نه یم    یَو نیکخواه په جهان نشته بې بدخواهَ
رقیبان دِ غوغا کا پروا مې نشې    شیر به کومه اندیښنه کا له روباهَ
په یوه ګزار ئې درست مقصود پوره شو
چه نګاه ئې په خوشحال وشو ناګاهَ

چه له هر چا تمع پرې کړې سلطانی ده    که دِ زړه په خاموشی کښې سبحانی ده
دَ خاتم دَ سخاوت خبری مکړه    لا پدا کښې هم دَ طمعی نښانی ده
په څو رنګه دَ یارئ صفت کیږِی    زبانی یاری، نانی یاری، جانی ده
تر جانی یارانو هر څه صدقه کړه    هم پدا سبب پکار دنیا فانی ده
دَ دنیا په پریشانی کښې جمعیت دَی    دَ دنیا په جمعیت کښې پریشانی ده
چه له دوسته له دښمنه ښه سلوک کا    دَ هغو سَرَیُو ښه زندګانی ده
چه په کور کښې مې څه وُ تر واړو تیر شُوم    و خپل یار وَته مې هسې مهمانی ده

---

۱. نظر کړه ګل بسو کړې.
۲. پیوندول، یو ځای کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زرگونه کتابونه ملا لولي — الف بس که ئې غرض مسلماني ده
په نادان باندې هم رحم شته خوشحاله
معذرت د نادانانو، ناداني ده

چه دا هسې ئې آغازه عربده کړه — مگر تشه ئې له میو میکده کړه
عقل ډېره شعبده لري په مېو — ساقي تار پتار ئې هره شعبده کړه
ښه جمال لره پیدا کړه څما سترگې — له غه پسه ئې جمال مشاهده کړه
یو ځل بیا له زیبا مخه پلو واخله — دا په عم کښې پراته لا په غمزده کړه
ستا له غمه چه ډېر ډېر همیشه ژاړم — د واړه سترگو مې خجله نربده[1] کړه
دَ ویشتلو آه چه ولگي ښه ند — لا دَوخته ئې دَ زړه له حاله زده کړه
دَ قلم له سره تور لوگي روان شو
چه خوشحال دَ دې غزل مسوده کړه

چه بنیاد دَ عاشقۍ چا کاوه — دا ئې څه کړه پدا کار نه پوهیده
په جهان ئې یوه څه بلا پیدا کړه — یوه خدایه کور ئې وران کړې د هغه
دَ هغه جهان دوږخ په غوږو اروم — دا دوږخ مې پدا سترگو ولیده
څوک ناحق دَ بیلتانه له لاسه ژاړي — آشنایي دَه چه تاختونه کا په زړه
دَ هلک له لاسه والوزي مرغۍ — په ژړا ور پسې سره کا دوه لیمه
هغه وخت چه دَ زانگو او دَ وُنې وُ — په مرغۍ هیڅ نظر نه وُ دَ ده
څو لوئیږي آشنایۍ پرې ډېریږي — دورمې دورمې په اوږو کښې ښه وینبته
دَ وصال قدر عمجنو دَ فراق زده — دَ تشنه ژوندُون په څه دَی په اُوبه
په حدونو سره ولاړو اوس خوشحاله
په کوم لور نه سره مُو مُو زه او ته!

چه ئې میاشت کړه دَ اسمان دَ پاسه شقه — چه آفتاب ئې را ښکاره کړ له شفقه
چه په سر باندې ئې ابر سایه بان وه — چه ئې پاتو جبرئیل شوله ابلقه
چه خوږې ئې دَ خولې لاړې تر عسلو — چه همه علم ئې زده شو بې سبقه
چه جمال ئې ښایسته په ملاحت وُ — چه دَ مښکو بوی ئې هیڅ وُ تر عرقه
چه سایه ئې دَ وجود په مځکه نه وه — چه بره ورته گویا شو له طبقَ
چه ئې تار په تار دَ باد په مخ خواږه[2] کړل — دَ تورات و دَ انجیل واړه ورقه
دواړه[3] کوَن په طفیل دَ هغه دي — مرتب او مهیا په ډېر رونقَ
چه دوست دار دَ څلور یار دَ اهل بیت دي — په هغو دَ ښو گواهي وله مطلقه
دَ عربو[4] ثنا هیڅ ورنه رَسیږي
دَ خوشحال ژبه مښود کاندي ناحقه

---

١. "نربدا" یو رود دِ په هند کښې.
٢. خپاره.
٣. چه کونین په طفیل.
٤. چه عرب ئې و ثنا ته نه رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه له عشقه بله چار گنہی افزونه
تر دا بله اندیښنه نشته زبونه
باور وَکړه چه د عشق په کاروبار کښې
که زیات نه یم کم هم نه یم تر مجنونه
ظاهری گونه دَ زړه په حال گواهی لی
که هیڅوک ندی خبر له اندرونه
ته ناترس به گوته هم پرې لنده نکړې
که له دوو سترگو روان کړم دوه سیندونه
چه د زړه له تاوه وَوزی غه خبره[1]
اثر وکاندی آخر په واړه زړونه
کل عالم دا بیلتانه له لاسه زارکا
زه په څو خبرو خوښ یم له بیلتونه
یو ئې قدر دَ وصال راته څرگند کړ
بل ئې سهل را ښکاره کړه نور غمونه
چه تا شان دَ لیلی کړ زه پوهیدلم
چه به ستا له لاسه ځای کړم غاړی غرونه
چه یک لُخته دی خوشحال له زړه نه ویوست
در پوهیږم ډار دِ نکیږی له خونه

چه مِی ولیده پخپل انگنِ ولاړه[2]
ما په تپکی سترگیِ بیا مونده بیا ولاړه
که ښه مخ وته کاته کَول گناه دِی
دا گناه دِ وِی دایم د ما په غاړه
یو څه بڅن[3] زړه ئې راکړ هسیِ وایم
چه د ما وَی دَ جهان دلبری واړه
زه جدا له یاره کوم خیر ناصحه!
په ژړا کښې راته وایه خیر غواړه
دَ ښه یار په جدائیَ کښې گرم نه یې
که دِ دواړه لیمه ووزی لا هم ژاړه
دَ طوطی خوراک شکرِی دِی خوشحاله ته
جگی جگی څه خو ورکړه دَ خولې لاړه

چرگ دِ خپل چرگ والی کا که ئې رضا دَه
چه له بازه بازی کا دَ ده قضا ده
هغه چار به مخامخ په مخه ورشیِ
چه دَ چا دَ هغې چارِی تقاضا ده
څوک به خوښ سَرَه پرینږدی په جهان کښې
دا دَ حِایه دَ دې دهر اقتضا ده
تیره چار چه یادَوِی فایده ئې کومه
وَ دانا ته مضا واړه مامضا ده
دَ گمان لړی به تار په تار خپرې کا
دَ یقین اندیښنه بهَ تر بیضاءده
دَ خوشحال په ویل غورِ او فکر بویه
چه موندنه دَ خبرِی په امضا ده

چه می ولیده دَ زړه په سترگو خپل زړه
دَ خپل زړه غُندی می وَ نه لیده بل زړه
عاشقی دَ خدای بلا دَه عاشق مشې
څوک په سرو سکروَټو ینښی لَرِی تل زړه
په وَیل وَیل می هیڅ تقصیر وَ نه کړ
که ستنیږی له دلبرُو په وَیل زړه
عاقبت به آفت سر لَرَه پیدا کا
چه جار وَزِی دَ بتانو په بورجل زړه
وُر ئې واچَول دَ زلفو ځنځیرُونه
که هرگز آموخته نه وُ په ترَل زړه
دَ خپل سر په مهر هم دا هسی نه وِی[5]
لکه خوښ شِی دَ دلبرُو په ښکنځل زړه
ډیر ئې صبر شکیب وَکړ نه پایئږی
نور له تنه جدا کیږِی په نیوَل زړه

---

۱. غه خبره چه د زړه له تاوه ووزی.
۲. دا بدله په نورو نسخو کښې نسته له یوې قلمی څخه نقل شوه.
۳. په اصلی نسخه کښې بڅن دی په معنی د بیرندوکی. د پښتو مرکې په لوی قاموس کښې بځن په معنی د رنگ لیکلی دی په قندهار کښې هم دا کلمه شته مثلاً وایی تور بځن وغیره، دلته هم ورسره جوړیږی یعنی څنگه زړه ئې راکښې.
٤. محشی ورته کښلی دِی چه مطلب لمر دی.
٥. د خپل پیر دعا هم هَسِی رنگه نه وِی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ خوشحال خټک فریاد له نورُو ندِی:
په دَه هونبره چاری وکړې واړه خپل زړه

چه وایم هغه نکا دا ځما زویه گمراه
اغیزه هیڅ پرې نشی یا خو ما گڼی بدخواه
که کار په دیو نشی په شماره دِی دَ غوییو
کمیَ دَی دا دَ دیو که د ما دی دا گناه
که ما دَ ځان بدخواه گڼی دا لا بله بلا ده
هیڅ پلار به په جهان بدخواه دَ زویه وِی آه آه
چه پلار دَ چا مزَری وِی مزر کتَی ورځنی زیږی
د ما زویه وگوره دَ جیفې گیدړ روباه
څو ډیر دِی که قابل وَی دا به څه بلا ښه کار وُ
یو شیر دَ درگه ښه دَی نه گیدړ پکښی پنجاه
د نورو نوم څه اخلم د ټومی[1] بیوجه څو دِی
یا عاق یا عاق ته روغ دی خو دَ واړُو مخ سیاه
دَ ما په ناله زرشول دَ بی بی په ذات زرنځ شول
زرنځ په نرخ دَ زرو کا قدرت لَرِی آله
هر کار ئې په تقلید دی تحقیق نلَرِی پذات کښ
نه نام نه ملگری شته[2] هونبره گنج هونبره سپاه
ارمان ارمان چه زوړ شوم یوَ قابل زویه می نشته
چه زه خوشحال دعا گړم په سبا او په بیگاه

چه تا وَته نظر کړم نور مِی هیر دِی ښایسته
په طور دِ مین یم گنه[3] ډیر دِی ښایسته
هم ځان راته ښکاره کا هم می ورک شِی ژر له سترگو
پدا کلی کښ واړه پری څیر دِی ښایسته
تلخی ئې دَ هجران بده بلا ده عاشق وژنِی
چه دا ئې را په یاد شِی څه گنډ هیر دِی ښایسته
یاران لَرِی زرگونه دَ هر چا سَرَه ساز بازگا
په قول په وعده ځکه تیر بیر دِی ښایسته
تل جور تل جفا ستمونه په عاشق کا
په دا واړو کارونو کله سیر دِی ښایسته
دَ چین او دَ ماچین می ارویدلی دِی په غوږو
په سترگو می لیدلِی دَ بونیر دِی ښایسته
ځوانی ولاړه خوشحاله راوړه زر که عاشقی کړې
یا زر دِی یا ځوانی چه ورته زیر دِی ښایسته

چه پریوزِی څوک له پاڼه مومیا یی ورلَره بویه
په کور کښ چه تیار شی روښنائی ور لَره بویه
چه کار دَ چا مشکل شِی تدبیر وبله کښینی
دا کار څه آسان ندی دَنائی ور لَره بویه
په کاڼی کښ مرآت شته دَ کیمیا بوټی په غره کښ
تلب چه د دې کار کا بینائې ور لَره بویه
که لُور دَ اورنگزیب وِی معشوقه په اصل لویه
دا کار ئې منظور ندَی پارسائی ور لَره بویه
که هر څو ښایسته وِی معشوقه په هنر پسنده
دا کار ئې هم پکار دَی بخت ځائی ور لَره بویه
که څوک ښایسته غواړِی په کوڅه کوڅه دِ گرزی
په هر ښهر په کلی گدائی ور لَره بویه
یَو زړه دَ خوشحال ندِی چه جهان پکښی لیده شِی
دَ هر چا زړه مرآت دَی صفائی ور لَره بویه

چه وفا ئې له چا نه مونده په مځکه
وَ اسمان وته روان شو عیسی (ﷺ) ځکه
په زرگونُو راته لاف کړې اوس یو نشته
آشنایِی له هر چا ښه دَه بې خټکه
دَ هغو له خولې کړې خبرِی اَورم
چه به ما وَرته کاته کوَل په کرکه
دَ راحت په وخت چه تَل تر تا ځاریږی
په سختی کښ ویزاریږِی له ابکه[4]

---

۱. ټولی، ټبر.
۲. نه ملک گیری شته.
۳. که نه.
٤. یعنی پلار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وی واړه په احسان ځما بنده دَی همگی ئې زیست روزگار وُ له کوتکه
دَ معنی په سترگو گوره که دانا یې په ظاهر جامه که ښه بریښی لټکه[1]
مروت یاری ترې مه غواړه خوشحاله
هر سړَی چه اُوبه وَڅښی له اټکه

چه نه لَرِی ننگونه وئې مه وینې رنگونه
دا د ننگ دَپاره گرزم پدا هسی گړنگونه
صد رحمت را باندِی ښائی پدا هسی آهنگونه
په څو به ځنی درومی چه دَ زړه لَرم زنگونه
مهدی له غاره ووزه کښیږده پښه په پالنگونه
نه دین شته نه آئین شته شرم لاړ په فرسنگونه
مختورن[2] ظالمان ډیر دِی چه آخلی قلنگونه
دَ عدل توره واخله ملک اسلام کړه په جنگونه
بیداره اوسه زرکښ شاهین[3] گرزی په ښنگونه
خوشحاله فهم وکړه
چه پر یوزی خرسنگونه

چه ئې بخره ازلی راغله اصیله[4] دا فلک ئې همیشه گرزی په سیله
چه عزیز ئې پخپل فضل و په کرم کړل چار به نشِی د هغو چیری ذلیله
چه پخپله ئې عطا په خلقُو نه کا دَ هر مال بَخره به واخلی له بخیله
دَ حاتم په مسند ناست هغه زلمَی دی چه دنیا ئې په هر چا باندِی سبیله
دَ عارف په بخره علم لدُنی دی په الست ئې روزی شوی بې تحصیله
چه ئې واړه آمنا و صدقنا کړه دَ دانا وینا به نه وی بې تاویله
دَ دې دور درویشان خلیفه بس دی اوس خپل ځان لَرَه بل کار کړه عزازیله
که مکامل دِ په جهان هغه کسان دِی چه فارغ دی دَ دنیا له قال و قیله
عالمان دِی ره زنان چه غواړی نغاړی عالم عالم لَرَه زده کړی څو دلیله
دا جاهل شیخان شیخان نه دی شیطان دی چه فساد ئې پیدا کیږِی له تهلیله
که دَ یاره نه جدا وِی دوه درې لویشتی و عاشق وَته ښکاریږِی دوه دری میله
زه هم ځکه په جهان کښ بې عدیل یم په جمال مِی معشوقه دَه بې عدیله
چه آرام ئې دَ خپل یار په لیدوُ وشو
دَ خوشحال له دله څه غواړې تعجیله!

چه ئې خوب په پالنگ نه وُ بې د پرو له بالښته راشه گوره ننداره ک/ره تر سر لاندی اُومه خښته
چه فانی دنیا دنی دَه بود ئې نشته ناهنی[5] ده ځکه دا ده اې نادانه د هوښیار تر فهم زشته
دا دنیا خارشتی بزه ده په ساتل ئې څه مزه ده شپون ئې وشړی له بزو نه چه ئې پوه شی له خارښته

---

۱. یعنی هغه توره چه په جنگ کښ کار نه کوی، پخه اوښتې توره.
۲. مختوری.
۳. شهباز.
٤. دا بدله په پاپی دیوانو کښ نسته.
٥. تر دې کلمې لاندی محشی "نا هضم" کښلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه هم تول ځی هم دلی[1] دا طوفان دَی که ژلۍ
چه ئې ویرَی[2] مونده نشی، هَی توبه له هسی کښتَه

ما لیدلې پدا چشمانو ورانی مینی دَ شاهانو
یکباره ور ځنی ولاړه چه ئې درسته دنیا غوښته

د لکونو پیدا غول[3] کړه د جهان کنجونه ټول کړه
نه به ته نه به ستا پښت وی، بیا سنجر شو یو څو پښته

د سیلاب په مخ دِ کور دَی دا دَنِی فکر دِ نور دَی
چا به نکره هورته خونه چه به دا په سیلاب رغښته[4]

په دنیا کښې که شداد شې بیا به ته په بلا یاد شې
که بهښت په دنیا روغ کړې څه دِ سود دَی له بهښته

هغو[5] یوړله له ځانه دا فانی دنیا اې ځوانه!
چه ئې تار په تار خوره کړه نه هغو چه ئې ونغښته

ما ئې ولیدل کارُونه طور طور رفتارونه:
په ورتله په ستغ[6] ختَنه په تله کنَدِی غُندی رغښته

که کم عقل که کانا[7] یې که هوښیار یې که دانا یې!
د میر باز غُندِی ور زغله د خوشحال غُندی ترې تښته

چه ئې سوز نه وی له سازه
یا ئې سر له[8] سرو نازه

دَ ژوندون راحت ئې کوم دَی
راته وَوایه همرازه!

غم می واړه تار په تار شِی
دَ هر تار له ښه آوازه

ځما لاس له کاره ووزِی
چه په کار کښ شې شهبازه

په هر ځای چه ښایسته وِی
ترې سلام می دَی له نیازه

چه دَ کښلیو ننداره کړَم
ورته پاتو شم خوله وازه

چه ئې تا غُندِی را درومی په پوښتنه
رنځوری دَه دَ هغه رنځور سودمنه

دَ بسیر موتی دَ لاس د سکندر کړ[9]
ښوریده ئې اشارت په جار و تنه

تل په تا پسی غمجن یم هونبره نکړې
چه می وَ پوښتې څه حال لرې غمجنه

که دِ سر له ما نه غوښت لتا می دریغ کړ
بیا هاله وایه وَ ما ته دروغجنه

زړه می ستا په لاسو درکړ تا خراب کړ
هلک څه زده دَ زیبا طوطا ساتنه

خدای دِ لاس دَ هغه چا په ته کښې پرې کا
چه په قصد به پرې کوِی دَ گلووَنه

که یو ځل ئې طماغه[10] له سَرَه پریوزی
چوز و باز ووته څوک ښئی وهنه

که دَ کښلیوُ وعده هر کله خلاف دَه
خدای دِ تا دروغجن نکاندِی په ژمنه

وَ خوشحال ته خو هم دا وایه مطربه
چه ځار ځار کله به رایشې مینه!

---

١. درمن، دغلې کوټه.
٢. وَرَی.
٣. په مجهول واو لښکر او فوج.
٤. چه به مخ د سیلاب رغښتَ.
٥. هغه.
٦. په غره کښې نرۍ او سخته لار.
٧. محشی ناپوه ورته کښلی دی.
٨. په سر و ناز.
٩. د بسیر لولو د لاس د سکندر شوه.
١٠. محشی ورته ټوپۍ لیکلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیران یَم نه پوهېږم چه له یاره مخ پوښل څه    اغیار وته په قهقه لا له ورایه خندیدَل څه
که نه ئې وِی په زړه کښې دَ عاشقه سَره مهر    سکه ده وته دا غنج و دا دلال او دا ښکنځل څه
هغه می چه لیدلَی دَ خپل یار ښایسته مخ دی    که حوری که پری وِی وَ بل مخ وته کتل څه
ښه ئې دِی ویلی چه زړه یو دَی یار دِ یو وی    ښه ده دا خبره چه سر یَو او سودا سل څه
زار ژړا هغه کا چه د یار له مخه دور وِی    وخت دَ یار دَ وصل کوک په کوک نارې وهَل څه
خوشحال دِ ښه چه مړ کړ ته په کوم توکی دلگیر یی
تر سر دِ صدقه شم گُندِی تا ته چا ویل څه

خپل پرَدی چه چا لینده په لاس آخسته    هر یوه کړه په ما تشه درسته درسته
چه قضا د ما د چا په غشِی نه وه    د بادشاه لینده ئې هم کړه په ما سسته
چه تعلیم ئې د سیفې[١] له ما نه آخست    بیا هغو د ما د بدو سیف لوسته
په زرگونو راته لاف کړې د یاریَ    په دولت کښې ئې د ما بلا آخسته
اوس چه ورځی د نکبت راغلې یو نشته    چه ځما دپاره ووزې له بایسته
که بادشاه له تخته پریوزی نا آشنا شی    بادشاهی ده د دولت په تار آمسته[٢]
د نکبت ورَځی په مثل د دانو دِی    ښایسته سړَی و باسِی له ښایسته
هنرونه ئې عیبونه شی خوشحاله
د سړی چه چار دَ بخت شِی سسته پُسته

خپله پوهه به لَرم خپله لَره    وَ هر چا ته خپله پوهه دَه کره
که فاسق یم که فاجر یم دَ خپل ځان یم    دَ زاهد دَ عابد څه دِی را سَرَه
لیونی که مسخره دَی و عالم ته    عالم هم وِی لیونی ته مسخره
په معنی پانِی گلونه دِی خبری    دَ سړِی کرده دَ ونی ثمره
نن یوازِی یک تنها له یاره ښه یم    څوک د غیرو دوهم نه وِی را کره
دَ نور چا غرض پرې نشته چه صراف وِی    هم هغه زده په سَرَه په نا سَرَه
په ښوره مځکه کښې کله شِی گلونه    درته چا وې چه کلونه پرې کره
شاړی[٣] تل په کُن پره گرزی[٤] خوشحاله
مَړَنیَ لیندیَ به ځِی په سرپره

خواږه عمر غُندی تلنه کوې ښه[٥]    په مدت دَ دیدن ژمنه کوې ښه
په ناستې دِ رغیدن دَ بیمار وشی    په وَلاړی پښې پوښتنه کوې ښه
خوی دِ درست دَ ترهیدلی غرڅه واخیست    وړاندِی ځې تر شا کتنه کوې ښه
دا دَ زړه ښهر می ستا دَی چه په سترگو    باندِی هر کله ختنه کوې ښه
په خوله ما سَرَه دروغ دروغ یاریَ    ویزارِی دَ زړه دنَنه کوې ښه
هم په څو رنگه غمؤنه باندِی کښیږدې    بیا گله له دې غمجنه کوې ښه
هم په څو رنگه عتاب کړې بیا پخپله    بورجل ځای ته می بلنهَ کوې ښه
په زمان کښې یو گلزار دَ وصل نهال کړې    بیا پخپل لاس ئې وکینه کوې ښه

---

١. محش ورته لیگلی دی چه یوه دعا ده.
٢. محشی ورته لیکلی دی "پیئلی".
٣. شاړ یعنی سست او کاهل.
٤. درومی.
٥. دا بدله په نورو نسخو کښې نسته، له یوې قلمی نسخه را نقل سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصل هجر دِ دا دواړه پخپل لاس دي چه ماڼه له خپل مینه کوې ښه
دَ خوشحال په زړه دِ کښیښنول داغونه
پرې دَ مالګو دُوړَونه کوې ښه

خوله مِې غوښته له نګارِ را ئې نکړه دَ رقیب په خوله شوه آری را ئې نګړه
ما وې درومم ستا له وره دعا راکړه په فریاد او په چیغاری را ئې نګړه
صبوری له جفا کاره یاره غواړم را ئې وکړې ځنی چاری را ئې نګړه
په یوه جلوه له وراړه رغیدې نور دا ځما سترګی بیماری را ئې نګړه
دَ یوې غمزې په طمعه ورته ګوره عمر تیر شو پدا لاری را ئې نګړه
په امید وم چه یَوه پیاله به را کا هغه مستی شراب خواری را ئې نګړه
وَې در به کړم بوسه دَ خوږو شونډُو را نیږدې نیږدې شوه باری را ئې نګړه
ګلدسته ئې چه له باغه وه ویلې که ئې ورکړه و ریباری را ئې نکړه
هسِ نه چه ئې د زړه دلاسا نزده دلاسا لَرِی تیاری را ئې نکړه
زه خوشحال دَ یوه کښلی په طلب وَم
دا فلک لَرِی بسیاری را ئې نګړه

خاتمه که دَ سړِی په خیریت ده تر صحت ئې چار بهتره دَ زحمت دَه
په زحمت کښِ ئې نخوت له سَره وزی رنځوری نافی دَ کبر دَ نخوت دَه
هر زحمت چه دَ سړِی په وجود ورشی معافی ئې دَ ګناه په روایت دَه
په یوه تبه چه لَږه په چا ورشِی هغه هم د ګناهونو کفارت دَه
په هر چا باندِی چه ډیره تبه ورشی په صحیح چه دغه چار دَ مغفرت دَه
هغه کس ولی دَ خدای دَی ګمان نشته دَ هر چا چه صبوری په مصیبت دَه
غم ښادی چه وَ سړِی وته رسیږی همګِی واړه له ځایه په قسمت دَه
په ښادی کښِ دِ ئې شکر سړِی کاندی په غمونو کښِ دَ صبر چار فرحت دَه
چه دا دوه چاری لَرِی حبیب الله دی په وَیل نده دا چار په عنایت دَه
وار په وار به په خوشحال باندِی ور دورمی
هَرَه چار چه دَ محنت یا دَ راحت دَه

څو دَ ملک وارث و نه وهی سرونه هونبره چیری قراریږِی سمی غرونه
یا به ستا په دره ناره وِی یا به ژاړی یا دی تا له لاسه ویر دَ چا په ورونه
رخنه ګر دَ ملک پرې مړده پخپل ملک کښِ په حکمت په زر وزور، په لښکرُونه
څو په تورو، په توبریو، په نیز وشی صد چندان شِی په تدبیر په هنرونه
ورور او زوی دَ ملک په کار کښِ قتل کیږِی نور په واړو باندِی جوړِ شول محضرونه
بې د تیغ له آبه نوری اُوبه نشته چه جنګجوی سَرَه ساړه کا ټټرونه
دَ سردار دَ ریاست و نه په وینو په لیږ شنو دَ اعداء کا ثمرونه
په میدان کښِ توئی ښې دِی دَ سر وینی نه چه ډکه سینه وړِی له ځګرخونه[1]
یا دَ مرد غُنډِی شمله دَ دستار پریږده یا په سر کړه لکه ښځه میزرونه
خدایه چا وته ئې کښم څوک به پرې پوه شِی
ما وَیَلی هر یَو بیت دَی دفترونه

---

۱. نه چه خوږین له عیبه غاړی ځګرنه، یا نغاړی ځګرونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک به څه ساتي په پوهه په پندونه　　په وینښته سَرَه تړلی پیوندونه
په یَوه قفص کښې بند کارګه طوطا کړه　　سَرَه بیل به وِی دَ هر یوه سندونه
یا کُشتی د زورَوَرُو سره مګړه　　یا د دُوی غُندی پیدا کړه مړوندونه
موږ پدا عقل روغ نه یُو لیونی یُو　　معشوقه چه و عاشق وته غندونه
عاشقان دَ شاه دَ خولې یُو زر مو نشته　　که په سر ئې لیدَل مومو سر ښندونه
چه باور دِ په رشتیا خبره نکا　　وَ هغو وَته به څه خورې سوګندونه
چه ناپوه سَرَه تیریږِی ډیر افسوس دی　　دَ دانا سړِی کیمیا غُندِی ژوندونه
پخپل ښکار پسی به څرنګ باز آلوزی　　چه باز دار ئې پسِی وا نکا بندونه
دَ شکرو خوند به هیځُ ورباندِی نه وِی　　چه خبر وِی دَ خبرو په خوندونه

تا دَ زلفو په زنځیر کښې خوشحال بند کړ
آفرین دی پدا هسی شان بندونه

څوک خبر دی له فتنو د دې جهانه　　نوِی نوِیی را پیدا شِی له دورانه
ما و تا غُندِی به څو باد وړی یاد کا　　که خبر واخلې له مځکی له اسمانه
چه له باده دمه ډک وه که ئې ګورې　　باد ئې خاوره په ملکونو کړه پریشانه
په شان شان می دَ وجود ننداره وکړه　　بیا به هم شِی څو رنګه په څو شانه
نه ئې زر نه جواهر شته یو تاوان دَی　　که به ښه کړې ځان ئې خلاص کړه له تاوانه

زمانه می شوه په غاړه اې خوشحاله
که ئې ګورې نه لتانه نه له مانه

څو را سَرَه خلقه جفا ډیره هغه کس کړه　　خدای می پدا خوی کښې په ده مینه یَو په لس کړه
زار دَ خوار عاشق دَی دَ محبوبی څه پروا ده　　زه وَ غم ته روغ یَم ته تل خانده تل هوس کړه
زړه ئې دَ کافر دَی خو په خوله کلمه لولی　　څه ئې راته ستاېې ما لیدلې دَه نور بس کړه
ګرزِی په ګلونو کښې ګندګی ور پسی غواړِی　　څه ئې په جهان کښې بده بخره دَ مګس کړه
ښه چه را پیدا شوې دَ بهار زیړیه ګله　　تَل دِ یادَوَنه غندلیب په هر نفس کړه
لیږ دِی کاروانونه سبا کیږِی اې ساربانه!　　پاڅه دَ شتر په غاړه پوری اوس جرس کړه
ځه هغه شهباز شه، چه دِ ځای په سر درودَی　　نه لکه دَ کلی کارګه ګرزه غم دَ نس کړه
بخت دَی که طالع دَی که دا خپله فقیری ده　　خدای می چه شړِیَ برابره دَ اطلس کړه
قدر دَ خپل ځان دَ عافیت ور څخه نه وُ　　ځکه عاشقی هسی آغازه بوالهوس کړه

نورو حریفانو واړه ډکی پیالې نوش کړې
ښه چه دَ خوشحال پیاله ئې ډکه په بکس[1] کړه

څو جفا را سَرَه ډیره هغه کس کړه　　خدای می مینه په ده باندِی یَو په لس کړه[2]
ښه چه راغلې دَ بهار زیړ ګله!　　اندیښنه دِ عندلیب په هر نفس کړه
دَ ګلزار په ګل غرض نکا غُل غواړِی　　په جهان ئې بده بخره دَ مګس کړه
که زه خوار دِ دَ ګلونو لایق نه یَم　　ستا له باغه عنایت را خار و خس کړه
درست عالم پدا خبره خبر دار دَی　　چه بلبله خپلی ژبی په قفس کړه

۱. سید راحت زاخیلی لیکی: چه بکس په معنی د خورا لږ او نه څه دی.
۲. خدای می لاورباندی مینه یو په لس کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ئې شناخت، علم، ادب لَرَه پیدا کړې — نه چه گرزه بیهوده چارې عبس کړه
دَ ژوندون په قدر هیڅ خبر دار نه وُ — عاشقي مې چه آغازه بوالهوس کړه
کله سول کله ژوندُون بخنبل وَ ما ته — دَ عشق اوره په ما چارې دَ ققنس کړه
دَ دنیا غمونه لږ ندې خوشحاله
نن دَ یار وَ مخ ته گوره واړه پس کړه[1]

څو په باغ کښې لا یو گل دَ نو بهار شته — دَ بلبلو دَ طوطیانو پرې چیغار شته
نن دِ غم له ما نه ځان ساتی که ښه کا — چه په سیل دَ بهار را سَرَه یار شته
چه له یاره سَرَه مست دَ گلو گښت کړم — محتسب که را نیژدې شِی پایزار شته
شیخ ملا دِ ځما غم په بهار نه خوری — چه رباب و سرینده غُندِی غمخوار شته
نه به زه دَ میو جام کښیږدم له لاسه — نه ځما له پارسایئ سَرَه کار شته
ما وَ خپلی پارسایئ ته رخصت ورکړ — په دا نورو پارسایانو مِی اوس ډار[2] شته
ساقی بیا ځما دَ ښهر خبر واخله! — لا به څو په کوڅو پاتو پرهیزگار شته
گل و مل ساز و سرود ساقی سرې سترگی[3] — لا به ډیرعالم رسوا کا چه دا چار شته
چه په هَرَه پیاله عقل له ما زدویی — دَ ساقی منت را باندِی په بار بار شته
دَ گلونو په موسم کښې خوار هغه دَی — چه ئې نه پیاله په لاس نه ئې نگار شته
نن هغه شاهِ جهان دَ زمانې دِ — چه دسته ئې دَ گلونو په دستار شته
چه نا اهل په غفلت وربانِدِی نه ځِی — ځکه وصل دَ هر گل په څنگ کښې خار شته
دَ بهار زیبا گلونه سوداگر دِی — لخلخه به ځنی پیرِی چه خریدار شته
نن خوشحال دَ زړۀ داد دَ عشرت ورکړ
دا څو ورځِی غنیمت دِی څو گلزار شته

څو په باغ او په بوستان کښې لا لاله شته — دَ بلبلو دَ طوطیانُو پرې ناله شته
نن دِ غم له ما نه لیرې لیرې گرزِی — چه په وخت مې دَ بهار په لاس پیاله شته
که مې یار په لاس باده واخلِی ساقی شِی — پرې مې ډار شِی چه ئې زهد صد ساله شته
را یې وَښیه چه څَم تر پښو ئې پریوزم — که په دهر کښې څوک ما غُندِی واله شته
دَ بهار په زیبا گلو ډیر ویریږم — چه باران شی دَ باران سَرَه ژاله شته
دَ بهار په سیل تل دروِمه خوشحاله
یو څو ورځِی چه دَ گلو پرکاله شته

څه بلا ډیر ښه یې د بهار دَگلو وخته[4] — که ژر درپسې نه وَی د خزان سلئ سخته
په وخت د ښو گلونو دو ساله باده نوشلی — د زړه اندوه دِ واړه دا عشرت یوسی یکلخته
په وخت د ښو گلونو په خلوت دنّه ناست یې — را ووزه نداره کړه ناسوتی شیخه بدبخته
هر گل وته چه گورې گوښې گوښې ئې نگهت وِی — په رنگ سَرَه یَو ندِی نه یو سَم دَ بل له رخته
په سم دِی که په غره دِی د بهار خاص گلونه — آخر به ئې رژون وِی د گلونو له درخته

---

۱. هر څه بس کړه.
۲. وار.
۳. ساز و سرود د ساقی سترگی.
٤. دا بدله په چاپی نسخو کښې نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه تعین[1] دا هاړ گرمه سلۍ راشي په چمن کښې گلونه د لاله لکه بادشاه پریوزي له تخته
چه کښته پورته زاڼې مرغاوۍ تله را تله کا
خوشحال ختټک خوبې کړې په جهان کښې دا دوه وخته

څه به وایم د دې نفس له آزمینته[2] نفس آدم دَی را یستلی له بهښته
چه پکښې دَ دواړو کَونو مراد مومې هغه چار دِ تر نظر لاندی کا زشته
د کیمیا د بوټی گل کله مونده شي چه د پښو تَلی گلگون نشی په غوښته
د سړیو په غفلت پوری حیران یم چه په گور کښې توری خاوری هونبره نشته
بیا به څله څوک طلب دَ دنیا کاندی چه ئې خلاص نه وي یو دم د کار له کښته
که تر سر لاندی بالښت کښیږدی دَ پرونو عاقبت به تر سر لاندی کاندی خښته
د دنیا مینه په مثل د خارښت ده هیڅوک نه وینم خالی له دې خارښته
د صحرا په کاڼې رخه[3] د شیطان شوه عیسی سر په مځکه کښیښود له بالښته
د زړه مینه په مثال لکه پتنگ ده چه د گوی څښتن وَهَله هورته رغښته
غم ئې واړه د آشنا دَ بیلتانه دَی
د خوشحال څه سریکار شه له جوړښته

څه به ووایې خوشحاله له تکمیله له کماله
دَ هغه مرغه څه نوم دی چه په اورکښې لَری ځاله
هم بیچون هم بیچگون دی هم بې مثله بې مثاله
هم بې سره هم بې پایه بې وزره هم بې باله
په یَوَه نفس آلوزی څو عنقا درومی څو کاله
دَی میوه د هغه باغ خوری چه ئې ونه نا نهاله
چه په دا مشکل خبر شې[4]
ځان به خلاص کړې[5] له جنجاله

څه دَ بدُو بړغ وُ چه ماښام را باندِی وه شه تندر وُ یا توپ وُ پرې مِی تخنی تخنی زړه شه
څه خوښی دَ ده وه، چه بیا ژر پسی اندوه وه چا وې چه په رنځ کښې معظم[6] په خوب اوده شه
دا ژوندون هیڅ نَدی چه می ساه وینی دا خلق زه په ځان پوهیږم اوس می کار لکه دَ مړه شه
ما وې زړه می سنگ دَی، چه په هیڅ به نرم نشِی راشه که ئې گورې په ژړا ژړا اُوبه شه
ما دَ معظم په لیدو مینه ماته نه کړه: څه دَ قضا رنځ وُ په هفته کښې څه وُ څه شه
رنگ ئې تر خوی ښه وُ، خوی ئې لا ښه وُ تر رنگه گل وُ دَ گلابو شگفته شه نور په تله شه
دریغه دریغه که ئې مرگ په بد لیده وی څو به می پرې ورکړل ولی مرگ میلمه دَ ده شه
زور و ستم نه وُ، نه څه جنگ توری نیزې وې بل علاج ئې نه وُ، دَ ده مرگ دَ خدَی په کړه شه
زه یواځِی نه یم ډیر عالم پسی کباب دَی آه دَی پسی کیږی روزی نه وُ روزی نه شه

---

١. چه تعینه دا هاړ گرمه سیلۍ شي په چمنن کښې.
٢. دا بدله په چاپی نسخو کښې نسته.
٣. حسد، کینه.
٤. محشي ورته لیکلی دی، چه مراد له دې همه مذکوره حقیقی زړه دی.
٥. خلاص کا.
٦. معظم د خوشحال خان کوچنی لمسی وُ، چه دا بدله ئې د هغه په مرثیه کښې ویلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه تاریخ ئې راغَی "بې بدل معظم"[۱]
خوشحال د دَه نیکه دَی، دَ نیکه ئې داغ په زړه شه

څه لَرَه زړه می وړې چه دَ زړه ساتل دِ نه زده[۲] — مست یم مستی کړمه ګنه هر هنر می ښه زده
تل په اوښیو وینو همیشه ژړا آهونه — نور را خبر نشول یا می سترګو یا می زړه زده
ذکر فکر نمونځ روژه طاعت ور لَره بویه — شیخ ملا زاهد عابد صوفی په میُو څه زده
کله دَ طوطیانو په ګفتار کښ دا لهجه ده — راشه که ئې ګورې زرکِې تا کله دا تله زده
روغ عالم به چیری دَ دردمن په حال خبریږی — درد چه په چا تیر دَی په دردمنو هم هغه زده
څه زړونه ئې وړی ستا بارخو پریشانی زلفو — ښه وه دا خبره چه یا غله زده یا ئې مله زده
ستا دا سور پیزوان چه فتنه ګر دَی بې حسابه — څو رنګه فتنې چه دَ جهان دِی واړه ده زده
چیری به له دِله یَو ډک مهر را بر سیر کړې — تل دِ که دا هسِی دلاسې تشی په خوله زده
څه پوښتې خوشحال دَ بیلتانه په اشتیاق کښ
سترِی په منزل پوهیږی تږَی په اوبه زده

څه غم د نعمتونو چه اختر راغَی درویشه[۳] — په طمع په امید اوسه دَ هر غنی له ویشه
یو ګل می په دا باغ کښ ناګهان په نظر کښیووت — عجب ئې خوشبویی وَه تر هر ګلؤنو بیشه
چه ما وکړه پوښتنه دغه ګل له حقیقته — ده کړی تحمل وُ د یوه اَغزی له نیشه
نافې چه له اوله خپل ځګر وَکړ سرې وینی — له ورَوسته ئې روانه خوشبویی شوله له ریشه[٤]
په څو به دَ ویشتلیو لا احواله نه خبریږې — چه هیڅکله دِ نه ده چیری پښه په اغزی ریشه
له دو اویا مذهب سَرَه به ساز وکړې له دله
خوشحال که خبر شې په تحقیق دَ عشق له کښښه

ځان چه پیژنی که ګورې ښه هغه — چه ناحق په ځان غره دَی څه هغه
واړه زړُونه فراغت وی په ښادی کښ — چه په غم کښ مردانه شِی زړه هغه
سلامت لَره ئې نور عالم پیدا کړ — ملامت لَرَه چه روغ دَی زه هغه
یا یاری یا اغیاری دَه که ئې ګورې — په دا دوه کښ نه ته دا شوې نه هغه
چه تر تا نه وړاندِی وروستو ځی مله ندِی — چه په لار در سَرَه سَم ځِی مله هغه
چه په عشق سَرَه ژوندِی دِی هغه نه مرِی — چه بې عشقه ژوندِی ګرزِی مړه هغه
چه دروغ تر خوله وَ باسِی کله خوله دَه — چه رشتیا تر خوله وَباسِی خوله هغه
هیڅ حجت له هیچا مه کوَه خوشحاله
هر چه تا وته څوک وایِی ته هغه

ځما عشق په هغه شان دَی لکه وه[٥] — ستا خاطر هغه سندان دَی لکه وه
که ته هر څو بد قولی او بد عهدی کړې — قول عهد می همان دی لکه وه
خر خنبې دِ لکه وې په هغه شان دِی — فتنه ګر دِ سور پیزوان دَی لکه وه

---

۱. کلمات دَ "بې بدل معظم" د ابجد په حساب (۱۰۹۸) راځِی، چه دغه نو د معظم د وفات سنه ده.
۲. تا د زړه ساتنه نزده — مست یم می پرست یم ګنه.
۳. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
٤. له خویشَ.
٥. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ رقیب خبره مه نغوږه اې یاره
چه رقیب هغه شیطان دَی لکه وه
دَ ښېو په ناوکیو دِ غلبیل کړ
نښانه می درته ځان دَی لکه وه
په خاطر باندِې می دَغ دَی ستا له لاسه
ولی هسی بې درمان دَی لکه وه
بل گمان فکر خاطر لره در موږه
خوشحال ستا دَ بندگان دَی لکه وه
چه دِ زړه هسِی پرې ناز کوهٔ دلبره
په خوشحال دِ خاطر گران دَی لکه وه

دَ اسمان په حکم څه فتنه بر پای ده
نزده چا چه قراری ئې په کوم ځای ده
بندیوان ئې اورنگ زیب لَرَه روان کړم
ننداره می په هر ښهر په هر سرای ده
پښتانه می چه حال وَوینِی کباب شی
په لیده می دَ هر چا ژړا های های ده
لوی هلک می نندارو لَره را درومی
دَ هندو دَ مسلمان ناره وای وای ده
زه هر چا وته موسیږم ترې تیریږم
چه دَ واړو اندیښنه راته نمای ده
نه یواځِی په ما ظلم، ستم وشو
زمانه دا هسی تل کا پخپل رای ده
په هر ځای می په څوکیَ راځِی فوزونه
دبدبه می دَ مزری یا دَ همای ده
په وَلاړ کښې هاتی شمار په یوه غره دی
اوچه پریوزِی په دوه غرونه ئې آوای ده
زړه می درست سوری سوری لکه غلبیل شو
محرومی دَ لیدو بده غم افزای ده
گنُدِی وِی چه بازی بیا را وَجار وزی
همگی عالم وَیل کا چه اوس بای ده
که په اور کښې دَ سرو زرو وَښی پریوزی
عیب نشته پدا کار کښې ئې جلای ده
نورِی واړه تکئې تار په تار خپرې شوې
دَ خوشحال ختک تکیه په یَوَه خدای ده

دَ جهان خوښی همه دَ هغه کس ده
چه میشته ئې دَ محبوبی په جوس[1] ده
دَ ښه مخ له نندارې چه نظر نیسی
که ئې گورې هم دغه هوا دَ نس ده
که سوگند راځنی غواړې هم به وکړم
تر اول می پتا مینه یَو په لس ده
ډیری مینی آشنایئ څه په کار ندِی
یَوَه زړه لَره یوه آشنائی بس ده
چه دوه ښه خواږه مَین سَرَه دلگیر کا
دَ غمازُو وینا څه دَ سترگو خس ده
بې پروا بې فهمه مه راځه خوشحاله
په پالنگ می ډیره ویره دَ عسس ده

دَ عشق بخره ازلی دَه په جنگ نده
په کتاب په مسئلو په فرهنگ نده
په قسمت ئې له ازله دَه راوړې
دا دَ سولو بخره اوس دَ پتنگ نده
خلقې ئې سَرَه درغتی[2] ککر کړې
لا دَ مستی دَ غمزې توره رنگ نده
تل دَ یار دَ صورت نخښی پکښی گوره
له دنَنه آئینه دَ زړه رنگ نده
دا پیاله چه ما نوشلې دَه پرې مست یم
دا پیاله می دَ شرابو دَ بنگ نده
دَ اغیار سَرَه یَو دَم ناستی ښه ندی
هیڅ خپلوی می دَ زجاج او د سنگ نده
دَ گلونو په موسم کښې هغه خوار شول[3]
چه گلرنگه معشوقه ئې تر څنگ نده
لیچی څه لَره غړی توره وکاږِی
که دَ خوارو دَ وژو په آهنگ نده

---

۱. محشي دې کلمې ته په قلمی نسخه کښې جکوځه او غولی لیکلی دی.
۲. ټولی، له یوې خوا.
۳. هغه گرم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زه نه یم لیونَی په آهو سترګو    مسله می دَ آهو پسِی لنګ نده
کله کله خوار خوشحال وَته نظر کړه
دَ عاشق نمنځنه هیڅ عیب و ننک نده

دَ مجاز عاشقی عین حقیت ده    وَ هغې ته زینه ینبې دَ صورت ده
تر ثرا تر ثریا که فهم وکړې    په څلور کنجه غوغا دَ محبت ده
په جهان به هیڅوک نه وُ که عشق نه وِی    دبدبه دَ عشق قائمه تر قیامت ده
چه په مینه کښں یو زړه او یو زبان وِی    تر هر چا دَ هغو چار په برکت ده
دا یوه وینا دَ زړه په غوړو واروې    چه بهتره دَ اورنګ تر سلطنت ده
سر دِ درومی مال دِ درومی پت دِ نه ځی    د سړی د چاری کل خوبی په پت ده
چه یَو ځله زړه دَ چا په مینه بند کړې    په شلول ځنی کمی دَ مروت ده
چه د نیت علطی لَری بلا به ورشی    تر هر څه بده بلا غلطی دَ نیت ده
چه ئې خدای ورکا وَ چا شکر دِ کاندی    په جهان کښں لویه بخره دَ همت ده
په تیره الماس دَ پاسه قدم ینبی    یوه څه باریکه لار دَ شریعت ده
چه کښو ته نصیحت وایې خوشحاله
وایه څه فائده ستا دَ نصیحت ده

دَ سپیرو خاورو غوغا ده    چه پکښې غورزی هوا ده
و حباب وته وګوره    څه دِ نوره تمنا ده؟
ګمان نکړم چه به ستا شی    دا چه ته وایې ځما ده
چه به کانده فنا کیږی    کانده نده نن فنا ده
دَ هلکو لوبی ګوره!    سرشته دَ هر چا دا ده
ته لا طفل دَ اوښی یې    که دِ بِدیره کربلا ده
دا درګاه یوه بوډیَ[1]    ګه خندا ګه د ژړا ده
چه ئې یو ځله اړاند کا    دا هم لویه تماشا ده
راشه وګوره په سترګو    چه دَ چا وه اوس دَ چا ده
خو یو وهم خوب و خیال دَی    کوم ژوندون کومه دنیا ده
دَ نور چا نده خوشحاله
ستا دَ خولې وینا هم ستا ده

درته چا وې چه دَ یار سرَه جفا کړه    دَ اغیار سرَه وفا، مهر خندا کړه
چه دَ پله خاوری دِ سترګو لَره غواړی    دَ هغه سرَه فتنې جنګ و غوغا کړه
هغه ته یې چه له ما دِ محبت کړ    که غه هونبره مینه ما سرَه نور چا کړه
که په اور می کښینوې په اور به کښینم    چه دِ ځای په سترګو کړم راته دِ شا کړه
دَ بادشاه دَ ګدای څه وُ دَ یاریَ    څه کړم خدای می ستا په مخ مینه پیدا کړه
که ځما په مرګ دِ زړه دَی تیغ را واخله    دَ قصاب غُندی مِی بند په بند جدا کړه

---

۱.  دَ ځائی یوه بوډیَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خوشحال څه جیواری د سبکل نه یم[1]
دَ دنیا خونه می ستا په مخ بیدیا کړه

د ماړه تر فهم هیڅ نده غنمینه
ولی وږی ته حلوا ده اوربشینه
په تونگو باندِی اطلس لکه شړیَ وی
په نادار باندِی شړیه ده وریښمینه
وَ مجنون ته دَ لیلی خبری وایه
نه له علمه، له مذهبه، نه له دینه
هغه خدای چه دَ هجران غمونه را کړه
که دَ وصل ښادی را کا توان لرینه
خدایه کله به دیدن دَ آشنا را کړې
چه به زه پرې ماتوَم دَ زړگی مینه
یَو ځل بیا په حیات لولیدی په سترگو
بیا له پسه لکه مردن وِی هم دِ وینه

نمر په کوم لوری پریوزی چرته خیژی
په خوشحال باندِی یوه شوه توره سپینه

دَ گلونو قدر چا زده
یا بلبلی یا بورا زده
په جهان کښې به یَو یوَ وِی
چه هنر ئې دَ کیمیا زده
چه وفا ور ځنی غواړې
بې وفا کله وفا زده
که جهان در خبر ندَی
ما په تا زده تا پما زده
ته ښادی کړه زه به غم کړم
تا خندا زده ما ژړا زده
رنگ دِ ښه دَی خوی دِ بد دَی
زه خوشحال یم ما رشتیا زده

دَ صبا باده گذر په چمن بیا کړه
په چمن کښې رنگارنگ گلونه وا کړه
زه دِ توان دَ خرخښو لرلَی نشم[2]
که دِ زړه ځما په مرگ دَی دا ادا کړه
بې نیاز څه خبر له نازه چه ناز څه دَی
ستا دَ سترگو بلا واخلَم ناز پما کړه
زه له خپله بخته چا وَته فریاد کړم
چه پرُون ئې راته مخ وُ نن ئې شا کړه
خوله می ډکه شوه په شهدو په شکرو
چه سحر می ستا دَ لام و بې[3] ثنا کړه
عاشقی که سرا سر واړه بلا دَه
ما په ځان دَ زړه قبوله دا بلا کړه
زه خوشحال کم زوری نه یم چه به ډار کړم
په ښکاره نارې وهم چه خوله ئې را کړه

دَ دانا په ځان بلا شوه خپله پوهَ
چه هر گز ئې خالی نه وِی له اندوهَ
چه فلک وَ چا ته عیش و عشرت ورکا
هونبره ډیر ورباندِی کښیږدِی څو ستوهَ
کله ونه دَ خزان په وخت لغړه
کله بیا خوبی دَ پاڼیو پرې انبوه
په ناحق ئې په میدان په سَمَه غواړې
چه دَ غرونو غرڅه نه گرزِی بې کوه
چه می ولیدې څو خولې هونبره خبری
را څرگند شول واړه دو اویا گروه
پخپل زوی او ورور باور نشته خوشحاله
غافل مشه دَ جهان له مکره دروهَ

---

۱. د دې مسرئ معنی حل غواړی. په بله نسخه کښې دا بیت په دې ډول دی:
خوشحال نه دیوالیا نه قمار باز دی          د دنیا خونه ئې بیا تالا تالا کړه
۲. د خرخښو لرم چه کړې ئې.
۳. ل او ب: لب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسته شپه دِ په کوڅه کښې مرم له سوړه　　لاس مې مات شه که دِ نکړم روړه بوړه
ته په څو بې غمه خاندې خوشحالي کړې　　ځما غاړه په ژړا در پسې بوړه
هم مې بې حسابه پورې کړه په سترګو　　دَ رنجور غُنډِئ مِې بیا له سترګو توړه
ستا دَ خوی دَ زلفو کار سَرَه یو رنګ دی　　سر هوا لوئی دا هونبره سَمَه کوړه
حال دِ واړه وار په وار راته معلوم شو　　تګه یاره په زړه تریخه په خوله خوږه
ځما یار چه میخوری کا په بدل ئې　　ولی ما لَره راځه دَ درُدو روړه
پکښې زړه دَ خوار خوشحال دَی چه خوږ نِشی
ډمې ورو ورو دَ شهئ زلفینی نموړه

دَ ناکس له آشنایئ توبه توبه　　دَ شونتېئ[1] له روښایئ توبه توبه
چه پردې ئې په الماس جراحان پریکا　　له دې هسې بینایئ توبه توبه
چه وَلَور ئې په زرګونو جن بدرنګه　　له دې هسې کتخدایئ[2] توبه توبه
چه په جهل و حماقت دانا ځان بولی　　دَ احمق له دانایی توبه توبه
دَ سفله دِی دَ سفیه دِی واړه توکی　　له خودئ خودستایئ توبه توبه
له هزار رنګه شیخی، زهد، تقوا کا　　دَ جاهل له پارسایئ توبه توبه
چه عمل ور سَرَه نشته تش وَیَل کا
دَ خوشحال له ګویایئ توبه توبه

درخو[3] خود په آدم خان باندِی شیدا وه　　تر دا منځ دَ میروګی ژبه بلا وه
چه په منځ کښې دلال نه وِی وصال نه وِی　　په مجنون باندِی مَیَنه که لیلا وه
پخپل یار پسې ژړا ننه په زړه کښې　　دَ عالم سَرَه په زور ځما خندا وه
چه غوټئ ئې شګفته کړه په چمن کښې　　که د زده دا چاره واړه دَ صبا وه
چه ئې ګل دَ بهار ستا وَ مخ ته ونیو　　ستا دَ مخ خوبی تر ګلو لا زیبا وه
هونبره رنځ محنت آفت ځنی پیدا شو　　څو ځما دَ خوار خاطر مینه په تا وه
دا نن شپه چه په ما تیره شوه بې یاره　　ته به وایې په دوږخ کښې مې مأوا وه
نن خپل بخت را سَرَه درسته مخامخ کړه　　چه پرُون راته یکلُخته شا په شا وه
ما وې زه یم چه پیاله لَرم په لاس کښې　　ولی دا پیاله په لاس کښې دَ هر چا وه
بس چه بیا ئې ستا جمال په نظر کښېوت
دَ خوشحال خټک د زړه ځله[4] همدا وه

دَ یوه بادشاه په حکم شوم اګاه　　امر نهی مې قبول دِی دَ بادشاه
یا مهدی یې یا عیسی چه را ښکاره شوې　　په جهان دِ غلغله وشوه ناګاه
دَ مهدی او دَ عیسی دَ وړاندی څه دی　　هم د جال هم دَ دجال واړه سپاه
خیر آباد لَرَه دِ رایشی لښکره　　چه احوال دَ غلیمانو شِی تباه
چه خیبر لَرَه ما بولې قضا کیږِی　　ډیر کارُونه هم په حضور یم دَ درګاه
خواه ناخواه که امر دا دَی چه را درمه　　دا بنده به در روان شِی خواه نا خواه

---

١. یو راز لرګی دی، چه د ښراغ پر ځای ئې د روښا دپاره لګوی عموماً د لرګو ښراغ ته هم شونتېئ وایی.
٢. کد خدایئ.
٣. درخو او آدم خان په پښتنو یوسف زو کښې دوه مینان وه چه په عصر کښې د مغولی اکبر پاچا تیر سوی دی، میرو ئې ریبار وُ.
٤. هیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارنده دَ عریضې ځما دَ لوریه
زبانی خبری هم لَرِی همراه!

د سپی غُل د دروغجن په خوله کښ تل کړه
په رشتیا خبرُو خوله دَ سړی کښبُل کړه
هر عمل چه سړی کا مضمر به نشِی
درته چا وې چه لوګی مکړه اوربل کړه
که پوهیږې چه دَ بل جهان حساب شته
ته پدا جهان نظر پخپل عمل کړه
ستا د خولې چینه حنظل دَه هم عسل ده
وَ هر چا ته تویَوَنه دَ عسل کړه
چه دَ دین دنیا کارُنه درته پیښ شی
دَ دنیا تر کاره کار دَ دین اول کړه
چه دَ مښکو دَ نافې شمیم را خپور شی
را څرګندی توری زلفی تور وربل کړه
ساقی وخت دَ نو بهار دَی شراب راوړه
دَ شرابو سرَه نقل دَ خولې مل کړه
نن خلل دَنَی اومَی مکړه زاهده
چه موسم دَ بهار تیر شِی بیا خلل کړه
چه یَو دم دَ عشق له اوره خالی نه وِی
خدایه څه د دَ عاشق ټټر منقل کړه
ستا دَ مخ په دَور زه جهانګیر شاه یم
راته کښبینه کرشمې د نور محل کړه
ستا دا توری سترګی خو توری بلا دی
درته چا وې چه ئې توری په کجل کړه
که هزار ځله شیخی کوې خوشحاله
چه ښه کښلی در نیژدې نور ئې کښبل کړه

د ښایست سرَه سل نوری چاری بویه
چه عاشق په ځان مَین کاندِی مهرویه
تل دَ مښکو بوی روان په بستر نه وی
دریغه دریغه دَ مهرو یو ګفتګویه
عاشق یو لکه لیوه په شمال پائی
بل په غټی سترګو خوب کا لکه سویه
په سبا پسی ئې مرم نه سبا کیږی
دَ هجران شپه ئې پما سوه تر کال لویه
ځما دواړه سترګی جوی ته سبرقد یې
سبرونه جدا ښه نده له جویه
اوس دَ جونو هوس مه کوَه خوشحاله
پښتنې جونه ترهیږِی له دوه مویه

دَ لیلې دَ مخ ښو ډیره زیبائی ده
دَ مجنون ور پسی هونبره رسوائی ده
که می سل هنره کړل تر سرَه نشول
یوه څرنګه نا بوده آشنائی ده
چه دَ سترګو ئې تقوا سره میرخی ده
په ناحقه می نیولې پارسائی ده
چه ئې سیوره په ما وه لکه بادشاه وم
ستا دَ تورو زلفو سیوره همائی ده
په وار وار را ښخه یوویل عاشقیه
که هر ښو را ښخه پوهه دانائی ده
چه نه مهر نه تپاک نه پکښی شناخت شته
تر دا هسِی وصل بِه جدائی ده
دَ خپل یار په مخ اوس ندی مین شوی
د خوشحال په زړه کښ دا مینه ځائی ده

دَ دنیا دَ سود دَپاره کوڼ او کوره
څه خو شرم مروت وته وګوره
په درست عمر هغه ځای ورپسی غواړې
چه دِ پریوزی له پلوه چرته توره
په زړګی باندی د توره سوی داغ شِی
چه دِ توره یا پیسه ووزی له کوره
د لوی غره کنډی پتا باندی پریوزی
چه دَ کوره دِ ډوډِی وزی نان کوره
دَ دنیا مینه پتا باندِی دریاب شوه
ته پدا دریاب کښ ډوب لاړې هر ګوره
که پدا دریاب کښ هر ښو لانبوزن یې
عاقبت به پکښی بیا پریوزې له زوره
که هر ښو پخپل حرص کړې دنیا ټوله
دا به واړه دَ اجل سیلئ کا خپوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

گورستان لَره به هسی شان مفلس ځې لکه وَزووې اول له خپلې موره
چه ئې خوښه عقیده دَ قلندر شوه
خدای به نکا دَ خوشحال عقیده نوره

دا ښه گل چه ئې کمی دَ جمال نشته دَ وفا ئې حیف دا دَی چه حال نشته
که وفا بقا ئې هم وَی څه به ښه وُ دَ ښایست ئې پدا دور څوک سیال نشته
عالم زړه په هیڅ خورسند کا چه وصال وی دَ هر چا بخره هجران دَی وصال نشته
چه ئې وصف دَ جمال کاندِی تر سره هر چا زده دَ واصفانو مجال نشته
منو نه منو نه ظلم جور پکښې پروت دِی دَ ناترس خاطر ئې مهر مثقال نشته
دَ خمزې په تیغ عالم وژنی غم نکا ته به وایې چه ثواب دَی وبال نشته
لکه ډک په ښو گلونو په هر کال وُ دَ دې باغ هغه گلونه سږ کال نشته
راته څه وایې چه یار پتا مین دَی مختصر به درته وایم څه حال نشته
ما خوشحال وَته په زوره نارې وکړې
چا وَ ما ته ځواب راکړ خوشحال نشته

دَ غلیم سرَه به نکا مکر دوره مگر ډیر تر بلا تیر په عقل پوه
بد خوئی به دَ خپلوانُو سرَه څوک کا چه پخپله پخپل ځان پسندی اندوه
ما چه ولیدَل اتلس زره قومه دَ خپل ذات سرَه الفت کا هر گوره
دَ محنت په وخت یَو مل را سرَه نشته دَ راحت په وخت زرگونه وُو انبوه
په خوښیه کښې زاړه لکه زلمی شی ځوان زلمی تر زاړه لا کاندِی ستوه
دَ گزار په ځای اوس نه وینم هوسیه په ځوانی مِی له کبلیَ لیده په کروه
غر به هم لکه ویښته هسِی نرَی کا
که غمونه دَ خوشحال کښیږدی په کوه

دا تاو تاو زلفی ښکاره کړه تر نقابه[1] چه ځار ځار ئې شم له هره پیچ و تابه
زه چه چیری تا ته سوال کړم ته ښکنځل کړې نور به څه غواړم تر دا خاصه ځوابه
د سمند سمونه سرَه په وینو درومې گوره بیا دِ چا مینه کړه خرابه
تا به هسی بې صرفه قتلونه نه کړَل که دِ ویره شوَی له خونه له عذابه
لکه څوک چه له تیرو تورُو ویریږی هسی ډار کوَم زه هم ستا له عتابه
چه د کښلی زیبا مخ نظیر دِ غواړم په نور څه می نظر نشِی بې آفتابه
که فتنې او خرخښې د کښلیو دود دی نه چه هسی هونبره ډیری بې حسابه
زه خوشحال که له تا خواست کړم مستحق یم
خوله زکوة راکړه د حسن له نصابه

۱. له نقابه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځما زړګی پخپل زړګوټی[1] نَسه[2] ... چه دی زړه دَی ځما زړه هم هسی کَسه[3]
دا دَ وړکیو خوی دِ څه ونیو په لاس[4] کښی ... چه زر زر څه ورکوی بیا ئې رانَسه
زه په هیڅکله د تا له وره وانوړم ... که هر څو وایې چه مه راځه ناغسه
که هر څو دَ شندی[5] ګل څه ښه لیده شِی ... روخ ئې ندی چه سیالی کا له نرګسه
چه ئې تل وغوا و غیلو[6] ته سورې دی ... خدای دی واخله دَ بیدردُو مجالسه
هر دم دار ئې پخپل کار کښی دَی خوښ کړی ... که سرِی دی که پیری که کوس[7] وغسه
چه یو هم دَ زړه ساتونی پکښی نسته ... توبه توبه دَ ختکو له اولسه
زه خوشحال چه په مزریو باندی تیغ[8] کړم
تا ته څه رنګه ګیدړ شوم رترومی[9] کسه

دَ جهان په مخ به ډیر وِی ښه مخونه ... ولی زړه می ستا وَ مخ ته وکړ خونه
کله کله میِ له حاله خبر واخله ... که دِ چیری اندیښنه کیږِی له خونه
دَ فراق په شپه سور کټ په ما سور اور شِی ... یَو زمان می باندِی نه لګِی اړخونه
په ښو می زړه وَ سترګو ته راګاږی ... لکه مست لَرَه کباب ځِی په سیخونه
نو بهار ئې په راتَللو شګفته شی ... دَ لاله ترګلو ښه لَرِی بارخونه
څو غمزې ښیوې فتنې جلوې مانې کړې ... هونبره کیږِی په خوارانو شواخونه
که دا سرې شونډِی دِ لعل غاښ دِګوهر دی ... شرارې دِی سات په غاښو کښی میخونه
توری زلفی دِ په لیچو باندِی زانګِی ... ښاماران دِی دَ چندڼو په ښاخونه
چه ئې یو زمان له سترګو جدا کیږی
دَ خوشحال په مخ دَ اوښیو ځِی ورخونه

دَ جهان په مخ به نه وِی هسَی تا غُندی دلبره ... پریرویه، عنبر بویه، سنبل مویه، سمنبره
ګلعذاره زلفی ماره شهسواره خوش رفتاره ... باده نوشه میفروشه قصب پوشه مو کمره
دلنوازه سر فرازه عشوه سازه لعبت بازه ... خود پسنده سر بلنده شکر خنده لب شکره
طربناکه ګریوان چاکه تَل بیباکه تش تپاکه ... خود آرایه خود نمایه خود ستایه خوش هنره
غزلخوانه خوش الحانه دُر دندانه لب خندانه
عنبر خاله پُر خیاله تل خوشحاله دَ زړه غوره

دَ چمن په لوری وخوځه له کاخه ... چه ګلو نندارِه شِی انتساخه
ګل چه ستا تر لاسه دراغی تازه شو ... لاس دِ لا لَرِی شرف دګل تر ښاخه
غنچه ګل ستا له خولې سَرَه سیالي کا ... خوله ئې باد په طماچه کړله فراخَه

---

۱. زړګوټی کس.
۲. دا بدله په جاپی دیوان کښی نسته.
۳. هسی نس.
٤. په لاسو.
٥. یوه ونه ده چه ترخه میوه لری په هندی ئې پکائن بولی.
٦. چه ئې تل د غوا د غیلو نه بیور دی.
۷. د دی کلمی معنی نسوه را ښکاره.
۸. تیغل یعنی د آس تند ټوپ.
۹. عیناً ولیکل سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښه ممخ خوبی دِ ښه دَه لا تر گله   په زړه هم سختی لرې تر سنگلاخه
چه تر اور تر اوبو وزی هاله ور شِی   سور پیزوان د ستا[1] د پوزی تر سوراخه
غه خبرې چه بې ستا له مخه کیږِی   له هغو خبرو ونیوَی صماخه
په بیمارُو سترگو تل پهی[2] کښیښوې شی
د خوشحال په لیمو پښه کښیږده گستاخه

د خوبا له بې نیازیَ سل آوخه   چه ځما له کاره تښتې په فرسخه
د یاریَ په کار و بار کښ فهم وکړه   چه را نه شِی د بدانو سینه یخه
ځان او زړه صبر آرام ئې له ما یووړل   له ژوندونه خو هم دا څه وُ را څخه
که جهان په تا ښندم ته ئې قبول کړه   دَ میړی په لاس خو پښه ده له ملخه
هر چه نن د محبت په اور وریته شول   ترو ئې کله پروا کیږِی له دوږخه
ډیر بندی ئې د ذلفینو په کمند شول   کله وِې چه به دوې خلاص شِی له دې پخه[3]
خوار خوشحال چه پکښ پریووت وتَی نشِی
څه بلا یی دَ شهیَ چاه زنخه

د شرابو مستی زر شِی نیست و هسته   لا یزاله مستی نه درومی له مسته
چه می نوم په جهان لاړ شو د رندیَ   د رندیَ کار به نه پریږدم له دسته
که بادشاه ئې په زندان کا غم ئې نه وِی   د آزادو آزادي دَه له السته
نه یاری شته نه خپلوی واړه غلول دی   چه خبر شوم د وگړی له بربسته
د ښادیَ په امید اوسی په غم کښ   تل په شپه پسی را درومی ورځ پیوسته
د مقصود د گوهر په لوی درباب کښ پریووت   غواصان پکښ غوټې وَهِی په مرسته
په ادراک له قعره نه گوری ساحل ته   هغه کب چه ویره وَوینِی له شسته
د عاشق خاطر او خیال لکه درباب دَی   چه څپه ئې کله لوړه کله پسته
د خوشحال له زړه د یار محبت نه ځِی
لکه مینه د خپل بت له بت پرسته

د سبا نسمه! راشه[4] وگلشن ته   د گلونو انتظار دی شگفتن ته
زاهد څه خبر له عشقه چه عشق څه دی؟   د گلزار له حاله څه وایې زغن ته
زاهدان چه په پنځه وخته سجود کا   زه دایم په سجده پروت یم ووڼن ته
د لیدلو په ننداره ئې نه مړیږم   که هر څو په ځیر ځیر گورم و دیدن ته
ته خوبا، د شقایق په زړه کښ داغ ږدې   چه په شن[5] شین درومې و چمن ته
قهر مهر دِ د ورځیو په منځ وینم   د جبین تخته دِ ینبې و لوستن ته
کله جنگ و خرخښې کړې کله مهر   زه په زړه ساده حیران شم هونبره فن ته
که د ما په مرگ دِ زړه دَی دایم زه هم   ستا جفا جور نزدې کړم و مردن ته
اوس دِ اور را باندی بل کړه په ستنه[6] شه   چه لوگی دِ ننه نه وزی پیرهن ته

---

۱. دَ شاه دَ پوزی.
۲. پتهیَ.
۳. محشی زندیَ تر لاندی کښلې ده، مگر په بله قلمی نسخه کی مخ لیکلی دی.
٤. زر راشه گلشن ته.
٥. تر دې کلمی لاندی محشی ناز او خیال کښلی دی.
٦. ستنه یعنی واپس او تر شا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تل ستا له لاسه توره د ستم وی
ما خوشحال قبوله[1] کړې وګردن ته

دَ ښايست په کار کښ نه لرې څوک سياله
دَ ياری په کار کښ نه يې هونبره[2] ساله
هونبره کبر خيال چه ستا دَی دَ چا نه دی
څو به زار کړم ستا له کبره ستا له خياله
ستا په تش ليدو ځما دَ رنځ علاج شِي
کښه مرمه وَويريږه له وبا له
تا ويشتلَی يَم پخپل ګزار پوهيږې
چه دَ سترګو دِ ګولۍ دِی څو مثقاله
پرې د صبر پهی ږدم واړه خسا[3] کيږِی
چه په زړه باندِی مِی داغ دَی ستا له خاله
جګی جګی ماڼی مه کوه پخولا شه
خرخښو فتنو دی زه کړم بې مجال
خرخښو فتنو دِ مرګ وَته نيژدې کړم
چه يَو دم را سَرَه نه يې بې جنځاله
راته ګوته ښوروې نا خواله وايې
حال به وَوينې دَ مورِ دَ ځان زواله
دَ خانی دَ توری ځای نشته په عشق کښ
معشوقې وته مريَی اوسه خوشحاله

دَ يار غم به په تنها صورت زغممه
دا بيدرد عالم به نه را خبرومه
چه دا اوښِی مِی غمازی دَ فراق دِی
زه ئې ځکه په ګريوان کښ تويَومه
هميشه ئې پدا فکر درمانده يم
چه دَ خورِ خاطر علاج په څه کومه
ملامت ئې دَ عاشق دَ سر بګړی دَه
دا بګړی له سَرَه چرته اچومه
دَ هجران دَ آتش لا لمبی تازه شِي
څو دَ صبر اُوبه زه پرې پوړومه[4]
آشنائې له جدايَی سَرَه ښه ده
دَ مرهمو قدر داغ څخه ګڼمه
له طبيبه خلق هيله دَ شفا کا
زه خسته دَ خپل طبيب له لاسه مرمه
ياره ته چه جدايی جدايی وايې
زه خوشحال دَ دې خبری توان لَرَمه؟

دلربا پسره راشه
ای زيبا بشره راشه
چه دَ ښهر ښايسته دِی
تر هر چا بهتره راشه
سر تر پايه واړه ناز يې
ځما ناز پروره راشه
په خوږو خبرُو شهده
په خندا شکره راشه
چه دِ نه وينم هيڅ عيب
تمامی هنره راشه
توره شپه دِ توری زلفی
په ښه مخ سحره راشه
دَ راتلو لاری دِ ګورم
ای ځما دلبره راشه
څه به وايم چه بې تا مرم
ای په زړه خبره راشه
چه پسو تر و تازه ځې[5]
د چنډن شجره راشه
چه دِ نه وينی نور ړوند شی
دَ خوشحال بصره راشه

١. ما خوشحال ده قبوله کړې.
٢. محشی ميانه ورته کښلی دی.
٣. يعنی بدبوی او متعفن.
٤. په خوله او په نفس سَرَه اوبه څاڅکی څاڅکی پاشل.
٥. يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه شونډې کړه په بیارَته — دُر ریزی وکړه خپل یارته
زه چه ستا و مخ ته ګورم — زړه می نه کیږی ګلزارته
ګل له شرمه خولې پریږدی — چه نظر کا ستا رخسار ته
که می وار دربانډی جوړ شی — منتظر یم و خپل وار ته
ګله دا دربانډي[1] ښایی — چه ځیر ځیر ګوري و خارته
که وفا کا که جفا کا — ںار، دم مه وَهَه اغیارته
آئینې وته نظر کړه — که دِ مینه شِی ګلزارته
راز وَ چا ته کړی خوشحاله
چه دِ نه ګوری څوک راز ته

دَ دلبرُو په ستایَنه — ما پخه کړه خپله ینه
ناترسی دَ دیو ګوره — چه په حال نکا پوښتنه
زه به ولی هسی خوار وم — که دَ حال وَی ګویږنه[2]
تل ئې خیال دَ تورو زلفو — شندی کا په زړه دننَه
چه جمال ئې را په یاد شِی — لاله ګل ته کړم کَتَنه
دَ زړه سود دَ ده دَ قد کړم — په شمشاد په سبروَنه
نه سلام شته نه پیغام شته — نه ئې پیک شته نه ئې ژمنه
په ارمان ئې ورځ و شپه مرم — یوه نه لرَم نیازمنه
سپینه ږیره نده غم ده — ډیره مه کړه لَتَونه
چه نه زر وِی نه ځوانی وِی — عاشقی ده دروغژنه
پدا هونبره ډیره مینه — یوه نه لَرَم میَنه
چه خوشحال نده موندلې
دغه دَی دغه غوښتنه

درسته شپه دی په کوڅه کښں مرم له سوړه — لاس می مات شه که دِ نکړم روړ بوړه[3]
ته په څو بې غمه خاندې خوشحالی کړې — ځما غاړه په ژړا در پسی بوړه
ستا دَ خوی دَ زلفو کار سَره یو رنګ دَی — سر هوا لولی دا هونبره سَمَه کوړه
حال دِ واړه وار په وار راته معلوم شو — تګه یاره په زړه تریخه په خوله خوږه
ځما یار چه میخوری کا په بدل ئې — ولی ما لره راځه د دردو روړه
پکښی زړه دَ خوار خوشحال دَی چه خوړ[4] نشی
ډمی ورو ورو دَ شهیَ زلفینی نموړه [5]

---

۱. وربانډی
۲. ګرویږنه.
۳. که ونکړم روړ پوړ، په دی بدله کښں دَ سوړ، توړ، پوړ، روړ، نموړ معناوی تحقیق غواړی.
٤. چه خوړ نشی.
٥. محشی ورته کښلی دی: یعنی ږمنځوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دم به نه وَهيِ له خپله زورَ زره [1]    كه[2] دِ وَ ويني يار واروي كوره كره
چه وَتا وَته نيژدي شِي هغه تور شِي    په ستنه راځنِی گرزه تورَ تره
يو يو هور[3]دی چه شاهين ځنی آلوزی    مشگيرک لکړِ مکړِ له هوره هره
دَ صبا په ياد نشاط وِی دَ گلونُو    كه جنبش كا دَ بلبل له شور و شره
پيښکښی غواړِی دَ اوښيو مرغلرِی    دا گوهر په دواړُو سترگو وورَه وره [4]
د خوشحال شعر حلوا دَی دَ شكرو
ستا په دا حلوا څه كار غُل خوره خره

دواړه زلفی ئې پريشانی په څوشانه    په جبين خورې ورې په لب خندانه
له مستَی ئې سر تور گريوان شليدلی    صراحی په لاس نيولې غزلخوانه
په خمار ئې سترگی سرې وبله اُوښتی    نيمی شپې را باندِی راغله ناگهانه
سپينه خوله ئې ځما غوږ وته نيژدې كړه    په نرمی ئې دا وينا كړه را بيانه
زه خورې زلفينی ستا په پالنگ راغلم    ته تر اوسه لا اوده يې ځما ځانه
هر عاشق لَرَه چه هسی شاه ور درومی    نور ئې كومه آرزو وِی له جهانه
حو پيالې ئې پياپی وَ ما نه راكړې    دَ توبې پرده ئې واخيسته له ميانه
چه له هسی رنگه حاله خبر نشوې    شيخه څكه ځما چار دَه په تا گرانه
عشق راغلَی دَ توبې په ماتَول دی    هيڅ بدی را باندِی مه وايه نادانه
كه خوشحال غُندِی دی يار باده پرست وَی
تا  به هم كړه دَ توبې خونه ويرانه

دواړه سترگِی می چه ستا په لور دوخته شوې    په لَمنی كښ مِی اُوښی اندوخته شوې
په مانړِی مانړِی ئې خوره مزه ئې اخله    ته ځما دَ زړه په وينو آموخته شوې
په لكونو په كروړونو دِ بها دِی    دَ يوسف غُندی په سهل فروخته شوې
ما وې ته ځما دَ توری شپې څراغ يې    ولی تلې په بله خُونه افروخته شوې
چا دَ اور در لگوَلَی دَی خوشحاله
چه لاله غُندِی دا هسِی دلخوخته شوې

ذرې ته چه هسِی بريښې منوره    كه پوهيږې دا بريښبا دی دَ له نمره
وايې لار دَ ختو نشته وَ اسمان ته    زه به لار درته پيدا كړم بې هنره
دَ عشق شور كه دَ عاشق دَ زړه قضا وَی    له دې شوره خالی مشې ځما سره!
هم دَ  خلقو ملامت هم ستا ناسازِی    دا به شوې چه يار مِی ته نيوې په غوره
راز ئې ولی ښكاروه ښه چه په دار شُو    دَ منصور سزا تر دا ده لا بتره
وير مِی دا دَی چه له كښلو به جدا شم    حه له خپله سَرَه نه دَه ځما ويره
زه به غوږ دَ ناصحانوُ په پند نه كړم    كه ئې اروې دا وينا ده مختصره
وايِی وَمرَه چه دِ زه له غمه خلاص شم    ځما دا دعوه لنډيږِی تر محشره
دَ خوشحال ژړا په دا دَه نور څه نه ده
چه په مهر ورته نه خاندِی دلبره

---

١. دا بدله په چاپی ديوان كښ نسته.
٢. كه ئې ووينی.
٣. محشی ځاله ورته ليكلی ده.
٤. يعنی اوروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه که ئې اروې دا خبره ده نادره:
چه وَواته له سترګو هغه ووزی له خاطره
مرم چه جدا کیږې ته می روح یې که پوهیږې
مه درومه لمانه راته تل اوسه حاضره
بخت مِی مَرَور شِی چه په نورو دِ نظر شی
بخت راته ناظر شی چه وَ ما ته شې ناظره
هر حسن دِ ډېر دَی دَ لیلا تر حسن تیر دی
زه چه دِ مجنون کړم په چشمانو ئې ساحره
ډېرِی دِی نګاری هوسیَ سترګی پری واری
تا غُندی به نه وِی شوخه شنګه دلاوره
شونډِی دِ یاقوت دِی غابن دِ دُر دَ زړونو قوت دی
درسته دِ دا تنګه خوله حقه دَ جواهرو
لام و بې ئې ځبیبنه چه ښه کنبلې شِی در پیبنه
تل شکر وَکاږه چه شکری خورې شاکره
ډېر دَ ملک شاهان دِی چه دَ کنبلیو غلامان دی
تا دا قدرت ورکړ وَ دلبروُ وته قادره
تل له ډېره خیاله څو پیبنې کړې له خوشحاله
هم روغه، هم جنګ کړې، مهر جنه هم قاهره

راته نیسی جانانه، دَ شرابو پیمانه
دَ شرابو پیمانه، راته نیسِی جانانه
معنی په چغانه، راشه بیا کنبیږده لیندیَ
راشه بیا کنبیږده لیندیَ، معنی په چغانه
کور دَی دا که بتخانه، پکنبی ټوله جونه ناستی
پکنبی ټولی جونه ناستی، کور دَی دا که بتخانه
پاس په سر د آشیانه، تور کارګه قمر تر لاندِی
تور کارګه قمر تر لاندِی، پاس په سر د آشیانه
ګوره جوړ دام و دانه، زلف خال د هغې مستی
زلف و خال دَ هغې مستی، ګوره جوړ دام و دانه
په ګیسو کنبیږده شانه، چه دَ مبنکو بوی لا ډېر شی
چه دَ مبنکو بوی لا ډېر شی، په ګیسو کنبیږده شانه
عشق مجنون کا فرزانه، شک ګمان نشته پدا کنبن
شک ګمان نشته پدا کنبن، عشق مجنون کا فرزانه
ته عاقل زه دیوانه، څه مو روخ دَ ملګریه[1]
څه مو روخ دَ ملګریه، ته عاقل زه دیوانه
دا غزل دَی رندانه ما خوشحال خټک ویلی
ما خوشحال خټک ویلی، دا غزل دی رندانه

رنګینه کالی اغوستی را ښکاره شه ناګهانه
راته وګوره وَخانده خوشحالی می کړه پر یوانه
خدای دی تا له وړیو سترګو نه وژغوری دلربایه
چه ټیکه په جبین کنبیږدې او سینګار وَکړې څو شانه
هغه دم چه تورګیسو پخپل صورت باندی خپاره کړې
خوشبوئې دَ خاصه مبنکو په درست غولِی شِی پریشانه
ځان و زړه مِی هم چاپیر ور سَرَه درومی اې نګاری
چه ګهی په شین شین په انګن کښن شې روانه
دین و زړه صبر و آرام راځنی ولاړل اوس پوهیږم
چه یَو ځان دَی راته پاتو دا به هم یوسی له مانه
دَ یاری دَ آشنایی دودونه هیڅ له تا پټ ندی[2]
ولی څو کړم په خوشحال باندی خاوند کړَلې نادانه

زړه می بیا واله مجنون شه ښه چه شه
پخپل یار پسی مفتون شه ښه چه شه
هغه غم چه په مثقال په شیرشاهی وُ
اوس تر منو لا افزون شه ښه چه شه
بې دَ یار د مخ له خیاله بل فکرت می
له خاطره نه بیرون شه ښه چه شه
دَ وصال په وخت می قد لکه الف وُ
په هجران کنبن لکه نون شه ښه چه شه
لکه قدر دَ وصال را څخه نه وُ
چه په بخره می بیلتون شه ښه چه شه

---

۱. ته عاقل زه دیوانه څه مهرخ د ملګریه.

۲. دودونه پټ ندی له تانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هوا په اشتیاق ئې دَ سرو شونډو — که می وینی درست لړمون شه ښه چه شه
زړه هر گور په غیرو چارو مبتلا وُ — چه له غیرو چارو ستون شه ښه چه شه
زه ئې درست له هره حاله نه خبر کړم — چه دَ هند پلار می یون شه ښه چه شه
هیڅ مکتب له یوه فیضه خالی ندی — چه می ځای دَ سر زنگون شه ښه چه شه
عاشقان په عشق کښې هر کله زبون وی — که می زړه په عشق زبون شه ښه چه شه
چه ئې توره دَ غمزې راته په لاس کړه — که می آس ورته هارون شه ښه چه شه
چه ئې پښه دَ دلبرئ په رکاب کړه
دَ خوشحال زړه ئې شگون شه ښه چه شه

زړه را پسی سر شو راته وایی چه وئیړه — وایه وایه له وَیلو مه دریږه
تش شه له خروشه، څو په تاکیږی له جوشه — ژاړه ژاړه ژاړه په سبا بیگا نخولیږه
ظلم جور ستا دی چه په نر ناحق پما دِی — مکړه مکړه مکړه له آزاره وَ ویریږه
سوی لوغړن یم، تل په آه و په شیون یم — وسم وسوم وسوم درومه اور در وَلگیږه
اوس خو بې پروا یې که زه وَمرم بیا به وایې — مرمه مرمه مرمه څو لا پایم وَپوهیږه
څه وایم چه څه کړې، سراسر واړه ښه نکړې — جگی جگی جگی په رشتیا می مه قهریږه
تله دِی تیریده دی ښه له ها چا سَره ښه دی — ښه کړه ښه کړه ښه کړه دَ نیکخواه خبری نغویږه
کبر لوئی مکړه چه دعا گټې هغه کړه — وینه وینه وینه ولی مهر کړه تیریږه
ریږدِی غاړِی غرُونه دَ خوشحال په فریادونه
واوره واوره واوره راشه څه خو و کروهیږه

زه یو یار غواړم زیبا ښه — سر تر پایه دلربا ښه
ښایسته په شپږ جهته — هر اندام جدا جدا ښه
څو دَ ښهر ښایسته دی — دَی په حسن تر هر چا ښه
تن ئې ښه دَ گل تر پاڼیو — تمامی قدر و بالا ښه
دواړه زلفی عنبر پاشی — گلغدار تر لاله لا ښه
تورِی سترگی تورِی ورځِی — تور باڼه اوږده والا ښه
تنگه خوله حقه دَ لعلو — غاښ ئې دُر قیمت بها ښه
گبینه ئې سر دَ ژبی — دواړه لب ئې تر حلوا ښه
گلریزی کا په خبرُو — تر شکرو په خندا ښه
څړه نیاز و څړه ناز وی — په جفا ښه په وفا ښه
که می وژنِی تیغ را واخلی — دَ ده تیغ لگی په ما ښه
که هوا ده دَ ښه مخ ده — نشته ښه تر دا هوا ښه
هر چه دا هوا ئې نه وِی — هغه ندی په دنیا ښه
دا غزل چه خوشحال ووې
څوک به ووائی تر دا ښه

زمانه راته په څو پرته په څو وه — زه ئې واخیستم خونی مزری درَو وه
ودانی ئې په ډیر غم په ځگرخون وه — ویرانی ئې راشه گوره په څه دَو وه
دَ بیدردُو یاری ما غنم کڼله — چه می ولیدله سر تر پایه جَو وه
تندر تل په مناره باندِی پریوزی — دَ خسوف بلا دَ میاشتی په پرتَو وه
حق نا حق ئې وچ لانده وبله کښیښول — ظالمی دَ اورنگزیب پره د لَو وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تور هندو بچه به چرته غواړم     چه ځما دَ زړه متاع باندی گرَو وه
دَ زړه نوی ښه یاران وُ خدای جدا کړه
دَ خوشحال دَ زړه دمه په هغه نَو وه

زه خبر ور ځنی نشوم بهار تیر شه     د گلونو لَون واړه په بل پیر شه
حیف دا چه دَ گلونو عمر لږ دَی     په جهان کښی دَ اغزیو عمر ډیر شه
دَ بهار بلبلی نه راځي په سیل[1]     مگر زړه ئې دَ بهار له سیله سیر شه
هغه گل چه دَ حمل وُ په جوزا کښی     ځای ئې پاسه په سوات یا په بونیر شه
خوږ ژوندون جدا له ښه شیرینه یاره     په ما خوار باندې یا زهر یا گندهیر شه
هونبره غم دَ بیلتانه لَرې په زړه کښی
دَ خوشحال له دله گښت دَ بهار هیر شه

زړه می یووړ[2] یَو خورد ساله     ښایسته پری مثاله
په دوو زلفُو عنبر پاشه     دواړه ورَځی ئې هلاله
توری سترگی ئې تور زاغ دی     را پیدا دَ باز له ځاله
گلعذار ئې لاله گل دی     غاښ ئې دُر شونډی ئې لاله
تر ښه قد و تر قامت ئې     سبر هم بې اعتداله
تر وَیل ئې نه رسیږی     دلربا شیرین مقاله
تر یانه پوری پوچی[3]     دَ خطا دَ ملک غزاله
دَ خوشحال معشوقه دا ده
خوله ئې میم زلفی ئې داله

زه هم چیری فرزانه وَم فرزانه یم لا تر اوسه     تَل بیخوده دیوانه وَم، دیوانه یم لا تر اوسه
جدایی نشته وصال دَی ځنی[4] بعد هم خیال دی     له هغه چه[5] همخانه وم، همخانه یم لا تر اوسه
چه راغلی په جهان یم خبر شوی پخپل ځان یَم     دَ رازُونو خزانه وم، خزانه یَم لا تر اوسه
په عالم ځما خبری، خلق کا په نیژدې لیری     په وگړی افسانه وم، افسانه یَم لا تر اوسه
چه د مخ پلو ئې واشو، یو مشال وُ چه نما شو     هغه دم پرې پروانه وم، پروانه یَم لا تر اوسه
ناوکی ئې د مژگان دِی چه بلا د ما د ځان دی     ورته عمر نښانه وَم، نښانه یَم لا تر اوسه
چه ئې ځان سَره آشنا کړم له هر چا ئې شا په شا کړم     له عالمه بیگانه وم، بیگانه یَم لا تر اوسه
هغه بحر چه محیط دَی په افراط او په تفریط دی     دغه بحر در دانه وم، در دانه یَم لا تر اوسه
هغه شان له خپله یاره بې وکښله بې ریباره
زه خوشحال چه یگانه وم، یگانه یم لا تر اوسه

ستا په ورد سر فرازُو     تل سجود دَی د بې نیازو
ستا ملالو سترگو پوچ کړ     واړه کار دَ سحر سازو

---

۱. د بهار په سیل نه راځی بلبلی.
۲. زړه می یووی خورد سال.
۳. بوخی.
٤. ځنی بعد و هم خیال دی.
۵. چا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا یوه وینا تیرې کا ... تر هزار سخن طرازو
سپین او سره دَ دنیا دارو ... دَ عشق گنج دَ جانگدازو
دَ خوشحال وَیَل هم وار وَی
راشی اې نوا نوازُو!

ستا په سترگو کښې فتنې کاندې خوابونه ... تورې زلفی دی هم ډیر لَرې تابونه
که ته زر حجا به یَنیسې په مخ کښې ... را ښکاره وِی ستا جمال تر حجابونه
دَ جنت حورې که وَگورې ستا مخ ته ... نور به واچوَی له شرمه نقابونه
که شعلې د را ښکاره شِی له جماله ... لور په لور به سر څرگند کا آفتانونه
زه چه ستا دَ بیلتانه په لمبو وَسوم ... نور می څه دِی دَ دوږخ په عذابونه
ستا دَ خیال میلمه می ناست دَی په کوگل کښې ... تل می خورې دَ زړه دَ غوښو کبابونه
تا وې ما وَتا ته ډیر څله خوله درکړه ... دَ یارۍ په کار کښې هم شِی حسابونه
زو وَ تا ته دعا کړم ته ښکنځُل کړې ... هم لتا ښائیِ دا هسِی ځوابونه

ته چه حال دَ زخپل عاشق غواړې په شرح
بویه دا چه خوشحال وکښِی کتابونه

ستا دَ زړه سختی می سر تر پایه ولیدله ... سنگ به سینه ووړ کړې ستا له هسِی سنگه دله
څه خورا ښکاره شوه په ځبل دَ سترگو ولاړه ... ما وې دَ اسمان بریښنا وه نه می بیژندله
نوره دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه! ... وار په وار مِی واړه په دلبرُو وَښندله
ناز که کرشمې دِی که غمزې فتنې جلوې دی ... اوس می په دا کار کښې سَرَه درست وپسندله
گل چه شگفته شِی عندلیب باندی نارې کا ... نشته یَوَه کښلې چه پرې وبولم[1] بدله
یاد مِی هغه وخت دی چه په شپه به سرَه ناست وُو ... شمعی به ژړا کړه، صراحی به خندیدله
اور چه په ځان بل کړې پخپل ځان باندِی لگیږی ... اوس مِی دا خبره په زړه ښه وَلگیدله
تل گونه وَهلې، هر زمان ساړه آهونه ... ما چه عاشقی کړه خود په ما به دا کیدله
سرې لمبې ئې بلی دَ خوشحال ختک په زړه کړې
سرې ختی اَغُوستی په دا لارې تیریدله

ستا دَ راغلو منت ډیر لَرم نسیمه ... چه گلوُنه غوړوې ځما په سیمه
و صبا وَته ئې هیڅ بیځایه نه دی ... چه خبر شوم دَ گلُونو له تسلیمه
دَ بلبلوُ بې خودی بې ځایه نده ... چه مستیږی دَ گلونُو له شمیمه
بیم دَ هجر دَ هر چا سَرَه جار وَزِی ... هیڅ عاشق به خالی نه وِی له دې بیمه
گل بلبل سَرَه ښه وصل لَرِی دریغه ... که دا چارَ همیشه وی مستقیمه
کله وصل دَ خپل یار کله هجران وِی ... سرښته دَ عاشقۍ دَه دا قدیمه
دَ بهار په وخت چه گښت دَ گلزار نکا ... هغه څوک به اندیښنه لَرَی سقیمه
په بلبلوُ دَ گل بوی لکه وصال دَی ... که ئې رنگ په سترگو وینی ندیمه
هر ورق ئې معرفت دَ کردگار دَی ... و هر گل وته کاته وَکړه حکیمه
کله هر لورې ته گل دَ بهار گورې ... کله نه وینې یَو گل پخپله سیمه

---

۱. ولولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يَو مې يار دوهم ګلزار ساز و ساقي شته — نن مي کومه اندېښنه له غين و ميمه[1]
دَګلزار په اشتياق دَی په خزان کښ
په خوشحال باندی کرم وکړه کريمه

ساقيا آتش مزاجه — له صفا مينا زجاجه
د شرابو پياله راکړه — د همه زحمت علاجه
نه يَوَه پياله دَ ميُو — نه د درست جهان خراجه
زه او مَی اې محتسبا — که مي خونه سِي تاراجه
ورګدا د ميخانی شه — که شاهي غواړې له تاجه
د رندانو بازار تود وِی — دَ شرابو له رواجه
صومعې ته تله له ديره — يا دِکار دَی بی منهاجه
دَ ساقي پياله را واخله — بکښ ډير دی ابتهاجه
ساقي هرکله دِ وينم — مه جبينه، مخ سراجه
د بلورو پياله ډکه
د خوشحال دَه احتياجه

سپينو وازدو لَرَه ورغله پيشو — خوله به ونسی له وازدو نه په څو
د عاشق په زړه کښ خيال دَ معشوقې وی — دَ هندو په زړه کښ فکر دَ ټيکو
د لولِیِ پرتوګاښ پيسه پرانزِی — محبت ور سرَه نشی بې پيسو
په خالي کيسه به نه رسی تر کامه — څه حاصل که بوعلی شِی په کِسو[2]
د هغو بخره خواری ده تل تر تلو — چه زکوة خوری د کتاب په مسئلو
چه په هره کوڅه ګرزِی هرزه کار شی — تر دا هسی ګښت زنجير ښه دَی په پښو
يو خوشحال څه زړه کباب ندی لاتنه
تا د خلقو زړونه کښيښول په لمبو

سپينه ږيره دَ مردانو کد خدايي دَه — دَ غاښونو پريوتَه رسوايي ده
دَ سړِی چه غاښ په ځای وی ږيره سپينه — پدا هيڅ زوړوالی ندی برنايي ده
دَ خضاب ځوانی دَ چا ده دَ احمق ده — تر دا کله ږيره ښه په ښه نايي ده
زوړ سړِی دِ دَ زوړوالی اندوه نکا — که په ځای ئې دَ چشمانو بينايي ده
زاړه مرد لَرَه ليده دَ دلبر څه دِی — په معنی دَ خوړو زړونو موميايي ده
شيخ به کله عاشقی له لاسه پرېښوه — لاس و دست ئې نه رسيږی پارسايي ده
توری ږيرِی سره وصله ناداني ده — سپينی ږيری سره وصله دانائې ده
شيخ به ولی نندارِه دَ ښکلیو نکا — چه دَ ده دَ زړه دَ خوړو موميائې دَه
که خوشحال په عمر ولاړ تر اَويا تير شو — لا په زړه کښ ئې دَ ښکلیو آشنايي ده
زوړ خوشحال چه دَ دلبرو ديدن غواړِی
دَ دلبرو په وصال کښې روڼائی[3] ده

---

۱. غين و ميم يعنی غم.
۲. کسه له قصې څخه مفغنه شوې ده.
۳. برنايی.

سپین نمری[1] اغوستی په ښنو سرې کوښې نو خطه[2] ‌‌‌‌    څه رنګه را درومی لکه تکه سپینه بطه
سل دِ سره کښیني واړه یَو تر بل بهتری    خدای بروکه به زه کوم ثا په واړو کښې غلطه
بخت غُندِی ناګاهه ځما خوار کره سیده شو    راغله دِ په قصد وُکه دا راغلې بې نمطه
وایم[3] چه که واړه زاری زه راوړم خپل کور ته    څوک چه چا ته زار کا دَ دلبرُو له سخطه
راشه سر می پرې کړه لا به ښه شم په وفا کښې    خود په دا پوهیږې قلم لا ښه شِی له قطه
ډیر په دریاب کښ شی واړه مټ کا دَ وتلو    څوک پکښې لاهو شِی ځنی وریشی تر شطه

لوړی لنډی نوروز ده خوشحال ده غوره کړې
نه لوړه نه لنډه په قد ښه روغه وسطه

سترګی دِ مستان دِی ځما زړه ښیښه مهینه    پړوکی پړوکی مه شه چه ئې کنج په کنج وهینه
سپین سبا دِ ګوره دَ ټیکی په شفق بند کړ    جګی جګی جګی رایَ واخله له جبینه
کښلی دی کَه ګورې چه مخ پټ کله څرګند کا    ګل دَ بهار ندِی چه رازیږِی له زمینه
واړه به سبب دَ بد اصلانُو دَ هنر وِی    هر آفت چه ګورې چه را پاڅِی له کمینه
مست په بهار راغلې په سرود دی ګوتی کښیښوې    څو به لا وَباسې ډیر دِ ویاسته له دینه
چرته لوئیدلې نوم دی خپور په جهان نه وُ    غوغا وشوه په ښهر چه ئې کوزه کړې له زینه
تل جام دَی دَ شرابُو ستا له لاس توبه په شونډو    دَ خلقو لرمون شین دَی که پوهیږې ستا له شینه[4]
حیات لایزال به دِ حاصل شی که باور کړې    دَ زړه لیدونی[5] دواړه که روښن کړې له یاسینه
د عشق[6] دَ محبت دَ ناوی مهر ماسوا دَی    اول ئې درته وایم چه ئې ورکړې له کابینه
هر څو ئې که پټه، په ټټر کښ وِی ساتلې    څه بده بلا ده نه پټیږِی دَ زړه مینه
کله منت اخلِی دَ یوې ګیډِی دَپاره    هر چه همت ناک دِی که په کور لَرِی جوینه
زانِی بتی ګوره چه په هر لوری غوغا کا    هیڅ درنه پوهیږم چه په چرته یې شاهینه
هر چه دانایان دِی په امان امان تیریږی    هی توبه له دوره الامان له دې آئینه

نوم به دِ هر ګز په ژبه وانخلی په عمر:
دا یارِی دوستی چه ستا خوشحال ته شوه مبینه

سر دَ سره بیا جنون را باندی زور شه    یا دَ مینی لیونَی شوم خوی می نور شه
که هر څو پندار کِوی پروا پرې نکړم    دا هنر می و عالم وَته پیغور شه
دَ ساقی دَ میو هسی شان اثر دَی    په خمار کښې می دستار له سره خپور شه
حریفانو په های های باندی نارې کړې    چه ساقی دَ میو داد کړ جام نسکور شه
هو دا کار دَ ازمیښت ندی نور څه دَی    چه ځما بلا ځما دَ سترګو تور شه
که ګدای له لوړِی مرِی علاج ئې نشته    چه د دور د خواجه روزګار په پور شه
په خاطر باندِی می ډیر داغونه جوړ وه    ولی ستا له لاسه داغ باندی انځور شه
خوب خندا دِ له خاطره فراموش کا    دَ هغو چه دَ ویشتلی په چم کور شه!

---

۱. یعنی کالی او لباس.
۲. دا بدله په چاپی نسخو کښې نسته.
۳. وایمه چه واړه زاری ما راوړِی خپل کورته.
٤. محشی ورته کښلی دی یعنی ستا له شین خاله.
۵. یعنی د زړه سترګی.
٦. د زړه د محبت.



(c) ketabton.com: The Digital Library

هر کالی چه د رضا پکښې مونده شِي
دَ خوشحال خاطر مي ښهر دَ لاهور شه

ستا په سترګو کښې فتنې کاندِي خوابونه    تورِی زلفی دی هم ډېر لَرِی تابونه
که ته زر حجا به يَنيسې په مخ کښې    را ښکاره وِی ستا جمال تر حجابونه
دَ جنت حوری که وَګوری ستا مخ ته    نور به واچوَی له شرمه نقابونه
که شعلې دِ را ښکاره شِي له جماله    لور په لور به سر څرګند کا آفتانونه
زه چه ستا دَ بيلتانه په لمبو وَسوم    نور مي څه دِی دَ دوږخ په عذابونه
ستا دَ خيال ميلمه مي ناست دَی په کوګل کښې    تل مي خوری دَ زړه دَ غوښو کبابونه
تا وې ما وَتا ته ډېر څله خوله درکړه    دَ يارئ په کار کښې هم شِي حسابونه
زو وَ تا ته دعا کړم ته ښکنځُل کړې    هم لتا ښائيِ دا هسِي څوابونه

ته چه حال دَ زخپل عاشق غواړې په شرح
بويه دا چه خوشحال وکښي کتابونه

ستا له خاله مي يو داغ دَی په سينه    چه هميش را سرَه يار دَی ديرينه
تا چه واغوښتې دَ خيال جامې رنګينی    بله ستا په ډَول نشته رنګينه
يو ګلزار پکښې ناګاهه شګفته شي    چه په مخ دِ مخامخ شِي آئينه
بې پدا چه ښايسته وَو وته ګوری    په بل څيز مي له چا نه کښېږِی کښنه
ساقی نن له لاسه څه خو باده پريږده    چه په سر کښې مي خمار دَی دوشينه
دَ بادشاه دَ سره تاج ئې مخی ندی    دَ درويش دَ سر تپوپئ پشمينه
زه په عشق کښې مستثنا لکه مجنون يم    چه مي نشته په ډېر قرن قرينی
دا څه راز د مينی ندی په کوګل کښې    دا مي ينښې دَه په زړه کښې ګنجينه
مَی خورئ لَره شنبه خوښوِی خلق
وَ خوشحال ته څه شنبه څه آدينه

ستا په غم کښې مي آرام له زړه بيرون شه    دَ غرڅه غُندی مي خوب په ځګر خون شه
هميشه په غاړِی غرُونه سرګردان يم    پدا دور مي درست ډَول دَ مجنون شه
عاشقی سړِی رسوا کا هاله وَمری    ښه هغه چه مړ په تبه په طاعون شه
ګوره څو عالم به لاندِی کا تر چلو[1]    چه روان مي تر دا دوو سترګو جيحون شه
هډيره ئې دَ شهيد په څنګ کښې بويه    هر سړِی چه مړ په توره دَ بيلتون شه
په ګلونو به ئې بډغ کاندِی بلبلی    دا ګلزار چه په بياض ځما زرغون شه
چه درست کال ئې بيا بيا وايم لا يو راز دی    دا يو راز تر دفترونو نه افزون شه
په زر ژبه ئې ستايه واړه يو راز دی    عبارت که مختلف شه يو مضمون شه
عشق خوشحال وته يو هسِی سبق ورکړ:
چه ئې زړه د قال و قيل له درسه ستون شه

ستا له خويه نه مِی خوړينه دَه اينه    ځکه هسی وهم کاښِی په سينه
که دِ زړه دَی چه مي مينه در ښکاره شي    راشه وَنيسه وَ مخ ته آينه

---

۱. تر څلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دِ زه دَ وَر ملنگ شوم خز به څه کړم — راته توره شړۍ بس دَه پشمینه
کله کله راته گوره ستا نوکر یم — راته بس ده هم دا هونبره مهینه
خزینه دَ سرو مهرانو دَ شاهانو — ستا دَ راز لَرم په زړه کښ خزینه
وایې ته کله په مخ ځما میَنَ شوې — ستا په مخ باندِې مین یم دیرینه
چه ځما سرَه ئې ستا دَ پاره کاندِی — خوښ یم ستا دَ رقیبانو په کینه
ماتیدل ئې هیڅ دشوار ندی که گورې — چه وَ کاڼی ته نیژدې شی آبگینه
دَ بادشاه په تخت و تاج پوری خندا کا — دَ درویش بوریا، ټوپۍَ، پشمینه
انگوری ترخه شراب ور لَره بویه — میخواران له گبینه لرِی گینه
ورځ هغه ښه دَه چه ته پکښی خوشحال شې
که شنبه که سه شنبه که آدینه

ساقی بیا دَ میو مهر کړه چه عید شه — دَ رندانو دَ ښادِو وخت جدید شه
په هر لوری یو آفتاب دَی ځلیدلی — ښاپیرک ئې له جماله نه کور دید شه
په هر څه کښ نندارهٔ دَ هغه مخ کړم — چه له ډیری پیدایۍ ناپدید شه
هم هغه دی همیشه ژوندُون موندلی — چه دَ مستی دَ غمزې په تیغ شهید شه
زمانه په خلقو هسی ازمیښت کا — چه یوسف دَ قبطیانو زر خرید شه
واړه نخښی ئې په زړه وینم حضوری — که اشنا په لیری حد له ما بعید شه
هر چه ستا دَور د َسپیو په حساب وی — په جهان کښ هم هغه سړی سعید شه
خط و خال په ښه جمال باندی یو دود دی — نه چه حسن دَ خوبا پدا مزید شه
چه دِ نوم دَ خوار خوشحال په ژبه واخیست
په درست عمر کښ خو ننورباندی عید شه

سترگی ستا غړَوِی زړه — سترگی ستا پټوِی زړه
چه دا خوله خوځوِی دَی دَی — ژبه ستا ویَوِی زړه
چه څه کار په لاسو پښې کړې — دا هم ستا ښورَوی زړه
اوریده په دواړو غوږو — هم پتا آروَوِی زړه
چه نیکی کړې یا بدی کړې — واړه تا سندوی زړه
چه خندا کړې یا ژړا کړې — خندَوِی ژړَوِی زړه
دواړه کَونه لکه تن دی — کار دَ تن جوړَوِی زړه
زړه بې چون و بیچگون دی — ځوک دا غوښه گڼی زړه
دَ خوشحال په زړه کښ یو دَی
څوک ئې څه لټَوِی زړه

شپه دَ بیلتانه ده پهر پهر کال پما شه — بانگ دَی دَ چرگانو په هزار هیله سبا شه
رایشی گلزار ته وار په وار نندارهٔ کاندی — وار په وار پرې تیر شی اوس که گورې وار ځما شه
پیغام راوړی دَ وصل عجب ښه راځِی په مهر — هد هد دَ یار له لوریه نن پما باد صبا شه
په وخت دَ مشغولا دَ گلو کله آواز کاندی — چه درومی له گلزاره په چیغار چیعار طوطا شه
په درست عمر ئې مهر د سکوت په خوله وهلی — ځما دَ زړه طوطی دَی چه نن گورمه گویا شه
رنگ چه باندِی پریوزی آئینه دَ زړه تبۍ شی
زړه دَ خوشحال گوره له هر زنگه مصفا شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیرازي که ښه خوراک وَ واروه تیر شه — ملوکي که ښه پوښاک وُ واروه تیر شه
که خپلوي دَ زن فرزند وه حال ئې دا دی — که له خلقه زیست و ژواک وُ واروه تیر شه
که منصب وُ که خاني که سرداري وه — که په لاس ملک و املاک وُ واروه تیر شه
فرش فروش نقش و نګار دَ محلونو — که بستر مې عطرناک وُ واروه تیر شه
چه له ښکاره به په خیال راتلم وَ کور ته — سور به تل ځما فتراک وُ واروه تیر شه
خپل پردي نیکان بدان له هره لوریه — په دربار مې په بلغاک وُ واروه تیر شه
تار په تار دَ اکوړ خیلو کړې ولاړې — پدا بِړغ مې ځان هلاک وُ واروه تیر شه
اوس ئې روخ دَ ملنګئَ دَ دوهې دَی
دَ خوشحال چه سرای اوتاک وُ واروه تیر شه

شل کارُونه پریږده ننداره ئې دَ جمال کړه — دواړه کسي واخله په سپین مخ باندی ئې خال کړه
کښېنه په انګڼ مخامخ چه ورته ګورم — تور لونګین دواړه چندڼ هار په سینه تړال کړه
راغلې و بازار ته درست وجود کړه لکه کسي — ګوره که ړوند نه ئې ننداره ئې دَ کمال کړه
تله دِې تیریده دی ښه له هر چا سرَه ښه دی — و نه دَ نیکئ په دا باغ کښې نو نهال کړه
واړه ورکَول دَ جهان ګوره عاریت دی — غم دَ بیلتانه ځما زړګیه په وصال کړه
بې دَ یار له مینی چه به کور دَ دنیا جوړ کا — واروه درته وایم خدای ئې مینی په زوال کړه
ته هغه رستم یې چه شاهان دِ طلبګار دی — چا درته تلقین کړ چه خدمت دَ پیر زال کړه
الف دِ دَی سریښی ستا په میم چه درته ګوري — په دواړه لوریه زړه وړې په مخ دواړه زلفي دال کړه
نور خلق پخښو دی چه پرې بار نشته دَ میني
بار لَري دَ میني ناز و نیاز په خوار خوشحال کړه

ښایسته نه دی بلا دی آشنایي ئې دَه له غمه[1] — آشنایي ئې دَه له غمه زه نارې وهم عالمه
زه نارې وهم عالمه، عشق یَو یم دَی په موجونه — عشق یَو یم دی په موجونه. الحذر له هسي یمه
الحذر له هسي یمه، چه عالم پکښې فنا دی — چه عالم پکښې فنا دی، دا دریاب روغ دَی له دمه
دا دریاب روغ دَی له دمه چه ساحل ئې لیده نشي — چه ساحل ئې لیده نشِي ډیر غرقاب دی تر قلزمه
ډیر غرقاب دی تر قلزمه، نه زیارتیږي نه کمیږي — نه زیاتیږي نه کمیږي، تر ابده تر قدمه
تر ابده تر قدمه، چه شنا کا پدایم کښې — چه شنا کا پدایم کښې، چه دعوا لَري محکمه
چه دعوا لَرَي محکمه، هغه دُر وریسي غواړي — هغه دُر وریسي غواړي، چه بها لَرِي اعظمه
چه بها لَرِي اعظمه، هغه دُر ئې ښه جمال دی — هغه دُر ئې ښه جمال دی، چه خوني ده باندِي تمه
چه خوبي ده باندي تمه، په جمال ئې زلفي مار دی — په جمال ئې زلفي مار دی، خبر دار ئې یم له سمه
خبر دار ئې یم له سمه، په څو قسم تور ماران دی — په څو قسم تورماران دی، څوک دَدم دِي څوک بې دمه
څوک دَ دم دي څوک بې دمه، هغه مار خوشحال خوړلي
هغه مار خوشحال خوړلي، چه ژوندي دَی تر دې دمه

ښځه بونه هوسناکه، خنده رویه، مهرجنه — پاکیزه په زیست روزګار کښې په ښه بوی باندی مینه
دَ صحبت په زموز پوهه، زړه ئې خلاص له مکره دروهه — کم خوراکه خوش پوشاکه، همیشه ناسته دننه
په وصال دَ یار خوشحاله، یار ئې خوښ له قیل و قاله — چه له یاره نه جدا شِي، هم غمجنه هم خیرنه
له نیکانو همنشینه له بدانو په زړه خوړینه — له موروالي ئې توبه کا که ئې مور وِي دروغجنه
دَ میلمه پکار حاضره، په پخوالي بهادره — حق دَ چاري په ځای راوړي، په رنځور باندِي پوښتنه

---

۱. په دې بدله کښې صنعت د ردالعجز علی الصدر مراعات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکیزه ئې د کور صحن، نه په غولی کښې نور لحن     پرستاری ترې خوشنودی، ښه دَ هر چا په ساتنه[1]
که دا هسی څوک پیدا شِی دَ خوشحال په لاسو راشِی
هیڅ تقصیر به ئې ونکا دَ یاریِ په پالَنه

ښه ښه بخ بخَ دلداره     وفا جویه غمگساره
چه کنم چه چاره سازم     چه دِ زړه[2] کړم را کناره
به که گویم از فراقت     چه مِی زړه شو پاره پاره
نکند بدل سرایت     که زاری کومَ بی شماره
تو چه سنگدل نگاری     چه مِی ست وَکړه نندارە
په عاشق بی سروپا     ستم مکړه ستمگاره
به نگاه گاه گاهی     مهر کړه دَ خدای دَ پاره
ای نگارِ من حذر کن     دَ ویشتلیُو له آزاره
نرود ز درگه تو!
که خوشحال شړی سل واره

عجب کار دَی ستا دَ شونډُو     ښه روزگار دَی ستا دَ شونډُو
پرې پنډو دَی د ځوانانو     څه دربار دَی ستا د شونډو
په کالونو له ما نه ځِی     بد خمار دَی ستا د شونډو
لکه ستا زلفینی زړه مِی     په کنار دَی ستا د شونډو
د یمن یاقوت آبدار دی     که آبدَر دَی ستا د شونډو
په صورت کښې می ځان څه دِی     یو یادگار دَی ستا د شونډو
په هجران کښې سرې سرې اوښی     دا نثار دَی ستا د شونډو
ځکه ځان هسی عزیز دَی     پرې گزار دَی ستا د شونډو
چه د خضر ترې مایه ده[3]     خشمه سار دَی ستا د شونډو
ځان بې ستا له شونډو پائی     شرمسار دَی ستا د شونډو
دَ خوشحال ختِک په زړه کښې
انتظار دَی ستا د شونډو

عیب جوی سَرَه می هونبره دَه کینه     و به نه نیسم وَ مخ ته آئینه
خدای دِ ما بیغمه نکا په دنیا کښې     زه او غم سَرَه یاران یو دیرینه
ساقی څو خمار شکنی پیالې راکړه     چه په سر کښې می خمار دَی دوشینه
دا یم زه ورپسی سر یم که ئې مومم     په دوران کښې مونده نشی خزینه
نن ئې مکړه تفحص وایه چه نن دَی     که ئې بیا مومې په قرن قرینه
لاله ځایه چه خوشحال په جهان راغی
دَ لاله غُندی ئې داغ دَی په سینه

فراق څه رنگ را اُوږده کړه پما نن شپه     دَ جوزا  شپه ئې یلدا شی په غمجن شپه
په فراق کښې می په سترگو خوب حرام شه     په هیچا باندِی ورمشه دَ لیچن شپه

---

١. سَتَنه.
٢. چه دِ زه کړم.
٣. چه دَ خضر تر ماء به دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ریبار ورته پیغام دَ وصال راوړی پـه هوس هوس تیریږی په مَیَن شپه
دَ فراق په شپه امید دَ وصال څه دَی که ئې ګورې په معنی کښ ورکه ستن شپه
دَ دوهې ملنګ هم تیره کړه دوهې ته که تیریږی په تونګرو په بړستن شپه
روغ عالم بې غمه خوب کا خبر ندی چه په څه غذاب تیریږی په دردمن شپه
وَ وصال وته هجران دَی ورنیولَی ښخه شوې وه دَ ورځې په لمن شپه
ورځ ئې ما لیدلې نه ده په درست عمر خدای به نکا سپین سبا دَ دروغجن شپه
دا نن شپه چه په خوشحال دَ فراق راغله
ور دِ نشِی هسِی سخته په دښمن شپه

قربان دِ تر نامه شم محمدَ ﷺ پیغمبره اول ثنا دَ خدای ښایی بیا ستا ثنا ده غوره
ادم که دِ پدر دَی په معنی کښ ستا پسر دَی تر واړُو مرسلانوُ مقدمَ مؤخره
دَ نوح نجات له تا وُ دَ طوفان له امواجونو ګلزار په خلیل اور شو ستا له رویه ای سروره
چه خلاص شو له کشتنه اسمٰعیل مَړ ئې قربان کړ[1] چاړه دَ ده له حلقه ستا اروا کړه لَره بره
موسٰی په کوهِ طور دَ تجلی طاقت را نه وړ تا ولیده دَ سر په سترګوُ خپل مولا بهتره
موسٰی ته څرګند نه وُ و عیسٰی ته ښکاره نشو په قاب او په قوسین په هغه اسرار خبره
ستا صفت به خوشحال څو کاندِی په ژبه
انه وانت المولا و افضل تره

که په هند کښ نشته سپینه هوسیَ سترګه مه جبینه
خدایه ته وَ ماته راکړې یَوَه سبزه نمکینه
به دوو زلفو عنبر پاشه په دوو شونډو شکرینه
چه هر ځای وَته ئې ګورم ښایسته کښلې مهینه
هوسناکه ښیوه ګره شوخه شنګه زړه سنګینه[2]
دَ یارئ په علم پوهه سخندانه نکته چینه
ورځ و شپه کا ځنی چاری
په خوشحال دَ کُښلی مینه

که دا ستا سترګی را وجار باسم ځان ته له ښادیَ به نور شا کړم و جهان ته
یو زمان می که دا ستا لیدل نصیب شی نور به سترګی پورته نه کړم ګلستان ته
طبیبان دِ خپل دارو ور څخه کښیږدی تا ویشتلی منه نه کا و درمان ته
کفرستان د شاه د تورو زلفو ګوره چه په څه رنګه تاویږی و ایمان ته
چه په ما باندی تیریږی ستا په عشق کښ خدای دِ هسی حال پیښ نکا مسلمان ته
په جورا[3] بورا به هم نکا وتنه عاشقان کله خالی دِی و سهمان ته
اول ښه شهپر پیدا دَ الوتو کړه بیا له پسه الوته کړه و اسمان ته
په فراق د ښو یارانو چه ډیر ژاړم دواړه سترګی می پیغور کا و باران ته
چه پخپله افغانی ژبه نادان دَی په تورکی خبری څه وائې افغان ته

---

۱. شو.
۲. دلنشینه.
۳. دا بت عیناً ولیکل سو، په ټولو نسخو کی دغسی دی، اما معنی ئې نسوه راته ښکاره.

ما ئې دواړه شونډې بیا موندې په کور کښې          نور دِ لعلو لره درومی بدخشان ته
هغه شونډې چه ځایی بې پاڼو سرې دِی          هغه شونډې څه حاجت لری و پان ته
له خوشحاله ئې بهرام غندی پیدا کړ
دم واهه نشی څوک څه وائی یزدان ته

که دیدن شوَی بې نصیبه          ما به ولیدې حبیبه
په پرهار می اور بلیږی          دارو مه سیځه طبیبه
زه د یار یم یار ځما دی          تر منځ څه غواړې رقیبه
لیونی به لیونتوب کا          بې پروا دِی له ادیبه
و عاشق وته ناصحه          څه ویَل کړې بې تقریبه
تر فرهاد تر مجنونه
په خوشحال پیښه عجیبَه

که گذر په خیر آباد وَکړې نسیمه          یا دی گشت وشی دَ سرای دَ سیند په سیمه
په وار وار سلام ځما ورته عرضه کړه          ور سرَه ځما دَ لوریه څو تسلیمه
ابا سیند وته ناره وَکړه په زوره          وَ لنډې ته وینا وَوایه حلیمه
گُندی وی چه بیا می ستا سِی جام نصیب شی          په گنگا جمنا به نه وُ له قدیمه
که دَ هند له هوا زار کړم څو به زار کړم          دَ اُوبو بلا ئې لا بده عظیمه
که دَ نهر اَوبه څښې کُلمې پرې باسی          هم دَ هر کوهی اُوبه ندِی بې بیمه
چه سرې اوبه دَ غره نشته په هند کښې          تری توبه که واړه ډک دَی له نعیمه
تل به هیڅوک نا امید په جهان نه وِی          په کریابو کرم کیږِی له کریمه
دَ ویشتلی وَ صحت ته امید وشِی          دَ پرهار ئې چه کمی وشِی له ریمه
خدایه زړه می په وصال دَ هغو خوښ کړه          دا چه اوس ورځنی لیری دَی دوه نیمه
عاقلان به هیڅ انکار ور باندِی نکا          هر افعال چه صادر کیږِی له حکیمه
همیشه به په هند نه اوسې خوشحاله
عاقبت به عاصی ووزی له جحیمه

که ناگاهه را ښکاره شِی هغه خوبه          زړه به یوسِی له عاقله له مجذوبه
رقیبان نه سرنگون له غمه پریوزی          که په رای کښې د خپل یار درومی محبوبه
هر زمان په نوی نوی غم اخته شوم          چه تل تل نوې شیوه کا دل آشوبه
د یوسف د مینی لاف واړه عالم کا          ولی بل بسی ړوند نشوې یعقوبه
که لا څه درته د سرومال وجود وی          په دا فکر نه ور نشې تر مطلوبه
ته ئې تل په سر دعا کوه خوشحاله
که دِ نوم په ژبه نه اخلی محبوبه

که هیڅ نه وائ چه ویل راشی له یاره          تول دَ یار مهر په لاس راکړه ریباره
سره لاله په هغه مځکه شگفته شِی          چه خولې دِ باندِی اوری[1] له رخساره
دَ غمزې په تیغ مِی وژنی زه دعا کړم          چه ځما په خون ئې مه نیسې دا داره
چا وې خپل نتلی کښې چه ئې په یاد وِی          بخته وخت دَی چه ئې ونه وزم له شماره

---

۱. پریوزی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه شنه پاڼې خپل بخت په لاس را نکړه
خلق څو گلوُنه وړی له دې گلزاره
په آواز آواز کښې هسی لیونی شِی
چه خبر شوم دَ عاشق سړی له کاره
که ئې درست په سیند کښې ډوب کړې هم به سیځی
چه سیځل ئې په نصیب شوله روزگاره
په وژو دَ عاشقانوُ هسی ځغلِی
نیم بسمل ئې په ځای پریښوم له تلواره
چه ئې ستا په کوی کښې ځای ونیو نور موړ شوُ
د خوشحال خاطر له باغه له بهاره

که اغزی وی ستا له لاسه
تر گلونو دی دَ پاسه
د زړگوتي سر می ته یې
که یاران لَرَم بې قیاسه
چه به بل تر تا را تیر کړم
دا ویی دَ زړه و باسه
که دَ نورُو سَرَه خاندم
جهان نه دَی بې لباسه
له ماڼیه به دِ ومرم
څه خو مخ را وجار باسه
که څوک تا غندی ښکاریږی
څربښت بیل دَی تر اماسه
تر هغه به نادان څوک وی
چه خر ښه گڼي تر آسه
دَ اغیارُو سَرَه خانده
په خوشحال تندر پریباسه

که عالم وته دلخواهه[1] بادشاهی شوه
عاشقی وَ ما ته لا عالی جاهی شوه
دَ تقوا په کار و بار ډیر خبردار یم
ولی څه کړم چه نصیب می گمراهی شوه
شاهدانو ته دَ خضر عمر غواړم
حیف دا دَی چه دَ عمر کوتاهی شوه
چه له ځایه ئې گناه لَره پیدا کړم
که نظر وکړې ځما بیگناهی شوه
یار می ولیده له ورایه شکر دا دی
چه قبوله می دعا سحرگاهی شوه
لکه ستا کسی په خوارُو برابر شی
دَ طالع تر روڼا ښه دا سیاهی شوه
زه دَ یار په جفا هیڅ آهُونه نکړم
راته غم دَ رقیبانو بد خواهی شوه
ستا دَ سرو شونډُو په دَور می حلال شول
ښه چه اوس روا دَ میو مناهی شوه
سر بازی یا دَ پتنگ یا دَ عاشق ده
یا قسمت دَ مجاهد یا دَ سپاهی شوه
بخته دا ځله ئې راوله تر غاړی
چه بیړی می پدریاب کښې تباهی شوه
که خبر له حاله نه وَی څه به ښه وُ
و خوشحال ته غم دا خپله آگاهی شوه

که په زړه کښې دِ د یار مینه ځایی ده
سکه ناحقه دِ له غیرو آشنایی ده
مخ ئې که دَ یوسف غُندِی زیبا دی
دَ یوسف تر مخ ئې زیاته زیبایی ده
چه ئې رای دَ خپل خاطر وِی هم هغه کا
په دلبرو مسلمه خود رایی ده
که دِ زړه وی چه دا خوږ خاطر می روغ کړې
دَ لبانُو مچه راکړه مومیایی ده
زه او ستا دَ دواړُو شونډو مَی هغو زده
چه ئې نن په لاس نیولې پارسایی ده
دَ معشوقی په ترخه کښې ډیر خواږه دِی
چه ئې گورې نیکنامی ئې رسوایی ده
چه په خلقو کښې دوږخ دوږخ یادیږی
بل دوږخ په جهان نشته جدایی ده
په پیغور په تور په زور به ځنی نه ځِی
دَ هر چا چه خپله بخره شیدایی ده

---

۱. بهتره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ افسون دَ سحر کار دا هسی نه وِی
دَ خوشحال په زړه کښې دا مینه ځایی ده

که په زغرو په چپَو کړې نیزې ځوړه[1] | چه نیکی در څخه نشته واره کوړه[2]
دَ هر چا سَرَه خوږه ژبه بایده دَه | په خوږه ژبه ما هم وزی له سوړه[3]
واړُو دُوړو سَرَه فوج دَ سپرو نه وی | په جهان کښې لړی نه دِی تشی دوړه
یاوه گوی دراز زبان مه شه که گوری | بیهوده خبری مکړه پوچی بوړه[4]
د غفلت په خوب بیده په غفلت تللی
د خوشحال خوږې خبری نه دی کروړه

که رشیینی محبت کرې مه ناړه | په یوه ناره بیل شوی یار وژاړه
دَ رسا ویشتلی کله توان دَ بِږغ وی | په فراق کښې نارې مه وهه له باړه[5]
په معنی کښې جدائی نشته وصال دی | دَ آشنا په غم کښې خوښ اوسه تل ویاړه
په هجران کښې هغه هسی شان وصال شته | لکه څوک له خپله یاره لاس تر غاړه
دا دیدن لکه په پټو سترگو کیږی | دا دیدن له وازو سترگو نه مه غواړه
لیلا پلار کره په سل پردو کښې ناسته | مخامخ وه وَ مجنون وته وَلاړه
پسله مرگه هم جدا نه وِی رشتینی | په یوه لحد کښې ورشی سَرَه دواړه
دَ رشتینی مینی ډار د زوال مکړه[6] | چه رشتینی عشق لَرِی سلام په واړه
دَ یار غم د دَ خوشحال له دِله نه ځِی
دَ فانی دنیا خوښی که لاړه لاړه

که غواړم نه یی موم هسی تا غُندی مهوشه | خنده رویه سنبل لمویه کلعذاره پیاله کشه
سمن بره قد عرعره مو کمره لب شکره | آهو چشمه څړه خشمه مهرجنه منقشه
دلنوازه سر فرازه چّم بازه عشوه سازه | تیز نظره غمزه گره په دوو زلفو مشوشه
سر بلنده خود پسنده[7] خود نمایه دلربایه | د عاشق دَ ځان بلا په رنگ زیبا په خوی آتشه
طربناکه تل بیباکه گریوان جاکه تش تا پاکه | زړه ئی سخت لکه آهن په مخ یوه آینه بې غشه[8]
د زلفینو سر ئې تاو لکه نخوش د ماهی گیر شو
کله وی چه خوشحال خلاص شی له دې هسی رنگ نخوشه

که مردی د په دستار ده په منډوسه | سکه مردی د مبارک بریتونه پوسه
کشکی زه دَ نا مردانُو په شمار وَی | چه فارغ وَی لَه ارمانه له افسوسه
د لوهړ گلونه ښه دِی تر نلگوس | ولی بیا چیری لوهړ چیرِی نلگوسه
چه ظاهر باطن ئې دواړه حبطه وی | منافق سړی بتر گڼه تر کوسه

---

۱. دا بدله په چاپی نسخه کښې نسته.
۲. محشی ورته لیکلی یعنی عیجن او دروغ.
۳. یعنی سوری.
٤. سید راحت لیکلی، چه بوږی پزپرې کړی ته وائی، په قندهار کښې بُړی بولی.
۵. یعنی دَ گولیۍ خراش او زخم.
٦. نشته.
۷. هنر منده شکر خنده.
۸. تپا که.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دروغ په نا راستیٔ کښې ډېر غم دی      دَ رشتیا روزګار کوَه بی غمه اوسه
چه به هر کله جفا کړې وفا هم کړه      دَ اغزیو سرَه ګل لَرِی پلوسه[١]
په جهان کښې بد خویی واړه دوزخ دَه
د خوشحال له دله خوی دَ بدیو یوسه

که ملیح یې دَ زړه مینه په ملیح کړه      که قبیح یې درومه چاری دَ قبیح کړه
دَ بهار ګلونه ډېر دِی واړه ګوره      چه دِ زړه وِی هغه ګل پکښې ترجیح کړه
که دِ زړه دَی چه دَ مخ ثنا ئې وایې      دَ بلبلی غُندی خپل زبان فصیح کړه
مسیحا دَ رنځ وَ هر لوری ته ډېر دِی      دَ خپل رنځ دوا دَوخته په مسیح کړه
له ازله ئې رند رند زاهد زاهد کړ[٢]      زه به ډکی پیالې اخلم ته تسبیح کړه
په حسد په رخه څه ځما پروا دَه      چه دِ پټه کینه کړه اوس ئې صریح کړه
زه که بد یم هم دَ یار دَ سترګو تور یم      و هر چا وَته ځما دَ عیب تشریح کړه
دَ توبې دریاب ئې تا لَره پیدا کړ      دَ ګناه له تور یو ځان لکه صبیح کړه[٣]
دا دَ سر په سترګو مه ګوره خوشحال ته
که دَ زړه سترګی لرې ښه ئې صحیح کړه

که می یَو ځله رسد وشی تر سینده      نور دِ مه وینم په تورو سترګو هنده
نه به سترګی د سرِی په چا خوږې شِی      نه ئې ما ته په اوبو شِی د چا تنده
دَ پیپلو پاڼی خوره په غره کی اوسه      نه چه پان د هندوستان خورې ځما جنده[٤]
په هغه بازار به څو، سود و سودا کړې      چه کارګه پکښې قدری دی تر شهنده
ای وروستَی عقله دریغه که پخوا وَی      ما به ولی پخپل ځان کړه هونبره شنده
هر چه وشول هغه واړه در بخښلی
اوس خوشحال په لاس مه نیسه نا پسنده

که نیمګړې پیاله را کړې ساقی تا زده      همګی مدار په نیت دَی باقی تا زده
دَ شرابو په مستی بې خوده ولاړې      که له سره نه دِ پریوزی تاقی[٥] تا زده
دَ بابا په رضا څه جنت به مُومې      روایت می درته وکړ عاقی تا زده
زه دِ وخوروم په مار دَ تورو زلفو[٦]      حال می خود وینې په سترګو راقی تا زده
دَ خوشحال غُندِی همیش په ځان ناچاق یم
ته چه تل په صورت چاق یې چاقی تا زده

که نیولې زرکه باز پریږدِی له چنګه[٧]      زه هم له لاسه پریږدم شوخ و شنګه
ور په ور کلی په کلی پسې ګرزه      درویزه که دَ دیدن مومې ملنګه
ګل که هر څو ښایسته دَی پدا باغ کښې      که ئې وینې بیا اغزِی لَرِی له څنګه

---

١. ثوه د غره افزنه ونه ده.
٢. له ازله ئې زه رند ته ئې زاهد کړې.
٣. په توریو تور یې ځان صبیح کړه.
٤. یعنی ځما ګله.
٥. طاقی.
٦. زه ئې وخوړم په مار.
٧. دا بدله په چاپی نسخو کښې نده راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دِ توان رسی په لوی دریاب کښې گرزه  په بیله کښې دی زوال وینم نهنگه
عاقبت به ککَرَی وربانديِ کښیږدې  تر څراغ چه کینې وښَی گرزې پتنگه!
پندگویان چه عاشقانُو ته پند وائیِ  دَ هوښیار په پوهه سر وَهِی له سنگه
تر سهار مِی دَ یاره سَرَه ناز وُ  درسته شپه راته کوتاهه شوه تر درنگه
هغه یارکه په پالنگ را سَرَه نشته  دا هم شکر چه ئې بوی ځی له پالنگه
چه ئې زړه دَ معشوقې په مینه مست شی  دَ هغه سړیُو څه له نام و ننگه؟
لیونی به لیونی نه وُ عالمه  که ئې بخره وَی له عقل و له فرهنگه
که لیلې و نور عالم ته کښلې نه وه  پدا څه، چه وَ مجنون ته وه خوشرنگه
دَ عمزې په تیغ ئې خوږ ښه یې خوشحاله!
مَړَنَی په روغ صور ت نه ځِی له جنگه!

که هوښیار دی که نادان دی که ساډ که غله  هیڅوک نه وینم دَ خپلی لاری صله
یو په غم شریک یار نه وینم په ملک کښې  خلق نشی تسلې کاندِی په خوله
دَ میړیو غُندِی یُون دَی و دانو ته  چه و ما وته عالم کا تله راتله
چه امید د میړی نه وِی وَ دانو ته  وَ هغه لورِی ته نکاندِی هیڅ تله
خپل ویشتلی غرڅه مه پریږده خوشحاله
ځای په ځای ئې وینی توئی دِی په پله

که یَو ځله مخ ښکاره کا له نقابه  د ښایست نامه به واخلی له آفتابه
لاله گل به ئې له مخه خوبی پور کا  په زلفینو به سنبل کاندِی بې تابه
خلق څه لَرَه تهمت په زمانه ږدِی  په[1] چشمانو ئې دنیا کړله خرابَه
د خمار په علامت ئې سترگی سرې دِی  که چا نبې وخته بیداره کړه له خوابه
د خاطر وینی ئې نوش په ځای د میو  بیا ئې نقل هم د زړونو له کبابه
خاصه مرگ د معقوقې د مقتولانو  چه جنت لره به درومی بې حسابه
ځما زړه قبله نما شو نه جار وزی  و بل لور ته ستا د ورځیو له محرابه
په وعده ئې زړه خوشحال مکړه خوشحاله
د وفا طمع څوک نکا له حبابه

گم گشته او گم گشته سَرَه رفیق شه  گم گشتن دَ دواړو تنو په تحقیق شه
دَ شرابو جام په لاس شاهد بازی کا  شیخ دَ ښهر عبادت پریښی زندیق شه
یو ئې اصل سَرَه دوه اویا مذهبه  خدایه څه بنیٔ آدم فریق فریق شه
عشق څه هسی آسان ندی هونبره خلقه  په بلخیو کښې خو یَو سړی شفیق شه
دَ اسمان دَ ستوریو هم و بله فرق دی  ځکه غوره په یارانو کښې سړی صدیق شه
چه توفیق ورسره مل شه کار آسان دی  کل مدار دَ واړو خلقُو په توفیق شه
آزاده به له چا طمعه امید نکا  چه به طمعه له چا کا کله عقیق شه
دَ غلیم مهر په هیچا باندِی نه وی  یو فساد وربانديِ کاندی چه شفیق شه
وَ خپل بخت وَته تسلیم کړه چه غلیم دِی  همگی دَ غم په بحر کښې غریق شه
نورکه سل پیالې آخلی دَی دِ سل څښې
چه خوشحال دَ باده نوشو په طریق شه

---

۱. چه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گوره دَ یار مخ ته بیا لیمه پرېِ ولوه    زړونه دَ بدرنگو رقیبانو ویلَوه
دا دَی هغه مخ چه په هجران کښ پسی ته مرېِ    اوس ئې په وصال کښ دواړه لوریه کښلوه
لویه پیښکښی دَه په وصال کښ درته وایم    دُر ئې په لَمن کښ ورته گوره تلَوَه
زه دَ بیلتانه په حال خبر نه وم خبر شوم    خدای له خپله یاره هیڅ یار مه بیلَوه
تندر دَ رقیب په کور پریوزی قهقه خانده    سپینه آئینه دَ ششت[1] خپل یار ته ځلَوه
یو ځله چه زړه دَ چا په مهر مینه بند کړېِ    شرط دَ یاریَ دا دَی زړه بل ځای مه نښلوه
کړی دِی دَ زړونو ستا دَ مخ په لور روانی    واړه ملک بوستان دَی په هر ځای ئې ملَوه
درسته دِله خپلو نمریو وَ ایستم خوشحاله
یو دَ غاړِی هار می دَ گلونو مه شلوه

لا منت لَرَم پدا هم له اسمانه    نداره دَ ابا سیند له میر کلانه
په تیراه په سوات په خوړه ور په ور شوم    بیا می کوم لوری ته ته بیایې اسمانه
لکه گوی هسی په حکم دَ چوگان یم    درست وجود پرهار پرهار یم له چوگانه
سر نوشت می له ازله مگر دا وُ    زه به څه لَره ماڼه کوَم له چانه
قدیمی دَ پښتنو جهل خرتوب وَ    اوس په طمعَ په حرص درومی له میانه
که رشتیا وایم شیر شاه دا هسی نه وُ    لکه موږ یو نه پیدا له کوهستانه
پښتانه چه بې ننگی کا څوک ئې څه کا    گورستان لَرَه به درومو له ارمانه
دَ خټکو دَ نفاق له ناپوهیَ    یا چه غم لغرَم له خپله خاندانه
چا ته وایم څو به کښم څه هونبره ندِی    چه تمام شِی له مذکوره له بیانه
دا داغُونه چه خوشحال لَریی په زړه کښ
رغیدل به ئې په تا کیږِی سبحانه!

لکه زه یم پیدا شوَی پدا مینه    دَ نور چا به هسِی نه وِی پیدا مینه
دَ قصاب چاړه په غوښو هسی نکا    لکه کا د ما په زړه دَ اشنا مینه
درست عالم را باندِی غاو کا زه حیران یم    چه له زړه به په څو لیری کړم ستا مینه
په یوه تن کښ دا دواړه توکه نه وی    هم دَ حسن استغنا هم دَ چا مینه
نه به بوی دَ مښکو پټ شی په نافه کښ    نه به پاتو شی مخفی دَ شیدا مینه
ما په سحر په جادو تقصیر وَنکړ    دَ ناترس خاطر ئې نشی په چا مینه
په ژړا می به دوه سترگی وچی نکړېِ    که پما شوی دَ خپل یار په ژړا مینه
لور په لور ئې په همه عالم رسوا کړ
کشکه نه وَی دَ خوشحال دا رسوا مینه

لکه[2] ستا دَ زلفو تاب شته    په سنبلو کښ هم تاب شته
لکه ستا دَ خوله بوی دَی    هسی هم په ملک گلاب شته
ستا دَ مخ ترې خال به بِه وِی    په خطا که مشک ناب شته
لکه زړه ځما ستا شونډِی    نه کباب شته نه شراب شته
که و نمر ته خاته گران دِی    دَ زلفینو ئې طناب شته

---

۱. یو راز پسول دی، چه هنداره پکښې وی. په یوه نسخه کښ شست هم راغلی دی، چه مطلب گوتې ده.
۲. د لکه پر ځای کله ښه ورسره لگیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه کاته دِ په حساب شول — دَ یارئِ هم حساب شته
کښلي ډېر وه ما ته یار کړې — تل د ګلو انتخاب شته
کل پما شهد شکر دِی — که دِ قهر یا عتاب شته
مجنون مړ ندی ژوندی دی — چه لا ما غُندِی خراب شته
دَ هجران په شپه مرګ غواړم — ځما سترګو ستاسی خواب شته
چیری نه په بل مرګ وَمرم — دَ غمزو دِ هم شتاب شته
چه مي وژني کوز به ګورم — له اشنا سترګو حجاب شته
ما خپل خون ورته پل کړَی — که د ما د مرګ غذاب شته
دَ چا مَی په کار ندی — چه می خپل لبِ لباب شته
دروغجن یم که دا شعر — دَ میرزا په درست کتاب شته

دا غزل چه خوشحال وَوې
نن ئې چا څخه ځواب شته

له حاله ئې خبر شه که شته شته که نشته نشته — قلاش و قلندر شه که شته شته که نشته نشته
که لَږه دَه که ډېره واړه ونیسه په تیره — په خوی دَ پیغمبر شه که شته شته که نشته نشته
دَ عمر څه اندوه کړې څه اندوه دَی که ځان پوه کړې — ژوندَی تر ګوره ورشه که شته شته که نشته نشته
بادشاه دَ بحرو بر یې، که قانع په خشک و تر یې — دَ دهر سکندر شه که شته شته که نشته نشته
که دُر دِی که ګوهر دِی که ګلوُنه که شجر دِی — دَواړُو بې خبر شه که شته شته که نشته نشته
بې وخته غواړې بد کړې بیهوده رخه حسد کړې — به صبر تونګر شه که شته شته که نشته نشته
مه ژاړه مه پرې ویاړه غم ښادی پریږده دا واړه — واقف پدا سیر شه که شته شته که نشته نشته
بلا دِی چه تولیږی په هیچا نه پاتو کیږی — فارغ له سیم و زر شه که شته شته که نشته نشته
له یاره مهر غواړې که ئې نه مومې نور ژاړې — دَ یار په رضا سر شه که شته شته که نشته نشته
که وصل که هجران دی دواړه ما وته یکسان دی — آرام پخپل مقر شه که شته شته که نشته نشته
څو سعی څو طلب کړې اندیښنې په روز و شب کړې — په واړه برابر شه که شته شته که نشته نشته
لږ عمر ډېر غمونه په زړه هونبره ستمُونه — قانع په خشک و تر شه که شته شته که نشته نشته

پخپل هنر نظر کړه څو ژوندَی یې خپل هنر کړه
خوشحاله شیر نر شه که شته شته که نشته نشته

لکه مخ ځما دَ یار دَی نمر خو هسی وِی کنه — لکه زه په عشق کښې زیږ یم زیږ خو هسی وی کنه
دَ عالم ډېری خبری لور پَلور توری لښکری — زړه مِی نه خوځِی له ځایه غر خو هسی وی کنه
بې دَ عشق له شور و شره چه هر ګز ځما له سَره — نه ځِی نورځه هر څه درومی سر خو هسی وی کنه
چه ئې ریبم عمل لا کا چه ئې ورک کړم ځان پیدا کا — ورَځ و شپه دا هسی کر کړم کر خو هسی وی کنه
تا وې درومه نوم می زبر کړه بل سبق له زړه بدر کړه — تل می ته یې په خاطر کښې زبر خو هسی وی کنه
و هغه ته می سر کوز دَی چه معلوم ورته رموز دی — په خبره نه پوهیږِی خر خو هسی وی کنه
پدا باغ کښې یَوَه ونه تل تازه تره برخنه — چه ئې اُوړَی ژمَی بر خورم بر خو هسی وی کنه
چه آزاد مریی ور درومِی خپل مراد ور ځنی مومی — په هیچا ندی تړلَی ور خو هسی وی کنه

په یوه زمان تر یاره ورشی راشی څو ګزاره
دَ خوشحال خاطر تیز پردَی پر خو هسی وِی کنه

لا یزاله پادشاهی که چا موندله — کیخسرو به وَ خسرو ته نه سپارله
جام دَ میو را پلاس کړه ساقی ګوره — په هر لوری دا ځما دَ غم کرَله

(c) ketabton.com: The Digital Library

په امان امان يوه لا تيره نه وی په زمان زمان ښکاره کا فلک بله
ډیر په باد ولاړل د تا غُنډې باد وړی ته ئې وروستو دُم کړه يې ځما دله
جام و ساز ساقی بهار واړه اسباب شته صراحی ولی خالی وينم له مُله
په جهان دَ نيکو نوم بويه خوشحاله
چه یادگار به وِی تر تلو هم تر تله

لور په لور می په جهان گريوان پاره شه کور په کور می دَ رنديه کار ښکاره شه
چه می پټه په لستوڼی کښ نوشله دَ هغې پيالې جهان په ننداره شه
دا څه زړه ندی چه اوس مهر پما کا راته نرم هغه سخت سنگ خاره شه
جه دَ عمر څه مايه تر واړو تير شوم دَ خوښې ملک ځما په اجاره شه
اوس به کوم ارمان کوم سوبه می وشوه چه رقيب دَ يار له وره آواره شه
دَ هغه قدر لرم ترې به ځاريږم چه په غم کښ چاره جوی دَ بيچاره شه
اوده بخت وته می ډيری نارې وکړې وينښ له خوبه په وروستیٔ نریٔ ناره شه
جدائی ورځنی مرگ دَی سړَی وَ مری دَ بتانو وصل عمر دوباره شه
که خپل ځان هوښاره وِی هوښيار به نشِی
اوس خوشحال دَ ليونيوُ په شماره شه

له تا نه چه جدا شم په ناکام په ورځ و شپه نه خوب نه می خوراک دَی نه آرام په ورځ و شپه
بل خيال فکر ئې نه وِی بې دَ يار له رويه مويه دَ زړه په حال خبر يم زه مدام په ورځ او شپه
دَ مخ ثنا ئې وايم دَ زلفينو ئې صفت کړم په خوله که په خامه وِی صبح و شام په ورځ و شپه
يَو ښه نظر چه وکا، سرمايه می دَ ژوندون شِی کافی دَی خلوتی ته يَو بادام په ورځ و شپه
دَ مښکو دَ کافورو خوشبوئی به تر قربان کړم که ستا له لوريه راشِی يَو پيغام په ورځ و شپه
دَ مښکو گل قندی به ئې خوشحال ترې صدقه کا
که ته می سر فراز کړې په دشنام په ورځ و شپه

ليونی شول پښتانه په منصبونو خدايه ما ژغورې له مسِی غضبونو
د کنگاش علم دَ چا دَی دَ تورزنو لکه څوک لولِی قرآن په مکتبونو
د کنگاش له علمه هيڅوک خبر ندِ خبر دار يم دَ هر چا په مشربونو
پښتانه لَرَه لوی عيب دی که ئې گورې چه نازيږِی دَ مغل په لقبونو
شرم ننگ نام و ناموس ئې په ياد ندی خو ويل کا دَ منصب دَ ذهبونو
دَ مغل سَرَه ليده په طمعه مکړه که کيدَی چيری په نورو سببونو
خټک واله بلنځه ښه ځما تر ملا ده نه ښيوه دَ نوکریٔ په قصبونو
د بادشاه د زندان شپه ځما په ياد ده چه تمامه شپه می تله په يارېونو
پښتانه که جنگ مغل سَرَه په تيغ کا هر خټک نيوی مغل تر جلبونو
د خټک دَ ننگ جرگه نشته خوشحاله
را وَتلِی دِی له کومو نسبونو

ما پټ درله[1] کوگل کښ هميشه اسرار دَ زړه آخر ئې خوناب وکړ په هر لور پرهار دَ زړه
له پښې اغزی مشکل دَی په حکمت له تلی خيژی دانا طبيب بايده دَی چه وَکاږی خار دَ زړه

---

۱. در په کوگل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ نورُو تونگرى كه دَ دنيا په سيم وزر شى
پدا به تونگر نشى بې ديدنه خوار دَ زړه

دَ شونډُو دارو وركړه كه ئې ته په رغول يې
په سترگو ئې علاج كړې، خو به مرى بيمار دَ زړه

كه ښه دَى هغه زړه دَى چه مين په هيچا ندى
چه يَو ځله مَين شِى نور تر تلو زار دَ زړه

غمجن په ډار دَ هجر خوښ دَ وصل په اميد كښ
په اور او په اوبو كښ كړ خداى څه روزگار دَ زړو

دَ يار مهر تر ما راغى دما مهر تر ياره
رشتيا ده دا خبره چه دَ زړه ده لار دَ زړه

چه خپل اختيار ئې ټول دَ خپل اشنا په لاسو وركړ
رحمت ئې پدا كار شه خو هم دا دَى كار دَ زړه

خوشحال خسته به اوس دَ خاطر راز وَ چا ته وايى
چه ولاړ ورته ئې شا كړه دماغى ښه يار دَ زړه

ما د شيخ او د ملا حكايت نزده
ما بې ميه نيه بل روايت نزده

چه ئې نوم دَ عاشقانو په شماره شو
دا هم ښه كه بوالهوس محبت نزده

ته چه هسى په چمن كښ چمان كيږې
سبره تا ځما دَ يار په قامت نزده

عام عالم وته پخپله ځان نادان كړم
هسى مه وايه چه ما كنايت نزده

دَ درويش په زړه كښ درست كتاب مرقوم دى
كه په خوله ئې دَ عربو لغت نزده

وايى تا سره مى نيت دَى دَ ياريه
هسِى هيښ يم گنه ما په تش نيت نزده

نادان يار به صدقه تر هوښيار يار كړم
نادان يار دَ آشنايئ قيمت نزده

عاقلانو څخه څو رنگه حكمت دَى
ليونيو يو دَ عقل و حكمت نزده

وَ عاشق ته نصيحت مكړه ناصحه!
خود پوهيږې چه عاشق نصيحت نزده

دَ خدمت له نتيجې نه چه محروم شوم
زه لايق نه يم كه تا عنايت نزده

چه بې سته ميلمه كيږِى هغه زه يم
له آشنا مى دَ هندو غُندِى ست نزده

زاهدان چه نمونځ روژه كا جنت غواړى
ما خوشحال دَ مزدورئِ طاعت نزده

ما په ننگ دَ پښتانه ځوانان قربان كړه
بيا مى غوره جمعَ ښه ځوانان كړه

دَ سړى دَ لارسه مړه وَى څه به ښه وُ
ليونى كوته سپى مړه گوره شيران كړه

هونبره كوټى كوټى كوټى ارمانونه
هر نفس ځِى په ارمان ارمان ارمان كړه

په يوه ساعت ښادى په بل غمونه
په لحظه لحظه تيريږى د اسمان كړه

چه په شپه را سَرَه ټول وؤ په زرگونه
په سبا ئې له ما واړه ځان په ځان كړه

ځنى مړه ځنى ژوندى له ما جدا شول
هزه جدا په غاړه غورنو په ارمان كړه

چه شاهان ځوانان مى ومړل هاله مرد يم
كه دَ هر يَوه مى سارى سل ډمان كړه

يو مهلت دَ عمر بل مدد دَ بخت وى
په دښمن باندِى مى وشوې پدا شان كړه

لوى ئې قتل، هلک بند، ښهرونه سوى
مال اُلجه بنديان دِ كل واړه جهان كړه

چه نو ښهر مى واهه كوهاټ مى پريښ
لا هاله ځما دا كړه وُ دَ نادان كړه

چه بد اصل سَرَه ښه كا كله ښه كا
دَ موزى سَرَه څه سود دَى دَ احسان كړه

ښه خو دا په خوشحال وشوه بيا تر كاله
گوره څه رنگه ښكاره شى دَ سجان كړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د نیت خبره ووې و ناکس ته[1] نور څه نه په نن ئې ووې و عسس ته
خوږې شونډې به ئې نه مومې وَهَه ئې سر په دواړه لاسه وایه و مگس ته
دَی پخپله د خپل ځان په سوختن دَی د گداز له حاله څه وائې قفنس ته
زه چه نن دا رنگینه خبری وایم پرې پوهیږم چه به پاتو شِي بیا پس ته
و طوطیانو ته می پریښووې خبری دا مرداره جیفه پاتو شوه کرگس ته
یا ئې رنگ یا ئې آواز ځان بلا شِي څوک چه اَچَوی مرغونه و قفس ته
گله نور عیب دِ نشته عیب دِ دا دَی چه په وازه سترگو گورې و هر خس ته
دِ غفا[2] د کال بهار گوره خوشحاله
چه د مړو به ئې هوا وشِي هوس ته

مرد هغه چه زړه ئی ویښ سترگې په خوبه[3] پخپل سپی[4] ئې گمان شِي د لیونتوبه
درویشان دِ دعا کا زه ئې په ځان کړم که د زړه نه می روان شِي دا زهوبه
په مخ ډیره ښایسته ئې نوم دِ څه دی دعاشق د ځان بلا فتنه آشوبه
که په توره ئې ځواب ورکړې مردی ده که وجود دِ څوک آزار کاندی په چوبه
په هغه لاری چه پَل ږدې هسی وایم که بانړو کړم د هغې لاری جاروبه
که هر دم ورته ژړا کړم فایده نشته سنگین زړه به ئې په چا نشی نروبه
د دنیا سختی تل نه وی غم مکړه په حلوا گنُدی بدل شی دا اتوبه
که په تور د عاشقی بندیخانه شِي د عاشق له دله به ځی تلا توبه[5]
که می لاس ورباندی بر شِي هیر می ندی ډیر سرونه به چت پت کړم په میخ چوبه
ستا په تش دیدن می هسی زړه خوشحال شِي
لکه تږی په اوبه شِي ښه خړوبه

مه وَی هسی کلی چه دَ چرگو کولمې خورینه شل خمبې[6] په کور کښ د نیستۍ له غمه مرینه
بل فکر ئې هیر دَی خو په غم دَ زرو پول دی نر ښځی ئې واړه خو ټنگې ټنگې لرینه
ډیر ئې ملکان دَی پکښی ښه ملک هغه دی هر چه بې ننگی کا دَ چا بلۍ رشوت خورینه
کښینی په مسجد کښ دَ سودونو کا خبری یا دَ خور دَ لُور دَ وَلوَرونو وَیل کړینه
لس کالونه تیر کا په یوه جامه خیرنه کوز وجود برمنډ په سر څیره کښیږدِی زرینه
خاندِی پروا نکا شرم نلَریی د تیښتی ډیرِی بې شرمۍ دَ ژوندُون دَپاره وړینه
جنگ لَرَه چه ورشِي نور څه هیڅ نکا بې تیښتی جوړ چار وسله تښتی سکه ورور ته نه دَرینه
هیچیری د شولو دَ سړی برکت نه وِی شل شِي شول شِي شوم شِي چه همیش شولی کرینه
نوم دا ودانۍ ویران ښهر دَی خوشحاله
لا ترې ویران مشه ورځ په ورځ دَه کهترینه

---

۱. دا بدله په نورو نسخو کی نسته، له یوې قلمی نسخی څخه نقل شوه.
۲. غفا د ابجد په حساب (۱۰۸۱هـ) کیږی.
۳. دا بدله په چاپی نسخه کښ نسته.
٤. یعنی نفس.
٥. جوش او خروش
٦. خمبه: انبار خانه، د غنمو د ساتلو کوټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناز، نخرې، مهر خندا، فتنې، جنګونه     دَ خپل یار سَرَه هم تا زده دا رنګونه
کله کله خواپخوا غاړه غړئ     کله تښته په دوو پښو په غورزنګونه
چه ځما سَره ئې ناسته په پالنګ وه     اوس له ما په چرته لاړ په فرسنګونه
په لیدو پسی کچکول واخلی ملنګ شِې     مینه کا دا هسی چاری آهنګونه
په نصیب دَ روغو زړُونو فراغت دی     په قسمت دَ خوږو زړونو لهنګونه
عاشقی به هغه کاندِی چه تر شا کا     زیست، روزګار، شرم، پیغور، ویره ننګونه
چه بوسې دَ جفا جویو دَ خولې اخلِې     ګنُدِی اخلِې دَ یاغیانو قلنګونه
ځوک مایوس ځوک په امید دَ یار دَ وصل     ځوک پراته غاړه غړی په پالنګونه
په لیدو به ئې دَګور مړی سر هسک کا     که پرې درومی دَ پایلو په ژرنګونه
که پستې پستې خبری دراز نکا     دَ جنت دَ حورو مه وینم رنګونه

زه خوشحال دَ آهو چشم مینی سر کړم
دَ غرخه غُندِی په هسی ګړنګونه

نامرد مل دَ چا مل مشه     سر په بد نائی کل مشه
پیئ غوړی واړه مردار کا     دَ خپل کور پیشو غل مشه
یَو چه دوه ورته ښکاریږی     ځوک په سترګوُ احوال مشه
چه یا سیب یا بهی کیږی     بصل مشه حنظل مشه
دَ غوټیئ غندی موسیږه     دَ ابرو تر منځ خل مشه

په ویَل که ډیر افضل یې
له خوشحاله افضل مشه

نشته هسی سر چه به خالي وی له دماغه[1]     کوم دَی هغه زړه چه به روغ پاتو دِی بې داغه
چرته پسی درومم په کوم لوری به ئې مومم     ورکه مونده نشِی بې رهبره بې سراغه
مست یم می پرست یم همیشه ایاغ په دست یم     یو ساعت چه ځِی راباندِی غم دَی بې اياغه
باغ د دَ هغه دَی په هر چا چه دِ پیرځو دی     زه په ارمان تل وَ یوه ګل یَم ستا له باغه
ګل دَ عندلیب دَی په قسمت دَی په نصیب دَی     درومه درومه په جیفه ګرزه کلاغه
تل هوا هوس کړه، تر اوله یَو په لس کړه     ستا له غمه څه دی که زه لاړم له فراغه

ورځ وَرباندِی شپه دَه په تورتم کښ ئې میشته دَه
کله به لیده شِې د خوشحال دَ زړه څراغه!

نن په سترګو ورځیو له ما خوار زهد تقوا وړه     ناز و عمزې وکړه عقل و صبر می سبا وړه
شیخ ملا قاضی مفتی صوفی سَرَه یو ځای دی     پا څه ښیوه وکړه یو یو ځیز می له هر چا وړه[2]
جور دَ اغزی وړی چه وَګل وته هوس کا     یار که ښایسته وی ته ئې هم جور و جفا وړه
دَور دَ اورنګ دَی دَ ریا زاهدان ډیر دی     پټه په لستونی دَ شرابو ډک مینا وړه
تل چه عاشقان دِی پسی تعیین رقیبان دی     ته چه عاشقی کړې دَ وګړی شور غوغا وړه
مال دَی که می ملک دی ځو لا مړ نه یم ژوندی یم     هر چه ستا په خوا دِی هغه واړه لا پخوا وړه
ډیری دِی نګاری ښایسته پری رخساری     نورو لره نور څه ته ځما زړه په تنها وړه

---

۱. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
۲. یو ځو ځزه له هر چا وړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونډې دِ حلوا دِی عاشقان دَ حلوا وږی  ښه په وږیو څه په پَلو پټه دا حلوا وړه
تا ویل خوشحاله یو کالی به له تا غواړم
زړه دَی نور څه ندی ښه در کړی مِی وَتا وړه

نن ئې بیا دَ دلبرئ خنجر تر ملا شه  ښه چه سر ئې لا اوله په پارسا شه
ښه چه ژر دِ مختوری وشو رقیبه!  هغه یار چه مَرور وُ بیا پخولا شه
ما وې بخت به یو ښه یار را کا وَ ما ته  چه دَ درست جهان ناترس وُ یار د ما شه
کل پیدا سبب ارزان درومی په بَیَه  چه ئې ډیره بقا نشته بیوفا شه
په بلبلو باندی زیَری دَ بهار کا  چه نرگس په هسی سخته څِله وا شه
راشه گل وَته نظر وکړه اَغزی ته  گل په هونبره زیبابیه یار دَ چا شه؟
دَ فراق شپه ئې چه هونبره اوږده نه وه
په خوشحال باندِی هزار ځله[1] سبا شه

نشته بانگ دَ مؤزن په درست تیراه  مگر واورې بانگ دَ چرگ په سحر گاه
که اورکزی ئې سراسر واړه گمراه دِی  آفریدی دِی تر گمراهو لا گمراه
دَ اسلام ارکان احکام حلال حرام شته  نه زکوة نه سرسایه نه دَ زړه تراه
ښه هغه چه مستقیم په شریعت وِی  بد هغه دی چه په شرعه وِی تباه
دَ دنیا چارِی همه واړه فانی دِی  که باقی دِی خو یو نوم دَی دَ اللّٰه
چه یکلخُته دَ دنیا په کار کښې غرق وی  له هغه غافله زویه نه آه آه
په اوبو سره گندگی له تنه درومی  په توبه په استغفار سَرَه گناه
موحد دَ تصوف دَ رسالو دَی  مسئله دَ شریعت کښِی گناه
کله کله چیری وَوایی دا هونبره  ځنی ځنی لآ اِلهَ اِلا اللّٰه
چه گناه همیشه کا توبه ئې نه وِی
له هغه قومه خوشحال غواړی پناه

نشته هسی مینه د یارانو خاص الخاصه  چه یو ځبله ځاریږی په جهان کښې له اخلاصه
یو راز دَی پیدا کار کښې که ته ښه فهم پرې وکړې  چه شمعَ سر جنبانه پروا نه ورته رقاصه
له مرگ می څه غم کړې چه دَ عشق په شریعت کښې  قاتل په شرعه خلاص دَی له دیته له قصاصه
له لاس می رقیبان په تیره توره سَرَه پرې کا  لَمن به دِ لا هم ځما له لاسه نشِی خلاصه
زاهد به په عشرت ځما له بزمه نه خبریږی  دَ عامُو څه مجال دَی چه خبریږی له خواصه
چه وگورم و تا ته همگی په درُو پرُ یې
څه خیژی اې خوشحاله له محیطه هم غواصه

نصیحت دَی که ئې اروې درته وایی بیچاره  نفس به ډیر څه درته وایی پسی مشې آواره
روحانی بخره دَ چا دَه چه ئې مینه په درویش وِی  نفسانی بخره دَ چا دَه، چه جاهل وِی هیچکاره
چه وَهل خوړل خورول کا، هغه باز دَی یا شاهین دَی  چه ئې سوړی لَره وړینه، یا میږَی دَی یا فاره
علم تا بیائی په پورته، جهل تا بیائی په کښته  یا عیسئ لَره ور درومه، یا قارون ته ځان سپاره
چه ئې علم فضل نه وِی چه په تخت دَ پادشاه کښینِی  یا یو یَږ دَی یا لیوه دَی، یا ئې گاو و خر شماره
بیوفا دروغجن مشه، ناسپاس حق ناشناس هم  ره زنی کړه بنگ شراب خوره څرخ وهَه په دوتاره

---

۱. هیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وِی
خپل کشکاب دَ خپل محنت خوره په سر راوړه پشتاره
که وعده په قیامت وِی، هوس مکوه وَ پور ته
څو توانیږې ښځه مکړه که په مخ وِی ستاره
په هوا په هوس تللم، لا تر اوسه هسی زغلم
وا ویلا دَ نفس له لاسه گریوان چا ته کړم پاره
څوک نیکخواه په جهان نه وه چه ئې ما ته هدایت کړی
چه خبر په قباحت شوم، پکښی ډُوب یم یکباره
لوی دریاب دَی توره شپه ده پکښی ځی ځما بیړیه
خدایه خضر را ښکاره کړه چه لاس را کاندِی ښکاره
هنر هم پخپل مقدار شته، دانش هم شته پخپل قدر
که یَو بخت ور سرَه مل وِی دَ خوشحال کړه ننداره

نه د ما د زړه لربر دِی ښایسته
همیشه می دَ زړه سر دِی ښایسته
خپل ژوندون دَ ده دَ مخ دَپاره غواړم
له دننه می خبر دِی ښایسته
بت پرست دَ یوه بت یم نه دَواړُو
که بتان می دَ آذر دِی ښایسته
زه به مخ دَ یار مخَی نکړم دَواړُو
که گلُونه سراسر دِی ښایسته
زه له ډیری ځلی یو پرییږدم بل گورم
سرَه یَو تر بل بهتر دِی ښایسته
خال و خط به ئې دما له زړه ولاړ نشی
که بیرون می تر بصر دِی ښایسته
په وار وار ترې لعل و دُر دِی را توئیږی
ستا ویل لکه سره زر دِی ښایسته
په خطا که په ختن که په کشمیر شته
نه چه دا می تر دلبر دِی ښایسته
که هر څو دَ ځوانیِ عشق لَرِی خوشحاله
دَ زړو، نه مکدر دِی ښایسته[1]

نن دِ دور دَ خوبیه دَی دماغ کړه
یا دَ یار په زړه مرهم ږده یا ئې داغ گړه
په خندا خندا راځه غاړه غړی شه
د خپل یار خاطر له غمه نه فراغ کړه
ستا دَ زلفو په تورتم کښی مِی زړه ورک شه
چه ئې بیا مومم ښکاره دَ مخ څراغ کړه
دَ مخ خال دِ تورکارگه دَی ځما زړه وړی
دَ بازونو دَ شاهینو ښکار په زاغ کړه
دَ خلوت په مخ کښی ناست زاهدان ښه دِی
ساقی زه چه زاهد نه یم گنبت دَ باغ کړه
ساقی لور په لورگلزار دَی چه لیده شِی
له توبې نه کړه توبه په لاس ایاغ کړه
گوره کوم لوری ته لاړ دَی مونده نشی
دَ خوشحال دَ زړه پیدا چرته سراغ کړه

نجومی چه قدم نږدی بې نجومه
موت و فوت و ناکامی مومی له کومه
چه گړی گړی دَ ورځو شپو تیریږِی
پکښی راشِی په چا نیکه په چا شومه
ځان به خلاص نکا دَ بد ساعت له شره
نجومی ئې که خبر دَی له علومه
نیک و بد ئې په قبضه کښی دَ قضا دی
بیهوده خبری مه پیمه ور درومه
مقدر به په هیڅ رنگ مبدل نشِی
هر سړی لَرَه ورځی بخره مقسومه
که په پوهه افلاتون دَ زمانې شِی
دقیقه به دَ قدر نکړِی مفهومه
گڼډی[2]چرگ تر زمکی لاندِی اُوبه وینی
ولی نه وینی په زمکه باندِی لومه
په تنځری نن دَگانده حال معلوم دی
ولی بند شِی دَ هلکوُ په کړکومه[3]
ورځ و شپې سرَه همه ندِی یکسانی
نن یوه ده کانده بله شی معلومه

---

۱. د زړونو په گذر دِی ښایسته.

۲. ملا چرگک.

۳. یو راز دام دی.

وَ سړِی ته وار په وار هغه رسیږی
چه دَ ده په پیشانی باندِی مرقومه
په خوشحال یوه هغه دَه بله دا شوه
بیا به گوره په قسمت پیښه شی کومه؟

نه ئې ملک نه ئې لښکر نه ئې گنجونه
تر خانانو دماغی دِی کښلی جونه
که خانان په زر په زرو په توره نازکا
کښلِی مخ لَرِی ښیوې غمزې غنجونه
یا دَ کښلیو دَ زړه رای دَی چه می وکوت
یا دَ لوی دریاب په څو رنگه موجونه
څوک به روغ سلامت پرې نړدی په ملک کښې
بیا ئې باندِی کړل تاختونو ته سرجونه
په رقیب شه، په غماز شه، په بد خواه شه
چه به کښلیو لَرَه ځِی هغه رنځونه
بل سر مه ځه په دلبرُو کښې ئې غواړه
اُوه ستوری دَ اسمان دوولس برجونه
زه امی په دا خبره نه پوهیږم
چه عالم ئې راته کا په مخرجونه
په چا داد په لپه نمنځ کوې فلکه
په چا لونې په اوړیو په چجونه
دَ خوشحال خاطر ښیښه دی مات دِ نشِي
ستا دَ سترگو مستی وری په څو کنجونه

نیمی شپې می په پالنگ راغله دلبره
پریرویه، عنبر بویه، سمنبره
رنگینه جامې اغوستی زرنگاری
سره درسته تجلیٰ وه پا تر سره
په سپین والی دَ مخ سپین لکه مؤمنه
په تور والیِ دَ طُرې لکه کافره
سر یې تور، ښیښه په لاس، باده څښلی
دَ مستیَ پخپل ځان نه و خبره
دَ پائلو دَ ځړی[1] ئې شرنگهار شو
زه له خوبه را پرتاب شوم ډیر په ویره
ما وې گوره ښاپیریَ وه، که حوره؟[2]
چه دا هسِی شان په ما شوه برابره
توری ورځِی یی لینده باڼه یې غشی
غاښ ئې در قیمت بها په لب شکره
په خندا خندا ئې دا وَوې وَ ما ته
چې وَما وَته نظر کړه بې بصره!
ته ما نه پیژنې، زه هغه خوبا یَم
بله نشته په خوبیٔ تر ما بهتره
عاشقان ځما دَ خولې په کلِی ډیر دِی
بختوَر ئې، چه می وَنیوې په غوره
څو بوسی ئې دَ لبانوُ و ما راکړې
حقیقی پیاله ئې راکړه له احمره
درسته شپه مُو سره راز په پالنگ وکړ
دَ وصال خوښی ئې لانه وه تر سره
چه آواز دَ مؤذن دَ آذان وَشو
په سحر له ما نه ولاړه ناز پروره
چې په ډیر ارمان محبوبه ځنِی درومی
کشکې شپه دَ خوار عاشق وَی بې سحره
چه له هسِی محبوبا خوشحال جدا شو
دَ آتش لمبی ئې درومِي له بستره

وچ لرگی وبله کښیږده
اور پرې پوری کړه نور پریږده
په تیرو تیرو اَغزیو
تا ته چا وَیل چه پښې ږده
پکښی ظلم ډیر ستم شِی
له بیداده ښهر لیږده
دَ خزان سیلیٔ راغلې
لکه پاڼی هسی ریږده
تل هلکان دَ خپلو اوښیو
دَ گریوان په اوڼی بلیږده
په اعوذُ په لاحول
سر آخله له سر ویږده

---

۱. دا کلمه په قلمی نسخه کښې ځړیٔ لیکلې ده، یعنی په سر کښې د ویښتسانو لویه کلوښته، په ککری د ویښتو ځونډیٔ.
۲. ښاپیریٔ ده که څه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس پیری راغله خوشحاله
دَ ځوانئِ چاری پریږده

وخت دَ نو بهار دَی، زه جدا له خپله یاره    دریغه، دریغه، دریغه، چه بې یاره ځې بهاره
ژاړی غاړی غرُونه په احوال دَ عاشقانو    سیل د واره ندَی چه را درومی له کهساره
اور دَ خوړو زړو دَی[1] چې دَ غره په ونو بَل شو    شنې ډډوزې خیژی له نشتره، له چناره
غواړې چه احوال دَ فراق جنو در معلوم شی؟    گوره هغه زانی چه جدا ځی له قطاره
داځه معلومیږې چه جهان دَ ماتم ځای دی    شنې جامی اَغوستِی دَ طوطیانوُ له چیغاره
نوری نارې نشته، خو نارې د بیلتانه دِی    راشه که ئې اروې دَ رباب له هره تاره
رنځ می نه کمیږِی په زمان زمان زیاتیږی    زر راځه طبیبه گنه مرَم دَ خدای دَپاره!
مرگ دَ رقیبانو بل[2] ژوندُون د حبیبانوُ    خدای بړو په هنگام د وصل کیږې دا دوه کاره
ځه شو که لا دم وَهِی په شمار دَی دَ ژوندیو    رنځ چه لا دوا شِی، طمع پرې کړه له بیماره
پاتو سړی نشول، چه دا گرزی ددو دام دی    ځکه ویره نشِی دَ دردمنوُ له آزاره
هسِی خوار و زار شوم زه خوشحال په عاشقئ کښ
خپل دِی که پرَدی دِی راته نه گورِی له عاره

ودره چه ځه خو په یارئِ شی خبره    گورُو[3] به چه ځه شیوه په لاس واخلې دلبره
لا دِ[4]ځه تر اوسه هغه قدر ندی لیدلَی    ځکه دَ خپل قدر په لافو سریې صنوبره[5]
ځای دَ چپ و راست چه د کافور دَ پاسه ندی    ته ئې ځه سیالی له توروُ زلفو کړې عنبره
ځوک چه نظر وَکا هغه ښه کښلی دلبر ته    ځی له ډیری مینی دَ یوسف سوره کازبره
ته ئې چه دَ مخ سرَه نن شپه برابری کړې    شمعی! دا دعوه تر سبا یوسه برابره
مینه هسِی ځیز دَه چه په چا باندِی مین شوې    ولی وینځه نه وِی تر بی بی شِی په تا بره[6]
لارِی دِی بی شماره زر کوځی دِی تر معشوقی    ځو به پکښی درومې قدر مه بړده بې رهبره
مه پریږده له لاسه کار و بار دَ عاشقئ    چار دَ عاشقی تر هر ځه دَه معتبره
هَرَه شپه چه درومې په خوشحال باندی دوږخ دَه
شپه دجدایئ که رسیږې پیغامبره[7]

وړاندِی وروستو دوه عدمه    پدا منځ کښ یَو دوه دمه
خو هم دا ئې چه لیده شې    که ځه نور ځه یې ادمه
چه دا دوه دمه دی نه وِی    په حساب تر جیفه کمه
ستا غفلت وته حیران یم    پخپل ځان باندِی ستمه
دَ حرص په وزر گرزې    هم په غرونُو هم په سمه
که بادشاه دَ درست جهان شې    چار دی تیره شِی تر جمه

---

۱. د خوړو زړونو چه د غره.
۲. تل.
۳. گوره.
٤. لا یی ځه.
٥. په لافو سروَ صنوبرَ.
٦. یا به علتی او بیانی وی، یا به (ولې) وی ما خوذ له ول ځخه چه ارزانئ او کم قیمتئ ته وایی یعنی کم قیمته وینځه.
۷. د جدایئ ده که رسیږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بادشاهي به دی خلاص نکا — چه اجل درشيِ له همه
څو روزګار هونبره ئې فکر — څو دنيا هونبره ئې غمه
په زړه يو درم يو داغ دی — دوه داغُونه دوه درمه
څو عالم سَرَه ګډيږی — غم به مومی له عالمه
چه وَ هر څه ته ئې شا کړه — په هغو دَه مسلمه
چه نه څه اَروې نه وينې — زړه دِ خلاص دَی له المه
ته هم ډير ښه يې خوشحاله
ولی ځار دی تر قلمه

هر عاشق چه بهره مومی له حضوره — په هغه باندې سلام له ما مهجوره
ښه دِ قدر دَ وصال دَ ساعت زده کا — وَ ناظر ته تل جلوه نکا منظوره
اوس د ديو جونو وينځو په ځای نده — درخانئ آدم خانه کړه مشهوره
چه پدا هسی جمال ورځنی زووې — بوره مور دِ ښاپيريه وه که حوره
يار به چا په يوه درنګ له لاسه پريښی — جدائئ له ياره نشيِ بې ضروره
صبر تا لمانه درست په کاته يووړ — بيا وَ ما وَته وَيل کړې ناصبوره
زه لا هسی په ياریِ کښی غوڅ نه يم — چه لَمن به دِ پريږدم په تيره توره
لکه باد چه لوی نښتر وُلی په مځکه — هسی رنګ ور پسی ولوشتم بيخ پوره
دَ ښه يار ديدن دَ دواړو سترګو نور دی — خدای دِ نکا دَ هيچا سترګی بې نوره
که اسمان او مځکه خوله وبله وروړی
دَ خوشحال خاطر به نه وِی بې سروره

هغه کار لکه په تور وه[1] — ما ليده چه په سپين نور وه
چا به منبک په کافوروړ کړه — ولی بيه نه وه زور وه
تل په شپه بازار خپريږی — په روښا ګوره چه خپور وه
يا يو خوب وُ چه ليده شو — يا يَو خيال خالی بيور وه
چه ځګر خوری دَ خپل زويه — عجب ښه مهر دَ مور[2] وه
اوه غله[3] پرې حواله وه — څه ناتار شه يو څه په کور وه
لږ ئې راکړه ډير ئې يووړل — پوروړی ئې سود خور وه
ما ته وَليدې خوشحاله
چه دِ څونبره زور و شور وه

هر سړی پخپل کنګاش پوهيږی ښه — پخپل زيست او په معاش پوهيږی ښه
بزرګر د کر د کښلی هنر ښه زده — بازرګان پخپل قماش پوهيږی ښه
ټولول به ئې هغه کا چه ممسک وِی — په بازَنه ئې قلاش پوهيږی ښه
څوک دِ هيڅ ورته د مې خبره نکا — عاشقان پخپل تلاش پوهيږی ښه
دَ شرابو صفت څه کوې نور چا ته — پدا کار رند و اوباش پوهيږی ښه
دَ عسلو په حلوا ماړه ناپوه دِی — ګرسنه په نان و آش پوهيږی ښه

---

۱. محشي ورته کښلي دی، چه مطلب له تور او سپينه تور او سپين ويښته يعنی ځلمی توب او زوړتيا ده.
۲. محشي ليکی چه مطلب ځنی مځکه ده.
۳. يعنی اوه ستوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلمزن حساب کتاب هندسه رقوم زده    شمشیر زن پچنگ پر خاش پوهیږی ښه
وَ خوشحال ته وایی خلق ښه پوهیږي
ظن دَ خیر دَی دَی کاش پوهیږی ښه

هر چه ستا دَ زړه رضا واړه هغه کړه    څو چه زړه دَ چا خوږیږی هغه مکړه
که د کسب و د روزګار نه یې نه مرد شته    دَ نامرده ډوډۍ مه خوره ځان خفه کړه
یار هغه چه دَ تنګځې په وخت پکار شِی    چه دعوا کا دَ یارۍ حال ئې زده کړه
چه تنګځه دربانډی درشی که میړه یې    په تنګځه کښې دَ خواریه ځان ور مکړه
په خواری کښې زیست روزګار تر مرګ بتر دی    یا دَ بل ګیډه یا خپله ګیډه بژه[1] کړه
له ځوانمرده هونبره غواړه چه د زیست شی    دَ نامرد د خونه همه واړه اُلجه کره
غلیواز دَ بل منګول وته ګوری    لکه باز لیری نیژدې خپله غوټه کړه
که دعوه دَ مړنتوب لرې په زړه کښې    آس دوند تلاښ په غشی په لینده کړه
یو هر بیت ئې دَ حلوا خوږه نمړۍ ده
که مشتاق یې دَ خوشحال ویل مزه کړه

هر آفت چه په درست عمر را دوځار وه    چه می ځیر کړ درست ځما دَ ژبی کار وه
چه ودانی چاری ورانی په ساعت کا    چه می ولیده په چارو کښې تلوار وه
دَ هر چا یاری می ولیده په سترګو    هم هغه راته بلا شه چه می یار وه
نا هموارۍ به هرګز ور پیښې نشِی    که پخپله اندیښنه سړی هموار وه
صبرناکو سَرَه جور فلک نکا    دَ فلک جور له چا چه سبکسار وه
پدا باغ کښې می ډیر ګل تر نظر تیر دی    دَ هر ګل تر څنګ ما ولیده چه خار وه
زړه په طمعه دَ وفا بې وفا کړه    پخپل ځان باندِی پخپله ستمګار وه
که هر څو باندِی مرهم ږدی نه رغیږِی
دَ خوشحال په زړه دا څه دَ غم پرهار وه

هر سړی چه په لاس ونیسی غلطه    زمانه ورته پیدا کا ډیر سخطه
محبت محنت په خط کښې سَرَه یَو شِی    محبت سره جدا شِی له نقطه
مه یکلُخته مړنی شه مه غوولی    په دنیا کښې هره چار ښه دَه وسطه
مصلحت ئې په هر قط کښې دَ خوبی دَی    کاتبان چه قلم نه پریږدِی بې قطه
د مزری منګل ګاوزی غواړی غویری[2]    د شاهین حمله په زاڼی دَه په بطه
بې ښه مخه به دِ قدر و قیمت نه وِی    د ښه مخ قدر ښه زده کړه خال و خطه
چه مدد ئې مهتر خضر دَی خوشحاله
د هغه بیړۍ ورسِی تر شطه

هر ګز به توبه نکړم دَ ښه دَ نندارو زه    شیخان پیران دِ واروِی دا یم وایم په نارو زه
که ما دَ عشق خبره په ایما تر دا پخوا کړه    ښکاره به ئې اوس وایم په رباب په دو تارو زه
که نور عالم ګلونه په دستور اوړی خپل ګور ته    راوړم دَ یار له باغه هَرَه ورَځ په پشتارو زه
زاهد وائی و ما ته راشه کښینه تسبیحات کړه    یَوه می ده نیولې نه یم هیڅ پدا شمارو زه

---

۱. سید راحت دا کلمه په معنا دَ قربانۍ او خونریزۍ را وړې ده.

۲. د مزری منګل ګاوز غواړی یا غویره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گدای غُندی جار وزم سینه سوی په طلب کښې — که ډېر لَرم په کور کښې هر قماش په انبارو زه
پرهار ئې دَ ښو دَ غشی لا بده بلا دَه — وتَلی یم دَ غشو دَ نیزو له پرهارو زه
خوشحال غُندِ که سود لَری که زیان ځما قبول دَی
عادت یم دَ غمونو دَ اندوه په اجارو زه

هم خدای غواړې نادانه هم فانی دنیا نابوده — په څو به دِ روزی شِی فکر وکړه دا دوه سوده
چه سر په مځکه کښېږدې زړه دِ ډوب په اندیښنو شِی — په خدایږو که خبر ئې د خاصانو له سجوده
په زړه د کعبې مینه د کعبې په لور روان شِی — یو غول دَی په بیابان کښې بل[1] سر سر کا بی مقصوده
یو وهم دَی که څه دَی، چه په خلقو باندِ ییښ شو — دنیا دنیا هیڅ نشته که نمود که نه نموده
سیلاب د پاسه راسی په غورځی په کښته درومی — موجوده د سیلاب دَ اوبو هم ده نا موجوده
ایاک نعبُدُو لولې په سبع مثانی کښې — د زړه دِ څو هوا دی، هغه واړه دی معبودَ
په صافه آئینه کښې، هر چه وینې په سترگو — په لاس اخیسته نشِی آئینه په رنگ آلوده
په څو رنگه گنجونه په هر لوری په جهان کښې — ته باد په لاس شناځ[2] شوې حبطه په هیڅ خوشنوده
خوشحاله له ځوانی ولاړه په پیریَ کی اوس مټ کړه
حاصل چه په ژوندون دَی هغه چارو[3] گټه زوده

هیڅ خبره نه وه چه به ما تر خولې یسته — ستا دَ خولې تشبیه می غوټیَ ولی راوسته
ستا دَ خوږو شونډو چه شاړه شی بیارته گرزی — ځکه مگس سر وَهِی دا هسِی دود سته
زه او ته پدا دور تر واړونه افزون یو — څه حیران مجنون وُ څه لیلا خواره خسته
ستا دَ تورُو زلفو ځنځیرونه دِی په پښو کښې — نه شم چرته تلَلی درته پروت یم پا بسته
هر زمان ستا خیال دَی چه ځما په سترگو گرزی — وینې یم که اوده یم که وَلاړ که نشسته
گل اوسې په حسن اما گل مشې په عمر — راغله سر فراز شوم ستا له باغه گلدسته
واړه هغه حسن لطافت دَی ستا په مخ کښې — چا چه دَ یوسف (رض) قصه و ما ته وَلوسته
کله سبروَنه هسی سَمَه ده په قد کښې — چا نامه دَ سبر ستا وَ قد ته آخسته
ورَځِی دِ لینده دِی تور باڼه دِ تیره غشی — وله صرفه مکړه چه دِ ډکه ده درسته
تا ویل و ما ته څو ډېر غم غواړې له ما نه — ستا په غم خوشحال یم څو را درومی پیوسته
زړه لرې دَ کاڼی په خوشحال باندِ پوست نشو
څه شو که د خولې خبره کړې چیری پسته

هر تشنه چه دَ وحدت په سیند سیراب شه — نور همه جهان و ده وته سراب شه
چه په زړه ئې دَ وحدت ډیوه شوه بله — تجلې به ئې له مخه ځِی آفتاب شه
چه دَ عشق دَ نافې بوی پرې لگیدلِی — درست صورت ئې سر تر پایه مشکناب شه
هر چه ولیږ له هستیه و نیستیَ ته — فراغت دَ دواړُو کونو دَ غذاب شه
چه توروه ترخه قبول لکه دریاب کا — هم هغه دَ قیمتی درُو مآب شه
چه لمبه ئې دَ آتش کړه په ځان تیره — له غه پسه دَ گلابو گل گلاب شه
که په زړه کښې ئې سختی وه لکه پونډه — هم هغه دَ زمانې دَ اور په تاب شه
چه دَ ډیرو اندیښنو نه ئې زړه ورکړ — په مثال لکه خسړی دَ دریاب شه

---

۱. تل سرسر کا.
۲. شناځ هغه ژی بولی، چه له باده ئی ډک کی، او لامبو په کوی لکه د لامبو کاڼو.
۳. هغه چارگڼه ته زودَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ شرابو خوښی هیڅ نه وِی بې نقله
نقل څه دِی معرفت عمر شراب شه

دَ کمال کسب پایه دَ سعادت ده
هغه ښه چه دَ کمال په اکتساب شه

ته هم زړه مراد وغواړه له عالِمه
چه په علم ئې عمل وکړ کامیاب شه

چه دوستی دَ محمد (ﷺ) لرې په زړه کښ
مینه دار ئې په اولاد او په اصحاب شه

چه له شرعی یَو قدم دروِمِی بې روخه
و گوشمال وته تیار لکه رباب شه

په هغه مِی زیرَی وکړ چه دفتر ئې
واړه ډک خاصه په کښلو دَ ثواب شه

په حیات صورت به وگڼِی ځان خاورِی
چه خوشحال غُندی خبر پخپل حساب شه

هو پدا قائل یم کښلی ډیر دِی لور پلور شته
خدای دِړو که دَ حسن سپاره تا غُندِی یَو سپور شته

تا وې چه غم مکړه یوه ورځ به دِ غم وخورم
څه لَره به غم خورم چه می تا غُندِی غمخور شته

ستا په سر سوگند خورم ته ځما و سر ته لوړې
ښه مهر دِ دا دَی که لا ښه مهر دِ نور شته

اې چه راته وایې عاشقی شرم پیغور ده
واړه می قبول دِی که می شرم که پیغور شته

خلق می چه بولی ستا له مخه و گلزار ته
بل بهار به څه کړم چه مِی یو بهار په کور شته

حکم امر ستا دَی که می بولې یا شړې می:
څه به درته وایم دَ خوشحال بنده څه زور شته

یار ځما کَرَه دنَه
زه ئې سر یم په غوښتنه

عجب حال را باندِی پیښ دَی
درومه هیڅ مکړه پوښتنه

دَ وصال په اوبه وَمری
اور چه ولگی په ینه

که په رنگ کښ زیړ لیده شې
گنگونه یې کرکمنه

کوم ماتم در باندِی پیښ دَی
دَ اختر په ورځ خیرنه

خوشحال تل په غم کښ ښه دَی
غم دِ نه ځِی له غمجنه!

یار مِی کبرجن شو څه به وَوایِی و ما ته[1]
درومه صبوری کړه نور به څه وایم و تا ته

صبر به هر گز له هسی یاره وکړی[2] نشِی
درومه سکه دعا کړه چه دِ مینه شِی ترې ماته

تل دعا زاری کړم لا می مینه پرې زیاتیږِي
ژاړه ژاړه ژاړه گُندِی غوږ کا ستا ژړا ته

تل په ورتۀ[3] ورتۀ ژاړم لا ئی زړه په ما ښه کیږی
لا په موتۀ ورتۀ ژاړه چه ئی لا شي خوښن زیاته

خوښ به لا هاله شی که زه وَمرم په ژړا کښ
وَمره چه دا مرگ دِ لا بهتره دَی تر حیاته

زه په مرگ راضی یم رقیبان به خوارا یخ کا
مخ د رقیب تور شه، گوره ته د یار رضاته

ښه په مرگ راضی خوشحال یَوه خبره وایم
یار که مخامخ په وخت دَ مرگ کښینی وَ ماته

یا ځما دَ بینایِیِ نظر نشته
یا پدا نیژدې ملکونو دلبر نشته

که اختر نه وِی دَ یار سَرَه اختر دی
بې مَیَنه که اختر دَی اختر نشته

---

۱. لمړی مصراعونه پوښتنی او دوهم ځوابونه دی.
۲. وکړه نشی.
۳. په ورتۀ ژاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپېنه خوله که را کَوِی په ځان اړ نه یم | معشوقې له ما نه زر غواړِی زر نشته
په اول وصلت[1] دَ عشق په توره لاړ شو | دَ عاشق سرِی په تن پوری سر نشته
کښ غوتې پسی وَهې په لاس به در شِی | چا وې دا چه په دریاب کښ گوهر نشته
نور توروه ترخه که خورې گندِی پیدا شی | و طوطی ته هسِی وایه شکر نشته
ستا غزا لَره به زه خپسر[2] کافر کړم | څه ارمان کړې چه څوک وژنم کافر نشته
په شامت ئې د ماتری[3] غر نړېږی | لا پدا دَ افریدیو بصر نشته
دَ شمال ښَېنَه کا په جنوب درومی | دَ ښکاری سړی په ژمنه[4] باور نشته
که دَ جنگ پکار کښ ډیر دِی حکمتونه | څو صابر نشې زلمیه ظفر نشته
څه عجب بادشاهی لکه خورشید کړم | یک تنها په جهان گرزم لښکر نشته
نن دَواړو دلبرانو غوره ته یې | که دِ یَو لونگ په پوزه زیور نشته
دَ عنبرو بوی اَلوزی ستا په کوی کښ | واړه ستا دَ زلفو بوی دَی عنبر نشته
په څو غره په غره دَ باز غُندِی پرواز کا
بیا به وایې دَ خوشحال ختک پر نشته

یار می بیا دَ رقیب یار شُو دریغه دریغه | په خبرُو دَ اغیار شُو دریغه دریغه
یو څو ورَځی ئې په زړه کښ مهر ځای وُ | بیا بې مهره ستمگار شو دریغه دریغه
هغه گل چه می ساته دَ زړه په وینُو | مل دَ هر خس و هر خار شو دریغه دریغه
و قصدمنو ته کاته ځما په قصد کا | دَ وژو می روادار شو دریغه دریغه
بی له تا می دَ ځگر وینی خوراک شوې | تیر می عمر په دا کار شو دریغه دریغه
پسرلَی[5] چه تل بلبلو پر چیغار کړ | دَ خزان له لاسه خوار شو دریغه دریغه
بیچاره خوشحال په طمع دَ وصال وُ
دَ هجران په غم گرفتار شو دریغه دریغه

یار می غوښت چه مِی اندوه یوسی له دله | نه چه کا دَ ما په زړه دَ غم کرله
زړه مِی وسپاره وَ تا ته چه ساته ئې | نه چه ته ئې سَرَه وَ سرویه[6] په بله
یَو پیغام ئې دَ وصال را لَرَه راوړ | دَ جهان خوښِی ئې ما وَته بخښله
له اوله عشقبازی راته بازی وَه | اوس همه راته را پېښه شوه مشکله
خدایه تا په ښایسته وو مبتلا کړم | چه له غمه ئې خالی نه یم هیڅکله
که همه دنیا ځما په لاس و دست وَی | ما به کُل دَ یار په زلفُو وَښندله
دَ هجران دَ تورِی هسِی شان گزار دی | چه پرهار ئې بل ځای نه کیږِی بې دله
که دَ مستی دَ غمزې دَ تیغ مشتاق یې | لُمړی خپله خون بها کړه ورته پله
که می دا ځله صورت له غمه خلاص شِی | نور توبه له عاشقی له حاصله
ما په هیچا محصل نه وُ گمارلی | تا وَ ما ته خپل خاطر را کړ پخپله

۱. وهلت.
۲. محشی ورته کښلی دِی یعنی صورت او ځان.
۳. د یوه غره نوم دی.
٤. یا ځمنه یا زمنه یعنی وعده.
۵. دغه بهار.
٦. یعنی په شدت سره موښل او سولول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یاری دی دَ خوشحال سَرَه هم دا دَه
ستا یاری ئې[۱] سر تر پایه وَلیدله

یَو قرین هسې پیدا نشو را څخه[۲]
چه د ما په زړه ئې نکړه منګل ښخه[۳]
چه احوال دَ هر یَوَه راته معلوم شو
هر یَوَه ته می تیار کړل یَو څو چخه
آشنایَیِ دَ نا اهل عالم نه دی
په هر لوری تیرې تورِی دِی ناڅخه[۴]
که په دو کښې چیری لَړه بدری[۵] وَخورم
له چا بله وینا وا نروم بی اخه
دَ هر چا سَره چه کښیني ورته رام شې
نور وَ غاړی ته تیار کا لومه پخه[۶]
کوټه سګ دَ زمانی هر ګوره ډیر شوَل
لکه پړانګ د زاوه[۷]ونیسه کړخه
چه رقیب ئې خوار زار په نظر کښیوت
دَ خوشحال خو هم په دا شوه سینه یخه

یوه بده زمان شوه دریغه دریغه
دَ هر چا می دَ خاطر مینه آمیغه[۸]
مهر، مینه، محبت له زړونو لاړ شو
سینې ډکی شوې همه له مکره ریغه[۹]
چه ئې ځای په دواړُو ستر‌ګوباندی زه کړم
هم هغه می هلاکت غواړِی بې تیغه
چه د دې دور فتنو وَته وَګورم
ولی کانِی تیږی نه ووری له میغه
د زړه[۱۰]راز له بیدردانُونه پټ ښه دی
که له درده دِ سینه شیی سَرَه هیغه[۱۱]
په نوبت به د هر چا تر ځګر خیژی
د قضا نیزه وِ هر چا وته نیغه
که په تن شاه جهان دَ زمانې شې
هم دِ نه وینم خلاصی دَ مرګ له تیغه
که بازوان[۱۲]ئې پسی ورو کاندِی بندونه
دَ کرغول[۱۳]ئې علاج کوم دَی بی کریغه[۱۴]
فهم وکړه که خود بین او خود نما شې
زمانه به دِ پایمال کاندِی تر زیغه[۱۵]
زورَور چه په لاس ونسِی ناسازی
هی توبه دَ زورورُو له بلمیغه[۱۶]
دا په خم ختلې غوا که هر څو لویشې
سیم وزر به ئې حاصل نکړې له لویغه[۱۷]
تا به چیری هونبره کبر هونبره خیال کړ
که دِ وَی رنګ زیبا په صورت سیغه[۱۸]

---

۱. می.
۲. دا بدله په چاپی نسخه کی نسته.
۳. ښخ یا شخ دواړه لګیږی.
٤. محشي نیزه ورته کښلي ده.
۵. یعنی غلطی او خطا وتل.
٦. محسی رندیَ ورته کښلي ده.
۷. دا مسریَ په دوو قلمی نُسخو کی دغسی ده، عیناً ولیکله سوه، په بله قلمی نسخه کی (راوه) لیکلی دی.
۸. خیرن، چی صفا نه وی.
۹. محشی ورته لیکلی دی فریب.
۱۰. د زړه داغ.
۱۱. هیغ له نیغ سره د مهمل په توګه د مستقیم په معنی کاریږی.
۱۲. که بازدار.
۱۳. د بازونو یو ډول ناروغی، په چاپی نسخه کښ ګرغول دی، په یوه بله نسخه کښ داسی دی: د کرغولی علاج څه دَی بی کوریغه.
۱٤. دی کلمی ته په یوه قلمی نسخه کښ محشی تیښته لیکلی ده.
۱۵. وکاریدل، ژر.
۱٦. زور، جبر، ظلم.
۱۷. دا کلمه په دوو قلمی نسخو کښ تویغ لیکلی ده، په یوه نسخی کښ محشی ورته کښلی دی لویشل.
۱۸. دا کلمه هم حل غواړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دِ ښه له خویه بویه خبردار شوم
له خوَشحال سَرَه یاری کړې په دوریغه[1]

۱. لکه په عربی په پښتو کښې هم په شعری ضرورت سره اماله راځی، درویغه اماله د درواغ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ی

افغان بچه شوخی! هرگز په عاشق باندی لطفی نکنی رحمې، دا هم کله څوک کاندی
یک لحظه بیا بنشین، ما خوښ په ښه خندا کړه قربان سرت گردم، چه نورُو وَته خاندی
گل لاف لطافت زد چه ته په چمن راغلې از غایت خجلت شد، سرگشته ستا دَ وړاندی
دکان شکر یعنی ستا ښه خوږه خولگۍ افشان شکر یعنی گاهی چه ته وخاندی
کبک دری و عنبر، دا دواړه حبطه شي گاهی که تو بخرامی، دوه زلفی آویزاندی
خوشحال دلش شیرې ستا سترگی لکه شوی
ایوای که شد شیرې تر لکه شوی لاندی

ارتینې په عقل کمی خود بخود دَ صورت غمی
ته دَ دیو سَرَه سَم یې دُوی له تا سَرَه ناسمی
زر نیکۍ ور سَرَه وکړه په یَوه ذره برهمی
درته زهر شی تا وژنی چه ئې ته گڼې مرهمی
دَ وفا په خوی کښ ندی همیشه جفا شیمی
دَ آدم په صورت روغی په معنی کښ نا آدمی
تا به گرم په لړ گناه کا دوی په لوی گناه نا گرمی
څو ئې کج وړی هونبره کجی څو ئې درد وړې هونبره خمی[1]
په هر کار کښ دیگر گونی په خوله رامی په زړه رمی
پاسه تن ئې ښایسته دی په درون لکه ارقمی
نور څه مه وایه خوشحاله
ترو جود ښې دِی عدمی

آدم خیلی افریدۍ دِی سرې او سپینی پکښی نشته ښایسته، په رنگ رنگینی
غټې سترگې لوی بانَه، فراخی ورَځې شکر لبی، گل رخساری، مه جبینی
تنگې خولې لکه غوټۍ، هوار غاښوُنه سرې ئې گرد په تورُو زلفو عنبرینی
په وجود کښ لکه ها[2]له ویښتو خلاصی پښې کمکۍ غُنډې پنډۍ، پهن سرینی
ترنځی[3] گیډۍ، سینه وری، ملا نرۍ قد ئې سم لکه الف، په تن سیمینی
که دَ باز غُندی مې گښت په غروُنو کیږی ښکار مې هم شوَی ښایسته زرکی ثمینی
باز که چوز وِی که کرج[4] طلب دَ ښکار کا لا تر چوز وِی دَ کرج غوټې مهینی
یا اُوبه دَ لنډِی سیند یا دَ باړې دِی چه په خوله مِی تر شربت لگی سیرینی
دَ ما تری غاښی نیغ دروُمی اسمان ته په خاته خاته لَنډیږی باندِی سپینی
آدم خیلُو سَرَه زه په تیراه راغلم نور خصت ورکړَی خوږ په زړه خوږینی
مینه واړه کار دَ اور لَرِی خوشحاله
که لمبه ئې پټوې لوگی ئې وینی

---

۱. څو ئی گنج وړې هونبره کچی، څو ئې درد وړی هونبره زخمی، یا څو ئې خیال وړې هونبره خمی.
۲. ډنگری چه چاغی او لوئی نه وی.
۳. یعنی هگۍ.
٤. محشی ورته کریزی لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آشنائی د را ښکاره شوه بې وفا یې　　چه ځما سَرَه آشنا دَ بل آشنا یې
وَ بل باغ وته به سترگی گرځې نکړې　　چه ځما دَ باغ بلبله یا طوطا یې
لا به کله ځای ځما په سترگو وکړې　　ته مَیَن د ما دَ دوو سترگو طوطیا یې
زه جدا له تا په سوز و په گداز یم　　ته په گښت دَ گلستان په لاس مینا یې
په لیدلو دِ خوښی در سَرَه راوړې　　لکه تللی یاغی باز راغلَی بیا یې
دَ امید غوټۍ می واړه شگفته شی　　چه دِ ووینم په ما لکه صبا یې
ستا په مینه پوری سل کا نخوالُونه　　دَ خوشحال دِ له په چا باندِی شیدا یې
مسلمان به درته څوک وایی خوشحاله
دَ هوا ځینار[١] په غاړه یو ترسا یې

آئینی وته نظر کړه شیوه گری　　خود به ستا د حسن وکاندی خبری
دَ ړندو سترگو حاجت دَ رنجو نشته　　په بد رنگی ناوِی څه بولی سندری
مرجونا په مټ پرده دَی پدا نه دَی[٢]　　چه ئی راوړی مرغچچی مرغلری
چه نه مهر نه تپاک نه پکښی شناخت وی　　له هغو بی دردو تښته لری لری
چه میوه ئی د کابل خوړلی نه وَی　　د هغو تر فهم وڅکی دِی کُرکُری[٣]
پټه مینه دَ سړی ننه لړمون خوری　　دَ وښو تر لمبی بد دِی اور د سَری
زه که غره په غره جار وزم عیب کوم دی　　تل مزری گرزی په لوړِی په ژوری
په ختا ختن دَ مښکو قدر نشته　　نه په هند کښی څه قیمت لَرِی شکری
حق باطل سَرَه بیلیږِی را برسیر کړه　　مځکی څو به دَ قارون خزانی نغری
چه دَ ننگ توره دِ واخیسته خوشحاله
درومه سوات ته څه ختک څه ئی لښکری

اې چه لافی دَ زنځور دَ رغیدو کړی　　دَ خپل کلی رنځور روغ کړه ما به سو کړی[٤]
نور به ستا په رضا ځم توبه وکښلې　　خو که دا ځما گناه تر پښو کړی
یوه ورځ به په مرگی سَره جدا شو　　یاره تل دَ بیلتانه خبری څو کړی
تور بانه راته ځښې په دا پوهیږم　　یوه ورځ می به په دا  تیرو نیزو کړی
د تیراه اوبه دِ وڅښې خوی دِ نور شو　　آفریدی غُندِی خبری دَ الجو کړی
چه په زړه ئې گرزوم په تا معلوم دِی　　توریتی[٥] غُندی وَیل ټوله دَ زړو کړی
ستا په خوی[٦] می ویره شِی ظالمان ځوان مری　　له آزاره ویره وکړه ظلم څو کړی
که دَ غشی په ویشته سره خوږیږی　　زه چه ستا په تیر زخمی[٧] شم ما بخښنو کړی
وایې تا وته به وَکړم اوس ښکنځلِی　　لا به کله دا نبات په ما پیرځو کړی

١. د زنار مغنن دی.
٢. دا بیت عیناً وکښل سو، په یوه قلمی نسخه کښی پړده لیکل سوی ده.
٣. په قلمی نسخو کښی په کاف او راء لیکل سوی، مگر په چاپی نسخه کښی گرگر دی. زما په خیال کُر صحیح دی ولی چه کور د غره بدخونده انگور دی او د دی کلمی املا په یوه قلمی نسخه کښی کور ده. کرگر د غره بله میوه هم ده.
٤. یعنی ما به ژوبل او زخمی کوې د قندهار په محاوره ئې مصدر څُکرییل دی.
٥. دا کلمه د سید راحت په لغاتو کښی په داسی املا ده، ټرویتی یعنی نجومی ما خوذ له ترویت، یعنی نجوم.
٦. په مرگ.
٧. زخمی شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ طوطا خبرِي هم دا هسِی نه وِی         په بند بند و مشغولا وَیل ورو ورو کړی
ستا په ډیر مانړی به حال دَ خوشحال څه شِی
چه په لږ مانړِی ئی ډیر په اندیښنو کړی

ای دلبر لاهوری         باللّٰه که برخ اوری
خوبان جهان پیشت         چون پیش مهی ستوری
پروای شکر دارد         آنرا که نو می زوری
خواهی که کنی شادم         یکخننده بدین لوری
غمهای تو بر جانم         چون ابر اسد اوری
عالم بتو می بینم         در دیدهٔ من توری
می جنگی و می خندی         اینهاست ز خمسوری
سودای رخ خوبت         اندر دل من ښوری
در کویتو چون روهی
صد شیفت سر توری

اوس خو کار د وار دپار دی         که د زویه که د پلار دَی
یا  د ما زویه داشان دی         یا د هر چا دا روزگار دَی
نه په حق نه په ادب دی         خبر نه یم دا څه کار دَی
چه پخپل اولاد بازیږِی         هغه کس کله هوښیار دَی
دَ اولاد په کار خبر شوم         اولاد واړه لَړم مار دَی
دیرش می زویه په شماره دی         دَ نمسیو می څه شمار دَی
لوی هلک واړه خبر دِی         هر یَو جنګ وته تیار دَی
اورنګ شاه وته نظر کړه         چه یو څه خونی خونخوار دَی
ورونه پلار ئی وبله کښیښول         بادشاهی کا شهریار دَی
چه ژوندَی ګرزې خوشحاله
لا منت دَ کردګار دَی

اور ئې ولګی په خونه چه عاشق شی         کور ئی خپور لکه د قیس او دَ وامق شِی
یَوه زړه لَره یوه مینه کافی ده         څوک چه ډیری مینی کا دَ غم لایق شِی
د مجنون له حاله څه وایم چه څه دی         په ژوندیو کښ به کوم تر ما فائق شِی
ډیر عالم دَ مینی لاف وهی په ژبه         مرد هغه چه په دا لافو کښ صادق شِی
چه ئې لار دَ خولی یَوه دَ زړه وِی بله         یوه خدایه مخ دِ تور دَ منافق شِی
دَ راحت په وخت هزار هزار یاران وِی         دَ محنت په وخت کې یَو یو موافق شِی
دَ نیمګړو طبیبانو ادراک نشته
دَ خوشحال دَ رنځ علاج به په حاذق شِی

آه که یَو ځله می یار راشی په دست کښ         لکه لوی ماهی دَ خوار صیاد په شست کښ
چه په هر زمان ئې ونیسی وَ مخ ته         دَ ګلابو ګل پیدا شی ستا په شست کښ
ناز غمزې شیوې چه تا زده نور چا نزده         سر یی نن دَ دلبریٔ په بند و بست کښ
دا خوبی به دَ ګلزار تر تلو نه وِی         ساقی ستا کومه خوبی دَه په نشست کښ
ساقی جام دَ میو مه پریږده له لاسه         څو دَ عقل څه ذره وِی لا په مست کښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانایان فکرونه کا ور نه رسیږی — دَ دلبرو تنگی خولې په نیست و هست کښې
په بلند همت کښې پورته پورته درومی — کښته کښته ځی سړی په همت پست کښې
په طلب به ئې خوشحال تقصیر و نه کا
په مدد به دَ طالع راځی په دست کښې

باد ئې لاس په پلَو کښیږدی سَرَه ریږدِی — گل ئې مخ وَته نظر کا خولې پریږدِی
لاله ورایه رنگ و بوی ورته پیښکی کا — چه په سیل دَ بهار دَ گلو پښې ږدِی
ځو می ستا مَړوَند دَ سر سرویږ دَی نشی — سر به هیڅ کله کښښیږدم په سر ویږدِی
هغه کس چه می داغ یښې په خاطر دَی — هم هغه به بیا مرهم ور باندِی کښیږدِی
ځو خپل زړه نیسم دَ زلفو له سودا نه — راشِی بیا دوری درازی راته بلیږدِی
دَ خوشحال خاطر په مثل کاروان سرای دَی
اندیښنې پرې کارونُونه ملی لیږدِی

برایه می زړه خبری ستا دَ ناز وې — له خوښۍ به ئی یوه وینا باز باز وې
دَ هجران له دوکه مرم هغه می وژنی — چه به ما او تا جدا له غیرو راز وې
دوه په دوه به سَرَه ناست وُو تر صباحه — دَ یَوه راز مو انجام دَ بل آغاز وې
همگی په مثال شهد یا شکر وو — چه به تا راته ترخه ترخه ناساز وې
ستا له زلفو عقل سترگو ته فریاد کا — کله چا دَ غلو خبری په غماز وې
چه له یاره ئې بیلتون په ډیر ارمان وُ
دا غزل خوشحال په وخت دَ بانگ نماز وې

بیا له کومه لوریه هسی را پیدَ شوې — چه ځما زهد و تقوی لَره بلا شوې
ستا نظر لکه تور باز زړه می تارو دِ — په تور باز دَ تور تارو غوښې روا شوې
په بار بار دِ دَ خندَ منت را باندِی — چه په ما دِ نظر وشو پخندَ شوې
په فراق دِ ځما واړه سترگی گوره — ورځ و شپه لکه څڅواکی په ژړا شوې
هغه شوندِی چه درود و تسبیحات وې — راشه وگوره دَ میُو دَ مینا شوې
وَ هر چا وَته دِ مخ دَ لاله گل دَی — که ځما تر سترگو دَ رنگه زیبا شوې
په باطن کښې دِ دَ زړه په سترگو وینِی
په ظاهر که له خوشحاله نه جدَ شوې

بیا وَ ما وَته غمزې نگاری وکړی — دَ جلاد تر تیغ ئې لا خونخواری وکړی
چا ئې شمار دَ زلفو هیڅ نکړ تر سره — دَ تار تار ئې عاشقانو شماری وکړی
چه دلبری لَرَه درومی یوه لار ده — مشتاقانوُ پسِی ډیری لارِی وکړی
په نری آواز کاږه دِی نه خبریږی — ځکه ما هونبره په زوره نارې وکړی
څوک چه سترگی غړَوِی تر هغه واړوُ — ما په پټوُ سترگوُ ښې ننداری وکړی
څوک خبر ورځنی ندِی خو ما هم زده — چه ئې ما په دوو رخسارُو چاری[1] وکړی
ته چه ډیری آشنایی کړې خوشحاله
په هر لورِی دِ د غم اجاری وکړی

---

۱. جاری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بی یاریه دِ دا خوار مری یاره وه ئې  رقیبان پدا خواریږی خواره وه ئې
تا وی مخ به در ښکاره کړم صبر وکړه  نور می توان دَ صبر نشته ښکاره وه ئې
زر فتنې را سَرَه کړی زه ئې آخلم  که یَو ځل چیری غلط شوم شماره وه ئې
تر جمال ئې ډیر پتنگ غُندی ځاریږی  ستا دَ حسن کمی نشته ځاره وه ئې
چیری نه چه سلامت له پرې ووزی  یو عجیب غاری غرڅه دی ښاره وه ئې
منتونه دِ دَ خولې را باندِی بار دی  ستا تر سپینه خوله ځاریږم پاره وه ئې
وَ هر چا وته مرهم شه ورته خانده
گناهگار خو یَو خوشحال دَی خواره وه ئې

بی ښایسته دَ هیڅ مخ ننداره نشی  چه گل پریوزی محبت له خاره نشی
دَ هجران د شوار دشوار تر هر دشوار دی  د چاچا دِ په هجران دشواره نشی
اندرون خاطر می درست پاره پاره شو  اوله خولې نه می فریاد له ډاره نشی
دَ دی هسی رنگه رنځ علاج هم دا دَی  چه زگیر وَی می په طبیب اظهاره نشی
دَ خاطر علاج می ژر وکړه طبیبه!  چه می زړه پاره دَ خدای دپاره نشی
دَ هجران له دوکه وایم چه نارې کړم  ولی څو کړم چه زبون شوم ناره نشی
ما پخپل صورت دا کار دَي ازمیلی  له هر څه نه صبر شی له یاره نشی
په وَیل کښې فهم وکړه اې خوشحاله
چه دَ یار دَ مینی راز دِ ښکاره نشی

بی دَ یار له مخه نه وینم په کسی  دواړه کسی ملک دَ نمر په شغلو کسی
زړه می ستا په زلفو بند شو تا کباب کړ  څوک شهباز هم دا کباب دَ پاره نیسی
خدای دِ ستا دَ غاښو شونډُو امان وکا  لال و دُر په نظر مات کا بد حرصی
ما له خپلو شونډُو مه شړه بل لور ته  دَ حلوا له خوانه نه درومی لوغسی
ستا دَ مخ په مینه سوځم لولپه شوم  دَ آتش لمبه هیڅ نه پریږدِی د سَسِی
که ئی چیرِی دَ قدم خاوری مونده شِي
خوار خوشحال به ئې رنځور[1] لَره را نسی

بیهوده ئې دَ دستار په شمله خیال دَی  چه په وخت ئې دَ مردیه حال بل حال دَی
مرتبې دَ هر چا نَدِی سَرَه سَمِی  دَ خره بار دَ فیل په شا باندِی مثقال دَی
څوک جرعه دَ میو نه لَریی په جام کښې  دَ چا جام دَ صافو میو مالاَ مال دَی
دا گلشن دِ همیشه تر و تازه وِی  چه ئې خیز دَ ښو گلونو کال په کال دَی
په خوږه میوه دَ ونِی قدر شناخت دَی  دَ سړِی قدر دَ نیکو په خصال دَي
په ناحق به گرم ماڼه له ییچا نکا  دَ بدانو غلیم واړه خپل افعال دَی
که جنت لَره څوک بیایی یا دوږخ ته  بله نه وینم په منځ کښې خپل اعمال دَی
کشکه پاته شی تر تلو دا وَ ما ته  په دنیا میِ دَ هر چا سَرَه جنجال دَی
چه داَ پلار او دَ نیکه هنر ئی نه وِی  هغه زویه پیدا شوی غیر سیال دَی
ته چه لافی دَ مردانو دَ میدان کړې  په میدان دِ کوم راوړِی استقلال دَی
دَ شهباز تر ځایه کله باښې رسِی  که راوړِی ئې له ځایه پرو و بال دَی

۱. رنجور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که همه خلق ئې سر شِي په غندنه
بیچاره خوشحال پخپل هنر خوشحال دَی

بدبختان دَ مور په نس کې بد بختان دی
چه دَ مور له نسه پریوزِی هغه شان دی
په دنیا کښ زیست روزگار په بد بختی کا
بل جهان لَرَه بد بخت شقی روان دی
حمیده چارِی چه کا پکښی ناخوښ دی
څو چه شِي په ذمیمه کښ دل شادان دی
چه هوا ئې دَ خپل نفس په هغه لور ځی
پیروی ئی په هر کار کښ دَ شیطان دی
که قدم چیری ثابت کښیږدِی په لارِی
په دوهم قدم بیا ژر په زړه پښیمان دی
کتابونه دَ اسمان دَ مځکی لولِی
په عمل ئې فرق دَ مځکی دَ اسمان دی
په باطن ئې زړه گمان سَرَه لَرِلَی
په ظاهر وَیل په ژبه مسلمان دی
په خبرو کښ ئې فیض مونده نشِی
مذبذب په قول، عهد په پیمان دی
په طاعت په عبارت کښ که بلعم[1] شِی
په آخر دَ نس په نغته[2] بی ایمان دی
زه خوشحال خټک بنده دَ هغه چا یم
چه ئی رو دَ زړه دَ خولی سَرَه یکسان دی

بخت دولت دا واړه توکی فلکی دی
نه پذات نه په ښایست په زیرکی دی
دم به نه وَهِی په دم وَهل کښ زیان دی
نندارہ د دَ جهان کا چه ذکی دی
غم اندوه شدت هغه ورړی خپل زړه ته
چه په کَار دَ مشیت په زړه سکی دی
په یوه نسب کښ نیک و بد پیدا شی
محمد (ﷺ) او بولهب دواړه مکی دی
چه په عقل پوهه کم دِی تر هلکو
نن هغه دَ دنیا مال لَری لکی دی
دَ مردانو قدر ورک شو بلا دا شوه
چه په هر چا پوری بدِیرِي غیټکی دی
چه دَ پلار په خوی پیدا دی هغه زویه
چه دَ مور په خوی پیدا شول کوسکی دی
څوک په غم دَ نام و ننگ په جهان راغله
څوک په فکر دَ طباخ د شحنکی دی[3]
هیڅا ما سَرَه یاری نکړه تر سَرَه
خټک واړه پوز پرې کړی بوڅکی دی
نه ئې بوی شته نه ئې رنگ شته نه ئې خوند شته
حاسدان می دَ سپلمۍ خټکی دی
په زمان زمان ئې څرخ وِی وَ بل لور ته
اندیښنې دَ زړه په مثل طوتکی دی
کله یو سر کله بل سر لکه[4] کوډه
تدبیرُونه دَ هلکو مړدکی دی
رنگا رنگ ویل د خدای لَره خوشحاله
دا وَیل دِ لکه غشی ناوکی دی

بیا د عشق دریاب را وخوت چلی چلی
عاشقان پکښی لاهو شول بلی بلی
که د سر ملاحظه نکړې[5] غواص شې
مرغَلرِی په دریاب کښ تلی تلی
دَ پتنگ محبت لا پسې زیاتیږِی
چه دَ اور لمبې لیدې شِی بلی بلی
نا گهان ئې مخ ښکاره کړ بیا ئې پټ کړ
په خندا ئې دا وَیَل چه جلی جلی[6]
ما وې چرته به وِی کان د خوږُو قندو
شاه وَ لب ته اشاره کړه دلی دلی

---

١. وایی چه بلعم باعور ډیر عالم یهودی وُ، چه آخر په هوا دَ نفس په مخالفت دَ حضرت موسی کافر سو.
٢. نغوته.
٣. څوک په فکر دَ طبق دَ ښانکی دِی.
٤. کله.
٥. که د سر ملاحظه کړې غواص مشه.
٦. یعنی سوځه سوځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق بخره عطائی لکه ایمان ده    مونده نشي په کوښښ په ځلي ځلي
چه دِ خوله له ما غوښته و تا مِي درکړه    دا چه بیا له ما مانې کړې ولي ولي
همیشه پسی جار وزه شها غواړه    که دِ پښې دَ طلب نه دِی شلي شلي
زه خوشحال به بل دَ یار برابر نکړم
په جهان که کښلي ډیر شِي ډلي ډلي

بیا ئې واغوست سپین کمیس پټې پټې    باندِی زلفي څنډوی لټې لټې
څوک به ستا سَرَه څه نرد کا دَ خوبیه    چه په هره منصوبه ګټې ګټې
وایې څوک به زړه د ما له لاسه خلاص کا    دریغه څه خبری کړې کټې کټې
عاشقان به دِ له وره نه وانوړی    که هر څو ئې لکه سپی رټې رټې
چه نوی نری سپینسِی غړم دَ شعر    په بیاض باندی ئې ږدم اټې اټې
دواړه شونډِی می عسل دِی اې خوشحاله
په څه دور ئی په حرص څټې څټې

په هَره زمانه تر لیلا کښلي پیدا کیږی    مجنون ور لَره بویه چه په مخ ئی شیدا کیږی
په رنګ په هنر نده نه دا کار په سحر دم دی    یو سِر دای دَ زړه مینه چه په چا هویدا کیږی
چه څوک په مهر مینه سَرَه خپل پیوند محکم کا    که سل توری را واخلِی[1] سَرَه چیری جدا کیږی
یا حسن دَی یا عشق دَی دَ دنیا پدا بازار کښ    په ناز او په نیاز سَره دا دواړه سودا کیږی
خوله ونغاړه ناصحه چه و ما ته نصیحت کړې    ښه مخ وته مه ګوره وایه دا به په ما کیږی
په سر تړلي ندی نه اندوه دَ دوږخ کاندی    دا کار چه عاشقان کا وایه کله په چا کیږی
به رب د ما سوګند دَی واړه ګل په ما اغزی شی    چه بی له زیبا مخه می ګلګښت په صحرا کیږی
خپل زړه می لوی مفتی دی روایت ورځنی غواړم    چه صبر کړم له یاره وائِی کله روا کیږی
یاری چه تازه وکړې صبر فهم پکښی بویه    په ورو ورو نوی یار په هنرونو اشنا کیږی
انبار انبار پراته دِی عاشقانو ته غمونه    پیغور دَ عاشق دا دی چه ئې غم وَته شا کیږی
که نازکا که خیالونه واړه وړه دَ دلبرانو
خوشحال چه مین شوې که ئې نوری بلا کیږِی

په څه شان ئې دواړه زلفي کج په کج کړی    یکباره ئې دَ عالم مینی په چج[2] کړی
توری زلفي ئې زنجیر مخ ئې کعبه دَی    دا زنجیر په لاسو وَنیسه کښ حج کړی
که یَو دم د دِ دا زنجیر په لاسو کښیوزی    همیشه به دَ خپل زړه په حال فَرَج کړی
بیا هاله دَ یګانګیَ له حاله لاف کړه    که دَ غیر اندیښنې له زړه خرج کړی
زه تر نام و ننګ تیر شوم ستا دَ پاره    ته به څو ځما دَ کار دَپاره بج[3] کړی
قند و ګل چه یادَوم مقصود می دا دَی    څو بوسې که له ښکنځا سَرَه مزج کړی
ما خوشحال له خپله ځان نه خاطر موړ کړ
چه دا هسِی دَ غمزې په تیغ حرج کړی

۱. سل توری ور واخلې.
۲. یعنی کورونه ئې ور غلبیل کړه، دا د پښتو محاوره ده.
۳. یعنی تښته او ګوابښل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په څه دود ئې ځای نیولَی ستا تر څنگ دی    دَ رقیب خبره مه منه بدرنگ دی
زه چه ډیر ډیر ستا له ډیره جوره ژاړم    تر دوو چشمو می چشمه بحر د گنگ دی
لاس ئې مه پریږده له لاسه خوله ئې واخله    پر یو تلی په یاغی راجا قلنگ دی
په زړه مهر محبت په خوله ښکنځل کا    څه عجب زیبا دَ دوو مَیَو جنگ دی
لکه سپی دَ خپل څښتن جور و جفا وړی    خوار عاشق تر معشوقه پوری بې ننگ دی
په رو رو باندی قدم کښیږده خوشحاله
خدای دِ بل دَ چا خطا نکا گړنگ دی

په ځوانانو پوری پیمچی[1] کا ولاړی    ته په شپینه بډیره خوله ور ځنی غواړی
دَ ځوانئ هوس مکوه چه زوړ شوې    اوس له تا نه ځوانئِ چاری ولاړی
تیر ساعت به دِ دَ عمر بیا را نشِی    ورَځ و شپه که په زار زار ورپسې ژاړی
که ئې بیا له مځکی اَخلِی سود ئې کوم دَی    چه له خولې په مځکه پریوزی دَ چا لاړی
د خوشحال ویل په زړه دَ اروېدو دِی
چا ته نه کاندی...

په زړه سخت بې مهره یار یې    جفا کار و دل آزار یې
که هر څوو په کوکو ژاړم    ته لا خوښ ځما په کار یې
تا ویشتلی یم فریاد کړم    که خبر په خپل گزار یې
زه به تل ژاړم و تا ته    که ته خوښ ځما په زار یې
زړه دِ وسپاری و غم ته    دَ هغو چه ته دلدار یې
څوک به څه وائِی و ما ته    ته یو څرنگه نگار یې
چه پخپله عاشق وژنې    هم ئې ویر کړې په چیغار یې
کوم گناه دی عاشق کړَی    چه ئې خیره په ناتار یې
کله درد کله دوا شې    کله خار کله کلزار یې
په خوشحال دِ غم نازل کړ
چه اغیار سرَه کنار یې

په کاته کاته می سترگی په خاته شی    چه خبر دِ دَ راتلو را باندی وشی
ته خو اوس له ما نه ولاړې مروَر شوې    دا ځما یاری دِ هم گندی په زړه شی
گوره تا را باندی کومی کوډی وکړې    که په پښو در ځنی دروم زړه می نه شی
چه دیدن دَ مَین وکړمه تازه شم    لکه کښت چه په باران سرَه اوبه شی
دَ ښه یار بیلتون دَ ستونی پریکوَل دی    په یرغ به ستونی چیری پریکاوه شی
په ارمان د هغه وخت یَم دریغه دریغه    که دَ زنی سیب ئې بیا د ما په خوله شی
دَ خپل یار د جدایئ هسی کار دَی    لکه ساه چه له وجوده په واته شی
بخته هونبره مدد بیا را سرَه وکړه    چه په غیر کې می بیا تللی یار اوده شی
دَ خوشحال سلام په واړو ښو یارانو
گوندی بیا می په لیدو و سرَه زړه ښه شی

---

۱. یعنی ریشخند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښه مخ به څو تابان يې ښه تر مياشتې دَ اسمان يې
که پرون وې زړه او سترګې راشه نن ځان دَ جهان يې
لکه سيوره په پښو پروت يم زړه هورې چه ته روان يې
خدای په ښه جمال يوسف کړې په ګروړونو هم ارزان يې
که دې دوه کَونه قيمت شي په دوه کَونه رايګان يې
دواړه شونډې دې ياقوت دي مرغلرې په دندان يې[1]
په رشتيا وَيل بد مه وړه
خوشحال ستا دَی ته دَ ځان يې

پښتانه که آدم زاد دي په خويونو کښې هناد دي
نه حکمت لري نه عقل خوښ هر ګوره په فساد دي
نه دَ پلار په وَيل کار کا نه په نغته دَ استاد دي
چه په ديو کښې يو ښه وي دَ هغه دَ سر جلاد دي
يو دَ بل په کمی ناست دي ځکه تل په بلا ياد دي
اول زه دا نور له پسه څو شته واړه دَ هيداد دي
په نفاق ئې واړه ورک کړل که شجاع دِی که جواد دي
نه ئې قدر شته نه پدل ډير تر مور او تر جراد دي
دا لا شکر کړه خوشحاله
چه بنده نه دِی آزاد دي

په ګرد کوی تو ګشتن مراد ځما دي بود که روی بينم که کعبه ما دي
من اين جمال ترا خود مثال کښې يابم که خود جمال تو از ماه و مهر پيدا دي
منم که غير ترا در جهان نمی بينم خلاف نيست خبردار حق تعالی دي
نمی شوم متحمل بروز وعدهٔ وصل بيا بيا که دلم خوار زار بې تا دي
جدا زروی تو چونم بګويم ای مه من[2] چنانچه تشنه وَ اوبو ته نا شکيبا دي
ګمان مبر که بګردد ز عشق تو خوشحال
چرا که بررخ خوب تو ډير شيدا دي

په نيکی به له بدانو نه خلاص نشې بويه دا چه لکه دُوی وِې هسی ته شې
دَ غنمو په لذت به نه پوهيږې دَ هر چا چه زيست روزګار وی په اوربشې
دَ غليم سترګې به ټا ګنې خسرې که په زړه کښې ورته کسی دَ لِيمه شې
دَ بدخواه د بد خواهيه خلاصی نشته که اسمان ته الواته وکړې مرغه شې
په پاکی کښې به دِ ګلې کا ميتاځی په صفت کښې که بد ذات سره اوبه شې
دروغجن به دِ بيا لِيرې کا دَ زړه نه که هر څوو ئې په رشتيا پورې په زړه شې
د بدګويو له ويلو خلاصی نشی په پاکی که تر فرښتو نه ورته ښه شې
آفتونه په ګڼون کښې دِی خوشحاله
ښه خو دا چه که دايم غرڅه دَ غره شې

---

۱. په خبرو دُرافشان يې.
۲. به آرزو يتو چو نم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښایست کې دی څوک نشته دَ سیالۍ — که دِ څه خو مهر هم وی بتیالۍ
ورځ په ورځ دی دَ خوبۍ گل غوړیږی — ته لا اوس دا نوی بوټی په زالۍ
په پساله به مینه کا چه رنگ ئې نه وی — ته گلرنگه څه محتاجه د پسالۍ[١]
ستا دَ مخ سپاهیان همه توری پرې باسی — ولی دوه سترگی دی لا دې جنگیالۍ
زه چه ستا دَ وَر په تورو خاورۇو پروت یم — راته خس دی دَ بخملو نهالۍ
دَ پایلو په آواز سرَه دِ وینښ شې — چه پری دورمی تصویرونه د قالۍ
ته خو اوس دَ زهد لاف کوې زاهده — که ئې وَوینی زړه ټینگ کې مرد هالۍ[٢]
زه به نیت دربانَدی و هارم باور کړه — که د ځای دی د هاتی په انبالۍ

خدای دِ امن دَ خوشحال دَ سترگو کړه
په خندا خندا چه ځې په خوشحالۍ

په دانا می دَ ناپوه دیدن الم دَی — د ناپوهو د صحبت نتیجه غم دی
چه دانا می دَ نادان سرَه گډون کا — دا ئی واړه پخپل ځان باندی ستم دی
بد سړی که په ظاهر سړی لیده شی — په باطن کې نور څه ندی مار لړم دی
دَ بدانو په صحبت کښ دین دنیا ځې — شک پدا خبره مه وکړه قسم دی
د ناپوه سرَه په جشن حاضر مشې — دا دانا سرَه قبول کړه که ماتم دی

که بی عقل تر یوسف ښایسته روغ وی
دَ خوشحال خټک په پوهه یو صنم دی

پدا قول دَ درست خلقو اتفاق دی — گُله ستا خو څو ورځی طمطراق دی
که دَ رنگ خوبی ئې ستایې بود ئې نشته — په جهان کښ که باقی دی خو اخلاق دی
هسی یار دِ غوری خدای را کړ په غیږ کښ — چه په نونس توکه دی په حسن طاق دی
لکه تږی و اوبو ته په تلوار دی — خسته هسی دَ خپل یار د مخ مشتاق دی
سلامت دِ ارزانی وِی په شیخانو — ملامت ئې بخره کړی د عشاق دی
چه یَو ور په سړی وتړی بل وا کا — رزق به هر چا ته رسیږی خدای رزاق دی

که ئی سر له تنه دروِمی نور به نشی
دَ خوشحال چه دَ خپل یار سرَه میثاق دی

په راحت کښ په دولت کښ یاریَ ډیری — په محنت کښ په زحمت کښ یاران چیرِی
نه به هر کله بهار نه به خزان وِی — دا د ستوریو چاری ونیسه په تیری[٣]
که می لاس لکه دریاب[٤] له درد تش وِی — ولی سترگی مِی دریاب غنُدِی دِی سیری
له یوی فتنی ئی ځان په دعا خلاص کړم — فلک بیا نَوِی فتنی کا را برسیرِی
دَ دی دَرد په یارانُو باور نشته — په زمان ورته اغیار شِی یار دَ غویرِی[٥]
چه به ما ورته کاته له جاهَ نکړه — له هغو خبرِی اَروم تیر و بیری
پروربښ ئی که په شهد و په شکر کړی — دَ خرما تر خوند به نه رسیږی بیری[٦]

---

١. پساله یې.
٢. هاله یې.
٣. دا د ستور، یوه چار ونیسه.
٤. لکه صدف.
٥. په بله نسخه کښ غیر راغلی دی، غویره او غوره سید راحت په یوه معنی راوړی دی یعنی منتخب.
٦. د هغه ونی میوه ده چه په عربی ئی سدر یا نبق او په پارسی ئی کنار بولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ دستار دَ مرتبې به نه رسیږي    که په لعلو مکمل کړې پائزیری
په ژوندُون ئی دَ خوشحال دَ زړه وَباسی
ستا کردی به ئی په گور کښ نشِې هیری

په ورو ورو څه خو خبر شوم ستا له مینی    لکه اور لیدلی نه لوگی ئې وینی
پردیسی حیران پریشان له خلقه تشی    دا پتا پسی جوگی شوم که می وینی
چه په تا پسی ژړا کَوم دَ اوښیو    عاقبت به دا ژړا وکړم په وینی
چه هغه ساعت په یاد کړم لولپه شم    چه به تا راته خبری کړې شیرینی
څوک به تا غُندی پیدا په جهان نه وی    هوسیِ سترگی، عنبر موئی، مخ نسرینی
هغه وخت را څخه ولاړ چه می به کښل کړې    دواړه ستا میگونی شونډې شکرینی
که خمتا واغوندې لا ښه شې تر نورُو    که څو رنگی جامې واغوندې وریښمینی
ته می پاس د زړه په سر باندِی میشته یې    نوری واړه یو سر بل سر دلنشینی
ستا په خوی پوری حیران یم خوی دِ څه دی    په ثنا را سَرَه جنگ کړې نازنینی
لکه زه پتا مجنون دا هونبره نه وُ    نه فرهاد هسی مَیَن وُ په شیرینی
عشق تنها څه په لیده دَ سترگو ندی    لا دَ خولو په صفت هم کاینې خوږینی
دَ خوشحال د زړه دَ خونی لکه څراغ یې
لا به کله را ښکاره شې مه جبینی!

په دریاب کې چه جهاز زیبا ئی ناخدای دی    چه ساتی ئې دو بَوی ئې هغه خدای دی
بادشاهی ئې په نصیب او په قسمت وی    چه سایه دَ چا په سر کاندی همای دی
څوک چه طمعه له چا کا په حقیقت کښ    که بادشاه دَ درست جهان شی لا گدای دی
درته چا وې چه پرې مه پرانزده غوټیه    تأمل دَ هر سړی گره کشای دی
یا د ښو زویو سندری[1] وی د زووُ    یا د توری په میدان کښ هوی و های دی
د هغه دَ غلطیِ اندوه نه وی    چه رفیق ئې په سفر کښ رهنمای دی
وچ ککړ تېر داغداغ په منځ کښ هیڅ نه    چه نارې دَ جداییه وهی نای دی
خوی خصلت وته ئې هم نظر دَ کړو دی    که جمال ئې په څو رنگه دلربای دی
په هزار ژبه ئې ستایه بلبله    گل پخپله دَ خپل حسن خودستای دی
که ناغونه که راغونه که څه نور څه
چه دِ زړه پکښې خوشحال شو هغه ځای دی

په هر ځای چه قدمونه په خرام وړدی    سل منته پدا مځکه په هر گام وړدی
زه چه چیری آزادی ور ځنی مومم    چه دلبره راته تل دَ زلفو دام وړدی
که تر نوم او تر ننگ تیر شوم غم ئې نشته    عاشق هر کله قدم په ننگ و نام وړدی
نه بهار شته نه ساقی شته، نه مینا شته    اوس به څوک ځما په لاس دَ میو جام وړدی
څُوک ئې نه پسندی پما هسی بد نام شوم    دَ نیکیِ نام چه څوک په ما بدنام وړدی
په صحیح سالک هغه دی پدا لار کښ    چه قدم دَ ترقیِ په مقام وړدی
زه د کښلیو په پښو سر بږدم که نور خلق    خپل سرونه دَ پیرانو په اقدام وړدی
ستا دَ خیال فکر می نه درومی له دله    په زړگوټی می داغونه صبخ و شام وړدی

---

۱.   یا د ښځو ئې سندری. یا د ښو زویو سندری د زووو دِی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه گوره دَ خوشحال دَ خاطر وينی
په بياض باندی چه هر حرف د کلام ږدی

په ناحق په ما منت کاندی وگړی
ما دا هسی منت ندی دَ چا وړَی
زه له ځايه دماغی په جهان راغلم
ما دا هسی دماغ اوس ندی راوړَی
که درست باغ دَ ميو ډک و ما ته کښېږدې
تر همت پوری می څه دی يو خسړی
په يوه بيلک[1] ئې نن تر هر چا به کړم
بل ئې هم دی په سبا راته نومړی
هغه کوم سبق د ناز او د نياز دَی
چه و ما ئې په ايځی[2] ندی راکړی
په خوږه خندا دَ خضر عمر راکا
په مانړی سَرَه می بيا کا لکه مړی
يو څه بند می دَ غماز په غاړه پريووت
لا تر اوسه گرزوم دَ غاړی پړی
له اصلی فولاده هاله تيغ رغيږِی
په وار وار چه ځنی لاړ شی اوسپن خړی
دَ جهان په واړو ونو نظر وکړ
هَرَه ونه خپل خپل خوند لَری خپل زړي
زه د يار غمونو درست په زړه رنځور کړم
لا می نه دی دَ زړه حال و چا ته سپړی
دَ تازيانو په ميدان باندی غوتې دی
کوته هم ورپسی زغلی لبغړی
چه و چا وته شمار يا ئې بيان کړم
هونبره غريو می له فراقه ندی نغړی
هغه مخ ئې پخپل کور په پالنگ بيا موند
چه خوشحال وُ په طلب ور پسی ستړی

په سينه کښ می اوده مينه پهر جاکې[3]
ځما ستا محبت گوره کيسی لاکې
دَ رقيب وينا ئې ياده شوه که څه شوه
سپينه خوله ئې په خندا راوړه پهر باکې
په بازی بازی وژلی کتِل نشی
ځکه ما په مسخرو وژنی بيجاکې
زه خوشحال چه لا له ورايه ور ښکاره شوم
په خندا خندا ئې وې چه او ميرا بيراکې

په دا کلی کښ ډير کښلی
چونړ چونړ خلق دِی وکښلی
ما به دواړو کښ يو يار کړ
نور می شمار کړل لکه کښلی
هغه هم هسی بد خوی دَی
چه په زور را سره نښلی
که د ده له چارو وايم
را ئی هيڅ ندی پريښلی
ولی څه کړم پری مَين شوم
چه څه کا واړه بخښلی
خو مَين په هيچا مشی
په بلا دی مين لښلی
گاه کباب په جدائی کښ
گاه په وصل زړه وکښلی
عاشقان دِی سينه سوی
له اندوه سَرَه اَخښلی
په خمار هغه پوهيږی
چه شراب ئې دِی نوښلی
په دنيا کښ به هر چا وِی
په ارمان لاسونه مښلی
چه و ما وته ئې فاش کړل
څه رازَونه دِی پوښلی
دَ خوشحال غُندی په عشق کښ
نشته نور په رنگ ځبيښلی

---

۱. محشی ورته غشی ليکلی دی.
۲. ايځگی.
۳. د دې بدلی د پای کلمې هندی دی چه ذواللسانين صنعت پکښی مراعات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دی  کوټه سپی د قصابانو د جوس[1] دی
بادشاهی ئې د مغل به زرو بایله  د مغل د منصبونو په هوس دی
اوښ له باره پخپل کور کښې ورغلی  په اولجه د اوښ دَ غاړې د جرس دی
دَ نفرین لایق په نام سړه بنی دی  له اوله که دا نور ورپسی پس دی
بی ننګان دَ بې ننګۍ کار و بار کا  ننګیلالی د ننګ پکار کښې هر نفس وی
سر ئی هوری قندهار بل ئې دمغار دی  تر دا منځ همه میشته واړه عبس دی
له دې بابه ویل ډیر وشول خوشحاله!
خاموشی وکړه دا هومره ویل بس دی

په خاطر باندی می نه وی پروتی لړی[2]  څو خاطر می لټوی[3] هونبره می کړی[4]
په بل رنګ می به زړګی باندی سوړ نشی  رقیبان شول دَ نوکونو تر منځ شپږی
و هر چا وته چه وګورم فریاد کا  یو زه نه یم د جهان دِی سینې خوږی
دا دوه توګه و هوښیار وَته یو راز دِی  د نامرد سړِی بریتونه بریت د مږی
په جهان به هیڅوک نه وِی چه آزاد وِی  ځنی عشق اندوه بنده کړه ځنی لوږی
چه احمق سَرَه یاری کړې خبردار شه  یوه ورځ به په تا وکا کار دَ یږی
چه بې عمله تصوف وایی باور کړه  دا می واړه[5] بوس دانې سَره آغږی
هیڅ مذکور ور سره نه بویه نه ښه دَی  په نادان دِ دَ دانش خبری زوږی
چه دِ لاس په ګیدړ نه رسی خوشحاله
و مزریُو وته څه لاسُونه مږی

په هر کسب کې چه یې حبیب الله یې  که له خدایه له رسوله نه آګاه یې
په محشر به له تا عدل ایمان غواړِی  که په تخت دَ پاسه ناست دَ ملک بادشاه یې
نفشه تا دا هسی زه مذبذ بین کړم  هم توبه هم ګناهونه څه ګمراه یې
نور څوک څه لَره بد خواه ګڼی ناپوهه  چه پخپله دِ خپل خوی، دَ ځان بدخواه یې
زمانه به دِ بدرنګ کا غره مشه  که هر څو پخپل جمال کښلی تر ماه ئې
په خاته کښې ئې هیچیری ثقل نشته  تل چه پورته کښته کیږِي یوه ساه یی
که پخپل ګمان کښې ځان و تا ته کوه دی  و قضا وته پمثل لکه کاه یی
دَ خوشحال ویسا په سخت ساعت په تا ده
ای چه ته دَ درمانده وُو پشت پناه یې

په دا څه که دَ بنګښ راته ډنګ ډنګ دی  زه هم ښه یم د ما هم برغو[6] تر څنګ دی
عقل زور دَ غوریه خیل تر بنګښ زیات دی  غوریه خیل را سَرَه هم وَلاړ په ننګ دی
د بنګښ نه هونبره زور وینم نه توره  دا په کوم توکی له ما سَرَه په جنګ دی
غوریه خیل که په ناکام ور سَرَه زیست کا  په رضا ورته بنګښ نیولی تنګ دی

---

۱. محشی ورته کښلی دی: غولی او انګڼ.
۲. په خاطر باندی می پروتی ندی لړِ.
۳. پټوی.
۴. ئی کړِ.
۵. دا می واړه اوره بوس سَرَه آغږ.
۶. ښکر چه د شپیلۍ بږغ ځنی وځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوریه خیل او بنګښ دواړه مغلی دی — همیشه ورته مغل وهلی لنګ دی
که زه ګوری[1] دُرد آشام ورسره شمار یم — خوار هغه چه ئې لما سَرَه آهنګ دی
هر ملخی دَ سربازیه هنر څه زده — چه پدا هنر کښې سر ښندی پتنګ دی
لا تر اوسه ئې ماغزه په قرار ندی — چا چه ما سَرَه وهلی سر په سنګ دی
د کینڼیو[2] په ځګر کښې ئې ګولۍ دی — که لیدلَی چا د ما دَ ښکار تفنګ دی
لا په خوب کښې په لرزه پریوزی له کټه — چه د چا تر غوږ د ما د توری شرنګ دی
که پدا دَرومی ګورې هغه زه یم — چه می داغ په خاطر یښې د اورنګ دی
درست جهان می و مغل وته خیبر کړ — ځای په ځای ئې پښتانه وَته قلنګ دی
ځنی څه لوئی دعوې لَرم په زړه کښې — ولی څه کړم چه پښتون واړه بې ننګ دی
خو طالع را سَرَه هسې مدد نکا — ګنې تیر می تر فریدونه فرهنګ دی[3]

د خوشحال دَ زړه د حال نندارە وکړه
که په تخت دَ پاسه کښینی هم ملنګ دی

په وار وار د ِد خندا منت را باندی — چه له ورایه را ښکاره شې راته خاندی
چه ئې زړه ترکاڼی سخت دَی پر مین شوم — لاس دِ نشې دَ سرې ترکاڼی لاندې
چه بل مخ وته نظر کړم د هِداد شم — توری زلفی ئې دُرې دِی آویزاندی
چه ئې توره د غمزو راته تیره کړه — اوس خو بهَ شهیدی دَه ستا دوړاندی
رنګ و بوی د ِد خپل ځان هسی پیدا کا — که په رنګ د یاسمین دَی ګل دَ سپاندی
زه به څه لره لهَ نوره خلقه زار کړم — په ما واړه چاری زړه دَی چه ئې کاندی

اوس خوشحال ټک خپل یار په غیږ کښې ونیو
رقیبان دِ سترګی اړوِی نغلاندی[4]

تا په دوو سترګو مکحولی — چه ئې واړوې ملولی
په حیرانو عاشقانو — سل بلا وِی کړې نزولی
نه ئې شمار نه ئې حساب شته — خلقې دِکړې مقتولی
راز می هیچا ښکاره نکړ — ځما اوښی دی پدولی
نه په سر یم نه په مال یم — نه په ملک یم نه په پولی
پوه په نام و په ننګ نه یم — په فروعی په اصولی
چه دَ عشق الا بلا دِی — همګی می دِی قبولی
لاف می ستا دَ پالنګ وکړ — که رسیږم تر مقبولی
هیڅوک نشته چه پرې پوه شې — ښې خبری دِی معقولی
چاری واړه په قسمت شی — نه په ځلی نه په ځولی

بخت په کور ورکړه خوشحاله[5]
تار په تار زلفی مختولی

---

۱. که زه ګورې درد آشامو سره مل یم.
۲. یو پیاوړی تور رنګه ځناور.
۳. ګنې تیر می تر شیر شاه بادشاه فرهنګ دی.
٤. یعنی وړی او خواری زاری.
٥. بخت به کور درکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دا دوو سترګو مې اوښې بهیدلې
په فراق کښې تر لَمنې څڅیدلې
ستا دَ وصل اش رمق دَی راته پاتُو
وایې څه رنګه بې ما نه پائیدلې
ستا په غم کښې مې دَ زړه نندراه وکړه
پکښې واړه سرې لمبې وې بلیدلې
دا هم بخت چه په پالښت دَ خسته راغلې
وی دِ اوس په زکندن ئې خندیدلې
زه نه ګرم نه ملامت نه مِې څوک یار کړ
ته په کوم توکی دا هسې قهریدلې
ځای په ځای درته بلبلُو میشته وکړه
لا دِ اوس دَ باغ غوټې غوړیدلې
اوس دِ یار په غیږ کښې ونیوه هوس کړه
چه ئې ډیر په بیلتانه کښې رنځیدلې[1]
ځکه تل دَ باد له لاسه خوری څپیږې
چه له قد سَرَه دې سرو سمیدلې
اوس ئې جور و جفا وړه دا دِ سزا دَه
فکر وکړه چه په چا مین کیدلې
دَ رقیب ګونه چه نده شوه لیده دې
چه وَ ما ته په تړولې کښې موسیدلې
په زړه یاد لَره دا اور چه دې را بل کړ
یَو تر شا نظر دې نه کړ تیریدلې
بې دَ یار له مینې واړه لکه باد دې
چه په زړه مې ډیرې مینې ګرزیدلې
چه په تلل شوې له خوشحاله لکه عمر[2]
که ئې ډیره بلا کړه نه دریدلې

توری سترګې ستا دِې اې زیبا نګاری مستې
تور نرګس شهلا دِې اې زیبا نګاری مستې
تا چه بوسه راکړه زه پرې بې حسابه مست شوم
شونډې دِ صهبا دِې اې زیبا نګاری مستِې
ما چه ستا دا ښه کښلې بارخو په سترګو ځیر کړه
ګل د لاله دا دِې اې زیبا نګاری مستې
خوله به دِ آخلې چه پر ستا دَ خاطر مینه[3]
ډیر په تا شیدا دِې اې زیبا نګاری مستې
هر چه ستا له ظلمه و نور چا وته فریاد کا
واړه بې وفا دِې اې زیبا نګاری مستې
خوب کاندې بې غمه یا ئې چیری قراری شِې؟
څوک چه بې له تا دِې اې زیبا نګاری مستِې
چارې په ما وکړې وائې چاری ځما ندی
ستا نَدِی د چا دِې اې زیبا نګاری مستې
تا ووې خوشحال ته نوری لا تر ما زیبا شته
څوک تر تا زیبا دِې اې زیبا نګاری مستې

ته په څو دَ دنیا مینې مبدل کړې
فکر نه رسی هورې پسې جدل کړې
هره ورځ دَ دې فانی دنیا دَپاره
زر فتنې الا بلا دغا دغل کړې
که دِ خپله مدعا پکښې درستیږې
بې صرفه به اور دَ پلار په خونه بل کړې
که کافر درته دَ سود خبری وکا
دَ خپل سود دَپاره ځان د کافر مل کړې
که دِ سل چاری دَ زړه واړه پوره شِې
په حرص به دوه سو نورو ته ټګل[4] کړې
چه دَ عمر بقا نشته واړه هیڅ دِې
که ګنجُونه دَ قارون په کور کښې تل کړې
چه په دواړُو سترګو ړوند په غوږ کوڼ شوې
لال په خوله غفلت په لاسو پښو هم شل کړې
په پنجه کښې دِ دَ ځان رستګاری دَه
ته پدا کښې هم په څو رنګه خلل کړې
که څلور دِې که پنځه که شپږ اُوه دِې
له اصلی چارُو ئې واړه معطل کړې
ښې خوږې چارې دَ دین درته ترخې شوې
نفس ترخې چارې وَ تا وته عسل کړې
عاقبت نه دِ دَګور په خاورُو خوب وِی
چه ئې اوس په نهالی او په بخمل کړې[5]

---

١. پخسیدل.
٢. لکه عمر له خوشحاله.
٣. خوله به دِ هغه خوری.
٤. ټګل یعنې فریب او حیله یا ټکل مخفف دَ ټاکل یعنی انتخاب.
٥. دا چه اوس په نهالیو د بخمل کړِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا پخوا هم دَ دنیا طالبان نور وُ　　چه[1] ئې مینی تار په تار خورې اجل کړی
بهښت ځای دَ پرهیزگارُو دَی خوشحاله
ته بهښت وَته هوس په کوم عمل کړی؟

ته چه سترگی توروې خود به پوهیږی　　لونگین چه ښوروې خود به پوهیږی
ستر تر پایه جامې واغوندې گلگونی　　ځان چه هسی جوړوې خود به پوهیږی
تور سنبل دَ باد وَ مخ وَته وَلاړی　　چه په گل ئې خوروې خود به پوهیږی
په ورځ سل ځله آشتی کړې هم جنگونه　　هر دم خوی چه نوروې خود به پوهیږی
هم په لاس د میوه جام را کړې چه نوش کړه　　بیا می جام نسکوروې خود به پوهیږی
خپله څه دَ درست جهان فتنې نازُونه　　چه عاشق ته پوروې خود به پوهیږی
مگر لېِ دِی دَ خوشحال دَ زړه غمونه
باندِی نور تڼدورې خود به پوهیږی

ته چه هسی حکم ناز کړې په وگړی　　په تا څه دَ چا پوره دَ چا نیمگړی
دَ دریاب سَرَه دریاب وی یو څو وخته　　بیا په هر لوری پراته وی اوبو وړی
چه ئې څو په پورته لوړی لوړی وَړی　　د هغو مانې وگوره چه لوړی
لکه ته یې بیهوده یاوه باد وړی　　جهان څو دا هسی یاد لَری باد وړی
طمطراق دَ جهان کل واړه عبث دی　　هوښیارانو وته کم دَی تر خسړی
دا چه تا وته ژوندی دی ژوندی ندی　　دا وَ ما وته ښکاریږِی لکه مړی
چه خوږې میوې لری خوشبوی گلونه　　پخپل باغ کښِ دِ کښیښووې هغه زړی
په آواز سَرَه سږی بندیخانه دی　　د څاروی علاج په ترکیبِږی په پړی
جنتی دوږخی پټ ندی ښکاره دی　　خپل عمل دِی په نوم نوم واړه نومړی
زلزله په جهان گډه شوه خوشحاله
دَ اسمان له شدتونو کنډی رغړی

ته هغه لیلی یې چه دِ تل په بخره ناز دی　　زه هغه مجنون یم چه می تل سر پسی نیاز دی
ما وې خو یو زه یم نن شهره په عاشقی کښِ　　لا تر ما د نور وگړی لاړ لیری آواز دی
زه تر عشق ځاریږم تر هغو چه عاشقان دی　　واړه عشق پکار دی حقیقت دی که مجاز دی
رایشی له کومه ځای په څو وکا په زړه کښِ　　هیڅ پرې نه پوهیږم عشق یو څه سوز و گداز دی
هی دَ خدای دَپاره نفحص را پسی مکړه　　پلار ته وایه نشی عشق یو هسی مخفی راز دی
توری توری زلفی کبود خال لکه کوتره　　راشه که ئې گورې پرې بندی یو څه شهباز دی
سکښی د زړه ولی چه په شونډو کښِ موسیږی　　تیغ ئې دَ غمزې دا ځله لا څه تیره ساز دی
هر څوک یو یو بت لَری خپل بت وته سجود کا
بت دَ خوشحال ته یې تل ئې تا وته نماز دی

تمامه شپه دَ ژمی په هی هی پما تیریږِی　　چه ته د ما طبیب ئې رنځ به لا ځما زیاتیږی
دا سحر دَی که مینه که څه لا بله بلا ده　　که هر څو ئې له دلِه هیرَوم نه را هیریږی
خپل زړه وته نظر کړم پدا هونبره محبت کښِ　　یَو هسی مستسقی شو چه په بحر نه اوبیږی[2]

---

۱. چه څه مینی.
۲. نه سړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسف د زمانې دی درست جهان په روشندلی    دا یو جهان لا پرېږده چه په دوه جهان پیرېږی
دنیا لکه حلوا دَه، ښه شیرینه مزه ناکه    حریص ئې لکه مچ دی باندې غورزی نه مړېږی
چه ننګ کا ننګیالی دی ورته ببني دی دوه کاره    یا کام دَ ننګ حاصل کا یا دَ دوی مینه سپیرېږی
که مښک[1] وُ که ګوهر وُ همګی ولاړل خوشحاله
و ځان وته وګوره چه اوس څه عمر تیرېږی

توري سترګی ستا دِی بیا په تورو رنجو کړی    دوه توری بلا دِی پرې می وژنې بابا مړی
وخاندې و ما ته شونډی بوڅی په ناخوال کړې    دا فتنې ښیوې دِ بیا له کومه دِی راوړی
زر دِ که په وَر مری په هیچا دِ زړه سوی نشی    زړه لرې دَکاڼی بیا خپل ځان بولې ښه زړی
هیڅ در نه پوهیږم که رشتیا وایې که پیغمی    ما وته دِ خوله دَه په خندا خندا نومړی
پټی پروتی ښې دِی څه به دم وهم و چا ته    م څه هونبره ندی ستا فتنې ناسازی وړی
ما وې چه ځما ده موزی یو وړه سیه چشمه    څه شو کوټه نیسی دَ پرې هوسیه سترِی
ته پدا خیالونو په ښیوو غمزو موجونه    سیند دَ اباسیند سوې چه څو څو بیږیِ نغړی
څه لَره خوشحاله تا دَ زړه کیسې ښکاره کړې؟
ستا دَ ظلم ندی ما و چا ته کیسې سپړی!

تر هر چا نه د رشتینو کار اول دی    خدای پخپله دَ رشتینو سَرَه مل دی
په معنی قلپه روپی ده مخ ئی تور شه    هر سړی چه په یاری کښ په زړه غل دی
دَ بدیو بد بوئی به پټه نشی    که په سل پردو ئې ونغاړې بصل دی
که دَ زړه سترګی دِ شته ننداره وکړه    دَ جهان په واړو چارو کښ خلل دی
ابا سیند وَته نظر کړه وَ دریږه    ستا دَ عمر دَ اوبو غُندی چل چل دی
که دَ خولې وَیل دِ ښه دی پدا څه شِي    چه ښکاره دی و علم وته عمل دی
نه به زوړ پرېږدی نه ځوان نه نن زوولی    چه ناځاپه ناتارُونه کا اجل دی
بدکردار به نیک کردار نشی خوشحاله
دَ شیطان لښکروُ لاندی کړ قبل[2] دی

تا یاری له ما نه پرې کړه که پښیمان ئې    بیا را دروُمه هغه زړه یې هغه ځان یې
همیشه د ما دَ باغ زرغون طوطا وی    اوس خبر نه یم طوطا دَکوم بوستان یې
زاړه هم کله ځوانان وه وار ئې تیر شو    په زړو پوری خندا مکړه که ځوان یې
یو جهان دا د ظاهر بل د باطن دی    راته ووایه دَکوم یَوه جهان یې
که طامع په سریر پاس کښینی ګدای دی    که وَآز وَته دِ شا کړله سلطان یې
په بل ځای می پیرځو بنه یې دَ یار غمه    ته د ما د زړه د مات کودی[3] ریحان یې
غم الم به دِ وَنه رسیی وَ زړه ته    که دَ خپلی ژبی هر کله پاسبان یې
ته جوهر دَ لوییِ نه لرې خوشحاله
د کم شناختو په بازار هسی ارزان یې

۱. محشی ورته لیکلی دی چه مطلب له مشک او ګوهره تور وینښته او غاښونه دی.
۲. محشی حصار ورته کښلی دی.
۳. د خاورین لوښی ماتی ټوټې. .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا چه دا ناسازي چارې دې را کړې — لا دِ خوارا سره نده بابا مړې
چه مې هسې شان په خوارو سترګو ګورې — ما دِ دا ناسازې نه دِې چا ته سپړې
ته پدا حسن دَ ګل غُندې پیدا یې — بورې[1] مور که ښاپیرۍ یې را وړې
راته وایې صبورې در څخه څه شوه — تا په تورو سترګو نده له ما وړې
بیا په کوم توکې دا هسې بې قولیي کړې — تا وَ ما ته سپینه خوله نده نومړې
دَ تقوا سپاهیان چه ستا په کوڅه تیر شي — دَ عمزې په تیغ ئې کښینوی پڅړې
دَ خوښۍ مفرح را عنایت کړه — تا دَ غم ګولۍ ډیرې دِې را نغړې
ګوره کوم به دِ په بخت په طالع مومې — خلقې دِې په طلب در پسې ستړې
په پله پله در پسې ځم دَ پرېښنو نه یې — ځایګهې ویشتلې درومې له بغرې[2]

چه مَیَن شوې درست دَ یار په رضا درومه
اوس که خپله رضا کړې خوشحاله پړې[3]

تورو زلفو دِ په غوړو دِې خولې ینښې — په څو تار په تار پریشانې سَرَه نښې[4]
دا ځما دَ پریشانیه نه څه وائې — که ئې لا نورې اوړدې دې درته بلښې
نندارچې چه ورته ګورې کټ کوټ کیږي — دَ مخ نخښې دِ بلا دِې ګوښې ګوښې
تر لبانو دِ خجل آبحیات دی — به باټه په سترګو سهم و تیر کښې[5]
چه مین شي قبلوی مکر دروهونه — په یارې مې قبول کړې که بنګښې[6]

زه خوشحال دِ دَ بدۍ نیکی ګواهی یم
دَ ښایست مخې دِ نشته په خوی وشې[7]

ته چه دا دماغ لرې — څوک به څه فراغ لرې
توره شپه دِ دواړه زلفې — پکښې مخ څراغ لرې
دا د خال دَ ورځیو ندې — دا دَ زړونو داغ لرې
واړه باغ دَې په ګلونو — یو څه کښلې باغ لرې
که ساعت دې ساعت دا دې — چه په لاس ایاغ لرې
چه طوطي دِ دَې په لاس کښې — څه نظر په زاغ لرې

بیا وکوم لورې ته ورک شو
دَ خوشحال سراغ لرې

تر مکې تر مدینې ولاړې حاجې — لا دَ نفس له خویه هیڅ نه یې ناجې
صفائې دَ زړه په کار ده نه دَ ږیرې — څو په ږیره ګرزوې شانه عاجې
صوفي لافې دَ سلوک کا هم دا لافې — سرا سر ګنه دَ ده بې منهاجې
په ملا توره تیاره شوه چه حق پوش شو — که په لاس ئې فتاوِې وِې سراجې
علم څه دې په معنی کښې ګبینه دی — کاسه هم ور لَره بویه خراجې

---

۱. بلی.
۲. ژور ځای.
۳. مخفف دی د پړیې یعنی ملامت هستی.
٤. تشی.
٥. تیر کی یې.
٦. بنګښ یې.
٧. وش یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تاراج لکه شیخان کاندی په مکر — افریدی ندی دا هسی تاراجي
دا ئې سحر دَ بابل د مځکې راوړ — چه درست اوښ په کُت کښې ومانړه حاجی
نور به وساتم خپل رخت پخپل صندوق کښې — پدا ملک دَه دَ ښه رخت بی رواجی
نه جیحون دَی نه سیحون دی لا افزون دی — دَ خبرو دریابونه مواجی
که صاحب په لاری پلی نفر سپور ځی — خو هم بیا صاحب صاحب پاجی پاجی
له اوله تر آخره په جهان کښې — دَ سید غُندی څک نشته معراجی
زه خوشحال ختک په حب دَ اهل بتیو
خارجی او رافضی ک۷م اخراجی

تور وربل به ئې وَ چا وَته غوړیږی — په وصال به ئې دَ چا تټر سرېږی
دَ شونډانو له بوسې به ئې بس نکړم — په خوږو نباتو کله څوک مړیږی
نور به کومه آرزو وی لَری په زړه کښې — چه ئې سترگی کښلی مخ وَته غرېږی
عاشقان تر تورُو خاورو لاندی نه مری — پدا سپین ویښته به څرنگه اوړیږی
بیا به توری بلا لا توری بلا کا — چه ئی تور رانجه وا سترگو ته اوړیزی
دَ ښو ناوک ئې نه دری تر زغرو — څوک به هسی ناوکیو ته برېږی
دَ فراق غمجن په مرگ تر ژوندون خوښ دی — چه په غم کښې په آه آه سَرَه سرېږی
دَ جهان عمارتونو ته نظر کړه: — ځنی نوی نوی شی ځنی نړیږی
ما وې نن دَ زمانې ژبه ورزه یم — یوه کس وته د ما ژبه اړیږی
د دې باغ گلونه لږ ندی خوشحاله
تازه تر تر تازه ترو نور غوړیږی

تازی سپی چه په نمړۍ مومې ویړیا دی — سپین و سره باندی ښنده که په بهار دی
په کوټه باندِی دا دواړه حبطه دی — چه د تش په غولی گرزی هم بلا دی
که ئې ته په منت مومې دا یې مخله — که دَ چا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی
بخت چه کوږ شی یوه تن ندی راوړی — چه د خدای باندی پیرځو دِې د هر چا دی
دَ اسمان پیرې دایم نه وی یکسانی — که ئې څرخ دی نن پتا کانده په ما دی
یوه ورځ به ئې دا رنگ زیبائی نه وی — راشه گوره چه گل څه رنگه زیبا دی
دَ هر چا یاران دا هسی بې وفا دی
که خو یار دَ خوشحال هسی بې وفا دی

ته چه دا ښکلی چهره لَری نگاری — ځکه تا په عاشقانُو وَکړی چاری
چه دِ لاری دَ دیدن را باندی بند کړی — د ما اوښی په گریوان ځی لاری لاری
چه گهی گهی دِ وَوَینم له ورایه — دا لا هم بی بخته نه یم شکر باری
هَرَه ورځ تازه مانَبی تازه جنگونه — تَل دِ ما ته بیری توری دِی تیاری
که دِ غاښ و شُونډِی گورم دُر مرجان دی — که د مخ وته نظر کړم مه رخساری
دریغه نور سحر په ملک پیدا شوی — چه دا ستا سحر ئی مات کړَی سحر کاری
خو په ما باندِی چه راشِی ځان نادان کا — گنه نشته نوری تا غُندِی هوښیاری
په کوڅه ئی باد گذر نکا خوشحاله
ته له کومه سازوی ورته ریباری

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چه سر تر دیوال هسک کړی سړی گوری | د کس تاو نخښی دِ نشته تر دا نوری
که دِ زړه د غین په عشق نه وِی بایللیَ | په وداده په ویر څه هر لوری ته ښوری
پرده پوښی په ضرور وزی لمانځه ته | سترگی وازی په بازار گرزی سر توری
یا ئی نیت د کاسیریَ[1] یا د میره وِی | هر کنُډه چه لاس سره کا سترگی توری
په هغی باندی گواهی دِ بدیَ وله | چه ئی گښت په نورُو خونو خپل وَرپورِی
د میره په ږدیره نه خاندِی نور څه کا | چه دِ بل سرَه خبری کا خمسوری[2]

دَ خوشحال وَیل به بی مضمونه نه وِی
چیری نه چه ئی مزاقو سرَه شموری

ته د تل اوسې پدا ښهر یاری کښ | که زه عمر تیروَم پدا خواری کښ
غم دَ یار دَ جفا هیڅ را سرَه نشته | خدای دِ ما بې پته نکا په یاری کښ
هغه یار دِ خدای له هرَه رنځه ژغوری | زه که پروت یم همیشه په بیماری کښ
په زاری زاری به ما په ځان مَیَن کړ | که ئې مینه زیاتیدلای په زاری کښ
لکه باز دَ زړه په وینو آموخته شو | بل به نه وِی هسی ترُک په خونخواری کښ
دَ ریبار منت ئې ډیر را باندِی بار دی | چه می یار مونده دَ ده په ریباری کښ
خدای په ما باندی نادان کړ بخت می تور دی | که ویښته چوی په ډیره هوښیاری کښ

نا قرار دَ خوشحال زړه همیشه ښه دی
یو زمان دِ نه وِی بند په قراری کښ

جهان شرم نام و ننگ دی | که دا نه وِی جهان ږنگ دی
چه وفا ور څخه نشته | گل به څه کړی چه خو شرنگ دی
چه ئې عشق تر سرَه کړی | نور څوک نشته خو پتنک دی
د ښایست کمی ئې نشته | ولي یار می په زړه سنگ دی
تر ښکنځلو ئې ځاریږم | بیا ئې چا سرَه دا جنگ دی
په ښاغلیو جهان آرت | په غوولیو باندِی تنگ دی
ښه چه راغللې په غیږ کښ | بیا می لیری دَ زړه زنگ دی

چه خوشحال باندی ناستې کا
دا پوزَي ندی اورنگ دی

چه پخپل عیب بینا شی | سړی هاله درست دانا شی
نادانی ئې پټه نده | چه له ځانه ئې ثنا شی
دَ بلا اندوه به نه کا | چه له خدای سرَه اشنا شی
په دنیا به دین حاصل کا | چه خبر په لَن تنا شی
په جهان باور پیدا کا | چه رشتینی ئې وینا شی
چه غنی په قناعت شو | له هر چا ئې استغنا شی

ابدی ژوندُون به خپل کا
چه خوشحال غُندی فنا شی

---

۱. فاحشگی یا قحبه والیَ.
۲. آسان، آزاد، بی باک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په خیال په زر زری جامو کښې درومی — که نظر په خوار وکړې ثواب به مُومی
پکښې څرنګه هوښیار مرغونه بند دی — ستا دَ ورځیو خال دانه دی زلفی لومی
ستا دَ شونډُو سره به ولې هسی نه وی — چه پرې هر کله دَ زړونو وینی شومی[1]
زه به تا غلطه نکړم په ټولې کښې — که هر څو دَ خلقو[2] جونه شِی هجومی
دَ مجنون مینه یواځی په لیلی دَه — تر نظر پوری ئې نوری دی معدومی
ناز نخرې ښیوې غمزې فتنې خیالُونه — پدا کار به وِی تا غُندی څوک سلومی
دَ ښایست سَرَه هزار کارُونه نور دی — چه ئې ته لرې، نه نوری بروسی شومی
چه رضا ئې په جفا وی نور می ستایی — دَ دلبرُو خرخښې دِی را معلومی

و خوشحال ته چه دَ نورُو نوم آخلی
بې له تا[3] به مینه ماته شِی په کومی؟

چه توفیق ورکَوی رب العالمین دی — له آزاره په ستنه اوسه درست دین دی
په هر لور چه غورزوی سړی هوا ده — دَ هوا فرس وَ هر لوری ته زین دی
څوک چه خوښ نه وی له ځانه هیڅوک نشته — هر سړی خپسر دانا ګڼی یقین دی
په بهبود د دَ خپلې چاری هر څوک مټ کا — پخپل زړه کښې هر تنګ خرڅ بالا نشین دی
دَ د ستار دَ سیوری رنګ واړه یکرنګ دی — که دستار په سر یا سور یا تور و سپین دی
حبشی که په ځان نوم د کافور کښیږدی — سر تر پایه و هر چا وَته مبین دی

آزمیښت دَ دهرو ګوره خوشحاله
چه ملک دَ شیاطین سَرَه قرین دی

چه خدای په بت مین کړم که دا عیب دَی هم وِی دی سجود که دوڅن کړم که دا عیب دَی هم وِی دی
عالم وائی عاشق شوې زه سوګند خورمه چه کله — درست خلق دروغجن کړم که دا عیب دَی هم وِی دی
که نور خلق خپل زیست کا زه سر تور مسله لنګه — په ملک ګرزم دیدن کړم که دا عیب دَی هم وِی دی
کافر یم که ئې وباسم هغه ساعت له ژبی — ستا نوم چه زکندن کړم که دا عیب دَی هم وِی دی
که ستا کوڅه جنت سَره څوک سَمَه راته کښیږدی — کوڅه به دِ وطن کړم که دا عیب دَی هم وِی دی
تحسین لره بل نه لرم چه هونبره ډیره مدحَ — د خپل شعر سخن کړم که دا عیب دَی هم وِی دی
چه ځوان وم دا یم زوړ شوم په رشتیا رشتیا خبره — عالم د ځان دښمن کړم که دا عیب دَی هم وِی دی

که نور په صهبا مست دِی زه خوشحال په خوابات کښې[4]
مستی ئې په دودن کړم که دا عیب دَی هم وِی دی

چه دا هسی بې نیازی کوې دا ښه کړی — زه به نور یاران پیدا کړم ته به څه کړی
دَ بل څراغ غُندی په شپه دَ هجران راشه — چه په راغله می روښان د واړه لیمه کړی
خو له ما نه نوره مکړه دَ زړه مینه — نور می کل واړه منلی دِی چه څه کړی
دما زړه ورځنی صبر وُ چه ګنګ دی — نن ځما طوطا یو څو خبری وکړی
په ژوندون له ما نه مه ځه دَ یار غمه! — ته به سم د ما له ساهی سَرَه تله کړی

---

۱. د زړه وینی پشومی.

۲. د خلقو خونه.

۳. بې له تا ئې مینه.

۴. په نورو نسخو کښې دا بیت داسی دَی "که نور په صافو مست وِی زه خوشحال په خرابات کښې ـ مست په درد دَدَن کړم که دا عیب دَی هم وِی دِ" محشی تر دَن لاندی خم ترجمه کښلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گوره بیا دِ څه په زړه کوم می گناه دی | چه لیدو ولَره دِ درشم ځان اُوده کړی
دَ غمزيِ توره دِ ماته شه په ما کښ | غم می دا دَی پس له ما به نور پر مړه کړی
وايي ستا په عيادت دما رضا ده | مگر ومرم هاله سر د ما په وره کړی

چه تر خولي د بيلتانه دَ ويَل و باسی
د خوشحال ختِک روزگار په اور اوبه کړی

چه ژوندی وی غم دِ نکاندی د لوړی | شنه طوطی لَرَه شکری نه دي لږی
په شکروُ په نباتو ئي[1] سود نشي | چه په چا[2]شوي ستا دَ خولي خبری زوړی
په لحظه لحظه دِ وينم قهر قهر | په ځايی خصلت دا هسی خوږي[3]خوږی
ستا په لبوُ[4] به کباب شم په دا خوښ يم | که هر څو می دَ اوږو غُندی آغږی
دا چه اوس درته حاضر دی ښه ئي گوره | په هجران به ئي آخر لاسُونه مږی
عقل و هوښ ئي و سړی وته پيدا کړ | دا چيچل داړل دَ پړانگ دی يا دَ يږی

دا بيدرد که په ظاهر سړی ليده شي
وَ خوشحال ته مچ ميږی دی ماشی سپږی

چه مزری خپلی منگلی نه کا کښلی | هونبره نه وِی ځربی غوښی ورته تلی
مرجوښا[5] دَ دُر مرجان هاله اُلجه کا | چه قبول کاندِی دَ بحر خونی چلی
عاشقان چه تر سر تير شِی هاله کُښل کا | دَ دلبرُو پستي خولي لکه بخملی
باز چه والوزی له ځالی هاله گوری | دَ کبکانُو ښايسته سترگی کجلی
چه دَ اور بخری باد سَره رفيق شي | بيا هاله کا په ملکونو لمبي بلی
چه سيلاب دَ غره دَ سَرَه نه روان شِی | بيا هاله بيايِی په مخ ډيری خځلی[6]
په تحصيل پسی ئي ځکه[7]کوښښ بويه | که قسمت به دَ چا زيات نشی په ځلی

خبر هنر له لاسه مه پريږده خوشحاله
خوره خوره وه وه واړه غصي خوروِلی[8]

چه و باز ئي  ورکوَلي تيريي نوکی | تر ټټو به ئي يستي دَ زرکی څوکی
دَ باښي نظر دَ چتی[9]په لکيَ | د شهباز نظر د ميور[10]په څوټکی
دَ کارگه توره مشُوکه دَگندگی دَه | قند لايق دَی دَ طوطی دَ سري مشوکی
د گلرنگو ناز په هر کله دَ وړو دَی | بيهوده بي ځايه ناز کا رنگ املوکی
يا به سر دَ خپل ورميږ په وينو رنگ کړم | يا به کُښل کړم دغه ستا شونډی ملوکی

---

۱. می سود نشی.
۲. چه په ما شوي.
۳. لمړی خوږ په معنا دَ شيرين او دوهم په معنی د رنج او مرض دی.
٤. دا بيت حل طلب دی، په يوه نسخه کښ داسی دی: ستا په لب به لبالب شم په دا خوښ يم ــ که هر څو می د ايرو غندی آغږ.
٥. يعنی غواص.
٦. يعنی خس او خاشاک.
٧. څله.
٨. دا مصراع حل طلبه ده، په نسخوکښ ئي املا مختلفه ده مثلاً (خوره خوره دواړه غصي خوروِلی يا خوره خوره وه وهه واړه غصي خوروِلی.
٩. د شتی په.
١٠. يعنی طاوس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آفرین دی په دا تورُو شهلا سترگُو     چه ئی کښلی دَ کشمیر کړلي مملوکی
لا به کله هغه گل په چمن راشِي     دَ نرگس گلُونه گورِی سترگی بوکی
دَ هجران له غمه هیڅ سرَی خلاص ندی     څوک په ورو ورو ژړا ژاړِی څوک په کوکی
چه توبه دَ مُلو کا، په وخت دَ گُلو     پرې ښایی که دَ هغو په ږیره توکی
یا د ښو زلمیُو ږغ دَی په میدان کښِ     یا دَ ښو دلبرُو څِی په جهان کوکی
دَ زاړه خوشحال ځوانی په بوسه نکا
پښتنې جونه بخیلی بد سلوکی

چه ما کړی په جهان کښِ رڼا سترگی[1]     بې له تا می خوږې نشوې په چا سترگی
که ستا[2] له مخه وگورم بل مخ ته     په قطع دِ ړندې شِی ځما سترگی
ښکاری چه غرڅه وُلی ورته گوری     ته یو سر بل سر مکړه له ما سترگی
هر گور[3] می له هیبته وار خطا شي     چه[4] واړوې دَ ما ته شهلا سترگی
خوشحال غریب په در درته وَلاړ دی
ته هم کله و ما ته کړه وا سترگی

چه صحبت د ملوکامو سَره کاندی     بویه دا چه ویل نه کا لاندِ باندی
په رشتیا وَیل دِ هسی باوری شِی     چه پیدا کا خپل عزت د ده دَ وړاندی
که ئې دواړه پښې تڼاکی په خدمت شِی     د خدمت منت د نه کا[5] په ده باندی
حاسدان به ئې زوال د دولت غواړی     همیشه دِ لوگوی[6] و ځان ته سپاندی
د عضب په وخت دِ لیری ځنی گرزی     د خوښیِ په وخت دِ عیش ور سَره کاندی
چه نادان ته نصیحت وایې خوشحاله
دا دِ واړه نادانی دِه په ځان خاندی

چه خون په غاړه کیږی له دې کاره څه خو غم دی     یاران ځما په گور کښِ زه په کور کښِ یم ستم دی
چه هونبره ښه مخونه پدا خاورو کښِ په گور دی     چه د یو لَره درومم گور و ما وته ارم دی
پیری راغله زبون شوم که څه نور څه علالت شو     چه زه کړم هغه نشِی هغه ملک هغه عالم دی
که ښه وایم و چا ته هم ئې بد نیسِی په زړه کښِ     یا بخت دَی دَ مغلو یا ځما څه عقل کم دی
نه بخت دی دَ مغلو نه زه هیڅ په عقل کم یم     دا کل واړه پیری ده  چه می کار برهم درهم دی
مغلو ته چه گورم هغه هسی مغل نشته     د تورو وار ئې تیر شو اوس ورپاتو یو قلم دی
پښتون په زرو نیسی په فریب په ټیټالونو     په ما ئې اثر نشي لا په ما دَ خدای کرم دی
نه مچ یم نه کارگه یم چه په کړو مړو گرزم     یا باز یم یا شاهین یم پخپل ښکار می زړه خرم دی
که ما غُندي نور هم وَی پدا کار به ډیر خوشحال یم     چه ما غُندی څوک نشته ځکه پروت را باندِی غم دی

---

۱.   سترگه مفرد او جمع ئې په اوسنی املا سترگی په معروفه یا راځی.
۲.   که زه ستا.
۳.   هر گوره له هیبته.
٤.   چه ته واړوې.
٥.   وَ نکا.
٦.   یعنی دُودَوِی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمل خان دریاخان دواړه په ښه رنگ تیر شول په ننگ کښې
دَ دواړُو په فراق کې ځما تل آه و ماتم دی

چه تا گورم حیران شم چه ته څه رنگه بشر یې　　زووَلي یې له حوری که سړی پری پیکر یې
د ماء وطین له میانه څوک دا هسې پیدا ندی　　پدا حسن جمال تر میاشت و نمره لا بهتر یې
چه شونډو ته دِ گورم تر یاقوتو لا تیرَی کا　　چه زلفوو ته دِ گورم په عنبرُ معنبر یې
که هر څو دَ لاَله گلُونه ښه دِی په چمن کښې　　په دواړو انگیو داغ دَ واړو دَ ځگر یې
که خوار دِی هغه خوار دِی چه محرمو دِ له دیدار دی　　که سخ دَی د هغو دَی چه ئې ته نورالبصر یې
که آه نالش مې وَکړ مسلمان نه یم کافر یم　　را واخله تیره توره که مشتاق دَ ما دَ سر یې
په حسن په ښایست کښې دِ څوک سیال په جهان نشته　　که دا عیب دِ نه وَی چه په زړه لکه حجر یې
زه ستا له ډیره غمه همیشه په آه واوه یم　　په څو په آسایش بې غمه پروت پخپل بستر یې
خوشحال وته دِ ووې چه بې ما به په څو پایې
په څو به ژوندَی پایم ته مې خود په حال خبر یې

چه دَ پلار په نصیحت نکا ږغری　　دَ هغه زویه دانه شه په مری
دَ پرُون ورځی به نن حلاوت نه وی　　که ئې گورې ورځ په ورځ ده کهتری
لکه مور دَ بابا زویه وُو په نغته　　اوس په دا دور له چا طمعه لَری
که له پلاره زویی مومی په رای درومی　　گنه نکا زیست روزگار دَلپری
نور ئې واړه سرښتې برهم درهم شوې　　خو په ځای دَه سرښته د نوکرئ
دا هم هیڅ حق دَ نمک ته نظر نکا　　په نایافت کښې بهانه غواړی نړئ
اوس په سپینه ږیره زر غواړه خوشحاله
که په زړه لرې دعوې دَ سر دری

چه په سب دَ ابوبکر د عمر دی　　که په خوله کلمه لولی هم کافر دی
دَ هغو په مرگ ثواب گټلَی پویه　　چه بدگوی دَ ذی النورین دَ حیدر دی
رافضی خارجی دواړه باور وکړه　　تر سگانو ترکوسانو[1] لا بتر دی
تر مهدی پوری یو لس دِی یا دولس　　چه همه زویه نمسی دَ پیغمبر دی
همه واړه امامان وه دَ خپل دور　　همه واړه دَ دنیا دَ دین سرور دی
له اوله تر آخره که کروهیږی　　دَ بی بی اولاد مې واړه نور بصر دی[2]
چه دوستی ئې دَ سید نه وِی په زړه کښې　　دَ هغو سړیو تل خاوری په سر دی
تر هلال او تر بلال (رض) ئې صدقه شم　　لا رانجه مې دَ پله خاوری دَ بوذر (رض) دی
په سرو زرو کښې کمی دَ قدر نشته　　صحابی دَ پیغمبر واړه سره زر دی
زه خوشحال خټک هغه سنی مذهب یم
چه یاران را باندِی واړه برابر دِی

چه مې ولیدی دا ستا سترگی خونخواری　　چه تر اوسه لا ژوندَی یَم شکر باری
په یاریَ به دِ هیښ وِی چه غلط شِی　　چه څلور پیسی لَرِی دَ هغه یاری
ما یَوه دَ زړه په غوره دَه نیولی　　که هر څو په جهان ډیری شِی نگاری

---

۱. دې کلمې ته محشې د خربشوی ترجمه لیکلې ده.
۲. د بتول اولاد دی واړه تور بصر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی[1] ئی څو لری گِلی څما په زړه کښی — تر حساب و تر کتاب تیری بیشماری
دَ میړی چه وزر نه وِی هونبره ښه وی — قباحت دَی تجاوز له خپلی چاری
اوس به ولی په غلا غلا دَ مینی کار کړم — چه په حال می خلقی شوی خبرداری
په خاطر به دِ قراره قراری وِی — که دا خپلی سترگی ونیسی قراری
بی اثره به دا اوښی پاته نشِی — چه مِی ورځ او شپه په مخ ځِی لاری لاری
نه یواځِی دَ لاله په زړه کښی داغ دی — په دا باغ کښی سینی ډیری دِی داغداری

په خوشحال ئی عندلیب غُندِی اور بل کړ
چه پلَو له مخه واخیست گل رخساری

چه یَو گړَی په جمعَ زړه ښه مخ وته وگورِی — که درسته دنیا ستا شِی هم څه نده دا تر پوری
دا خوی څما قدیم دَی چه[2] ما اوس ندَی راوړی — چه بی له زیبا مخه راته سخ وی چاری نوری
دَ خلقو تهمت یَو سردَ هجران غمونه بَل سر — هم ته می به له یسی رنگه سختی بلا ژغوری
دا اور چه په ما بَل دَی دَ خپل یار له جدائیَ — نه گرم نه ملامت یَم که تل وینی ژاړم توری
آشنا ته وایه نشِی نا آشنا به څه خبریږی — دا راز چه له ما نه دَی ارویدلی خپلی سیوری[3]
ناوک ئی د مژگانو دَ ابرو په کمان جوړ کړ — ما نه زده چه د چا تر زړه به ووزی پورِ ووری

ښه باز دِ دَ خوشحال خټک خاطر په لاسو کښیووت
په قدر ئی خبر شه چیری نه په لَړ ئی پلوری

چه دا هسی ورَځی غوټه کړی خبری — بد خواهان به زړه را یخ کا شیوه گری
یا څما تر فهم ښه شوی، عاشق پُوند دَی — یا څوک نشته په ښایست تر تا نادری
ستا تر شونډُو تر غاښونو به ئی ځار کړم — که یاقوت دِی که سره لال که مرغلری
دا څه جام دَ میو نه دَی چه ئی ته څښی — دا می وینی دَ عاشق دِی چه ئی نغری
هغه کار لکه دوه تورُو سترگو وکا — هسی کار نشِی په توره په لښکری[4]
دوه قدمه بیلتون هم له یاره مرگ دَی — څوک په څو[5] پایی ژوندَی له یاره لری
دَ ښو ناوک ئی ښوَی درومی تر زړونو — دَ ترکانو غَشی ښوَی درومی تر زغری

دواړه شونډِی د خوشحال په خوله کړه
و طوطیانُو ورکَوِی خلق شکری

چه په سپینه بږیره کا ځوانی نکاری — پخپل ځان باندِی به وکا ځنی چاری
که په خوله دَ زاړه یار تر سر جاریږی — په زړه ندی ځوانی هیڅ دَ زاړه یاری
نیک و بد پدا جهان کښی پیدا کیږی — نیک و بدی دَ زاړه نه دِی ویزاری
خوښه ځوان د ځوانی ښځی په غرض دی — که بادشاه وِی دَ زاړه نه وِی آزاری
په کم ذات په اصیل هیڅ ندِی راغلی — ښځی واړه دَ ښه کار دِی طلبگاری
زوړ دِ ځوانی ښځی نکا که ئی کاندی — فکر بویه چه له ښه ځایه دِی باری
له ښه ځایه له ښه کوره ستر پوښی — په حیا په شرم ننگ وِی خبداری

---

١. وایی څو لری.
٢. څه.
٣. مور.
٤. په تورو په لښکرِ.
٥. به څو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په پلار نیکه دَ ننگ و ناموس نه وِی
هغه ښځی قباحت ته دِی تیاری
اوس پخپلو زړو خوښ اوسه خوشحاله
دا د دَور ځوانی مکړه ناپکاری

چه نظر دی په اغیار هورې دلې وی
ځما اوښی په بارخو ولې ولې وی
ته چه هسی ښایسته یې گرم خو نه یم
که می تل در پسی هسی وا ویلې وی
چیری نه چه څه دِ ورسی خاطر ته
که له چا سَرَه می تشی تسلې وی
یو ځل بیا سر توره مسته را ښکاره شه
چه گیسو دِ په سپین مخ شملې شملې وی
ته به وایې دَگلاب په گل شبنم دی
چه بارخو دِ د نماستې په وخت خولې وی
دَ رقیب له ویری بل لوری ته سترگی
او دَ زړه می ستا وَ مخ وته حملې وی
په عاشق باندِی دَ پلار نصیحت اور دی
اوس به چیری د دې نور خلق په خولې وی
چه له سترگو می[1] غړیږی غنم رنگه
جدائی ئی لکه قحط دَ غلې وی
د ناپوهی خوبا ټول مهر په یار شی
دَ هوښیاری په سر څو تیری مامِلې وی
زه خوشحال به دِ وانوړم له لیدنه
په دربار دِ که هر څو پروتی کلې وی

چه دانا نه کړې گردش دَ زمانې
نور به زده نه کړې دانش د زمانې
زر پیرې لَری دَ سترگو په ځنبل کښ
خبر دار شه په روش د زمانې
په یوه زمان دِی شاه بیا دِ گدای کا
څه باور په نوازش دَ زمانې
په خزان کښ دَ بوستان په ونو راشه
څه وُ څه شو بیا پوشش د زمانې
کله مځکه سپیره ډاگ کله گلؤنه
څه امید په آرایش د زمانې
د سفله غُندی ئې ور کړل را نیولی دی
غره مشه په بخشش د زمانې
د حلوا سَرَه ئې زهر هلاهل دی
که لذت لَری خورش د زمانې
پت امید دِ پلار دَ زویه سَرَه پریکا
څوک دی نه غواړی سازش دَ زمانې
شاه جهان بادشاه دَ چا په بند بندی دی
راشه گوره آزمالش د زمانې
حقیقت ئې سر تر پایه را معلوم شو
راته مکړه ستایش د زمانې
زر علته زر فساده زر عیبونه
پیدا کیږی په کاوش د زمانی
چه ئې شا کړه دَ دنیا وَ اسایش ته
هم هغه کا آسایش د زمانی
چه دا هسی ئې کردې دَ زړه پیاد وِی
لا خوشحال لری خواهش د زمانې

چه می اوښی هسی آل[2] شوې
دواړه سترگی می سره لال شوې
چه په نور څه پسِی ندِی
واړه ستا دَ مخ په خیال شوې
لیونَی شوم خوب می نشِی
راته په پری مثال شوې
نور می محو شول له دله
چه می ته په زړه نهال شوې
دَ زړه داغ دِ مبارک شه
چه مَیَن دَ شاه په خال شوې
خلق خوښ گرزِی هوس کا
د ما زړه ولی بد حال شوې
مگر نول دَ بیلتانه دَی
په ناله کښ لکه نال شوې

۱. ئې.
۲. محشی ورته کښلی دی یعنی سرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور څوک هم شته دَی اې غمه
که يواځې دَ خوشحال شوې

چه می زړه پسې مينښ مينښ شی
صبر و هوښ پسې ليښ ليښ شی
د هغو شونډو شربت به
يا نصيب چه کله چيښ شی
په پرهار می ظلم کيږی
چه توبری څنی وکيښ شی
په خزان کښ نوری ونی
توان لری چه سبر سريښ شی
زه ئې ناسته په پالنگ يم
که خوشحال له خوبه ويښ شی

چه يَوه می دَه نيولې
په رشتيه می ده نيولې
لکه يو يو مرد ئې نيسی
هم هغه می ده نيولې
څوک دِ هيڅ ملامت نکا
عجب ښه می ده نيولې
اوس به نه درومی له ما نه
چه له زړه می ده نيولې
په هيڅ رنگ به پريښوه نشی
چه تر پښه می ده نيولې
گُندی وِی را باندِی راشِی
سر پره می ده نيولې
که ئې نه وينم په سترگو
ښايسته می ده نيولې
گُندی سَمَه شِی عالمه
که کبره می ده نيولې
د خوږو هيله خوشحال کړم
چه ترخه می ده نيولې

چه ئې هسی لايعقل ولاړم په شومی
دا پياله دَ چا دَ لاسه دَه څه نومی
خدايه څه دِ يو باد وَرَی زړگی راکړ
چه هميش دَ عشق دَ باد په مخ کښ درومی
پدا هم لا رقيبان کا په ما رخه
چه می زړه دَ يار په يادوُ راحت مومی
ما لا حرف نه وُ له ياره بدل کړی
دَ سحر خروس دی وويشت شی په کومی
بيلتانه دَ ما په قصد چاړه تيره کړه
د قصاب دلسوزی نشی په ورغومی
واړه دوک می دَ اشنا دَ بيلتانه دی
په دروغه سر تړم بهانه د دومی[1]
چه ئې بې له ده بل خيال نشته په زړه کښ
دَ خوشحال دلبره کومه ده څه نومی؟

چه دَ عشق په گرانه لار کښ ډير خطر دی
هر قدم چه پکښی اخلم ډار دَ سر دی
که سينه مې سَرَه چاک کړې و به وينې
چه می ستا له غمه وينی درست ځگر دی
ستا دَ مهر باران نه اوری چه شين شی
ما په زړه کرلَی ستا دَ مينی کَر دی
ستا په راز به ژبه هم نکړم خبره
تَل تر ژبی رسيدلَی راز سمر دی
زه له عشقه خبر نه يم چه عشق څه دی
هونبره اَروم چه له حسنه ئې اثر دی
چه ئې عشق تر سره کړی هغه کم دی
پدا کار کښی لاف وهلی يوه هر دی
صبر مه غواړه له ما د عشق په کار کښ
جو دانه صبر پر ما باندِي لوی غر دی
عاشقی لا زه ته نه وو چه پيدا وه
نه چه ما وتا گډه کړی دا هنر دی
خو ځما طالع ښه ندی يار جفا کا
گڼه کوم يو په وفا تر ما بهتر دی

---

۱. يعنی زکام او يخ وهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق غم له خلقه پټ لَره خوشحاله
څه ئې پټ کړم چه جهان ځنې خبر دی

چه پیدا شوه جدائی کشکه نه وَی اشنائی
دَ بلبلی بخره نول ده دگل بخره زیبائی
تا چه شان د لیلې واخیست که مجنون شم را ښائی
د لیلې دَپاره سر شو خوار مجنون په گدائی
چه عاشق شو قبلوی دې پیغورُونه رسوائی
ستا په در دوهان[1] وهلی درته ناست یم دوائی
که پل بل لوری ته واخلم ته می بوله هو ځائی
چه به زه بې تا نه پایم بی چیچی لوپټ پائی
چه ئې ولیده په سترگو
خوشحال ځکه تا ستائی

چه ئې دری څیزه حاصل وی دَ هغه خوښی به تل وی
اول خپل صورت ښاغلی بیا ئې ښه صورت واصل وی
غه دریم وایم چه کوم دی دَ دنیا دولت ئې خپل وی
چه پدا کښ ئې یو نه وی پریشانی به ئې په دل وی
چه ئې یو وِی پدا درې کښ غم به تل باندی نازل وی
هر چه درې واړه ئې نشته که چا مړ کړ هم دگل وی
دَ خوشحال ویل معقول دِی
پری به خوښ شی چه عاقل وی

چه بندی د یار دَ یار د زلفو په کمند دی بهانه ئی د خلاصَی دغه بند دی
سر می یار وَته پیښکی کړ لا شرمیږم دَ نادارو عذر پټ ندی څرگند دی
نه شکری دی نه قند دی نه نبات دی دَ شهیِ د شونډو لا گوښی بل خوند دی
څه صفت دَ هسی حسن په غزل کړم چه په نونس بابه کل شکل پسند دی
څه به غم د مال و ملک د دین و دل کړم چه لا ستا له غمه روغ گرزم انند دی
یَوه زړه لَره یوه اشنائی بس ده نور به ډیری یاریَ نه کَوم سوگند دی
پخپل زړه می به دا هسی شندی بکړې کله هم دَ عاشقیِ کار پسند دی
د خوشحال خټک دِ ستا په سر سوگند وی
که ئې بې تا په نور څه زړه خورسند دی

چوهړې دَ خپلی خونی په بوی خوښ وی ولی بوی ئې په چمیار باندیِ آتش وی
نور وگړی دَ چمیار له خونی تښتی په چمیار دَ خپلی خونی بوی دلکش وی
هسی رنگه دَ هر چاری تفاوت دی یو تر بل پوری مطعون او مشوش وی
دَ دهقان فهم په پاله[2] یا په یوم دی
دَ سپاهی نظر په توره په تیرکش وی

---

۱. دونهِ.
۲. یعنی دَ یوی تیش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دلبره دلربا ده هغه ته یې — چه خود رایه خود ستا ده هغه ته یې
چه دَ کبر دَ فتنو دَ خرخښو ئې — په همه عالم غوغا ده هغه ته یې
چه مشتاق دِ دَ خندا دَی هغه زه یم — چه دِ تل وَ ما ته شا ده هغه ته یې
په جهان که ښایسته وه بې حسابه — چه په واړو دِ خندا ده هغه ته یې
دَ پسرلی گلُونه څه دِی چه ئې ستایم — تر گلونو چه زیبا ده هغه ته یې
ستا په مخ می په څراغ نشته وتَنه — چه دَ توری شپې روڼا ده هغه ته یې
خپل عاشق سَره وعده نکړې تر سَره — چه په عهد بې وفا دَه هغه ته یې
که هر څو دِی دَ خوشحال معشوقې ډیری
چه ور تیره تر هر چا ده هغه ته یې

چه ایرو غُندِی ئې پروت په دربار نه وی — دَ هغو به وَ اسمان وَته لار نه وی
عندلیب چه په گل رایشی نارې کا — وائی دا چه یَوه ورځ به گلزار نه وِی
دَ زړه چاک می به په هیڅ سَره ور نشی — څو گنهلی ستا دَ زلفو په تار نه وِی
ستا د زلفو نوم به نور په خوله وانخلم — دَ هوښیار پاړو تور مار سَرَه کار نه وی
تر هندوی مه شه کم دَ یار په پت کښی — چه ئې هیڅ له بله اوره نه ډار نه وِی
په ما هر زمان اختر دَی چه یار وینم — بی اختره به هاله شم چه یار نه وِی
په کوم ځای می به مرهم کښیږدې طبیبه! — چه دَ یار دَ غشی نخښه پرهار نه وِی
په هغه دَ عاشقۍ نوم حرام دَی — چه په یار پسی ئې درست صورت خوار نه وِی
هیڅ ماڼه له یاره مه کوَه خوشحاله
دَ دنیا ساعت به تل په قرار نه وِی

چه په زلفو عنبر ساده هغه ته یې — چه په شونډُو شکر خاده هغه ته یې
چه نازک ئې دی اندام دَ گل تر پاڼی — په قد ښه تر عرعر لا ده هغه ته یې
که هر څو شِی په جهان محبوبی ډیری — چه خوشرنگه تر هر چا ده هغه ته یې
له عذابه له وبا له دِ ترس نشِی — چه پدا دور ترسا ده هغه ته یې
چه اثر می دَ ژړا ورباندِی نشی — چه پدا زړه حجر آساده هغه ته یې
چه تمامه شپه دِ خوب په ما حرام کړ — چه دَ ستر سحر بلا ده هغه ته یې
چه له مینی ستا په سر لوړی خوشحال دی
چه دَ ده دَ سر قضا ده هغه ته یې

چه ئې عمر دَ ښارویو سَرَه تیر وی — زیست روزگار دَ هغو هم په هغه څیر وی
چه شیطان غُندی رانده شی څوک ئې څه کا — که هر څو ور څخه علم هنر ډیر وی
ځوانان واړه برابر ندی په وزن — ځنی من، ځنی نیم من ځنی نیم سیر وی
که په زړه باندِی پراته دی زر غمونه — چه می یار په نظر کښیوزی واړه هیر وی
دَ شکرو تر حلَوا به ئې لَا ښه خورم — که دَ یار له لاسه زهر یا گَنهِهیر و
دَ ښه مخ په نندارِه به لکه روغ ځم — که په تن می پرهارُونه دَ شمشیر وی
هر عاشق دِ عاشقۍ ته هوس نکا — دَ عشق لاف دِ هغه ځوان کاندِی چه شیر وی
دریغه بیا را سَرَه ژر غاړه غړی شوی — چه فلیل په زلفو پوری دَ اجمیر وی
دَ خوشحال خټک خو کښلی مخ په کار دی
که د سوات که دَ پکلی که دَ بنیر وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په زړه ئې ستا دَ غم غشی سیده شي — قراري به ئې له دله رمیده شي
همیشه به ئې سریښی په زنګون وی — په فکرت به ستا دَ زلفو خمیده شي
توری سترګې توری ورځې سَرَه زیب کا — بیا په تیره چه و سمه پر کیپده شي
په ټټو باندِې ئې خط دَ ویښتو ندی — دا ئې سیوری دَ څړۍ ده چه لیده شي
ستا خوبی ځما په پوهه ډیر تیری کا — دَ یوسف خوبی که هر څو اروېده شي
په بڼو باندِې می ښښې په احتیاط ږده — چیری نه چه می باڼه پرې خلیده شي
ځان و زړه می هغه لور وَته پرواز کا — هغه ځای چه ښه دلبره شنیده شي
زه پدا سبب په دوو سترګو مَیَن یم — چه چهره دَ ښو یارانو پرې لیده شي
له قسمته زیاتی مه غواړه ناپوهه! — و هر چا ته خپله بخره رسیده شي
لاس په لاس ئې ګرزوی هنر آموزی — چه ښکاره دَ هنرمندی کښیده شي

په ژړا می به و نه غلوې خوشحاله
که دِ سرې وینی روانی تر دیده شي

چه ښیری وَ ما ته وکړې ژونده وې می — چه می یاد کړې په ښکنځلُو نهاله وې می
دا چه وایې راته ځیر ګوره چه مور شې — که تمام عمر دِ ګورم مړه وې می
غمازانو اَغزی توی دَ غمازۍ کړل — چه دَ دوی په وینا غوږ کړې پرې څکوې می
ما خپل زړه وَته وَیل چه اې بد خویه — څه په هر صورت مَین شې شوږه وې می
وئې عمر می پدا بد خوئی تیر شو — څه دا اوس راته ویل کړې اړه وې می
که می سر په عشق کښې دروِمی هم دِ لاړ شی — خپل وژلی راته شمارې ویره وې می'
که دَ زهرو پیاله راکړې هم نه وایم — خدای دی خیر وَ تا درکا ژونده وې می
چه ګهی په مخه رایشې کنکس[1] خورې — یو تر شا نظر وَ نکړې څوره وې می
کشکه زه دربارندِی نه وَی مَین شوی — تا نادانی مینه نه زده پخه وې می

ما خوشحال څخه په ذات دورنګی نشته
دَ زړه حال می در معلوم دَی ویه وې می

چه درومې په انګڼ کښې درست انګڼ سَرَه یو ګل شی — د مښکو بوی را پاخی چه دِ تار په تار کاکل شی
چه سترګې کړې ورپورته په نرګس شی بلا سازه — چه زلفې کړې نمودی حبطه واړه سنبل شی
دَ ملا دَ ویښته فرق به دِ هیڅ یَو سَرَه و نکا — که واړه دانایان می په دا فکر تأمل شی
عالم وایی و ما ته له ښه مخه صبر وکړه — حیران یم له ښه مخه په څو صبر و تحمل شی

دَ خوشحال خاطر ئې هسی ځنی یووړ تورو سترګو
کله صید دَ شاهینو تر مښکو تر منګل شي

چا به راکړه په پالنګ دا هسی کښلې — که می نه وَی په ازل په قسمت کښلې
شیخ دَ خورو صفت کا زه دَ دلبرَو — دا ځما هغه دَ ده دعوا پریښلې
عاشقان ئې صد هزار دِی په هر لوری — سر ګښته حیران پریشان ګونه ځیبښلې
په دربار ئی سناسی شه ورته کښېنه — تار په تار دَ سر ویښته ایرې موښلې
که هر څو دَ خلقو جونه ښایسته دی — ما یَوه ده غوره چوڼ پکښې وکښلې
لا به کله ننداره دَ هغه مخ کړم — چه می کړه دَ خاطر ده پسی لښلې

---

۱. دا کلمه عیناً ولیکله سوه، راحت زاخیلي ګنګوسی په معنی د پټه خوله والی او خاموشۍ او سر ګوشی را وړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هغې پیالې مستی لَرم په سر کښې | چه پرون می دَ ساقی له لاسه څښلې
نه د مښکو پټېدنه نه دَ عشق شته | په اذل ئې نه دِی دا پردی پوښلې

چه می تل دَ مخ ثنا وایی خوشحاله!
په صله می سپینه خوله درته بخښلې

چه گلگونه معشوقه لَرِی په کور کښې | دَ صحرا سیل دِ وسیځی په اور کښې
په هجران کې می ژړا هغه خندا شوه | چه می یار سَرَه خندا وه په بیور کښې
لکه لوند خرخوړی تا وکړې نم ئې نه وی | بیلتانه هسی پخوړ[۱] کړم پخپل زور کښې
دَ عشق ښور دی دَ عاشق له دله نه ځِی | په جهان ئې فیروزی دَه پدا ښور کښې
په هر ځای چه دَ رندانو مجالس وی | تر قیامته به یادیَږم په څلور کښې
شور و شر به دَ رانجا[۲] په جهان نه وُ | که د هیر صورت پیدا نه وَی په شور کښې
که خبر به دَ دُرخانی د مخ نه وی | آدم خان به ځنی څه غوښتل په کور کښې
پښتنې جونه دِ الفی باد ته نیسی | چه شمال ئې بوی راوړی په رنتهبور کښې

دَ خوشحال دَ زړه می ښه ننداره وکړه
سمندر غُندی بازی کا په بل اور کښې

چه له ورایه را ځرگنده مسته شاشی | دَ جمال ئې په څو رنگه تماشا شی
چه پلَو په مخ کښې وَنیسی ماښام کا | چه پلَو له مخه لیری کا سبا شی
دَ جمال خوبی ئې زیاته دَه تر نمره | چه دیدن وته ئې غټ گورې په چا شی
تر یانه پوری ئې گوڅه سی کوتره | تر وَیل پوری ئې گنگ گویا طوطا شی
حبشی زلفی ئې پاس په سینه زانگی | یمانی بارخو ئې گل غُندِی نما شی
مرگ می سل ځله قبول بیلتون دِ نه وِی | دَ دې هسی یار بیلتون تر مرگ بلا شی
په مانې ئې مرده شو یو کرَه عید وی | په خندا ئې جوهری لرَه ژړا شی
توری خاوری دَ رقیب په سر کا توئی | چه گله له منځه وباسِی پخولا شی

چه په لیدو ئې نه ومرې خوشحاله
ځکه هسِی دَ جهان بلا په تا شی

چه محبت په ځان قبول کا نور راحت شی | چه عارف دَ مصیبت شی عافیت شی
که فلک ئې دَ مزری په خوله کښې ورکا | خدای دِ نکا چه عارف پکښې غارت شی
لکه باد کله ئې مخ کله ئې شا دَه | بیهوده غرور دَ هر چا په دولت شی
یو لاله په غوړیده بل رژیده کا | شگفتن دَ باغ دگلو په نوبت شِی
دَ یوه مانې شی سر دَ بل نړیبږی | په جهان کښې نوی نوی عمارت شی
وا ویلا ژړا ناره ساړه آهونه | خو هم دا په ورځ و شپه په هر ساعت شی
دا همه چاری دَ ده دِی چه را کیږی | یَوه خدایه کور دی وران دَ محبت شی

هغه شان لکه په تورۇ اوس په سپین دی
د خوشحال مجاز به کله حقیقت شی

۱. ښتیځلی او په تکلیف اخته.
۲. رانجا او هیر په هند کی دوه مینان وه چه په هندی کې ئې قصه مشهوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه راغلی په حیله دَی
عقل ځکه عقیله[1] دی

که مثال ئې له ما غواړې
عشق مزری عقل نیله دی

آشنائی ئې دَ جمال ده
چه مین په جمیله دی

پروا نه پرې پرپری کا
اور څو بل په فتیله دی

خوار مجنون دَ عشق په کار کښې
سپک په قام په قبیله دی

هم خالق ته هم مخلوق ته
واړه کار په وسیله دی

دَ خبری په میدان کښې
نن خوشحال خټک قبله دی

چه ښکاره په آرایش کښې شگفته شی
صلوات ئې په جمال باندې گفته شی

آشفته کاندی روزگار دَ پرهیزگارو
چه ئې زلفی په عذارو آشفته شی

چه ئې نه وینم زه هسی ځلبلاند شم
لکه گل له عندلیبه نهفته شی

چه دَ غوږو دُر ئې نه وینم په سترگو
دُرگوهر می په هر هر باڼه سفته شی

دَ وصال په وخت هم خوب دَ عاشق نه وی
ترو بې وخته په هجران په سوخته شی

ښه خو دا چه ئې برقع په مخ پرَته ده
او که نه پرې به وگړَی الپته شی

زړه می وائی چه ورتلی په در ئې ایل کړَی
په هر ځای چه ښه محبوبه شنفته شی

وَ خوشحال ته د دې باغ غنچه ښکاره وه
چه به دا رنگه گلونه شگفته شی!

چه ادب لَرِی سړَی سړَی هاله شی
بی ادب سړَی سړَی کله باله شی

څه پتونه ئې په شمار په حساب ندی
که په چا د آشنایۍ پت پاله شی

چه همت دَ سړی څو قدر ئې هونبره
دَ تمیز په تله هر سړَی تاله شی

دولتمن سړَی هغه بللَی بویه
چه له سینده ئې جدا دَ چا واله شی

هر سړی چه دولتمن شی که دانا وِی
په هر کار کښې دې نظر پخپل کاله شی

که دَ توری کار دَ ځوان دَی یا د نور څه
مصلحت دَی دَ هغه چه په زاله شی

دولتمن دِ په هنر په علم مټ کا
که هر څو ښایسته مخ وِی بیا پساله شی

څوک دنیا وته مریونه دی خوشحاله
شاه زلمیو ته دَ لوبو چنغاله[2] شی

چه ړانده وته اسمان ښئی یا ستوری
وایه ړُوند به ئې په کومه سترگو گوری

روڼا ورځ په ښاپیرک باندِی تور تم شوه
روښنایی دَ نمر ښکاریږِی په هر لوری

که څښتن ورته زورل[3] کا یا ښکنځل کا
مریی هم په زړه کښې هسی څښتن زوری

بیا به شنی په پاڼیو نشی وچی نوی
که باران د ښښکال په شیبو ووری

زور قوت دَ هر چا سم برابر ندی
څوک له ځایه زوروَر شول څوک کمزوری

راشه نن دی د نخاس ننداره وکړه
یو کالَی په بها بیری بل ئې پلوری

چا دَ سر دَ پاسه سور مندیل تړلی
ځنی هسی خوار حیران گرزی سر توری

دَ چا حکم دَ چا لاس دربانِدی نشته
پخپل بخت پخپل قسمت پریوزې غوری

---

۱. یعنی پښې تړ، هغه شی چه د اوښ پښه په تړی.
۲. چنغاله هغه نجلۍ بولی، چه میړه ئې معلوم شوی او نامزده شوی وِی، اما واده ئې نه وی سوی.
۳. زوری کا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تلوار په اضطراب چه صبر نه کا
دَ خوشحال خاطر سیماب شو سَرَه ښوری

چه می خپل مَین نیولَی تر آغوش دی | دَ جهان هوس می واړه فراموش دی
ساقی زه څه هوښیار نه یم باده راکړه | لیونتوب دَ لیونیو پرده پوش دی
چه پرُون ئې اهانت دَ می خور وکړ | نن هغه دَ میو ډک سبو په دوش دی
ساقی ترس دَ محتسب دَ دُرې نشته | چه بابا ئې دَ مجلس سَرَه می نوش دی
هدایه وقایه څه لولې وَ ما ته | چه ځما دَ نای ونَی په آواز گوش دی
دا گلگون شراب دَ کومی میخانې دی | چه صوفی ئې په جوعه سَرَه مدهوش دی
دَ بهار په وخت به څه له میو اَوړم | چه سرود دَ مغنی په نوشانوش دی
بیا به دا گلوُنه نه وِی میخوری کړه | دَ بلبلو په آواز کښې دا سروش دی
ډیر دَ باد سپاره په خیال تر ما تیریږی | همیشه پدا بازار کښې پوشا پوش دی
چه په ډیر ارمان دَ یار له مخه بیل شو
دَ خوشحال په بخره هر کله خروش دی

چه لرې پخپله خونه کښې خوشخویَ | دَ جنت هوا به هم کړی درې شویَ
دین دنیا ئې دواړه کښیوتل په لاس کې | چه په کور کښې ده خوشخویَ هم خوش رویَ
دَ بلبلو غوغا تل په هغه گل وِی | چه صفت ئې شِی له رنگه هم له بویَ
زه دلې له غمه مرم چه جدا کیږې | په شانه سَرَه د شاه دَ زلفو مویَ
چرته ویر چرته سندری په جهان کښې | که ئې گورې د هر نه دَی بې های هویَ

گلدستې دی دَ بهار را لَره راوړې | پیکه ښه راغلې په وخت دَ یار له سویَ
په جنت کښې پراته چیری چرته درومی
چه خوشحال شړی عالم د یار له کویَ

چه په آن و آن په مځکه په اسمان دی | په غمونو په ښادیو کښې انسان دی'
دا یوه څمڅه دَ ځان دینی بلا شوې | چه سړی سَرَه ئې غم په هر زمان دی
دَ نامرد دَ مرد پدا تفاوت وشو | په نامرد شرم آسان دی په مرد گران دی
مست هاتیان خونی مزری توری وکښلې | که دَ سر ویره دِ نشِی کار آسان دی
کشکه ته پدا دنیا همیشه پائې! | په احتیاط احتیاط کښې ډیر خلق طوفان دی
که دَ ځان که دَ ایمان بد خواه می ډیر دی | ما په خدای باندِی سپارلی ځان ایمان دی
ننگیالی چه دَ اخلاص توره په لاس کا | ډیر لښکر ئې تر همت پوری کاروان دی
له اوله تر آخره څو روزگار شته | چه عالم باندِی غوغا کا دا جهان دی
په ښادی سَرَه شریک دی اولسونه
غم یوائِې دَ خوشحال ختټک دَ ځان دی

چه وربل دی په سپین مخ آشفته کیږِی | په ماښام کې روڼا ورځ نهفته کیږی
که د مخ ښایست ئې دا دَی چه لیده شی | لا به ما غُندی پرې ډیر الپته کیږی
په ښو ئې اوښی ندِی آویزاندی | همگی دُرو گوهر دی سفته کیږی
یو ئې رنگ یو ئې نگهت یو ئې وِی پانې | پدا باغ کې عجب گل شگفته کیږی
په ژړا می به پوهیږې خوب و نه کا | هغه څوک چه په گیسو ئې خفته کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ خوشحال دَ خولې خبرې خوشې ندي
دا همه دَ يَوه حاله گفته کېږي

چه مور پلار ځنې آزار شي هغه عاق دی
دَ عاق زويه ځای دوږخ په اتفاق دی
هغه مور او پلار به خلاص نه وي له غمه
چه فرزند ځنې زوولی بد اخلاق دی
هغه زويه به آخر په خوارې خوار شي
چه ښکاره ئې دَ خپل پلار نفاق دی
دَ اورنگ بادشاه په دور رسم دا شو
چه هر زويه دَ خپل پلار دَ سر مشتاق دی
نن هغه قطب آفاق گڼي خپل خپسر
چه گواه ئې دَ عاقوالي درست آفاق دی
با خلف زويه په گور خلف دِ غواړي
هر پدر چه د پسر په اشتياق دی
دا ځما همه گله ده دَ ټټوانو زيږي
را ئې وَ ښَيه چه کوم پکښې تفچاق دی
د ټټوانو نه همه ټټوگې زيږي
که الغير ئې دَ عرب يا دَ عراق دی
دَ هغه اسلام اسلام ندی خوشحاله
چه بهتر ورځنې گبر په ميثاق دی

چه د خولې ويَل ئې نور دَ زړه ئې نور وي
دَ هغه به مخ په دواړه لوريه تور وي
دَ باپوه سَرَه راضي نه يم په باغ کښې
دَ دانا سَره قبول لَرم که اور وي
که په لاس کې ئې ډک جام کښېږدې څه سود دی
دَ هغه چه له ازله جام نسکور وي
نالايق زويه دِ خدای دَ چا لوی نه کا
چه په ځان دَ ده له خويه پلار او مور وي
ښه لايق زويه مور پلار په نيکي ياد کا
نالايق دَ پلار آزار دَ مور پيغور وي
يو لايق زويه دَ پلار کرهَ لوی ښه دی
نالايق په څه شمار که درې څلور وي
دَ غوولي زويه شور وي پخپل کور کښې
دَ ښاغلي په جهان کښې شر و شور وي
که هر څو دَ سړي ډير زويه پيدا شي
بيا په واړُو کې خو يَو زويه انځور وي
هغه زويه خو په گور ښه دَی خوشحاله
چه بهرام غُندی يواځې دَ خپل کور وي

چه دا هسې سحرگرې سترگې ستا دِي
په ناحقه دَ تقوا لافې ځما دی
پښتنې جونه مې وليدې په سترگو
څوک چه تُرکې دَ خطا ستائې خطا دی
ښاپيريه که هر څو ستائې وگړی
ستا تر حسنه تر جمال په شمار د چا دی
تا چه وَويني مَين در باندې نشي
هغه زړونه غندی کاڼې دَ بيديا دی
واعظان چه يادَوي دَ جنت حورې
ما پدا سترگو ليدلې په دنيا دی
يا به ستا زلفينې ونيسم په لاس کښې
يا به سر درباندِې بايلم دوه وينا دی
دَ ناموس خبرې مکوه خوشحال ته
عاشقان له نام و ننگه بې پروا دی

چه مې کړې هر آثام دی
که په خوله که په اندام دی
اوس له واړو توبه گار يم
په اخلاص مې دا کلام دی
ته کرم را باندِې وکړه
شتا کرم په هر چا عام دی
په دوه سترگې مې منلې
چه دَ شرع هر احکام دی
واړه امر مې قبول دی
ترې توبه چه نهي نام دی
استقلال دَ توبې راکړه
دَ شيطان دَ بلا دام دی
ما ساته دَ ده له شره
نفس مې مدعی خودکام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په توبه کښ ثبات راکړه
لکه حکم دَ اسلام دی
پخپل لاف به هیڅ ونګړم
که زه لافې کړم لاف خام دی
چه توفیق له تا نه نه وِی
دَ زاهد زهد حرام دی'
په هغه لاری می بیایه
چه پرې ینښَی بنی ګام دی
نور به څه کړم ډېر خواستونه
دا یَو ما لَره تمام دی
چه ثابت وَلاړ په دین دَی
دَ خوشحال باندی سلام دی

چه په زړه ئې ګرزوی وړې وړې[1]
یَوه ورځ می به له وره وشړې
چه په تا پوری ئې زړه نه وِی تړلی
په هغه پوری زړه څه لَرَه تړې
که می ورړمی ساړه ډېر وِی قبلوه ئې
مړې ایرې دَ نغری څه لَره لړې
چه ځیر ځیر ئې مخ ته ګورم نه مړیږم
دا ځما سترګی به کله شي مړې
ستا خوږی شونډې نبات دی رقیب مچ دی
ښه خو دا چه ئې له شونډُو وَشړې
څو ځوانان دِ پخپل ځان دِ کښینولی
لا به څو در باندِی کښینوې زړې
یاره ته چه له اغیار سَرَه خندا کړې
دَ خوشحال په لړمانه درومی چړې

چه د بخت د تالو سپین دِی تور به نشی
چه شیرین دِی له ازله شور به نشی
هر چه غوړ دَ محبت لَری په زړه کښ
که پرې زر کالونه تیر شی سپور به نشی
د دې نورو بازارونو خپریدل شته
یو بازار دَ محبت دَی خپور به نشی
خو چه وَزیږِی له موره چه بد ذات وی
په وروری ئې غلط مشه ورور به نشی
چه له یاره سَرَه کښینم رقیبان مِی
تل په بد نظر کاته کا کور به نشی
څوک چه زور سَرَه ښکاره کا و زیانیږی
که پخپله بوسه را کا زور به نشی
هسی نه چه زور می نشته زړه د ګورم
ته پخپله مهر وکړه زور به نشی
و هر چا وته رسیږِی خپله بخره
چه ئې پلې په ازل کړ سپور به نشی
لاس په لاس سودا بهتره تر هر څه ده
مسافر په لار ولاړ یم پور به نشی
که هزار ځله حکمت هنر تدبیر کا
دَ خوشحال په باب چه شوِی نور به نشی

چه په حسن په ښایست دِی زورَ وَرِی
دَ هغو وائی بدلی یا سندری
رغیده ئې ستا دَ خولی په دلاسا دی
دَ رنځورُو دارو ندِی له تا لیری
ما چه ستا دَ خوږو شونډو لذت بیا موند
نه می شهد په غرض دِی نه شکری
عقل خپل فوزونه تار په تار خپاره کا
چه پرې رایشی دَ عشق خونی لښکری[2]
د ښو په تیر ئې بیا سَرَه پاش پاش کا
که خپل زړه وته پوښم دَ صبر زغری
تریانه دِ دَ خطا آهو خجل شی
چه په شین شین یون کړې ښیوه ګرِی
یو نظر په درست صورت علامت وکا
په مثال لکه بځری وچی سری
تر خوږه خندا دِ ځار شم راته خانده
چه پریوان کړې په ما لعل و مرغلری
چه څوک بې عشقه څه وائی باور وکړه

---

۱. دا بدله له یوې قلمي نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښ نسته.
۲. چه پرې رایشی تنها دَ عشق لښکری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لکه باد دِی په خوشحال هغه خبری

چه دَ خپل عقل وَیل کا هغه کله خرد مند دی — چه پوښتنه مصلحت کا هغه هم دَ عقل بند دی
چه می فهم فکر وکړ پدا خپله دانائی کښ — بل نادان را ښکاره نشو که نادان دَی خود پسند دی
تر مشرقه تر مغربه چا دا هونبره جهان وَغوښت — عقل علم هم دا هسی په جهان کښ چند در چند دی
ګڼ شه وغواړه باغونه په هزار رنګه میوې خوره — راشه راشه راته وایه سَم دَ واړو لذت خوند دی؟
لعل الماس دی په جهان کښ دُر مرجان شته دی مشکنې — واړه هیڅ پوشیده نه دی دَ هر چا قدر څرګند دی
هر سړی چه محنت نکا هغه لکه راحت مومی — راشه رنځ قبول کړه که ته ګنج غواړې ښه پند دی
که ته راشې له اسمانه جبرئیل شې پدا څه شی — خوف رجا راوړه اې ځانه کاردَ توری یا دَ شخوند دی
څوک چه حکم ریاست کا سیاست دِکا په شرع — اوس لا بلکه خلق بد شه په توره عمل هم سند دی
ډیر به ښه ښه زویه راوړی دا نه پلاره څلور مېندی[1]
نن په واړه پښتانه کښ یو خوشحال لایق فرزند دی

چه امید پدا ایام لی — دا امید ئې نا تمام لی
عافیت غوښتل له دهره — دَ سبا هیله له شام لی
کل امید خامی تکیئې دِی — څوک به څه تکیه په خام لی
په سراب دَ تبری خوی دی — دَ اوبو ګواهی مدام لی
زه له غمه مخ جار باسم — دَی را وړاندی شی سلام لی
په هیبت دِ ناست و خیز کا — چه مزری څخه مقام لی
دغه خون په خپله غاړه — چه دَ بیم په ځای آرام لی
دَ خوشحال بلا هغه شو
چه سوګند دَ ده په نام لی

چه پخوا می په خاطر نه وې لیدلی[2] — فلک ډیری نندارې را وَښیلی
وار په وار می واړه ولیده اغیار وه — چه همیش ئې دَ یاریٔ لافی وَهلی
په بخښښ ئې نر ناحقه غلطی کړې — وار په وار به جهان واخلی واړه خپلی
چه خبر له ځانه نه وه ما خبر کړه — له هغوی څو خبری وارویدلی
نه هغه شته نه په خوله کښ هغه غاښ شته — چه به ما په اننګیو وه چیچلی
چه په خوله می کښلول پرې نازیدلم — دَ هغو دَ خولې می وارویدې ښکنځلی
چه ئې نن وکړې په چاکانده په تا شی — ویړیا ندی چاری واړه دِی په تلی
چه همیش به په تسلیم راته وَلاړ وه — دَ هغو می څو ناسازی دِی زغملی
دَ جهان ګلونه واړه بی وفا دِی — بیهوده ورباندی مینی کا بلبلی
کشکه زه یو خر غخکی وَی سړی نه وی — هونبره چاری سړیتوب را ونمایلی
دوه رفیق دِی دَ یوه په وَیل ډِغ کړم — دا دوهم را باندی غرپ وهی چه غلی
نه د دین نه دَ دنیا دی ځنی نوری — دَ یاغی دَ ایل په منځ کښ و بلبلی
چه اوربشی کرِی کله غنم وشی — پټه نه ده چه کرې هغه آخلی
یو ئې ټوله په محنت ګا بل ئې یوسی — راشه ګوره چا اولجه کړه چا ساتلی

---

۱. نه پلاره او څلور مېندی، نه اسمانه او څلور عنصر دی.
۲. چه پخوا په خاطر نه وې ما لیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا دارو دَ لیونتوب وکړ خوشحاله
یا ناحقه دروغ خلقه سَرَه ملی

چا ئې راز د خولې تحقیق ندی موندلی
که صفت ئې واړه خلقو دَی ویلَی
په چشمانو کښ ئې سحو دَ بابل دی
په ملال کاته کښ ما لیدلَی
یَو نظر ئې راته وکړ نور په تله شوه
د ما زړه وړی دَ ښو په تار پییلَی
و چمن لَره چه درومم تللَی نشم
د مخ باغ ئې تر لَمنی یم نیولَی
په هر لوری کښلی ډیر دی خلق وائی
څوک دِ یَو راته ښکاره کا هسی کښلَی
چه و مرگ وته می مینه ستا غمزه کا
خدای دَی ستا له لاسه روغ کا د ما څلَی
تر جلب نیولَی تل باندِی سپارلی کا
زړه می پټ مړنی سپور دَی خال دِ پلَی
چا به نې دَ عشق له کاره بل کار نه کړ
د خوشحال دَ خولې ویل که چا منلی

چه سړی تر عقل تیر شِی مخبط شِی
زیست روزگار دا مخبط سَرَه غللط شی
دَ حرص دریاب تر شرقه دَی تر غربه
حریصان پکښې غوټې خوری لکه بط شی
نن څما بیړیَ لاهو شوه په دریاب کښ
لا به کله دا لاهو بیړیَ په شط شی
د ته درزی جامی قدر قیمت ډیر وی
دَ اَغوستی سر و پای قدر وسط شی
غاښ وتلی ږیره سپینه ازمویښت دی
لا د ما و عاشقیَ وته نمط شی
جاودانه خوښی دا ده په جهان کښ
چه دِ زړه دَ عشق په کار کښ منبسط شی
ښایسته یاران می هسی ملک ته ولاړل
چه نه ځای دَ پیغامونو نه ئې خط شی
دَ خپل یار وَ تیغ ته سر کښیږده خوشحاله
دَ قلم خوبی هاله گڼه چه قط شی!

چه دَ لویو کتابونو دانشمند وِی
دَ هلکو کتابونو په کار بند وی
چه خرما ئې دَ بلوټ نه وِی خوړلې
و هغو وته پټوی[1] خرما خوند وی
چه دَ هند په شکر قندو خبر نه وی
و هغو وته گاځری شکر قند دی
دَ اټک په مناره به نظر نه کا
چه هغه ته دَ دهلیَ ملک څرگند وی
هر سړی دَ خپل وطن ثنا صفت کا
د هر چا تر فهم کښلی خپل فرزند وی
دَ ناپوه سړی دَ پند سَرَه کار نشته
ما چه ولیده دانا محتاج دَ پند وی
زه خوشحال ئې دا دانش په سترگو وینم
دَ هر چا چه بده پوهه غلط سند وی

چه ئی مخ تر گل زیبا دَی یار څما دی
چه په مخ ئې عندلیب شوم کار څما دی
چه ئې تش په کوځه تیر شوم لیونی شوم
که ئې ووینم په سترگو زار څما دی
که واعظ می له ښه مخ له مینې نیسی
که می لاس وربانْدی بر شی پلار څما دی
بې له کښلیه زیبا مخه که گلزار دی
چه هر گل وته نظر کړم خار څما دی
چه هر لوری وته درومم په غم اوړم
ته به وایې غم یکلخته ښکار څما دی
همیشه به په ما وار دَ رقیب نه وُ
بیا له خپله بخته خوښ شوم وار څما دی
دَ خپل یار سَرَه دوږخ څما قبول دی
که بی یاره جنت مومم نار څما دی

۱. د میزری دانه او تخم (دریاب، پښتو لغت) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بت پرست کله دَ بت له مینی اوړی زه که مینه دَ یار پرېږدم عار ځما دی

زه خوشحال چه دَ منصور په مذهب خوښ شوم
اوس څه غم چه زه دَ دار یم دار ځما دی

چه دَ خلقو نیکخواهی لَرِی په زړه کښ مبارک شه بادشاهی لَرِیی په زړه کښ
که ئې غوږ دَ دانشمند په نصیحت وی څه عجبه آگاهی لَری په زړه کښ
دَ ناصح په نصیحت به اصلاح نشی هر سړَی چه تباهي لَرِی په زړه کښ
دَ مردانو په معراج به ورتلی نشی که دَ سعیِ کوتاهی لَرِی په زړه کښ
مختورن دَ دواړُو کونو نه دی څه دی چه هر چا سَرَه سیاهی لَرِی په زړه کښ
نیک بختان به اندیښنه کاندی دَ نیکو گمراهان به مناهی لَری په زړه کښ[1]
په هغه هنر کښ ټینگ اوسه خوشحاله
هر هنر چه سپاهی لَری په زړه کښ

چه ئې تل کښیښوې په سر دا خیال دړیَ تور ویښته شو دَ هغی سپینی وړیَ
دَ روانو اوبو کار دَ عمر یَو دی بیا به ورځ و شپې را نشی دَ نړیَ
محبت بې خدایه واړه که ئې گوری دَ دریاب په مخ دَ خلیو پل تړی
ته پدا حسن جمال چه درته گورم نه پوهیږم ښاپیریَ یی که سړی
په مدد دَ باد نه رسم مراد ته که هر څو روانوم دَ زړه بیړیَ
ستا دَ زلفو له ښاماره ویره نکا چه تر خوله ئې ستا دَ مینی شی جړیَ
دَ خوشحال زړه په تقوا کي لکه غر وُ
ستا په مینه یکباره شو و ووړی

څو بیړیَ پدا سیند کښ ډوبی ولاړی[2] چه تخته ئې مونده نشِی که ئې غواړی
فراق هر څه ته لمبې دِی لگولیِ لکه لوند لرگی په اور یښی څو ژاړی
غم ښادی سَرَه تړلیِ دِی له ځایه هغه هونبره به وژاړِی څو د وياړی
چا ئې نوم راته وا نه خیست چه دَ چا دِی منارې مې ډیرِی وَلیدې وَلاړی
په زرو رنگه غمونه دَ جهان شته په زرُو رنگه نارې واوره دَ خراړی[3]
لکه رای ځما دَ زړه هغه لا نور دِی خلق څو خبرِی کاندِی غاړِی غاړی
دا طومار څه هسی نه دَی چه تمام شَی غوړوِی ئې پټوی ئې، لولی نغاړی
دین دنیا لَرَه په کا و خپله کرده ده لوند وِی حلق د هر سړِی پخپلی لاړی
چه بې غمه بې وبا له ئې خواړه دِی د بادشاه تر خوا نه به گنم خځاړی
غافلان په غوږ کانړه دِی نه ئې اروِی
دَ خوشحال خټک دَ خولې خبری لواړی[4]

څو چه مینه دَ دنیا پر یوزی په زړه کښ هونبره غم شدت بلا پریوزِی په زړه کښ

---

١. نیک گردار سره به فکر وی د نیکو بد بختان به گمراهی لری په زړه کي
٢. دا بدله په چاپی نسخو کښ نسته.
٣. یوه کوچنی الوتونکی دی.
٤. یعنی سختی او درشتی او سپینی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک له ځایه پاکیزه ځنې ناپاک دی — دانا پاکو بد په دا پریوزی په زړه کښ
په یوه ښیښه کې شاش د قارورې دی — او دَ بلی ښه صهبا پریوزی په زړه کښ
چه څه وینی چه څه اروی چه خه وایی — د سړی هغه هوا پریوزی په زړه کښ
چه څه نه وینی نه اَوری نه څه وائی — وایه کومه تمنا پریوزی په زړه کښ
نیک و بد پخپل قسمت وِی له چا نه وی — په ناحق کینه له چا پریوزی په زړه کښ
نه په پند ځی نه په بند ځی نه په نور څه — چه مزه دَ ناروا پریوزی په زړه کښ
چه صحبت دی له چا کیږی هسی ته شې — هم هغه خو یو نه پریوزی په زړه کښ
دَ بلبل محبت یو دَی که بلبل وی — چه د گل ئې هر سبا پریوزی په زړه کښ
نا آشنا عالم دَ چا په فکر گرزی — اندیښنه خو دَ اشنا پریوزی په زړه کښ
د بهار په وخت دا درد وِی دَ دردمنو — چه ئې سیر دَ صحرا پریوزی په زړه کښ

د خوشحال غندی به بیل شی له عالمه
د هر چا چه دا سودا پریوزی په زړه کښ

ځوک به ستا د مخ نقاب کارتِ پتی — ځوک به ستا به اننگیو کښیږدی گوتی [1]
که دِ بیا نِوی شیوې په خاطر نه دِی — د وُربل غوټی دِ څه له ده آرتی
مظلومانو وته څه خو نظر وکړه — په دربار دِ فریادِی دِی څیری ختی
چه ئې پسی شاله ما هونبره ویل کړه — مخامخ د هغو ولی ژبی نښتی
پخپل یار به یې کیدې دا هسی شندی — چه همیش ئې د رقیب خبری نغوتی
یار په هر لوری جلوه کا ورته گوره — که دِ نه دی د لیدلو سترگی تِتی
په نوروز کښ دا غزل واخله مطربه — په آواز به دِ بلبلی شِی ساکتی
گل ته چا دا هسی زیب و حسن ورکړ — چا ئې هسی تِه په تِه پاڼی پرانتی

د خوشحال په پالنگ بیا راغله سرشاره
په زعفرانو په چووه[2] لَړَلې ختی

ځوک په لوری دَ کعبه ځی په هی هی — ځوک د یوری لَره چلیږی په جی جی
دواړه توکه په معنی په حقیقت کښ — په هر لوری غوزوی واړه دی دی
عاشقان ئې سل هزار یَوه معشوقه — په هر لوری ورپسې دی په پی پی
ځوک په کور دنَنه ناست ور سره کیل کا — ځوک همیش ور پسی گرزی په لی لی
میخانه یَوه هزار پکښی خمونه — دَ مستانو ئې نارې دِې چه می می
که همای دی که کجیر دی که کرگس دی — دَ هر چا می خپل خپل شان دی خپل فی فی
که ځوک وصل د خپل اصل پسی غواړي — چه ناری دَ خدایۍ وَهی نی نی

زه خوشحال چه دَ وحدت په میو مست شوم'
وایم دا چه کاوس کله وُ کي کي؟

ځما خرابه دله ته یو ځرنگه خراب شوې — چه وو در څخه لاړل، په هر څیز پسی کباب شوې
دَ منبکو دور تیر شو دَ کافورُو دور راغی — چه نوم د د شباب وُ په نامه دَ شیخ شباب شوی
دَ باغ نرگس دِ هم لکه تازه وه هسی ندی — دَ باغ دَ لاله گلو دِ هم بانړی پیچ و تاب شوې
دَ خولې حقه دِ ډکه په کوهرو وَه خالی شوه — په حزن په حسرت دَ یوه هر دِرِ نایاب شوې

---

۱. د دې بدلی د بیتو د پای کلمې په اوسنۍ املا په (ی) کښلی کښږی.
۲. څووه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه باغ[1] به دِ چه کښلیو ښایسته بلبلو ږغ کړ یوه بلبله نشته ثمرې ئې دَ غراب شوې
بیږیَ دِ دَ سینې په زور چه پاسه تله په غرونو غوټه خوری پکښې گرزی اوس خسړی دَ دریاب شوې
مزری به دِ له ترسه په هیبت وه په کوهسارکی نیژدې درته ویغ ویغ کا دَ گیدړو لا جواب شوې
چه ډکی په ښو مښکو په عنبرو هغه خولې وې بد بوئ چار چوبې د زمانې په انقلاب شوې
په عمر چیری ویښ وې بیا به هم چیری ویښیږې هَی هَی دَ خوشحال بخته ولی دا رنگه په خواب شوې
پیرې لَرِی خوشحاله دَ اسمان ننداره وکړه!
چه څه وې پکوم شمار وې دا زمان په څه حساب شوې

ځما مرگ هغه زمان دَی چه رشتیا دَ یار هجران شِې که هجران له منځه وَوزِی نور به هر مشکل اسان شی
زه به ځان جهان ښندَمه، په اشنا پسی به ځمه پری به پاسه قدم ږدم، که دښتونه بیابان شی
تا زړه ورکړ یوه هرنه یوه هر یوه بشر نه لکه اوبه دَ جوی له سَرَه هوری ځی چه بیل روان شی
یَو خدنگ ئی وَویشمه وائی بل به دی هم ولم ورته پروت سر می نیولَی چیرِی نه پدا پښیمان شی
ما دَ شاه دَ خولې سودا کره په کروړونو ئی بها کړه خوله ئې لنډه دَ هر چا کړه مگر دا په شاه جهان شِې
له یو هسی می روزگار دَی، چه گه یار کله اغیار دی په همه کاره هوښیار دی خو په ما باندِې نادان شی
دَ خوشحال خاطر سوخته دَی ستا په جور آموخته دی
درد و غم ئې اندوخته دی هم دا درد ئې بی درمان شِې

ځما مَینه یاره چه نن ناست ځما په کټ یې موندلی مه په بخت یې که موندلی می په مټ یې
آرام شته دَ زړه کام شته دَ چمن لاله غوړیږی په دَور دَ شرابو ساقی ولی هسی لټ یې
نه دین لَرم نه دل لَرم نه صبر شته نه عقل په دواړو سترگو ورځیو تا لا کړونی دَ درست هټ یې
چه مخ وته دِ گورم لکه نمو هسی ځلیږې قربان دی تر جمال شم په معنی تر نمره غټ یې
چه ته را څخه نه وې یو کنگال[2] دَ زمانی وم پادشاه دَ درست جهان یم چه له ما سَرَه لټ پټ یې
پیری به په گلزار کړې که بلبله دَ گلزار یې گندگیَ لَره به درومې که په اصل تور گونگټ یې
دوه درې حجانه څه دی چه ئې ته په مخ کې نیسې په زر پردو کښ کښینه بیا د ما وته په چپټ[3] یې
په خوب په بیداری کښ همیشه په فکر ستا دَی
اورنگ وته خیبر دَی وَ خوشحال وته کوهټ یې

ځما زویه دَ ننگ ندی نمر پټار[4] دی پرې پوهیږم چه همه واړه مردار دی
نه ئې لویه اندیښنه نه ئې لوی کار شته دَ مغلو وَ وطباخ وَته تیار دی
دَ منصب دَ اضافو خبری کاندِی په عزت په حرمت کله خبردار دی
اتفاق یگانگی ئې سَرَه نشته همگی روان په بیله بیله لار دی
یَو څرگند قابل هرگز په دوی کښ نشته که و دیر شو ته نیژدی د ما په شمار دی
په الکش الکش[5] ئې ستړی کړم ښکار نکا د کوټه سپیِ کوکری پکښې سه چار دی
یو څو دی پکښې هرگوره ن پکار دی دا نور زویه می لا لږ او ډیر پکار دی
نه دَ نوم دی نه دَ شرم نه دَ ننگ دی اندیښنې ئې د ناکس دَ ناسردار دی
نه له پلاره نه پیدا دی نه له موره خو صندوق بخچې ئې دواړه مور و پلار دی

---

١. په باغ کښ چه د کښلیو.
٢. د شیدو ککړ لوښی چه اوبه ولغړوی، کنگال یې بولی.
٣. دا کلمه په یوه نسخه کې چټ لیکلی ده.
٤. برگ بروگ ځناور یا مار.
٥. په الکیش په الکیش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه به تلل دَ نا قابل سړی دَ وړاندی ‌ ‌ ‌ ‌ خو دا هسی بیرقونه نګونسار دی
شکایت له نورو مه کوهَ خوشحاله
چه خپل زویه هم په ننګ له تا ویزار دی

خلقی واړه دَ شاه د خولې په غم دی ‌ ‌ ‌ ‌ چه د شاهی خوله ئې کښل کړه هغه کم دی
چه د شاه د زلفو خیال لَری په زړه کښ ‌ ‌ ‌ ‌ هغه تل په زړه پریشان په صورت خم دی
که په زړه باندی ئې زر داغونه جوړ شی ‌ ‌ ‌ ‌ چه دَ یار له داغه آه کا هغه ګرم دی
عشق یو څه عظیم بادشاه دی که ئې ګورې ‌ ‌ ‌ ‌ چه ګدا ئې له سلطانه محتشم دی
ته دَ عشق سپروته سهل نظر مکړه ‌ ‌ ‌ ‌ چه بې زرو ب لښکرو لکه جم دی
دا دَ عشق د ګدایانو هسی چار ده ‌ ‌ ‌ ‌ چه د فقر په جامه کښ محترم دی
دَ چندڼ دَونی ځکه بوی روان شو ‌ ‌ ‌ ‌ هر چه ولی ئې دَ عشق په اوبو نم دی
چه له عشقه خبر نشول خدای ئې واخله ‌ ‌ ‌ ‌ که ظاهر صورت بادشاه دَکل عالم دی
د آتش لمبه کړو لَره پیدا ده ‌ ‌ ‌ ‌ په هغو دَ آتش څه غرض چه سم دی
که په زړه زخم لرې دارو طلب کړه
د خوشحال وَیل دَ خوږو زړو مرهم دی

خدای راکړه په غیر کښ د رویبار منت را باندی ‌ ‌ ‌ ‌ سپینه خوله سرې شونډی دواړه زلفی آویزاندی
یار را سَره یار دَی د هر غم می غمګسار دَی ‌ ‌ ‌ ‌ غم اندوه می نشته چه رقیب را رخه[1] کاندی
پریږده چه پرې سوځی ستا د مخ بلا آخلِی ‌ ‌ ‌ ‌ عشق دِ لکه اور دَی عاشقان دِ لکه سپاندی
دا څه بارخونه دی، نه پریشانی توری زلفی ‌ ‌ ‌ ‌ پروتی دِی په ګلو د سنبلو پاڼی تاندی
زه ور پسې درومم دَ یوه نظر په طمعَ ‌ ‌ ‌ ‌ بیارته نظر نکا هسی درومی مخ په وړاندی
بخت نه دَی نور څه دَی په دا هونبره ډیره مینه
ژاړی رخه کړینی چه خوشحال خټک ته خاندی

خلق فراغت کا زه تل ستا په غم نیولَی ‌ ‌ ‌ ‌ څه بده بلا وې زړه ما نه وې پیزندلَی
له کبره ډیره خیاله به څه سم وایی و چا ته ‌ ‌ ‌ ‌ دَکلی د محلت سَره چه زیست کا نا نمنځلَی
له ګوره نه به پاځی رنګینه جامی اغوستی ‌ ‌ ‌ ‌ دَ حشر په ساعت به هم څرګند وِی تا وژلی
چه سترګی په رنځور کړې برنده کښینی خوری زلفی ‌ ‌ ‌ ‌ چه غټ به درته ګوری یویو مرد بویه بللی[2]
هر ګز به ارویدلی دَ لیدلو مخی نکړم ‌ ‌ ‌ ‌ خوبی دَ یوسف اروم ستا جمال می دَی لیدلی
په ورځ دَ جدایی ِ څوک مه وائی و ما ته ‌ ‌ ‌ ‌ مرده وته هم کله نصیحت دَی چا ویلی
که پسله مرګه زړه دَ خوشحال وګورې په ګور کښ
هر ګز به دَ ښه مخ محبت نه وی ځنی تللی

خلق نادیده دی په خبروُ پسی ځغلی ‌ ‌ ‌ ‌ ځار تر عارفانو چه په حال دی پوهیدلی
دو اویا مذهبه پکښی هونبره قال و قیلَ ‌ ‌ ‌ ‌ واړه سر هوا پخپل مطلب پسی دی تللی
ډیر دی کتابونه مشتمل په دیرش حرفونه ‌ ‌ ‌ ‌ کل واړه که ګورې له الفه دِی زوولی
سل بهی سل سیبه چه ئې مات په یَوه ځای کړې ‌ ‌ ‌ ‌ سل به بلل نشی سَرَه یو دی لا لیدلی
واړه نور دَ نمر دی هم دَننه هم دَباندی ‌ ‌ ‌ ‌ هر چرته دا نور دی په هر ښهر په هر کلی

---

۱. حسد او بغض.
۲. یو یو بویه مرد بللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خوشحال خټک یم دَ رندانو په مذهب کښ
نور وَیل می نه زده مختصر دِی ما وَیلی

خوله دی غنچه گل ده تور گیسو دَ سنبل پاڼی  پښې دِ دی دَ زرکي سپینه غاړه دی دَ زاڼی
شونډی دِ ژوندون بخښی په سترگو کړې خونونه  ژبه دِ شَکری ده دننه زړه پاڼی[1]
مهر دی لَه دله لکه مو له مخه ورک شو  راشه نَا ترسی لُور دَ ترک که د پټاڼی[2]
هیخ پرې نه پوهیږم دا دِ زنې که منه ده  خال دی دَی په زنی که دانه ده د مماڼی[3]
ته په پالنگ پریوزې زه حیران په فکر لاړ شم  پنډ دَی د گلونو که دا ته پټه په پاڼی
زه هغه خوشحال یم چه دی راز لَرم ساتلی
ولی هسی وایې چه تا عشق نزده نا ځانې[4]

خندنی هسی لر بر گرزی برسیری  برابر په تورو وریشی سر تیری
یَو مرغه په سر و په سپینو قیمت مومی  بل هزار حیله په توره پیسه پیری
په غوټه کښ ټپوس کله لکه باز دی  که ئې خلق دَ منگلو څښتن شمیری
مړنی لیوه حمله په ښکَر وَر کا  د نامرد یا په ورغومی یا په لټیری[5]
دا دوه څیزه پټوه په څه به پټ شی  د نامردو نامردی د ښځو نمیری[6]
اوښتو لره پخه کوتر بایده دی  دَ باز یو هنر هیڅ نزده کټمیری
په جاهل خلق کښ ورک شوه چه عاقل دی
یو یو بیت به دَ خوشحال پیری په زیری

خسته زړه می چه نگار هورې هورې وی  هو بلبل می چی بهار هورې هورې وی
زه ئې ځکه دَ زلفینو په ارمان مرم  هر څوک وائی چه گنج مار هورې هورې وی
که ته غواړG ورځه رقیبان گوره  د گلابو گل چه خار هورې هورې وی
د ښادیِ خوان ئی نورُو وته کښیښ  غم ئې واړه چه دَ خوار هورې هورې وی
په هیڅ رنگ ئې اوښته ور ځنی نشته  لیونی منصور چه دار هورې هورې وی
ټپوسی می په مردارُو باندِی گرزی  وهندی[7] شهند چه ښکار هورې هورې وی
په گلونو باندی گښت گاندِی بلبلی  پروانه غریب چه نار هورې هورې وی
نه په باغ وِی نی په راغ نه په بل لوری
د خوشحال خاطر چه یار هورې هورې وی

خټکی له خټکیو نه خوند آخلی  همسایه له گاونډی نه پند آخلی
څه به غم دَ صغیره گناه هغه کا  چه په غاړه کبیره څرگند آخلی
هوښیاران دَ نیکخواهانُو وَیل نغویږی  نا پوهان دَ بد خواهانو سند آخلی

---

۱. مطلب ئی پان دی، چه خوله سره کوی.
۲. پټان یی.
۳. میوه ده چه په غره کښ کیږی.
٤. نادان یی.
٥. دا کلمه په یوه نسخه کي لیری لیکلی ده، دَ سیند خاوند کښلی دی، چه لټیره یعنی یله گرد او بیهوده.
٦. د ښځو حیض راتلل (دریاب، پښتو لغت) .
٧. یعنی زننده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ مظلوم آهونه کانې د غره سیځی — ظالمان به آزارُونه چند آخلی
دَ هغه لاسونه مه سیځي په اور کښې — چه له پښو دا بندیانو بند آخلی
که په زړه کښې ډیر غبار دَ غلیم پروت وی — پرې خوروه چه غبارونه شخوند آخلی!
خوشحال خپلو خوږو شونډو وته پریږده
چه طوطا خوږه مزه دَ قند آخلی

خوږې شونډې دی شکری ندی څه دی — کښلی غاښ دِ مرغلری ندی څه دی
بی له تا چه راته نور مخونه ستا ئی — دا و ما وته خبری ندی څه دی
چه تسخیر په تورو سترگو کا دَ زړونو — سیه چشمی سحرگری ندی څه دی
چه د زلفو په خنځیر ئې مزری بند کړل — هوسۍ سترگی زوروَرِی ندی څه دی
چه د باغ سبری ئې پستی تر قامت دی — پښتنې په قامت ستری[١] ندی څه دی
وایې نوری مینی لیری کړه له دله — ستا دَ مخ په دور لیری ندی څه دی
چه لاشه[٢] ئې دَ خوشحال په زړه څو خیږی
سرې لښتۍ ئې سرې بنبوری ندی څه دی

خبر ور څخه نه وم په څه خیال راغله پیری — په لوړو په ژوَرُو دم در حال راغله پیری
د سترگو په جوهرو می په سی[٣] کښې را ښکاره شوه — په مښکو په گوهرو می په کال[٤] راغله پیری
تر مرگ څه کمه نده ما ئې ښه نداره وکړه — په زور او په قوت په ملک و مال راغله پیری
په زړه چه را په یاد شی دَ ځوانۍ تلاښونه — دَواړو تلاښونو پایمال راغله پیری
دَ مخ ده که دَ تن ده که دَ لاسو که د پښو ده — د کل واړو خوبیو په زوال راغله پیری
اقبال په مثال گل دی تن په مثل لکه بوټی — په تن باندی چه راغله په اقبال راغله پیری
ور درومه آئینې په یَوه کنج[٥] دَ مخکی پریوزه — د کښلیو په جمال په خط و خال راغله پیری
چه جونو وَته گوری خجالت ورځی پخپله — په عشق او محبت کښې انفعال راغله پیری
نه ښکار شته نه گزار شته اوس دِ جوړ سلامت گرزی
دَ تورو د غره بزونه، په خوشحال راغله پیری

دا چه گرزی کښینی پاځی پایځی لنډی[٦] — شانکی وَهِی وربلی څربی لنډی
دا همه واړه رهزن د طریقت دِی — خپلی خونی لَرَه وَړِی پردیَ گنډی
نیک و بده چه و چا وته رسیږِی — پخپل ځان تړی دا دواړه په ډوډنډی[٧]
د عالم رخنی تړه په سبا دَی مره — خبره نه دَی دا گیدی[٨] له خپلی انډی

---

١. یعنی جگی او لوئی.
٢. لاشه یا لشه یعنی نیښ.
٣. محشی لیکي چه سی د ابجد په حساب ٧٠ دی یعنی پر اویا کالو می د سترگو لیده لږ سوه.
٤. محشی ورته لیکي چه مطلب له مښکو تور ویښته او له مرغلرو سپین غاښونه دی، او کال په ابجد ٥١ کیږی چه پر دغه سن ویښته سپین او غاښونه وزی.
٥. کنج دزنگ پریوزه.
٦. دا بدله عیناً ولیکله سوه اکثر لغات او ابیات ئی حل طلبه دی.
٧. په بله قالمی نسخه کښې (ډوند) کښلی دی.
٨. گیدی سید راحت په معنی دَ خره راوړی دی یعنی دا خر له خپله انډی (بار) خبر نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

و رنځور ته ورکوَه صحت په نذر[1]  کښلي زوی[2] په دروغ ورکړه و شنډې
قتلولَی ورکَولَی باور وکړه  چه هم دا دِی په دنیا کښ دَ دین خنډې
چه به بی خدایَ یقین په نور څه کاندی  د هغو دَ ایمان یووړی شیطان ونډې
عالم کفر ته وباسه په زمان کښ  دَی تر خپل ایمان وتَلی لا په څنډې
شرعَ منډه[3] د بنی ده چه ولی دَی  یو قدم په بل سر نه درومی له منډې
دا ئی ذکر دَ کامل نه دَی اخستی  لکه خرونه ناری شوری[4] وهی ترنډې
لا به کله دا سگان وژنی خوشحاله
چه به دا ثواب حاصل کړی پنډې پنډې

دا چه وايې چه ډیر مهر په فلانی کړی  په یاری دِ رضا نده بهانې کړی
ستا وصال په دعا غواړم نه ئې مومم  ما په ډیر ورتله راتله سترِی ستانې کړی
زړه مِی ستا وَ تیر ته نخښنه دَی قتال!  پرې به کله جوړ دَ غشیو پر خانې کړی
چه جمال وَته دی گورم حیرانیږم  خدای په ما باندِی یوسف دَ زمانې کړی
سحرگر په سحر توری اوبه پرښ[5] کا  تا ځما اوښی په مخ دانې دانې کړی
زه چه شونډِی ستا په شونډُو باندِی کښیږدم  وایم نوشی می دَ مو پیمانې کړی
ځما زړه لکه مزرَی وُ خاوند خدای می  ستا دَ سترگو وَ هوسیُو ته ژانې[6] کړی
دَ خوشحال په دود به ستا ورته پراته وِی
چه په پښو ئې ستا دَ زلفو زولانې کړی

دا چه وايې چه دا بد کړې یا دا ښه کړی[7]  که رشتیا وایم زه نه یم واړه ته کړی
چه په بین الا صبَعین[8] زه خبر دار شوم  په لحظه لحظه کښ څه چاری په زړه کړی
په خطا باندِی عطا په طاعت قهر  چه په وهم فهم نه وِی هغه وکړی
دا چه اوس وَ واړه خلقُو ته رسیږی  چه دِ کړی په ازل دِی هغه کړه کړی
دَ هر چا په باب چه شوِی هغه کیږِی  په هیڅ رنگ به خپل مبرم حکم نور نه کړی
چه بیگاه ډکی په شهد و په شکر دَی  په سبا دَ هغو خولو خاورُی په خوله کړی
چه هر دم د العطش نارې وهینه  په ساعت ئې د مقصود په رود اوبه کړی
په یوه مځکه یوه باغوان کرَلِی  عباسی گلوُنه زیړ و سپین و سره کړی
د سحر گټِنه ډیره تر هر څه دَه  ځنی ځنی ورته ویښ ځنی اوده کړی
چه په تور ویښته مغرور پخپل پرهیز شی  دَ صنعان غُندی ئې خوار په سپین ویښته کړی
آلوده لړَلِی درغَی درگاه ته
هیڅ می نزده چه به حال د خوشحال څه کړی

---

۱. دا کلمه په ټولو نسخو کښ نظر راغلی ده مگر نذر به صحیح وی.
۲. کښلی زوی ورکوه دروغ د شنډ.
۳. دی کلمی ته محشی لار ترجمه کښلی ده.
٤. ښوروی ترنډ.
۵. شیدې چه کلکی او منجمدی سی، پښتانه فیرنی ته برښی وائی.
٦. ژانه یعنی چاپلوسی او خوشامد.
۷. دا بدله په چاپی دیوانو کښ نسته.
۸. قلب المؤمِن بین الاصبعین مِن اصبع الرحمان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یم راغلم پدا عمر چه می وینی
زلمی توب را څخه یووړ پیری سپینی
یَو دَ ښکار بل دَ کتاب بل دَ دلبرُو
په جهان کښ نوری نشوې دا درې مینی
دَ همت جامه مې سپینه پاکیزه ده
پرې دوستی دَ زړو څه وه لکه وینی
شیخ ملا زاهد عابد ور خبر ندی
چه په زړه کښ دَ عاشق دی دلنشینه
که تېر وَهې له تیږی گمان مکړه
چه به مهر په تا وکا زړه سنگینی
دَ دوو کَونو مراد کل درکا په غیږ کښ
په خندا چه درکنار شې مه جبینی
نور به کوم ارمان دَ گنج دَ گنجینې کا
چه په غیږ کښ ئې نیولی تن سیمینی

دَ الفت غُندی ئې ته په قامت سم کړی
خدای ځما دَ زړه په سر باندې رقم کړی
مخ به چیری راته سم کړې په یاری کښ
که دا خوی به تل ځما دَ عمره سم کړی
دا گلزار دَ هیڅ گلزار سَرَه سَم نه دی
چه زلفینی په سپین مخ راته خم کړی
در پوهیږم چه می سر وته په څو یې
که هزار ځله ځما په سر قسم کړی
چه له دم سَرَه می کښته پورته کرزې
ته په ما باندې دا چاری په کوم دم کړی
هم دِ وَوژلم پخپله هم بیا گوره
بیا په ما باندې تېر وهی ماتم کړی
چه په زړه مې گرزیدې هغه خبری
کور په کور په هر دیار خورې عالم کړی
دَ هجران ورځې چه کې پشمار دَ عمر
دَ قضا کاتبه عدل که ستم کړی؟
چه و یار وته تَل غندې رقیبَ!
څه په دا به دَ یار مهر له ما کم کړی
چه دِ سر تر پایه درست په غم کښ لیو[1] کړم
راته وایې اوس خوشحال اوسه څه غم کړی

دواړه شونډی دی خوږې شکر پارې دی
دَ گلابو گل د دِ واړه رخسارې دی
دَ هغه خونی څه باک دَ چا له مرگه
چه په تیغ ئې روغی شوی منار دی
چه دِ لاف دَ سپینی خولې کا هغه سر خوری
په دربار دی دَ سرونو انبارې دی
د خپل یار کره دِ گل نشته له باغه
دَ اغیار کره پراته په پشتارې دی
دَ دردمنو له آزاره ویره وکړه
ورخ و شپه ئې ستا په ور باندی نارې دی
شیخه ته راته دَ پند خبری وایې
چه می غوږ ورباندی ندی څه شمارې دی
پدا اور کې دِ د ما لَمن و نه سوه
په هر لوری رسیدلی شرارې دی
حریفان ډکی پیالې اخلی له ورایه
د خوشحال خټک په بخره ننداری دی

دَ ځوانۍ په خوبیه کې څه شک دی
د پیریِ عمر درست له عیبه ډک دی
پرهارونه می په زړه تازه تازه شی
د وړولی په پرهار باندی نمک دی
که څه ښه در باندی راشی پرې خوښ مه شه
په ښادی پوری هر کله غم لک دی
هیڅ فریار دَچا د ظلم جور مکړه
په هر چا باندی چه شندی کا فلک دی
غم ئې بې حکمته ندی پیدا کړی
د نامر دَ مرد په منځ کښ غم محک دی
څو چه ډیر ډیر لذتونه ډیر غمونه
ښه هغه چه بس ئې گیډی ته کنډک دی
توره چا وته ترم چه زه ملنگ شوم
ښه خو دا چه می په غاړه یو کوتک دی

۱. یعنی پټ او آمیخته او لړلی په چاپی نسخه کښ ئې پر ځای ډوب کښلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفحص که ځوک دَ خوږو زړونو کاندي
د خپل قوم له لاسه ورک خوشحال خټک دی

د عطار خونی عطار وته اظهار دی
که جلاد ئې د خطاد د ملک تاتار دی
خدایه ته می په ښه مخ باندی مَین کړه
دَ عاشق دَ عاشقۍ سَرَه څه کار دی
ځوک ئې هونبره مینه کښیږدی په کوکل کښ
عندلیب چه په ګلونو مینه دار دی
نه لیلی زده نه مجنون زده پدا منځ کښ
یو نازک لطیف رموز باریک اسرار دی
د هر څه رموز مونده شی په جهان کښ
چه نظیر ئې مونده نشی ځما یار دی
عقل صبر و دل و دین ولاړ شه په عشق کښ
خو را پاتو یو ژوندون شه پدا لار دی
د دې ښهر دلبر واړُو زړونه سَم خوری
پل به نږدی پدا لوری چه هوښیار دی
ساقی زه دَ جرعه نوشو غُندی نه یم
ډکې ډکې پیالی راکړه ځما وار دی
که دی نه وینم په سترګو ستا په یاد می
شګفته تازه دَ عمر لاله زار دی
چه سنبل ئې دَ زلفینو نمودار شی
هغه ځای دَ تورو مښکو څه مقدار دی
تا هرګز دَ چا دَ زړه دلاسا نزده
چه پتا باندِی مَیَن شول تل ئې زار دی
مګر ستا دَ زلفو نوسی ئې وکاږی
چه می مات د بیلتانه په زړه کښ خار دی
دَ سونډک مونډک سیلۍ آخری کیږی
په بلبلو خبر وکړه بیا بهار دی
په وصال کې ئې بادشاه دَ زمانی وُ
چه له کښلیو نه جدا شو خوشحال خوار دَی

د دنیا خانی میری په زور و زر شی
عاشقی په نور څه نشی پخپل سر شی
و عاشق ته نصیحت په مثال څه دی
لکه اور چه په پو کلو تازه تر شی
کار ځما او دَ مجنون سَرَه یو رنګ دی
لکه دوه لرګی په اور کې سر په سر شی
چه په دار ئې آبدست کړ پخپلو وینو
کوم سړی به دَ منصور تر ځایه ور شی
څو به راز دَ زړه پنهان لَرم له خلقه
عاقبت به لوی هلک ځنی خبر شی
په هر باد پسی پریشان پریشان جار وزم
که په بوی می ستا د زلفو سوړ ټېر شی
خوار خاطر می چه مقیم شو ستا په ور کښ
کله وی چه ستا له وره ور په ور شی
کله کله چه په مهر بوسه را کړې
ستا تر خوله دِ صدقه شهد و شکر شی
چه په غولی ئې نظر وکړم ستا له ورایه
خار و خس ئې راته ګل د پیغمبر شی
زه به هیڅکله وا نوړم ستا له کویه
کور او کلی که همه راته لښکر شی
که هر څو سړَی وینښته جَوِی په پوهه
چه قضا ورباندی راشی کور و کر شی
دَ یار غم له خلقه پټ لَره په زړه کې
که لاله غُندی دی وینی درست ځګر شی
چه ئې وروځی ور ښکاره کړې خلقو بویه
چه خوشحال ئی دَ کښتیِ قلندر شی

دریاب څه دَ جالې دَپاره نه ځی که ځوک وائی
پخپله رضا درومی جاله هم ورسَرَه بیائی
په غرونو واوری اوری بارانونه په ملکونو
له هیڅا خبر ندی چه په موږه هم ځوک پائی
په دوولس برجه ګرزی نمر پوره په دوولس میاشتی
پدا خبر دار ندی چه صیفی دَی که شتائی
په درست جهان کښ ګرزی باد حیران په څلور کنجه
په هر لوری چه ګرزی نا خبر چه څه پیمائی
میوه غلی ګلونه ځنی رنګ رنګ نعمتونه
له مځکی پیدا کیږی مځکه پروته ګل ولائی
څلور واړه عنصر چاکران دی ای خوشحاله
چاکر هغه خدمت کا چه صاحب باندی فرمائی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ دانا په حال نادان کله خبر دی / چه پخپله نادانِی کي اوتر دی
د ليچن په سترگو وځليده ستوری / و عالم ته ئې نارې وکړې چه نمر دی
دا داغونه می چه ينبی په ځگر دی / خو هم ما زده تندر پريباسی خپل نظر دی
خدای دی هيڅوک پدنيا کښ عاشق نکا / عاشقی پخپل صورت باندی لښکر دی
ليونَی زړه می پرون په خندا ولاړوُ / راشه گوره چه نن بيا په ژړا سر دی
چه د ففکر مرجونړا له بحره وکيښ
راشه گوره د خوشحال کلام گوهر دی

دا چا به څه لره مانړه له بله شی / نيک و بده په عمل موندله شی
هر چه وَکړِی هغه به وَ ريبی / له خپله لاسه هره کرَله شی
دا خودنمايه محبوبه گوره / چه کله گل شی کله بلبله شی
کله غوغا کا په خرابات کښ / کله دَ ذکر په حلقه داخله شی
لون لون ښيوې ئې ډيری دی / اول به کومه يَوه ويله شی
نورو خوښيو وته به شا کړې / که دَ يار دَ مينی خوښی دی خپله شی
شمعی چه ژبه په راز اوږده کړه / ځکه ئې هسی کله وهَله شی
چه زاهدان ئې په زهد مومی / دَ عاشقانو په آه گټله شی
جفا ئې واړه په وفا حساب کړه / دَ يار جفا په وفا نيوله شی
که اور در لگی چا ته مه وايه / چه اور را بل دَی سينه می سوله شی
خوشحال فهم کړه مجلس دَ عامو دی
د منصور پياله به په منصور نوشله شی

دا نه زهد پارسائیِ دِی چه کيږی / په هر لوری رسوائیِ دِی چه کيږی
نصيحت دَ دانايانو لکه باد شو / دَ وگړی خود رايیِ دِی چه کيږی
هر ناپوه پخپله پوهه افلاطون شو / څه نابودی دانايیِ دِی چه کيږی
مخ بد رنگ زر و گوهر زيور پرې پوری / څه بې ځايه زيبايیِ دِی چه کيږی
نه ئې داد نه ئې دهش نه ننگ نه شرم / دا دَ خلق کد خدایِ دِی چه کيږی
دَ رشتينی مينی بوی نشته خوشحاله
دَ دروغو آشنايیِ دِی چه کيږی

دَ دنی دنيا دا هسی قرارداد دَی / چه گهی ئې را نيول کله ئې داد دی
عاقبت به دَ دنيا په غم غمجن شی / هغه زړه چه دَ دنيا په ښادی ښاد دی
دَ دوشش نارې وهی دوه خال ئې پريوزی / دا دنيا په مثال نر د سړی نراد دی
له دنيا نه هيچا کام موندلی ندی / که شيرين وُکه خسرو وُکه فرهاد دی
دَ دنيا مثال که وگورې عاقله! / په حساب لکه اُونه يا لکه باد دی
نه اوبه په يوه ځای کښ قراری کا / نه دَ باد په يوه ځای باندیِ اِستاد دی
مبتلا ئې هميشه په زړه محزون دی / طلبگار ئې هر زمان په بلا ياد دی
تر وفا ئې د جفا خويونه ډير دِی
ځکه هسی دَ خوشحال ځنی فرياد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ عاشق په زړه دباندې بار دَ یار وی
خدای د نکا چه به لاندی تر بل بار وی
یَو ځل بیا سر توره مسته را ښکاره شوی
چه ئې زلفی آویزاندی په رخسار وی
ستا په نه لیدن ئې شمار نه ئې حساب شته
اندیښنې په زړه اړاندی صد هزار وی'
چه تا ووینم تازه غزل انشا کړم
پرې بلبلی فریاد کاندی چه گلزار وی
په درست ملک کښې چه څوک لافی دَ ښایست کا
همگی دی لکه سپاندی ستا بخار وی
ستا تر هر چاری ځاریږم بلا دا شوه
په ما خوار پوری چه خاندی څوک به آر وی
تا وَیله چه خپل زړه و ما ته راکړه
دا خوار زړه می ستا دَ وړاندی که پکار وی
زه خوشحال دَ یار دیدن وته تلوار کړم
تل بلبلی ځلبلاندی دَ بهار وی

دَ ښو غشی ئې کل واړه د لدوزدی
عاشقان دَ دغو غشیو غم اندوز دی
نن می بیا په نظر کښیوته مهوشه
تر لباس ئې شرمنده اهل نوروز دی
په مثال ئې توره شپه دا توری زلفی
گلعذار ئې څراغُونه شب افروز دی
په بارخو باندی ئې خرپ دی د غاښونو
دا چیچل می دَ عاشق نو اموز دی
اغوستن لره ئې پاڼی د سوسن دی
که دَ نورو جامې روغی شمندروز دی
د کوتری اشارت د دیو مرگ دی
عاشقان ترکله تیر بازونه بوز دی
سر تر پایه په لمبه باندی گذر کا
د خوشحال وَیل پدا سبب دلسوز دی

دَ نادان په یاری څه لهره څوک ویاړی
هر زمان ښکاره یاری را ځنی غواړی
دَ یاریِ هنر هیڅ ورڅخه نشته
که پندونه ورته وایم راته ژاړی
هسی مست بی پروا یار ځما په کار دی
چه د خلقو پیغورُونه سَرَه نغاړی
دَ رقیب په بد ویل عاشق داړه شی
لکه سپی پخپلو داړو سړی داړی
ډیر می وگانده گریوان د عشق پکار کښې
نور په ما نشی وهل د گریوان نماړی
دَ وصال په وخت امان دَ رقیبانو
دَ بهار په موسم ډیر گرزی غوبارِی[1]
هر شاعر څخه تازه مضمون دَ ځان دی
د ښه لیندی صدقه خوری د ښکار شاړی

دَ همه خلقو نظر پخپل بهبود دَی
په هر څه کښې ورته څرمه خپل مقصود دی
چه څه درد دَ عشق لری تری به ځاریږم
که مؤمن دی که کافر دی که جهود دی
چه خپل یار وَته نظر وَکړم خوشحال شم
تر جمال پوری ئې بل جمال مفقود دی
دَ یار مخ که په ظاهر له ما جدا شو
په باطن کښې هر زمان راته نمود دی
دَ عاشق دَ آه غشی بویه ویره
چه توبری ئې تمامی زهر آلود دی
د آسمان چه سراسر کبود لیده شی
پرې پوهیږې پورته لاړ دَ زړونو دود دی
بیا ځما طالع مدد وَکړ په خداړو
چه رقیب دَ یار له وره نه مردود دی
دَ جهان ښادیِ کل واړه ځما دی
غم می کل واړه په بخره دَ حسود دی
دَ خپل ور خاوری که ورکا ځان ئې واخلی
دَ خوشحال خټک پدا سود دا کښې سو دی

۱. یعنی د خره مچ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ خاطر مې له اندوهه نه څه ننګ دَی — که ئې زده چه دَ ښادۍ ساعت يَو درنګ دی
لا مې يو خدنګ له زړه وتَلی نه وی — بيا څما په زړه نوبت دَ بل خدنګ دی
هر سحر په ما له ورايه تيغ وکښلی — خول په سر يښې راځی په نيت دَ جنګ دی
تر چشمانو مې اوره ګټه بې نمه — تر محنت پورې مې غر لکه لا سنګ دی
په خروار عيش و عشرت کاندی وګړی — خو د ما دَ زړه په بخره عيش تنګ دی
ما دَ زړه په سترګو رنګ زړګی وکوت — همګی دَ غم په سرو وينو کښ رنګ دی
د اسمان چه پاس په سر باندې څرخيږی — په چا چتر مرصع په چا پلنګ دی
دَ دنيا په لوئی څه باور خوشحاله
پرُون دَور دَ خرم[1] نن دَ اورنګ دی

دلربا خوبا وربل دی تير و بير دی — هو هو تار ئې دَ عاشق تر زړه چاپير دی
دَ اوزبک تاړاک مې هم دا هسې نه وی — لکه ستا د سترګو تاخت په خوارو تير دې
د ما زړه چه دَ مزری تر زړه تيرَی کا — ستا دَ سترګو وَکبلَيوُ وته زير دی'
هغه راز چه به ما تا سَرَه تنها کړ — نه به هير شی له خاطره نه مې هير دی
د غمزې په تيغ ومرم خونی مې ته يې — بيا بې وايې چا وهَلی په شمشير دی
دَ خوشحال و مرګ ته څه توری وکاږې
د بڼو ناوک دِ هم ور لَرَه ډير دی

دا کلام مې دی هغو ته چه په هوش دی — نصيحت ته ئې نيولی دواړه ګوش دی
په ټکی ټکی جامو کښ که لويی ده — دَ سپلمۍ ملخی هم الا چه پوش دی
دَ مردانو دَ خپل شرم کار و بار دی — نور ئې هر څه له خاطره فراموش دی
دَ زنانو په حساب دِی مردان مشه — چه له زيبه له زينته هم آغوش دی
شړۍ ور پښتن به سل په ډکه يوسی — کشميری چه بغرګ شالونه ئې په دوش دی
هوښيارانو څخه ډيره هوښياری ده — په مجلس کښ چه سامع نشته خاموش دی
په هغو ئې دَ جهان ښادی پيرځو ده
چه په غم کښ دَ خوشحال سَرَه په خروش دی

دا ويی څما دراز دی — دا منزل دور و دراز دی
تازی سوار دی پکښې پاتو — حڅه ټټو حڅه ټټو تاز دی
دَ نائی بِريره ناسازه — دَ بل بِريری وته ساز دی
دَ دانش کښيدې بويه
نه دَ سرو زرو طراز دی

دَ کمال لافی دِ نکا نا درستی — چه تلقين ئې دَ کامل نه وِی آخستی
دانشمند دَ معمأ په علم پوه دی — دَ ابجد په حساب څه خبر نا لوستی
هيڅ کمی و ځان ته نه پريږدی په ژبه — دَ کردې په کار کښ غوځ په ګيسو سکښتی
دَ دانا تر سر مې دُر ګوهر نثار کړی — دَ نادان په سر مې پنډ دا خاورُو لوستی
ارادت ئې بر سيرن په وړاندی نه ځی — دَ خپل پير په عيب سر شه يقين سستی
دَ ململو قدر چا وته ښکاره دَی — چه ململ ئې هميشه په تن آغوستی

---

١. خرم: شاه جهان، چه خپل زوی اورنګ بندی کَی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغې یارئ ښه باور خوشحاله
چه پیوند ئې په وینښته سَرَه آمستی[1]

دَ یار غم کله اغیار وته وَلاړ دَی
دَ یار غم خو هم خپل یار وته وَلاړ دی
د هغه بادشاه له ملکه عالم تښتی
چه د ظلم و آزار وته وَلاړ دی
بې همت سړی له هر کاره غړیږی
همت ناک سړی هر کار وته وَلاړ دی
د هغه شاعر مخ تور شه چه په طعمه
و هر وَر و هر دربار وته وَلاړ دی
خلق هیڅ را خبر ندی چه په عشق کښ
څو فکرونه و ما خوار وته وَلاړ دی
چه دِ توری زلفیووینم حیران شم
په حیرت سړی تور مار وته وَلاړ دی
په بورجل باندی دِ هسی نا قرار شم
لکه څوک چه وګلزار وته وَلاړ دی
لیونی خوشحال په نن دَی دیدن ورکړه
د سبا فکر هوښیار وته ولاړ دی

دا خونِی سترګِی چه ته لری دلبری
په کشتن به خلقی کاندی ډېری
لا به کله ځما خوار طالع مدد کا
چه به ستا سترګِی په ما شِی برابری
په خرام خرام راځه چه بوی ئی واخلم
دواړه زلفی په عنبرو معنبری
په عارض دِ دَ زړه داغ دَ لاله ورکړ
یاسمین دی دَ پیغور کړل سمنبری
باز دَ جال کوتره وَوینیِ پر دَرشِی
تېپوسی باندی پیری کا لر و بری
ګوره چرته وی په چرته ګرزیدلی
چه فراق کړی هونبره اُوښِی را خبری
محتسب دِ ځنِی لیری ګرزِی
مست خوشحال ښخه کوتک دَی د ډنبری[2]

دا معنی دِی زورَوری [3]
سمِی چیرِی دِ خبری
څوک چه لب کا سَره بیارته
ځنِی توئی شِی شکری
څوک چه کنبیوزی په ویلُو
واړه وایی خاوری سَری
دَ مشکنبنو په بازار کښ
تویی نه وی مرغلَری
خپلی خپلی شلومبی ستایی
چه شلومبې پلوری ګجُری[4]
هر هر سکښی ئې وګوره
په هنر زَغیرِی زغری
ډیر دِ ښه ووې خوشحاله
بس کړه مه دروِمه ډیر لیری

دا څه بارخونه دَی ستا دَ تورُو زلفو لاندی
پروتی دی په ګلو د سنبلو پاښی تاندی
تل ئې په طلب وم آخر خوښ له خپله بخته
هسی یار می بیا موند چه عالم ئې کیسې[5] کاندی
قیس وُکه وامق وُکه فرهاد وُکه خسرو وُ
هر چه عاشقی کا[6] سل رحمت په واړو باندی
نور خلق فانی دِی که باقی دِی هم هغه دی
هر چه په فانی دنیا یادیږِی وروستو وړاندی

---

۱. محشی ورته لیکلی یعنی تړلی.
۲. دیوه ونه ده چه د تور مرچ غوندی دانې لری.
۳. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
٤. هغه خواری ښځی چه شلومبی یا شیدی خرخوی.
۵. دا کلمه په تولو نسخو کښ دغسی ده، یا به کیسې وی په معنی د معما او چیستان، یا به مفغن د قصې وی.
٦. هر چه عاشقان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوری کیسې څه دي و خپل ځان ته نصیحت دِی    شمع ته نظر کړه خود به وژاړې[1] چه خاندِی
ته ګوره په چرته، زه خوشحال په کوم ملکونو
پاس په ژړه پرتې دِی ستا د تورو وربل پیاندی

دا ستم چه خپل آشنا دَی په ما کړی    نا آشنا سړی به نه وی په چا کړی
په یاریِ دِ ئې هیڅوک غلط نشی    وار په وار ئې درست عالم دی تر شا کړی
ګوره سر به ئې په رندکه په زاهد شی    د غمزې خځر ئې اوس دی تر ملا کړی
دَ مخ خال ئې تور تارو دَی په ګلزار کښې    دَ زړه باز می دَی نظر پسی وا کړی
خدایه ته ئې دَ زړه مهر په ما وکړه    چه دِ زه په ظالم یار یم شیدا کړی
دَ فراق غمونه هسی را پسې دِی    درسته شپه ئې و ما خوب ندَی را کړی
زه به ولی دَ ښه مخ نندارې نکړم    نندارې لره ئې زه یم پیدا کړی
یَو وصال دَ ښو یارانو بل هجران دَی
چه خوشحال ئې په خندا په ژړا کړی

دَ تقوا لافی وهی دَ صادقیِ    په قاضی ئې ګواهان تیر دَ فاسقیِ
په رشتیا خبرُو هم متردد یم    په وسواس کړم دَ عالم منافقیِ
دا چه وائی څوک به هست کړم څوک به نیست کړم    سکه دعوا کاندی سړَی دَ خالقیِ
که عذرا په ملک کښې شته مخ دِ ښکاره کا    زه په تن کښې زړه لَرم دَ وامقیِ
آدم زاد په تفاوت سرَه پیدا دی    یَو په بل تیری لَری دَ فایقیِ
دَ بزرګانو په مسند هغه تیرَی کا    چه لری واړه اسباب دَ لایقیِ
ننګیالیو سرَه ویره دا سر نشته    سر سړی پریکا دَ خره په سارقیِ
نمر په ګوته پټاوه نشی خوشحاله
هیځُ منکر مه شه دَ خپلی عاشقیِ

د ما کومه اندیښنه ده که ما پریږدی    ته به نوم د بې وفا په خپسر[2] کښیږدی
زه یو هسی یار لرم که می روزی شِی    که صفت ئې درته وکړم و به ریږدی
ته سړی یې که ښاروَی یې رنګ دِ ورک شه    د بهار په سرو ګلونو باندِی پښې ږدی
ما په ډیرو ستړو اور دَی لګوَلَی    په دا څه که څو خسړی باندی کښیږدی
زه چه ستا په دا اُوږو زلفو مین شوم    لا به څو دور او درازی راته بلیږدی[3]
د خوشحال خاطر په مثل سجنجل شو
واړه ته د خپل جمال نخښې پکښې ږدی

دَ هغو چه ګرزیدَنه ستا په تل شی    ستا په تل به ئې آخر سرُونه تل شی
ستا چشمانو می زړه یو ښو قبل کړ    دَ هغو به څه احوال وِی چه قبل شی
دَ وصال دَ ناوی مهر څه دَی غم دَی    هغه هم واړه یکباره معجل شی
عشق یو څه دَ مزری بریت دی په کوګل شی    دَ رنځور ئې په څو ورځی رنګ بدل شی

---

۱. خو به وژاړې.

۲. دا کلمه په ټولو نسخو که دغسی ده، په یوه قلمی نسخه کښې محشی ځان ورته کښلی دی، ممکنه ده چه مخفف د ؛پخپل سر“ دی.

۳. پیچل او نغښتل او ګرفتاررول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښایسته که هر څو لافې دَ ښایست کا چه ئې ته په نظر کښیوزې نور خجل شی
یو گلزار په یوه درنگ کښې شگفته شی چه ئې زلفې په بارخو باندِی وَلَول شی
تر هر حرف ئې دَ خطا نافې ځاریږه
آفرین دی د خوشحال پدا غزل شی

دا سړی خو په ادب سره سړَی دی چه ادب ور سَرَه نه وی نور ځاروی دی
چه وفا ور څخه نه وی سړَی نه شه تر هغه نه په وفا کښې بهتر سپی دی
عادلان می دَ جنت دَ گلزار گل دی ستمگر می دَ دوږخ دَ اور لرگی دی
سپی چه چا سره آشنا شی چه بر وَخورِی و هغه ته ئې تِم نه وِی څو ژوندی وی
دَ انصاف د ښښتن غم دَ دوږخ نشته دَ انصاف می تر طاعته لا پرخی[١] دی
په ښه خوی دَ سړی قدر قیمت کیږِی بد خصلت سَړی یا دیو دَی یا پیری دی
چه ئې علم هنر نه وِی ځنی تنبته بی هنر سړَی که وگورې لا شی دی
چه په پند په نصیحت دِ بندی نشه تور زنځیر ور لَره بویه که مزری دی
په روا په ناروا دَ ملحد څه دی په مذهب دَ ملحدانو کوکری ورَی دی
دَ راحت په وخت دَ یار تجربه نشی چه محنت در سره واخلی یار دِ دَی دَی
هر زاهد چه زهد واخلی بی مرشده
دَ خوشحال خټک په پوهه تش ملخی[٢] دی

دواړه شونډی دی شراب پرتگالی دی په سره والی له یاقوتو په سیالی دی
په سپین والی په ښایست په زیبایۍ واړه غاښ ئې مرغلری لآلی دی
په ښیوه ښیوه چه پل کښیږدی په لاری کښلی پښې ئې دَ گلزار په پایمالی دی
په کالیو سَرَه مخ ښایسته کیږِی ستا په مخ ښایسته ستا دَ مخ کالی دی
په طلب په استغنا چه تجربه شول عاشقان معشوقی دواړه جنجالی دی
نن هغه سړی که غواړم مونده[٣] نشی چه خوشحال د ما دَ زړه په خوشحالی دی
هره چار ئې قبلوه که پری میَن یې ښایسته کله له خیاله نه خالی دی
په وریښمینو نهالیو دِ نور خوب کا دَ کوځی خاوری ئې ما ته نهالی دی
دَ فراق په وخت د ما ستر گو ته گوره په ژړا ژړا شیبی بنبکالی دی
تل ژړا نارې بلغاکښې خوب په څو کا چه میشته دَ فراقجن په حوالی دی
زه دَ مستی په پیزواند باندِی مَین یم که دَ مخ کالی ئې غوره غوټیالی دی
نوم ئې مه اخله خوشحال وته په ژبه
مخ ئې تور که په یاری کښې ټیټالی دی

دَ هوښیار دَ نادان هونبره تفاوت دی څو دَ مځکی دَ اسمان په منځ کښې وت[٤] دی
نادان څورب فراغت گرزی خوښی کا هوښیار تل تر اندیښنو لاندی چت پت دی
که په ما باندی څرخ خوری پروا ئې نکړم د هر هر کله دانا سره په نښت دی
که حاتم شی یا رستم شی خوله ئې گوره چه ئې لافی د خولې وکړې نور انډت دی

---

١. د ضرورت نه زیات (دریاب، پښتو لغت)
٢. پلی دی.
٣. نه ئی مومم.
٤. یعنی سوری او دزراو فاصله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشق یو مست هاتی وَلاړ سَرَه ښوریږی   دا چه ځان خونی عاشق ئې مهاوت[1] دی
چه دِ حکم اختر پرې وشو لوی به هم کړې   چه خیرن در څخه نشی دا یو خت دی
څوکَ د بل د کورته[2] خوری ور پسی گرزی   چا خوړلی به درست عمر ښکار د کورت دی
د تحصیل او د ترتیل بلا په ده شه   چه ملا د حق گوییِ په کار ساکت دی
حاجی ولاړوُ و مکې ته راغی ده می   په دروغو په حرص ډک کړی کت دی
چه دیدن ئې دَ گلرویو سَرَه کیږی   می دِ خوری نوروز دی کا بهار ئې نت[3]دی
چه په کور کې ئې کښیږدی په چا یې نه خوری   خدایه مال ئې و ما راکړه چه معنت[4]دی
چه کردار ئې موافق د گفتار نه وی   همیشه دَ دروغجن په ږیره ډت دی
دَ باطن په سترگو گوره هغه مخ ته   ظاهری نظر دَ نمر په لیدو تت دی

دَ خوشحال کلام شیرین دی تر نباتو
چه په خوند ئې خبر نه دی ورته کورت دی

دَ سوخته وو، یو وصال دی   چه هجران پکښی محال دی
دَ یار غم چه معشوقه شی   نور ئې وصل لا یزال دی
که هزار پردې تر منځ وی   هغه واړه اتصال دی
چه راځی دَ یار له لوریه   ورته بس هغه شمال دی
چه په عشق کې ئې سوخته وی   ور ښکاره هغه جمال دی!
دَ هغه بیلتون له کومه   چه تل خوښ دَ یار په خیال دی

مخ دَ یار گوره په تیل[5] کې
دَ خوشحال خټک مثال دی

دَ فساد فکر می نشته خدای حاضر دی   خپل ساعت به تیروم عمر آخر دی
اطاعت دَ اولو الامر ځکه نکړم   خلیفه د زمانی په زړه کافر دی
پلار ئې ووژی په بند وروڼه په توره   په آزار دَ مومنانو بهادر دی
دَ ابلیس غُندی مکرونه ئې په زړه کښ   په فریب کښ تر ابلیسه لا ماهر دی
په باطن ئې ودانیِ ته نظر نشته   په ظاهر که ودانیِ ته ناظر دی

دَ چا زړه به ځنی روغ په دنیا نه وی
د خوشحال خټک چه چاود ځنی خاطر دی

دا دنیا ده چه پېدا کښ څه موجود دی   دَ دنیا سَرَه همه واړه نابود دی
بد هغه چه ئې نظر په سود و زیان دی   ښه هغه چه نه په زیان نه ئې په سود دی
نه محمود شته نه ایاز دور ئې تیر شو   په جهان پاتو خبری دَ محمود دی
د خپل دین د خپل ملت سیله ثنا کا   مؤمنان دِی که ترسا دِی که جهود دی
تربیت ئې له فلکه دَی موندلَی   که پوهیږې چه دا دری واړه موجود دی
که آفتاب دی که ماهتاب که واړه ستوری   ورځ و شپه په عبادت کښ دَ معبود دی

---

١. دا کلمه هندی ده یعنی فیلبان.
٢. یو قسم پخکړی چه د اربشو د اوړو او شوملو نه جوړیږی (دریاب، پښتو لغت)
٣. یعنی غنیمت.
٤. دا کلمه عیناً ولیکله سوه په ځنو نسخو کې مغت راغلی ده تحقیق غواړی که داسی سی معنا ورکوی، مال ئې و ما راکړه غنیمت دی.
٥. تیلی یعنی اُورلکیت یا کوگړ (دریاب، پښتو لغت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپل حکم به ئې بیا سَرَه تازه کا
دا هېونه چه په مځکه کښې فرسود دی
آغوستن که ئې زر بفت وِی که شړیه
پدا دواړه توکه ښه سړی خوشنود دی
که دَ لیری که نیژدې شمارونه مکړه
چه به درومی یا را درومی واړه زود دی
په قیامت په بل ژوندون چه شک گمان کا
شگ پرې مه راوړه خوشحاله چه مردود دی

دَ هوښیار غلطی نه وِی او که وی خو دَ خندا شی
پخپل عقل غره مشه که غره شې حیف دا شی
دَ دنیا مینه ډیر مکړه دَ دنیا آینه شو ډیر کړې
و زړه ته به دی هونبره ډیر غمونه را پیدا شی
قربان ئی تر همت شم ځنی هسی لیونی شته
که تخت د سلطنت وِی پری دَ دوی کله پروا شی
چه ستا نصیب قسمت دی که طلب ور پسی بکړې
په غیبرکي به دی واړه خواه ناخواه در لَره راشی
دَ یار دَ زړه ساتنه په مثال دروغ کالی ده
هیڅ حال دکالی نه وی که پیوند دَ کالی بیا شی
چه باز دِ پرواز وکا په طلب ورپسی گرزې
که بخت مددکاری کا چه ئې ونیسې بیا ستا شی
نادان دی که هوښیار دی له هر چا نه عقل اخله
یا تور عشی خطا کا دَ هلک غشی رسا شی
چه دِ وخوړ هغه ستا دی مال چه نخورې[1] بلا شی
په مرگ یا په ژوندون به په نصیب گوره دَ چا شی
مدد دَ طالع بویه چه منر سَرَه همراه وی
هنر به سود ونکا دَ طالع که درته شا شی
په زړه کښې خپل غرض دی چه هیڅوک ځنی خلاص ندی یا یافت دی یا نیافت دی چه خندا شی یا ژړا شی
خپل ځان وته ئې وائی خوشحال دا خوړې خبری
حلوا ده د نباتو که تر خوله دِ دا حلوا شی

دنیا بده بلا ده چه و ما وته ښکاریږی
په دې له خپله پلاره سکه زویه ویزاریږی
چه څوک وبله خپل دی ولی فهم فکر نکا
چه مرگ شته په دنیا کښې سره ولی نه ځاریږی
په هر لوری چه گورم و عالم وته حیران شم
وینا د هیچا نده په دنیا سَرَه خواریږی
و بل ته توره واخلی پدا کار کښې ډیر حیران شی
چه خپل دِ په بدی شی ستا وَ جنگ ته تیاریږی
چه بخت را سَرَه مل وُ مار به مار ته څو مښکې شو
چه بخت و ماته شا کړه څو مښکې راته ماریږی
دنیا دَ مست هاتی په خوی خصلت ده که ئې گورې
چه یو مهاوت ومړ بل ئې شاته تیاریږی
عالم عالم غمونه چه خوشحال ویتی له خپلو
غم خور ئې که پیدا شی خپل پردی ته به شماریږی

دَ ناکس دَ تربیت سَرَه څه کار دی
دَ سنگیږ دَ زراعت سَرَه څه کار دی
که خپل پلار ئې په ډیر مهر ورته وائی
دَ نادان دَ نصیحت سَرَه څه کار دی
ورځ و شپه دِ په آرام باندِی تیریږی
دَ بې ننگ دَ حمیت سَرَه څه کار دی
د گاوزو ورمیږونه مزری نموړی
د گیدړو د قوت سَرَه څه کار دی
چه هوسیه په میدان وهی تازیان دی
دَ کوټه د دې حالت سَرَه څه کار دی
فصاحت دَ باغ بلبلو څخه غواړه
دَ کارگه دَ فصاحت سَرَه څه کار دی
چه له ځایه یې په بخره سلامت شو
د زاهد دَ ملامت سَرَه څه کار دی
درومه هر لوری ته گښت کوه خوشحاله
دَ رندانو دَ خلوت سَرَه څه کار دی

دا دروغ دَی چه په ستوریو سود و زیان شی
سود و زیان واړه په حکم دَ سبحان شی

۱. تحویلداریې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دَ رنګ خوبي ئې شته لوئی له کومه    دَ کاغذ ګلونه هم دَ ګل په شان شی
زمانه په طبیعت دَه دَ هلکو    هلک تل چه و چا ورکا ژر پښیمان شی
دَ دنیا اقبال چه مخ کا وَ نادان ته    دانشمند ئې دَ خبرو نه حیران شی
دَ منصب سَرَه دَ ما خبری دُر وی    اوس راضی یم که په چا باندې مرجان شی
ګوره کومه چار به کانده مخ ښکاره کا    دَ عالم خبری ډیری تر دا میان شی
دَ دنیا لالچ څو ډیر اندوه ئې ډیر وِی    چه ئې ډیره ټولَوِی ډیر پریشان شی
دانشمند څخه چه مال دَ دنیا نه وِی    وَ عالم وته په مثل دَ نادان شی
زه خوشحال خټک هغه یم قدر نشته
دا می واړه له افغانونه افغان شی

دَ باطن په تجلی ظاهر صفا وِی    دَ بد ذات په آشنائی کښې سل جفا وِی
لکه نوم چه دَ کیمیا دَ عنقا اروې    تر دا دواړو نه نایابه لا وفا وِی
د ناکس سړی نه زر خبری واروې    په یَوه وینا ئې کله اکتفا وِی
د دی دور په یارانو غلط مشه    مخامخ ئې درته مخ قفا قفا وِی
دَ هغه طبیب طلب کوه خوشحاله
چه دَ مخ په تجلی کښې ئې شفا وِی

ډیر میَن په تازه مینه سَرَه تیر شی[1]    په هجران ئې خوړ ژوندون زهر ګنډیر شی
لا یو غم می تمام نه وِی څه نصیب دَی    چه ناڅاپه نور غمونه را برسیر شی
زه په ویر دَ معظم په غم کښې ډوب وم    خبر نه وَم چه طاهر به تیر و بیر شی
لکه ږیره دَ طاهر نوې په زنی    دَ هر هر ویښته ئې غم را باندی ډیر شی
خدایه هسی غم بل ما ته پیدا مکړه    چه په ده می طاهر خان له دله هیر شی
طاهر وَمړ په شباب کښې، دا تاریخ دی
چه به کال دَ ده وَ مرګ ترې را برسیر شی

ډیر مین وه چه ئې لافی کړې د مینی    په ارمان و بله تیر شول که ئې وینی
څوک چه یار په اوښیو ژاړی ژړانده    ژړا دا ده چه ئې وژاړِی په وینی
دَ رشتینی مینی کار خو داً خپل زړه دی    دروغجنی مینې غواړِی توری سپینی
دَ مجنون او دَ لیلی مینه رشتیا وه    دَ پرویز او دَ فرهاد او دَ شیرینی
ستا په رنګ به په جهان راغلی نه وی    په جهان که ډیرِی تیرِی دِی رنګینی
توری سترګی دِ شهلا نرګس دَ باغ دی    تورِی زلفی دِ سنبل دی مخ نسرینی
له د یو خاورُو نه چه ګل زیږی خوشحاله
دا پدا چه تل ور درومی مه جبینې

راستی لار ده بادشاهی    پکښې نشته ګمراهی
دَ رشتینو پروا نشته    دَ جهان په بد خواهی
دَ رشتینو سَرَه مَل وِی    تل نصرت دَ آلهی
دَ رشتینو ځای جنت دی    دَ قرآن په ګواهی

---

۱. دا بدله خان دَ خپل زوی طاهر په مرثیه کي ویلې ده، په آخر بیت کي "طاهر و مړ په شباب کښې" دَ ابجد په حساب (۱۱۰۳) راځی، چه دَ مړینی کال ئې دَی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به نه مومې خوشحاله
په راستی کې تباهی

رفتار ئې مستانه دی په غمزه کښې یګانه دی
دا پسر په لب شکری چه هر غاښ ئې دُر دانه دی
که په سترګو ئې نظر کړی ګل له نازه همخانه دی
که و مخ وته ئې ګورې لاله ګل ئې نښانه دی
پدا پیچ و تابو زلفو چه دَ مښکو خزانه دی
لا ئی پیِ ځاځی دَ شونډُو په هر کا کښې فرزانه دی
ځما ځان تر ده فدا شه چه هم ځان هم جانانه دی
نه چه زه په ده میَن یَم دَ همه خلقو ستانه دی
خپل صورت ستائی پخپله
دَ خوشحال زبان بهانه دی

رنګ دی ورک شه بده روې را پسې یې سینه سوې
له یوې فتنی دِ خلاص شم را پیدا کړې بله نوې
ستا غمونه هسی ټوغ کړم وکښی نه شمه سیلوې
چه اوده وې هونبری ښه وې کشکه تل وَی اوده شوې
پرې به کله باران وشی چه به وټوکیږی سوې
فصل نه کوی خوشحاله
څو پټی نشی په یوې

رنګینه کالی اغوستی را ښکاره شه ناګهانه راته وګوره وَخانده خوشحالی می کړه پر یوانه
خدای دی تا له وریو سترګو نه وژغوری دلربایه چه ټیکه په جبین کښیږدې او سینګار وَکړې څو شانه
هغه دم چه تورګیسو پخپل صورت باندی خپاره کړې خوشبوئې دَ خاصه مښکو په درست غولِ شِی پریشانه
ځان و زړه مې هم چاپیر ور سَرَه درومی اې نګاری چه ګهی په شین شین په انګښ کښې شې روانه
دین و زړه صبر و آرام راځنی ولاړل اوس پوهیږم چه یَو ځان دَی راته پاتو دا به هم یوسی له مانه
دَ یاری دَ آشنایی دودونه هیڅ له تا پټ ندی[۱]
ولی څو کړم په خوشحال باندی خاوند کړَلې نادانه

را ښکاره دِی د دې دور لنډ لستونی پردی مال وته اوږده لاسونه مونې[۲]
که په باغ ئې دَ یتیم دَ کنډی ګډ کړې دَ انګورو به خواږه بڼکوری چونې
دَ خوږو مزه پوښتی بزه ئې هیره ښې څربی لنډی وهی ور باندی سونې
کله سر په سینه ومنډی سبرګی شی کله سر موږی دَ مار لکه سربونې[۳]
چه په ښهر په اولس کښې ساده هینې وی ورځ و شپه پرې حواله وی لکه کونې[٤]
پخپل ځای لکه شاخوږی خر خوله خشکه په بل کور لکه آس په راتب پونې[٥]

---

۱. دودونه پټ ندی له تانه.
۲. سرمایه، رقم.
۳. موش خرما، خړ رنګه ځناور چی د مار سره جنګ ئې ډیر مشهور دی.
٤. ګنځی.
۵. میده شی، ووړ شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه کار دَی دَ رندانو دَی خوشحاله
چه ظاهر باطن ئې دواړه دی مخ روښی

راشه گوره نامردان بلا وَهَلِي
دَ بری میدان پریېږدی لری ته زغلی
دَ اسمان دَ پاسه گښت نندارِه نکا
کوز د مځکی د تلی په مخ کښ ملی
کم دلیل دِ دَ سر دواړه سترگی وخوری
په تورتم د جنازې سره څملی
مړه هغه چه نه ئې نوم نه ئې نښان شته
تل تر تله په ژوندون پائی ښاغلی
څوک پخپل پټی کَرل کا دَ اغزیو
چا پخپل پټی گلونه دِی کرلی
پسینه کرله هونبره فائده نکا
چه په وخت کرله وکا بر آخلی
دَ کرلو وخت آخر شو تخم لَړ دی
خوار هغه چه ئې له لره لاس ختلی
چه محنت په ځان قبول کا راحت مومی
رنځ و گنج سَرَه دا دواړه دِی تړلی
چه لذت شهوت ترک نکا ولی ندی
اولیاء ندی دَ نفس په خوښی تللَی
دَ هوا ترکَول عروة الوثقی دی
درویشان پدا وَیل دِی پوهیدلی
چه دَ نفس د ظلمانی کوهی را ووزی
دَ هغو سترگو ملکونه دِی لیدلی
درخانئ پکښی یو آدم خان خوښ کړ
یوسف زئی ځوانان ډیر وه سپاره پلی

څو مخلص تمام خالص نشې خوشحاله
خطرونه دِی چاپیر در جار وتلی

راشه گوره څه کارُونه درنگ په درنگ شی
په ساعت دَ دنیا چارِې په بَل رنگ شی
واړه وَ سوځی په اور کښ خبر نه یم
بیا له کومه را پیدا هونبره پتنگ شی
لا به کله مخامخ را سَرَه خاندِی
چه کاته ئې گه گهی راته په څنگ شی
چا وَیل دَ کښنلیو جنگ پسې آشتی وی
ولی ما سَرَه آشتی نکا په جنگ شی[1]
په هر چا باندِی ئې زړه دَی لکه ژاوله
خو په ما باندِی چه راشی زړه ئې سنگ شی
حال دی وگوری د ما بیا دِ آهنگ کا
دَ هر چا په عاشقئ ته آهنگ شی
په فراق دَ مهوشانو لا چینه دی
که روان ځما له دواړو سترگو گنگ شی

تا په خپله رضا وینو په غوره
اوس دی ولی دَ خوشحال دَ یارئ ننگ شی

راشه لیونی شه چه دِ نور خلق غم خور شی
څو چه هوښیاری کړې غم به لا دربان‌دی زور شی
هیڅ پرې نه پوهیږم چه دَ چا وَیل رشتیا کړم
سل رنگه خبری پدا منځ کښ لور په لور شی
صبر دَ دردمنو زړونو هر کله اثر کا
خدایه لا به کله دَ غماز سړی مخ تور شی
زر هنره وکړه نصیحت په کوم حساب دی
هر چه ځائی خوی وِی فکر مکړه چه به نور شی
یو هندو بلا دَی چه په مکر ټیکه کښیږدی
څوک به ترې خلاصیږی هغه ځای چه درې څلور شی
سپین جمال دِ گوره ښایسته په تور خالونو
تل په کښیده باندی ټکئ دَ انځور شی
درسته شپه می تیره په فریاد او په نارو کړه
شپه ئې دَ هجران وه سور پالنگ په ما سور اور شی
غیر بیگانه چه اخلاصی شی ورور هغه دی
ورور چه بیگانه شی راته وایه کله ورور شی

ډیر دِی په دا چم کښ چه پټ پټ دَ مینی لاف کا
ولی اوس یوازی وَ خوشحال وَته پیغور شی

---

١. تل ئی ما سَرَه آشتی ده که په جنگ شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

را ښکاره چه دَ دلبری وَ مخ خال شی
لکه ښکار دَ ښکاری ولگی خوشحال شی

په خو ژبی شاعری په جهان کیږی
دَ هر چا ثنا صفت دَ ښه جمال شی

دنیا دار کره چه نه وِی ښې دلبری
اور دی پوری دَ دنیا په ملک و مال شی

په وصال دَ سمنبرو زړه تونگر شیقق
چه ئې نه وینی په سترگو خوار کنگال شی

چه عاشق دَ معشوقې په عشق کښ غرق شی
جدائی له منځه ولاړه تل وصال شی

ارمان دا دَی چه به زه همیشه نه وم
همیشه به سره گلونه کال په کال شی

دَ گلونو وخت تیریږی ساقی گرم یې
که دَ جام په راکوَلو دِ اهمال شی

لکه باغ چه په گلونو مالا مال دی
د ما جان دی په شرابو مالا مال شی

راشه گوره دَ یارانو بې غمی
هونبره مهر هونبره مینه محرمی

زه دا هسی په فراق په اشتیاق کښ
حقیقت ئې راته نه کړ قلمی

اسمان لیری مځکه کروړه عاشقان دی
چه په خو رنگه غمونه تل زغمی

ما پدا جهان کښ غوښته مونده نشوه
که په بل جهان پیدا شی خرمی

څوک چه دم دَ همدمۍ وَهی ترې سوړ شوم
چه می ولیده دَ خلقو همدمی

چه په هیڅ ساعت خالی نه وِی له غمه
مگر غم لَره پیدا دَی آدمی

هیڅ طبیب نشته چه حال ورته معلوم کړم
چه په کوم زحمت کښ پروت یم المی

ته چه ما ته عربی خبری وایی
دَ عربو ژبه څه زده عجمی

که خبر په دا مثال یې وئې وایه
چه په گوته یوه گوته دوه غمی

پادشاهان به ئې میخ کم نکا خوشحاله
که یو خدای دَ سړی نشی په کمی

که قدم دی دِ دَ وفا په لاری ټینگ کړ
دَ خوشحال په پوهه دا ده رستمی

راشه گوره خلقه نصیب په خو خوری
توری نور ځوانان وهی منصب صد وخوری

په غارونو کښ مزری ختې منگلی
په تیاره دگردې و ازدی پیشو خوری

هغه ډک طباخ په سپی خوړلی ښه دی
چه تر څنگ ئې دَ عورتو پر سوپر وخوری

لکه څوک چه ډک چلم څکوی په غم کښ
فواقجن هسی لوگی دَ اندیښنو خوری

دَ فلک د نا قابل سرَه غیرت دی
نا قابل به دَ نباتو حلوا څو خوری

لا به کله هغه گنج ورکوې بخته!
چه خوشحال به ئې په پلیو په سپرو خوری

را ښکاره شوې دَ جهان بې وفایۍ
نور می را څکاوه قلم په آشنایۍ

لکه اور په بوټی ولگی بیا نه وی
یو څو ورځی دَی ارمان دَ جدایۍ

روښنائی دَ معرفت تر نمر والا ده
څوک دِ ونه وزی له هسی روښنایۍ

له یوه څاڅکي نه څه صورت پیدا کا
هم په خدای ښائی کارونه د خدایۍ

تا هاله وگل خپل زړه ورکړی بلبلی
که ئې تل وَی دا بازار د ریبایۍ

په گلزار کښ ناستی هم دا هسی نه وِی
چه خبر شوم ستا له قدره تنهایۍ

چه پخپل کوښښ بهبود دَ دنیا غواړِی
راته هیڅ نه دِی دَ خلقو دانایۍ

چه ځما دَ درد علاج لَره پیدا دِی
زه له چا غواړم دا هسی مومیایۍ

چه بلا ورسره وصله دَ فراق ده
دَ دلبرو حسن څه لَره ستایۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه گوهر تر خر مهرو په قدر کم دی     مگر نشته جوهری دَ بینایی
چه په چرته ښه صورت هوری ئې زړه دی
څو ثنا کړم دَ خوشحال دَ پارسایی

رحمت په اکوړی شه چه ئې ونیوه ځای سرای     چه ښه فهم ئې وکړې باور وکړه ځای دَی ځای
تور غر ئې د هوډی دی تر تیراه پوری سم تللی     نیلاب و لنډیَ دواړه عجب سر یښی په پای
پرې سازه لویه لار دَ هندوستان و خراسان ده     گذر ئې دَ اټک دی چه ترې ترس کا شاه گدای
هر فیض د دَ جهان څه چه یادیږی پرې را درومی     که ملک ئې بارانی دَی څه بهار لری های های!
که سوات که اشنغر که پیښور دَی دا ملکونه     رجوع لَری وَ ده نه فیض ور درومی دَ هر ځای
په هر لوری ئې ښکار شته دَ شاهین دَ باز دا هر څه     واه واه کاله پاڼه ئې چه ئې ښکار دی دلربای
ځوانان ئې چاق درست چست و چالاک دی په هر کار کښې     خوښ سترگی سپین او سره بلند بالا دی په نمای
پکښې میشته می زویه خیلخانه نمسی اولس دی[1]     چه څوک پکښې میشته دی په امان اوسه دَ خدای
اسمان ځنی جدا کړ لاس دَ چا رسی اسمان ته
خوشحال له سرایه ندی جدا شوی پخپل رای

زلفی د دلداری چه زنار فرمائی     څه لَره و ما ته څوک بل کار فرمائی
سهل دَی دا امر که می سر و مال قبول کا     څوک به دا وَیل کا چه دشوار فرمائی
څه لَره ای عقله ډیر له صبره راته وایې     زه بنده دَ عشق یم دَی تلوار فرمائی
څو راته ناصحه نصیحت کړې لیونی می     کله هسی کار کا چه هوښیار فرمائی
ما ترې توبه وکړه چه دَ عشق په شریعت کښې     دین مذهب هغه دی چه دلدار فرمائی
قطع لیونی دی چه دَ یار دَ مخ په دَور     څوک وَ ما ته سیر د گلزار فرمائی
خپله رضا پریږده که رشتینی ئې په عشق کښې
کړه هغه خوشحاله چه دِ یار فرمائی

زه چه ستا دَ مخ گلزار گورم په کور کښې     دَ بهار گلونه وسیځم په اور کښې
ما پدا تندی اخیستی ستا دَ پاره     که زه تا غُندی یار مومم په پیغور کښې
دَ ټولیَ په مخ کښې ځی په شین شین     لکه مست هاتی چه یون کاندی په ډور[2] کښې
اوس په هر چرته جهان په بلا ډک شو     که پخوا به لباسی وه په لاهور کښې
په قراره قراری کښې عالم خوښ دی     ما دِ خدای لَری دَ عشق په شر و شور کښې
که رستم دَ زمانې شی گمان مکړه     زمانه به دِ پرینږدی پخپل زور کښې
دا سلیمان په گوتې کښلی دا وینا وه     چه دا تخت به دَ سلیمان نه وی په گور کښې
د خوشحال د له هغو نه لاس په سر وی
چه به ځای دَ گوتی غواړی په څلور[3] کښې

زه خو شرابی یم شیخه څه را سرَه جنگ کړی     بخری ازلی دِی کشکی ما دَ ځان په رنگ کړی
ښه وایې واعظه برکت شه ستا په ژبه     ښه یی په وَیلو دَ دریاب اوبه کرنگ[4] کړی
ولاړَل و جنت ته چه په پوهه خبر نه ؤو     ولاړل وَ دوږخ ته چه ئې لافی دَ فرهنگ کړی

---

۱. که زویه که نمسی که خیلخانه ده که اولس دی.
۲. هغه رودبار چه څنډی ئې زنگل وی، دَ قندهار د جنوب و خوا ته یَو رود هم په دغه تقویب ډوریَ بولی.
۳. محشی ورته لیکی چه مطلب څلور یاران (رض) دی.
٤. یعنی یخی په یوه نسخه کښې که رنگ لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پند دَ محمد (ﷺ) دَ ابو جهل پکار نه شو
ځوک به ئې صیقل کا چه ئې خدای آینې زنګ کړی
کښیني په خلوت کښ شیخه سود ئې راته وایه
ولې پخپل ځان دا هسی ارت جهان تنګ کړی
زه خو دَ زړه درد غواړم په هر یوه مذهب کښ
تا زده ستا خبرُو چه نقلونه رنګا رنګ کړی
رایشه مطربه! دَ نوروز سرود آغاز کړه
ښې نغمې زړه سوزی په رباب په نی و چنګ کړی
هر لوری ته ګل دِی شقایق نرګس سنبل دِی
بی ګلزاره بد که وَ بل لوری ته آهنګ کړی
چا در پسی ډیری توبښې واخیستې طلب کا
ځنو مسلې دَ بې ننګیَ در پسی لنګ کړی
کاشکی[1] دَ عمل تله درنه په قیامت شِی
موم په رقیبانُو په عاشق باندِی زړه سنګ کړی
مرګ لَرَه ئې واړه دَ دهلی لښکر راغلَی:
ته لا دَ خوشحال په مرګ ځان روغ نه ګڼې ننګ کړی

زلفی ئې سبب دِی د عاشق دَ پریشانیٔ
ننداره ئې بهانه ده دَ بیحدی حیرانیٔ
رد می سرشته ده دَ هزار رنګه دارو وُ
غم ئې لا تیری کاندی تر ډیری ښادمانیٔ
زخم ئې مایه دَ لایزاله حیاتګی دی
ورانَی ئې دَی موجب په جاودانه ودانیٔ
محتسب چه احتساب لَره ورځی مجال ئې نشته
که دَ برندو سترګو مست ئې همیشه کاندی ورانیٔ
ما په عشق کښ رسَولی دَی خپل کار تر هسی حده
لکه ځوک په مټ د توری سزاوار شی دَ خانیٔ
زه خوشحال خټک د عشق په کار هونبره خوشحال یم
ځو سلطان غره پخپله بادشاهی او سلطانیٔ

زوړ سړی چه د ځوانیِ هوس کاندی
ورته وایه چه دا څه په کُنه خاندی
چه په کال کښ ئې زړتوب وی هم ځوانی وی
د سړی تر کاره ښه دَی کار دَ سپاندی
کله هسی په خوان موړ شی چه ئې نه خوری
کله خوان ته سترګی اَړَوِی نغلاندی
په نیتونو په صوتونو په لاسونو
خلقې دِی سَرَه یو تبله هړاندی
اوس په سپینه ږیره څه له مرګه ډار کړم
یاران توری ږیری ولاړل تر ما وړاندی
چه د مځکی مخ ئې لاندِی وُ تر حکم
راشه وګوره هغه تر مځکې لاندی
دا عالم ریګ روان دَی که ئې ګورې
خو هم هسی سَرَه اَوړی لاندی باندی
د قضا تنور ما ولیده په سترګو
ما خوشحال چه پکښی سیځی وچی تاندی

زه او عشق بی قراری
دم په دم ژړا زاری
تیغ وکښلی را ښکاره شوه
خوار عاشق دِ ځان سپاری
چه هر دم په ما ستم کړې
ستا دا هسی ده یاری
ستا له مهره ستا له لطفه
زه لَرم امید واری
دایم ستا دَ غم ورَی وړم
شرط دَ عشق دَی بربادی
خاکپای اوسه خوشاحاله
لوی به کاندی خاکساری

زه اول در خبر نه وم چه دا هسی بی وفا یې
په ورځ سل سوګنده وکړی بیا له واړو بی پروا یې
ما چه زړه و تا ته درکړ خلقې را باندی غاو کا
ولی هسی خبر ندی چه ته څه رنګه زیبا یې
اې چه ما وته وَیل کړې چه په کښلیو نظر مکړه
ځوک به ستا په وَیل غوړ کا چه دَ مرګ خبری وایې

---

۱. کاش دِ د عمل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ما یو ویښته د خپلې معقوقې تر خوری ښه دی
ملا څه په هر زمان دَ جنت جوری راته ستایې
د گلونو قدر هر زاغ و زغن نزده طوطا زده
هسی مه وایه نادانه چه په څه صورت شیدا یې
دا څه توری سترگی ندی چه ځما زړگی ئې یووړ
دا څه لا نوری بلا دی خدایه ته دا نا بینا یې
دا نه خال نه زنخدان دَی نه پریشانی توری زلفی
دا یو راز آلهی دَی له ته پوه پدا وینا یې
دا دَ خلقو ملامت دَی که پیغور دَی د وگړی
دا همه ځما قبول دی خو که ته له ما پخولا یې
نن به څراغ په کور کښې نه بړدم چه گمان هیڅوک و نکا
دا نیژدې دَ چم وگړی چه نن ښه میلمه ځما یې
ما وَیل چه د زړه غم به درته وَوایم چه راشې
غم به څه وایم و تا ته چه په راغله غم زدا یې
چه دَ زلفو نافې تل تل څنډ وې دَ باد و مخ ته
خوشحال خود په تا پوهیږی چه هوسیه دَ خطا یې

زړه به ستا له جوره ظلمه په څو ځان وړی
غم دَ درد به دِ ترکومه پدا شان وړی
ما دا هسی رنگ هندو لیدلَی نه وُ
چه په حسن دین و زړه دَ مسلمان وړی
هغه لاس چه دِ کوتاه دَی تر لمنی
هر زمان ئې په ډیر غم کښې ترگریوان وړی
دَ هغه عمر څه حال حلاوت نشته
چه ئې بې له تا په غم کښې په پایان وړی
چه هرس دَ هغو شونډُو غاښو کاندِی
دَ ارمان گوتی هر دم پخپل دندان وړی
ستا دَ زلفو وَ چوگان وته حیران یم
چه دَ زنی گوی دِ څرنگ په میدان وړی
پکښې بند زړونه وکاږی که ئې گورې
چه دَ سر زلفینی تل تر زنخدان وړی
چه دِ زړه په ما هغه حکم فرمان کړه
د ما زړه به د تا هر حکم فرمان وړی
دَ خاطر خوښی می هر کله پدا ده
چه دا ستا غمونه هر کله پر یوان وړی
دَ نور چا په ما څه کار دَی زه پرې خوښ یم
که می دین و زړه واړه تبان وړی
دَ وفا خصلت چه خدای ندی ورکړی
څوک به څه لَره په کښلیو دا گمان وړی
دَ زړه مینه ئې په کښلیو ما ته نکړه
خوار خوشحال به له دنیا دا ارمان وړی

زر ځما تر لاسه نه راځی ویریږی
که هر څو می دلاسه ور سره کیږی
ځما لاس ورته تر اوره هم بتر شو
لا په اور کښې ئې یَو درنگ ساعت تیریږی
زه او زر سَرَه له ځایه غلیمان یُو
په جهان کښې غلیمان سَرَه رغیږی؟
چه غلیم دَ مړنی په نظر کښیوزی
نور ئې زړه دَ ده و مرگ وته پړ کیږی
شاه زلمی به خپل غلیم کا تر ځان وړاندی
و نامرد وته به سل حیلې دریږی
په قرآن کښې ستا اصوال په غلیم یاد دی
بل به کوم حجت تر دا قوی یادیږی
کانړی زر که سَرَه وگورې یو رنگ دی
فرق ئې دا دَی چه په زرو زړو رغیږی
هغه زر تر کانړی لوټه لا بتر دی
چه ئې وَمنډې په مځکه نه خرڅیږی
چه اوبه په ځای حصار شی نور خسا شی
صفائی ئې هم پدا ده چه بهیږی
تل دی لاس په غلیم بر اوسه خوشحاله
غلیمان دی شرمنده تر تا ځاریږی

ساقی گل شگفته کیږی
خس له باغه رفته کیږی
که دَ باغ خوښی په زر شی
دَ راغ هسی مفته کیږی
دُرگوهر ځما بې میو
په مژگانو سفته کیږی
که ئې پټ لَرم له خلقه
راز می نه نهفته کیږی
باد دِ زلفی آشفته کا
ځما زړه آشفته کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه راز چه به ما تا کړ          په محفلو گفته کیږی
دَ خوشحال بخته بیدار شه
تَل څوک کله خفته کیږِی

ستا په سترگو کښې فتنې کاندِی خوابونه          توری زلفی دی هم ډیر لَړی تابونه
که ته زر حجا به یَنیسې په مخ کښ          را ښکاره وِی ستا جمال تر حجابونه
دَ جنت حوری که وَگوری ستا مخ ته          نور به واچوَی له شرمه نقابونه
که شعلې دِ را ښکاره شِی له جماله          لور په لور به سر څرگند کا آفتانونه
زه چه ستا دَ بیلتانه په لمبو وَسوم          نور می څه دِی دَ دوږخ په عذابونه
ستا دَ خیال میلمه می ناست دَی په کوگل کښ          تل می خوری دَ زړه دَ غوښو کبابونه
تا وې ما وَتا ته ډیر څله خوله درکړه          دَ یاریَ په کار کښ هم شِی حسابونه
زو وَ تا ته دعا کړم ته ښکنځُل کړې          هم لتا ښائیِ دا هسی ځوابونه

ته چه حال دَ زخپل عاشق غواړې په شرح
بویه دا چه خوشحال وکښِی کتابونه

سترگی دِ مستان دی ځما زړه ښیښه مهینه          پړوکی پړوکی مه شه چه ئې کنج په کنج وهینه
سپین سبا دِ گوره دَ ټیکی په شفق بند کړ          جگی جگی رایَ واخله له جبینه
کښلی دی که گورې چه مخ پټ کله څرگند کا          گل دَ بهار ندی چه رازیږِی له زمینه
واړه به سبب دَ بد اصلانُو دَ هنر وِی          هر آفت چه گورې چه را پاځِی له کمینه
مست په بهار راغلې په سرود دی گوتی کښیښوې          څو به لا وَباسې ډیر دِ ویاسته له دینه
چرته لوئیدلې نوم دی خپور په جهان نه وُ          غوغا وشوه په ښهر چه ئې کوزه کړې له زینه
تل جام دَی دَ شرابُو ستا له لاس توبه په شونډو          دَ خلقو لږمون شین دَی که پوهیږې ستا له شینه[1]
حیات لایزال به دِ حاصل شی که باور کړې          دَ زړه لیدونی[2] دواړه که روشن کړې له یاسینه
د عشق[3] دَ محبت دَ ناوی مهر ماسوا دَی          اول ئې درته وایم چه ئې ورکړې له کابینه
هر څو ئې که پټه، په ټټر کښ وِی ساتلې          څه بده بلا ده نه پټیږِی دَ زړه مینه
کله منت اخلِی دَ یوې گیلِوِی دَپاره          هر چه همت ناک دِی که په کور لَړی جوینه
زاښِی بتی گوره چه په هر لوری غوغا کا          هیڅ درنه پوهیږم چه په چرته یې شاهینه
هر چه دانایان دِی په امان امان تیریږی          هی توبه له دوره الامان له دې آئینه
نوم به دِ هرگز په ژبه وانخلی په عمر:
دا یارِی دوستی چه ستا خوشحال ته شوه مبینه

ستمگر به همیشه په دنیا نه وی          پس له مرگه به لعنت لعنت په ده وی
هسی خوښ دَ ظالمیَ په کار وَلاړ دی          ته به وایې مرگ ئې نشته تل به ژوی
ظالمان په نور څه هیڅ راغلی ندی          خو دنیا وته ځوئیږی لکه روی
چی دَ خپلی کامرانیَ په کار راشی          که عالم ته وبا لا شی پری ئې زړه وی
په گفتار کښ دَ فرښتو سَرَه سیالی کا          په کردار کښ شیطانان ترې پوری څه وی

۱. محشی ورته کښلی دی یعنی ستا له شین خاله.
۲. یعنی د زړه سترگی.
۳. د زړه د محبت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په سول ئې دَ دنیا مقصود حاصلیږی　　دَ مکې په وره به هم پوری کا سوی
پخپل زویه ورور یې زړه نه وی تړلی　　دَ خپل پلار و مرگ ته هم موږی[1] ورغوی
په هغه چاړه قلم روغ کا قرآن کښ　　په هغه چاړه دَ وروره مری سکومی[2]
په رکوع کې تسبیحات دَ مال و ملک کا　　په سجود کښ خپل حشم غواړی که ښه وی
که بیکخواه ورته دَ پند خبری وکا　　چه دَ بدو خصلت پریږدی زړه ئې چوی
زه خوشحال چه دَ اورنگ بادشاه نوکر یم
که وَ زویه ورکَول کړم زړه می نه وی

ستا له جوره ظلمه هیڅ نکړَی ژړلی　　چه له وره دی په څو گرزم شړلی
همیشه ځما دعا په غوږو اروې　　یَوه ورځ دِ په ښکنځا نه یم زیړلی
رقیبان دِ لکه سپی په کوڅه غاپی　　هم ترې څیری جامی ورومم هم خوړلی
چه به ته دَ هغه ټال په پړیو زانگی　　هغه پړی دَ وریښمو وی غړلی
قافلې دَ همراهانو شوې روانی　　ما هم بار دَی دَ خپل کوچ پسی تړلی
حاسدان بې غمه خوب کا دریغه دریغه　　چه په کور ئې دَ بلا نفیل نړلی[3]
د خوشحال ئې وکرم وته امید دی
که هر څو په گناهونو دَی لړلَی

سا دَ کښلی مخ په خال می زړه په داغ دی　　پدا داغ می له عالمه زړه فراغ دی
سخ چه ناست یم دَ گلونو په چمن کښ　　بیا ساقی راته نیولی ډک ایاغ دی
یا دَ ښو زلمیو خیال دی په شمله کښ　　یا دَ ښو جونو دَ تور وربل دماغ دی
دَ زلفینو په تور تم کښ به ئې غواړم　　دا ورک زړه که را ښکاره کا مخ څراغ دی
چه دَ کښلیو دَ جمال ننداره کاندِی　　وَ هغو ته سپیره ډاگ سیر دَ باغ دی
په سپین مخ ئې تازه خط نوی ټوکیږی　　زه به زړه ورځنی ژغورم روږ[4]دی زاغ دی
دَ گلونو په بوی ځِی په گلزار ورشی　　دَ گلونو بوی بلبلو ته سراغ دی
نه په اصل هونبره ښه نه ښایسته یې　　تا په کوم توکې راوړی دا دماغ دی
دَ خوشحال سترگی هورې چه ښایسته وی
خلقه زړه ئې نه په باغ دَی نه په راغ دی

ستا وصال لکه دریاب دَی زه ماهَی　　په هجران دِ هر زمان دَی په ماهی
په ژړا می ځنی خواست دَ شپینی خولې کړ　　په خندا ئې وې چه څه کا دا سړی
ویې څوک یې چه ځما په کوڅه گرزې　　ښه حاضر ځواب می ور کړ ستا مریَی
هم په څو رنگه ناله هم په تن نال شوم　　بیلتانه را باندی وکړ کار دَ نَی
دَ ځوانۍ بهار څه ښه دَی دریغه دریغه　　دا بهار که همیشه په دنیا وَی
گل، سنبل، نسرین، نرگس لاله غوټیه　　دَ مقدم سَرَه دِ راوړه[5]درست پسرلَی
چه ئې ونیسم په غیږ کښ راته گوری　　لکه مست دَ مور په پیو کم کبلَی
دا شیرین یاران به نه وینم چه وَمرم　　خدایه ما په جهان تَل لرې ژوندی

---

۱. ژویی.
۲. یعنی پرې کول او پوستول.
۳. نړلی یعنی غوغا کول او دربول او ډَبَول.
٤. روږد یعنی آموخته او بلد او آشنا.
۵. راشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم خو ستا دَ رسوائۍ کړم نه د سر کړم    که می دا اندیښنه نه وی تا کتَی
هسې ستا دَ بیلتانه په آتش سوځم    لکه څوک په لمبه کښېږدی وچ لرګی
ډېر صفت دَ ښاپیریُو اَرویده شی    ولې ستا دَ مخ څوک نه وینم مخَی
په ښایست کښې هیڅ لقب دربادی نشته    که دِ څه خو دَ عاشق نمنځه کړَی
اورنګ زیب به د کابل دَ خلل غم کا    ساقی وخت دَ نو بهار دَی راوړه مَی
چه زړه سوَی دی دَ خوشحال په فریاد نشې
په سینه کښې دِ سندان دَی که زړګی

ستا په غم کې لکه زه یم بل به نه وِی    دروغجن یم که بل هسې لکه زه وِی
ستا له غمه می ځګر له وینو ډک شو    چا ته وویَلی نشم زړه می چوِی
تا ویل ځما دیدن قیمت بها دی    زه حیران یم ستا دَ مخ بها به څه وِی
سر به درکړم په بها کښې دیدن را کړه    په سودا کښې خلل مکړه که دِ زړه وی
هسی ګل دَګلستان په منځ کښې نشته    هر چه ستا رنګ و بوی پوری په ده نه وی
که تل تا لَره درځم ملامت مکړه    دَ بلبلو تل و ګل وته ورتله وی
د ښه څیز پوښتنه مه کوَه له اصله    دَ یو هر دوکان چه وِی کالی دی بله دی
که صورت ژغورې له غمه کاته مکړه    زړه هاله په غم اخته شی چه کاته وی
زه خوشحال چه آشنا وینمه[1] خوشحال شم
لکه ګل چه تازه شوی په اَوبه وِی!

سړی هونبره څو ئې نیت وی    جامه هونبره څو قامت وی
ګړ ګهن ګردن دَ فیل خوری    څه میږی څه ئې قوت وی
نه هر خره دَ عیسی بار وړی    نه هر سر سَرَه دولت وی
وَ صورت ته نظر مکړه    په کرده دَ مرد قیمت وی
زه مریَی دَ هغه کس یم    چه صورت وِی هم سیرت وی
که صورت سیرت دِ جوړ شول    سر تر پایه عنایت وی
دَ خوشحال په وینا غوږ کړه
په ویَل کې ئې لذت وی

ساقی تل به دِ دا ست وی که به نه وی    له جهانه به مهلت وِی که به نه وِی
راشه ډک دَ میو جام په می ناب کړه    تل به هسی فراغت وِی که به نه وِی
هر هوس چه د صورت کړې نن ساعت دی    ګوره کانده به صورت وِی که به نه وِی
په رشتیا وَ ما ته وَوایه طبیبه!    چه دَ رنځ مې به صحت وِی که به نه وِی
دَ وصال وعده دِ وکړه ستا سوګند دی    پدا کار کې به غفلت وِی که به نه وِی
که په تا پسی ملنګ دَ مسلی شم    شاه په تا می به قیمت وِی که به نه وِی
سپینه خوله که بې ریباره ور پیښکی کړم
په خوشحال به می منت وِی که به نه وِی

ستا په تور می مال تالا مانۍ نړیږی    راشه ګوره که پدا دی زړه سړیږی
ستا غمونو لَره هر کله ژوندون وی    پدا لړ عمر می زړه کله مړیږی

۱. ووینم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایې ما ویشتلی څه کا حال ئې څه دی
په کوڅه کښې دِ لا دم وَهِی غرېبړی
دَ فراق په شپه ئې خوب په ما حرام کړ
وائی مالګی می په سترګو کښې دوړیږی
لا به ګوره څه شان شان غوټې وا کا
دَ ښایست بهار ئې اوس نوَی غوړیږی
ما به هیڅ په ورځ ورځ نه ژړل عالمه
ولی څه کړم چه می ننه زړه ژړیږی
دَ رشتیا خبری خیر و برکت دی
په قاضی دَ دروغجن ژبه اړیږی
دَ خوشحال ختک په کار پوری حیران یَم
مینه لا وربادی زور شوه څو زړیږی

سخ د آئنې دی چه دی مخ وته تل ګوری
سخ دَ لونګین دَی چه دی پاس په ټټر ښوری
نه دِی ستا دَ غوړو غټې غټې مرغلری
وصل دِی په میاشت پوری یو سر بل سَره ستوری
روغ می کړې له رنځه چه د خولې ښیرې دِ اورم
شهد و شکر را ګرځې چه می ستا شونډې وزوری
ظلم دِ دَ سترګو پما خوار هر ګوره ډېر شو
څه کړم توان مجال دَ زور وَر لَری کمزوری
زه که ډوب په غم یم تل دی ډوب وم چه عاشق یم
تا دی خدای معشوقه تل هَری بلا ژغوری
ما وته ارزان دِی ډېر په ښکو په عنبرو
څوک به توری خاوری ستا د پله په بها پلوری
تل ځی ستا وَ لور ته په ارمان کاته کا
سپین ئې په کاته شی دَ خوشحال دَ سترګو توری

ساقی راکړه وَ ما می
یَو څو جامه پیاپَی
دا هم ظلم دَی که ګورې
چه بې میُو ځی پسرلَی
هغه ځای چه ګل و مل وی
ورع څو کاندی سرَی
ګوره څه وایی پرې غوړ کړه
چه آواز کا چنګ و نَی
بیا به تیر ساعت را نشی
آه ارمان ارمان هَی هَی
د دنیا ژوندون هم ښه دی
که تر تلو همیش وَی
چه تر تلو همیش ندی
نور ئې وګڼه لا شَی
ډېر مَین ئې و بله تیر کړل
فلک نه لَری زړه سوَی

ستا په زړه د دنیا څلې[1]
دَ دوږخ لمبی دِی بلې
چه دَګور لَړم ماران دِی
هم دا څلی دی پیبلی
که دِ یَو ځله ځان خلاص کړ
غم دِ نشته هوری ولی
دا لَړم شلوه له دِله
که دی نه وِی لیچی شلی
چه به وه تسپی په لاس کښې
مخ ئې تور بزیری ئې کلی
ته اصیل ځان دی مریَی کړ
هی توبه خوشحاله ولی؟

ساقی چه مهربان شې په پیاله کښې مَی زیاتیږی
چه مَی ورځنی اخلِی دَ رقیب ښیښه ماتیږی
قربان ئې شم تر سترګو په طالع کښې زورور دی
چه هر کله ئې سترګی په زیبا جمال لواتیږی
بوسه دَ سپینې خولې راکړه بد مه وړه مستحق یم
دَ حسن له نصابه دِ څو توکه زکاتیږی
آفت دَ هلکوالی وُ جمال دَ هغې تُرکی
چه کال باندِی تیریږی آفت لا څه تازه[2] کیږی

۱. دا بدله په نورو نسخو کې نسته، له یوې قلمی نسخی څخه را نقل سوه.
۲. آفتږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون دَ عاشقانو دَ معشوقې په وصال دی    چه بېل شی له معشوقه ژوندی ندی وفاتیږی
چه اوسپنی تر خیژی هغه کانِی رنګاررنګ دی    ترخچ خوږې ترې خیژی څوک فولاد ترې مرآتیږی
دَ چا خونی چه وَمرِی پسله مرګه شی میراتی
دَ چا خونی خوشحاله په ژوندُونی میراتیږِی

سرګی دِ دِی که ورځی که ئې زلفی که اوربل دی    څو توری بلا دی چه می زړه پکښی قبل دی
چرته به خلاصیږِی دا بلا تر زړه چاپیری    مخ ته ئې که ګورې لا په سرو لمبو اوربل دی
خیال ئې دَ زلفینو عقل و صبر و دین و زړه وړِی    نه پریږدی په کور کښښ نه کالی دَ خونی غل دی
نور عالم لا پریږده چه عاشق وته څه وایی    پلار که نصیحت کا و عاشق وته خجل دی
قیس وُ که وامق وُ بیا فرهاد ورپسی نور وه    ما را وړِی ندَی دا دَ مینی دود اول دی
مینه الستی شته لباسی شته نفسانی شته    مښک شته دی هم هوړه نفسانی لکه بصل دی
هر چرته یو مخ دَی که په سترګو احوال نه یی    یو چه ورته دوه شی خود پوهیږی چه احوال دی
جام بینا ته ورکړه چه ئې ډک یوسی تر ځایه    جام ورکړه ړانده ته هسی ووایه چه تل دی
عشق دی نور څه ندی چه غواص په دریاب ډوب کا    ځان سوځی په اورکښښ څه عشق ور سَرَه مَل دی
ځای په ځای چه ګورم زه خوشحال ورته حیران یم[1]
بله غوغا نشته همګی دَ عشق کل کل دَی

ستم دی دَ عینینو یاره عین عنایت دی[2]    بند دی دَ زلفینو دَ خلاصیِ کنایت دَی
په شپه ځما وَیل کله آمیز وُله هستیِ    په ورځی ځنی دور یم هغه حرف چه شکایت دی
خبری دَ مجنون او دَ لیلا ولاړې زړې شوې    ځما و ستا خبره تازه نوی حکایت دی
دَ ما او ستا خبری دِی پټ راز څه هسی ندی    چه چا ته ئې پیدا یا بدایت یا نهایت دَی
په مخ چه ښایسته شوې که په پسول پسللی نه وې    ساده دَ ورځیو خال دی د درست حسن کفایت دَی
هیڅ کله له مرګه دَ خوشحال اندیښنه مکړه
چه وې وژنې دلبری خون ئې روغ په روایت دی

سر په بیدی بید یا ونیووی ژړلی    په صحرا دَ ونون پاڼی پټ خوړلی
که اشنا که نا اشنا واړه لیدل شی    دَ همه واړو په بریره ورخړلی
چه دَ قام دَ خیلخانی په حال خبر شوم    څه روزګار به پکښی شی په غم لړلی
په ناحق می آزادیِ ته تلاښ کړِ    په زندان دَ اورنګ زیب ښه وم تړلی
خپل پردی چه دَ دنیا شکر خواره دی    لکه مچ هسی له ځانه و شړلَی
دَ مال حال به و هغه وته معلوم وُ    که دا هونبره ډیر آهونه چا نغړلی
که خوشحال پنجهزاری کا مه ئې وینه
دَ مغل له نوکریِ دی اغیړلی[3]

شین مرزی چه ګیډی داړی    باند نخیژی خسی زاړی
څه عظمت[4] څه مهموتی دی    چه په مرګ به ئې څوک ویاړی
دَ ښادی سترګی دِ ووزِی    پریږده دَی ور پسی ژاړی

---

۱. شم.
۲. دا بدله له یوې قلمی نسخی را نقل شوه، په نورو کښښ نسته.
۳. یعنی قی وهل، بد هضم کیدل.
٤. عظمت خان او مهموتی او ښادی خان د خان معاصرین وه، چه په دې بدله کښښ یاد سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يَوَه غوټه يَو نيسي — باز نه دوه تارو ونغاړی
عابد خان ځما شنقار دی — په غوټه وهی دوه ښاړی
هم شنقار می هم شاهين شته — هم ښه باز لَرم لک غاړی
وخت د ښکار دَی سهيل وخوت — خپل خپل ښکار به پسی غواړی
زه په ښکار يم دَ سر خابو — وړاندِی زاغ راځی مرداری
خرقه څيری دَ زاهد شوه — رنگ ئې نه وينم دَ نماړی
ژر به ورک شی مدعی می — يو څو مچ دی دَ غوباړی
ازميښت گوره دَ دهر — راته ليندی شول اوس شاړی

تيغ پرې سور مکړه خوشاله
چه لايق دِی دَ څوباړی

شفاعت دَ محمد (ص) ثابت په نص دَی — دا په دا چه دَی دَ درست جهان اخص دی
دَ موسی دَ عيسی کله دا صفت وُ — دَ لولاک نعت پده باندِی مختص دَی
اولياء ئې دَ امت واړه ممتاز دی — هر ولی ئې په ارشاد کښې مرخص دی
سر حلقه دَ اوليا وُ هغه شماره — چه شيطان ئې بندی کړی په قفس دی
دَ رستم دَ مړنتوب خبری هيڅ شوې — ذوالفقار چه ئې ياد شوی په قصص دی
دوستاران دَ اهل بيت له اوره خلاص دی — بی دوستيه ئې عالم کله مخلص دی

په وِلا که دَ علی رافضی کيږِی
سکه خوشحال ئې په وِلا کښې مشخص دَی

ښځه بونه هوسناکه، خنده رويه، مهرجنه — پاکيزه په زيست روزگار کښې په ښه بوی باندی مينه
دَ صحبت په زموز پوهه، زړه ئې خلاص له مکره دروهه — کم خوراکه خوش پوشاکه، هميشه ناسته دننه
په وصال دَ يار خوشحاله، يار ئې خوښ له قيل و قاله — چه له ياره نه جدا شِی، هم غمجنه هم خيرنه
له نيکانو همنشينه له بدانو په زړه خوړينه — له موروالی ئې توبه کا که ئې مور وِی دروغجنه
دَ ميلمه پکار حاضره، په پخوالی بهادره — حق دَ چاری په ځای راوړی، په رنځور باندِی پوښتنه
پاکيزه ئې د کور صحن، نه په غولی کښې نور لحن — پرستاری ترې خوشنودی، ښه دَ هر چا په ساتنه[1]

که دا هسی څوک پيدا شِی دَ خوشحال په لاسو راشِی
هيڅ تقصير به ئې ونکا دَ يارِیِ په پالَنه

ښې ښې شپې ځنی پيښی — غيږ په غيږ شی شفت ځبيښی
ځښی ځښی ښيښې تشيږِی — نن به شی بخښی ښې ښې
چين چين خوبی ځِی په شين — بتی زشتی فتنې پيښی
شی په چين تشی پوښتنی — چين چين څوبی پښتنې شی
هسی ځِی په شين شين — نخښی نخښی ختی پښې ښې

ښه سر راست ټوپک دی چه نظر ځنی لر بر شی — گوره چه گزار دَ کم خطا په چرته شر شی
ولی هسی نه وی چه ويښته چوی په عقل — بيا چه درې څلور مصلحت وکاندی ښه چر شی
څوک چه مخه ولی ليندئ ډير و بله کښينی — کله په سپينکی دَ هلک غشی برابر شی

---

۱. ستَنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوري لولیِ هیڅ دي دَ نسب که دَ نور څه دي    ښه لوئي هغه دَه چه لوئي ئې په هنر شي
ډېر دَ سروريَ دعوا کاندي په جهان کښې    یو سړي په زرو کښې په بخت سَرَه سرور شي
آس تر کته لاندې شا په څو ځایه زخمي وي    ځای دَی دَ حیرت په رابتونو ساته خر شي
یو توریتی نشته چه خپل حال ورته معلوم کړم    کله به د ما دَ بخت دَ ستوري لا اثر شي
زور لرې که عقل پدا دواړه مه نازیږه
بخت راوړه خوشحاله چه دِ کار لکه سره زر شې

ښه هغه چه ولاړ بې خوده په خیال ستا دي    که اشغال دي په جهان کښې اشغال ستا دي
ښه مي ولیده په سترګو واړه کښلي    چه تر واړه لا تیرَی کا جمال ستا دي
دَ دنیا په مخ به ډېر وِي ښه مخونه    چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستا دي
دواړه زلفي دي حلقه کړي لکه لومي    چه دانه دي پدا لومه کې خال ستا دي
دواړه زلفي د حلقه کړې لکه لومي    چه دا نه دي پدا لومه کښې خال ستا دي
دواړه پېښې ګلګوني سرې پدماغ درومې    ګوره بیا څونبره وګړي پایمال ستا دي
ته کشتن دَ غمزې کړه مه وَدریږه    مقتولانو قبول کړي وبال ستا دي
تا خو نوم دَ جنجالي را باندې کښېښ    که په زړه کې مي جنجال دَی جنجال ستا دي
که همه دَ خلقو کښلي سَرَه ټول شې    خسته زړه مي په ټولي کې لیوال ستا دي
چه دِ څوک په کوڅه تیر شي نور مَیَن شي    چه تمام له عشقه روغ دَی دیوال ستا دي
که مثال دَ صورت غواړې ګوره میاشته    چه پوره دَ دوو هفتو شي مثال ستا دي
چه سبا بیګا ئې لوند لَرم په اُوښیو    یادګاري را څخه پاتو رومال ستا دي
څو ریبار در سَرَه نه بیایې دَ وړاندې    چه په چم به ئې تیریږې مجال ستا دي
که په قهر ئې شړې په لطف ئې برلې
چه ئې نه پریږدې په هیڅ کښې خوشحال ستا دَی

ښاپیرک که په هوا ځې په تور تم کښې[1]    په راتله دَ رڼا ورځې دَی په غم کښې
له چتې درسته ورځ درومي په پورته    هغه هونبره باز شاهین درومي په دم کښې
د چندڼ اوښوانه[2] فرق سَرَه هیڅ نه وُ    که چندڼ تر ښوانه ښه نه وِي په شم کښې
چا له ډنډه دُرګوهر نه دې وکښلي    قیمتي لولو لالا غواړه په یم کښې
که ګیدړ په خم کښې رنګ شو پدا څه شي    خو بیا هم هغه ګیدړ دي په شیم کښې
زاهدان شیخان مي ولیدل نامرد دي    مر عالم رباني دَی په عالم کښې
څرخ مي ځکه په سر لوني ګلونه    چه ئې خاوري غُندي پروت یم په حرم کښې
که هاتي دَ بادشاه ومري غم ئې نشته    چوهړي دَ سپي په مرګ دي په الم کښې
عشقه واړه ستا د غمونه خرخښې دي    چه په سوات را سَرَه ګرزي هم په سم کښې
ګوتي وَمنډه په غوړو ترې تیریږه    ذاکر زر ذکرونه کا زړه په درم کښې
که خوښيَ د وصال ورسَرَه نه وي    عاشقان کله خوښیږي په ارم کښې
هغه چر دِواړه ګوټو ته نظر کا    چه ئې وِي سترګي نیولي په صنم کښې
آفراین دِ په وَیَلُو شه خوشحاله
چه دَ تورو رژول کړې په قلم کښې

---

۱. دا بدله له یوې قلمي نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښې نسته.
۲. راحت زاخیلی ښوون په معنی د زیتون دَ وَني راوړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه هغه چه ښه ئې رنګ ښه ئې جمال دَی
ښه هغه چه په قوت دَ هر چا سیال دی
ښه هغه چه په میات خانی میری کا
فراغت بې غمه ناست صاحب اقبال دی
ښه هغه چه که احمق وی که جاهل وی
په طالع په تخت صاحب دَ ملک و مال دی
ښه هغه چه په رشوه قاضی ګری کا
په مسند دَ قضا ناست په قیل و قال دی
ښه هغه چه ډیر لښګر ورپسی درومی
ډیر ئې کبر ډیر ئې جاه ډیر ئې جلال دی
ښه هغه چه په مجلس دَ ملوک ناست وی
تمامی عمر ئې زیست روزګار ټیټال دی
په عالم کښ بدی نشته واړه ښه دی
چه وَ بدُو وته روغ دی یو خوشحال دَی

ښارونی دِ غوا شینیِ پسی غواړی
باز دَ غره ښایسته زرکی سَرَه نغاړی
که په رنګ کښ لکَه غلوخه[1] هسی روغ دی
دَ خوړو هیله وَ مکړه له غوباړی[2]
یو آواز دَ ښو آسونو دَ ششنا دی
بل آواز دګنده خورنو دی چه ناړی
څوک ژړا دَ آخرت دَپاره کاندی
څوک د دې جهان دَ سود دَپاره ژاړی
دَګزار دَپاره لیندی په څو ناستَ دی
دَ قطرې په حرص ګرزی پسی شاړی
مرتبې دَ دواړو ندی سَرَه سِمی
څوک دَ ځایه باز شهند څوک څوړی ښاړی
که دَ ښنګ پرونه ئې هر څو کنبلی روغ دی
دَ بازونو پرواز مه غواړه له ښاړی

ښه سړی ګڼه هغه چه په زړه صاف وی
همیشه ور ښخه شرم هم انصاف وی
چه دا څو توکه ئې نه وی سړی نشه
هر چه کاندی نور دی کا هغه معاف وی
په دنیا چه دا عالم سَرَه خلاف کا
لکه سپی چه په مرداره ئې خلاف وی
نوشیروان چه مخ په عدل په انصاف وُ
که ئې ګورې ترقیامته ئې اوصاف وی
که دانا سړی بدرنګ وِی پدا څه شی
که د ښه توری ساز شوی بد غلاف وی
دَ هیچا غرض پدا خبرُو نشته
قلپ سره چه سره پیژنی صراف وی
جوهری به ئې خود کار سَرَه ښکاره کا
تر یاقوتو که شبه په رنګ شفاف وی
دَ یاریَ دپاره ګرزم نه ئې موسم
چه وفا لری هغه په کوم اطراف وی
دَ بخملو په اودل به خبر نشی
په شماره که د اودنیو بوریا باف وی
عشق په حق په باطل هیڅ ندی راغلی
تر کعبه ئې ډیر وَ بت وته طواف وی
ښایسته هر ګوره ډیر شول پرې ویریږم
ما خوشحال چه دَ تقوا وهلی لاف وی

عاشقان که ستا دَ لاسه په جفا مری
باری شکر چه په عهد په وفا مری
بیدلان می دَ هجران په تیغ قتیل وی
دا یَو حرف دَی چه په توره دَ قضا مری
زه مرده وم ستا دَ جام په ګوټ ژوندی شوم
چه ئې دا جرعه نوشلې غه په چا مری
زړه می ستا طرې طراری ته هوس کا
ځان می ستا غمزې بیماری ته رشتیا مری
اې تازه ګله بلبلی ته نظر کړه
په نوا کښ ستا له شوقه بینوا مری

---

۱. یعنی د شاتو مچیَ.
۲. د خره مچ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوار خوشحال په مرگی حال دَی ځکندن کا
راشه گوره په ارمان دَ لیدو ستا مری

عاشقان له بیش و کمه آسوده دِی — له وجوده له عدمه آسوده دی
دَ ساقی له لاسه ډکی پیالې اخلی — په مستی کښې دم تر دمه آسوده دی
بت پرست دی دَ مغان په خرابات کښې — خوش خرم خوشحال له غمه آسوده دی
ورځ و شپه باندِی تیریږی په ښادی کښې — هر زمان می له صنمه آسوده دی
تل ساقی دَ میو داد کا بې منته — کریمان می له کرمه آسوده دی
همیشه شونډِی دَ جام په مورگه[1] ییښی — په خاطر له جام جمه آسوده دی
پادشاهان که خزانې و بله آسپی — دا گدای می له درمه آسوده دی
په دریاب کښې ئې دَ عشق دَی غسل کړی — له حدوثه له قدمه آسوده دی
ای خوشحاله که نظر دربانذی وکا
ډیر ئې تا عُندِی له دمه آسوده دی

عاشقان چه دَ معشوقی دلداده دی — له همه واړه غمونو آزاده دی
په یَوه لحظه کښې هست په بله نیست شی — که ئې گورې عاشقان په زړه ساده دی
مگر زه له ځایه غم لَره پیدا یم — په هر دم راته غمونه آماده دی
نه یو زه دَ نظام پور په کوټ گښی پروت یم — سوختگان ئیٖ په هر لوری افتاده دی
په درون دَ عاشقانو نظر وکړه — دَ لاله غُندِی دَ داغ سَرَه زاده دی
ترک تاجیک عرب عجم عاشقان واړه — مست بې خود دَ دیو خمرو په باده دی
دَ هوا خدایان دِ لیری کا له دله — یَوه خدای وته چه ناست په سجاده دی
چه تر خپلی رضا تیر شی اولیاء شی — اولیاء له هَرَه غمه آزاده دی
غوبانه شپانه ظاهر سړی لیدل شی — په معنی کښې دَ پاده سَرَه پاده[2] دی
شیخه ته چه ډیر طاعت کړیې جنت غواړې — و جنت وته ورتله په اراده دی
عاشقان که معشوقه په تیغ ورژنی — ورمیږونه ئې و تیغ ته نهاده دی
چه دَ ننگ په چارُو نر نه دی خوشحاله
که ئې نر وینې په سترگو هم ماده دی

عمر هر زمان گداز کا لکه واوری — یا به ستا له مرگه واورم یا به واوری
هغه تیر یاران به بیا بیارته[3] را نشِی — که په سر باندِی را لونم توری خاوری
زور دَ چچ د وړلو نه لَرې نادانه — نه پوهیږم چه دا دروند وری په چاروی
په سمن دَ شهلا نقش دَ سیور زیب کا — په شیوه چه سترگی کوزی له حیا وری
دواړه سترگی مِی چه ستا په مخ دوخته شوې — عجب ښه له ځانه دوه قبله نما وری
دَ خوشحال غُندِی به ډیر دا هسی نور وی
ته چه هسی رنگه زړُونه رو نما وری

---

۱. یعنی کناره.
۲. دی کلمی ته محشی ییکلی دی: یعنی جارپای.
۳. بیرته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم آخر شو دَ ښادئ روزگار راغَی — چه موسم سو دَ گلونو گلزار راغی
په تلوار ئې تیاری دَ سیل کاندی — و بلبلو وَته وایه بهار راغی
پدا هسی خاصه وخت دَ ښو گلوُنو — دَ مطرب دَ ساز آواز می په کار راغی
دا ئې واړه له خزانه نه فریاد شی — چه گلونو ته طوطی په چیغار راغی
دَ هجران مشقت ډیر وُ خدای آسان کړ — بیا می سخ دَی چه عشرت د دیدار راغی
که په نوُرو باندی هر کله اختر دَی — په ما دا زمان اختر دی چه یار راغی

لون لون کالی بیا پیری خواجه شو
چه خوشحال دَ یار دَ مخ په بازار راغی

غم ښادی چه په جا ویر شی[1] — لکه ویر شی هسی تیر شی
سر رشته ئی مونده نشی — گوناگون دَ دور پیر شی
چه په خوا په خاطر نه وِی — هسی چاری په تا دیر شی[2]
په هجران کښ غم دَ یار دی — چه همیش تر زړه چاپیر شی
هر چه وَواته له سترگو — عاقبت له دِله هیر شی

چه به سخه په خوشحال کا
گُندِی ژر دَ ده په خیر شی

غنیمت گڼه گلُونه میخوری کړه په چمن کښی — چه به پس له هفتې نه وِی دا گلونه په گلشن کښی
په غنچه چه تطاول کا صبا دا کله باطل کا — دَ بلبلو کام حاصل شی[3] دَ گلزار په شگفتن کښی
وطن ښه دَی که غمخور وِی ښه یاران دی لور په لور وی — ځو چه شته که هونبره نور وی لا غریب یم په وطن کښی
هم ماښی شته هم عتاب شته هم ترخه تروه خواب شته — نه ئې شمار نه ئې حساب شته څه خوښی ده په دیدن کښی
اور اوبه نده نور څه ده چه په تله یا په راتله ده — په راتله په اور اوبه ده اور را بل کا په رفتن کښی
که ئې تل په ظلم زړه وی که می زړه له غمه چوِی — خدای د نکا دا به نه وِی چه ئې خوږ کړم په گفتن کښی
چه بلبلی وته گوری له آوازه ژبه ژغوری — د بلبل په آواز ښوری هونبره ژبه په سوسن کښی
چه جدا شی وَ دی مرینه له غمونو چه خلاص شینه — ځوک چه بې یاره پاینه سود ئې کوم دَی په زیستن کښی

که دَ سپی غُندِی ئې ولی په روروبه پسی زغلی
خوار خوشحال به ئې آخلی ځو چه ځان لَری په تن کښی

فلک کا دا هسی چاری — دَ ده چاری دِی مرداری
دوه یاران سَرَه جدا کا — بیا ئې بند کا سره لاری
گاه دِ زړه وِی په ښادی کښ — گاه دَ غم ژړا چیفاری
گاه دشواری کا آسانی — گاه آسانی کا دشواری

دواړه توگی گذران شِی
بده دا هم نه ده باری

که تن[4] سو که په تن اغوندې حلوا خوری — خو آخر دَ مرگ سرَی یې و به مری
دا مستی به دِ تَل نه وِی ځو به گرزې — په خمار سره اوُښتی سترگی سری

---

۱. ویر شی د قندهار په محاوره (ورشی) مگر دا کلمه په یوه نسخه کښ ډیر شی لیگلې ده.
۲. دیر شی یعنی درشی.
۳. حاصل کا.
٤. محشی ورته کښلی دی، چه یو ډول جامه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که بې شماره خزانې کړې سرَه ټولی | دَ دنیا ارمان به بیا وَ گور ته وری
ستا پخوا دَ طبیلو ځښتن وگوره | چه په کور باندِی ئې گرزی غوا وخری
همیشه وایې فانی دنیا گنده دَه | که گنده دَه ولی نه تیریږې تری
په دنیا څو ډیر مین هونبره غمجن شِی | جگی جگی راشه مکړه مینه پری

یَو غفلت بهل جهالت دریم شهرت دَی
دَ خوشحال دَ خان بلا دِی هم دا ذری

که په هند کښ نشته سپینه | هوسیٔ سترگه مه جبینه
خدایه ته وَ ماته راکړې | یَوَه سبزه نمکینه
به دوو زلفو عنبر پاشه | په دوو شونډو شکرینه
چه هر ځای وَته ئې گورم | ښایسته کښلې مهینه
هوسناکه ښیوه گره | شوخه شنگه زړه سنگینه[1]
دَ یاریٔ په علم پوهه | سخندانه نکته چینه

ورځ و شپه کا ځنی چاری
په خوشحال دَ کُښلی مینه

که په زړَه کړې دَ خوشحال خبری زبری | دَ دانش له کاره نه دِی لری بری
خلایق په تفاوت سرَه پیدا دِی | پوهیٔ نه دِی سرَه واړه برابری
په زرگونوُ کښ یَو دوه سړِی خبر دَی | نوری واړه خلقې دِی ناخبری
لکه کار دَ خوی خصلت په تفاوت دی | هسی زیږِی په ښایست سرَه دلبری

دَ سیرت زیبایی ښه دَه تر صورت
چارِی واړه دَ باطن دِی معتبری

که مِی نوم په ژبه نه اَخلې هیچری | په تش نوم به دِ هم سودکوم دلبری
دَ زاهد دَ سترگوُ آب هونبره په ځای دَی | چه ئې سترگِی باندِی[2] نه دِی برابری
دَ ښادییٔ نوم پرې زور[3] دَی تَل تر تله | چه په زړه ئې ستا دَ غم شیتیٔ[4] شی سری
زه به څه ځنی مانړه کړم یَو زه نه یم | په غمزه ئې خلقی کړلې ډیری
دَ ښو سیوره ئې خار[5] په پښو څرخیږی | له حیا چه کوز کوز گوری ناز پروری
شونډِی ستا لکه نبات هسی خوږې دِی | تر یخ ویل ځنِی نه ښایی لب شکری
وایی شته په چین ما چین کښ کښلی ډیری | خدای دِ نه کا چه تر تا به وِی بهتری
بې خبر له ځانه ډیر ورته[6] پراته دِی | ته یې هم په حال خبر شه بې خبری
دَ ختا دَ ملک نافې واړه خجل شِی | چه د تا زلفی ښکاره شِی معنبری

که دِ چیری دَ آشنا په لور گذر شِی
دَ صبا باده! ځما سلام پر وری

---

۱. دلنشینه.
۲. پر تا باندی.
۳. په قلمی نسخو کښ زور لیکلی دی داسی: نوم پر زور دَی تل تر تله.
٤. شتی.
٥. د خار.
٦. وَرته یعنی دروازی ته، یا در ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که می یاد که می نایاد کاندې مخدوم دی　دَ چا کر می له څښتنه حجت کوم دی
دا ګدا ئې وَ وصال ته څه هوس کا　چه پادشاه ئې له لیدنه نه محروم دی
په عاشق چه ستا له لوریه ظلم وشو　اوس په هر لوری چه دَی دروهی مظلم دی
همیشه ئې سوړ سوړ آه وِی ګونه زیړه　دَ ویشتلو حال که نه وایې معلوم دی
په جهان کښې چه څه رنځ وُ څه محنت وُ　هغه واړه سَرَه ټول شول عشق ئې نوم دی
هغه یار چه وفا دار دَی مونده نشی　په جهان کې دَ وفا هنر معدوم دی
دَ خاطر وینی می خوری په ننکی ننکی　له ګناهه ویره نکاندی معصوم دی
که یار سر غواړی له ده نه نه به نکا　هر چه پوه دَ عاشقۍ په رسوم دی
چه په عشق کښې موافق نه وِی اې دِلهِ　دَ هغه لیدَل په څه ګورې چه شوم دی
دَ دوږخ لمبې به نه رسی عاشق ته　چه دَ عشق په توره مړ شو غه مرحوم دی
ما خوشحال ته ستا دَ خولې اسرار مکشوف شو
که دا راز دَ چا له سترګو نه مکتوم دی

که یَو دم دَ یار په غم فراغت کښېنی　پدا دم به له عالم فراغت کښېنی
که دکار دَ محبت وینو په لاس کښې　پدا کار به خوښ خرم فراغت کښېنی
که ګدای شی دَ مغان په خرابات کښې　همیشه به لکه جم فراغت کښېنی
ډیر و لږ دَ زړه زحمت دَی که عاشق شی　ته به تل له بیش و کم فراغت کښېنی
که اختر دَی که نوروز دَی خو هم دا دی　مخ په مخ چه له صنم فراغت کښېنی
که په کوی کښې ئې مقام وکړې زاهده　په خاطر له ارم فراغت کښېنی
لاس په لاس بهشت دا دَی اې خوشحاله
چه خپل یار سَرَه یَو دم فراغت کښېنی

که دا عقل دَ همه خلقو یکسان وَی　سکه بایده وَ چه همه سړی لقمان وَی
د دې لال قدر به نه وُ په عالم کې　که دا کانې واړه لال دَ بدخشان وی
په پخسر[۱] به دَ هر چا کرَه پراته وُ　که دا دُر می دَ ژلۍ غُندی ارزان وی
هیڅ حساب به ئې په هیڅ جنګل کښې نه وُ　که درمی[۲] واړه ګنی دَ هندوستان وی
په خوراک به خرو غویو نه قبلولی　که ډبره دَ ونی پانې واړه پان وی
دا ټپوس به هم په لاس دَ بادشاه ناست وُ　که دَ باز او دَ شهند غُندی ئې شان وی
دَ لیلی او دَ مجنون مینه به هیڅ وه　که همه خلق لیلی او مجنونان وی
ما خوشحال دَ حقیقت په ژبه ووې
دریغه دریغه که څوک پوه پدا زبان وَی

که صورت وته دی ګورم په صورت کښې یوحیوان یې　که معنو وَته دِ ګورم شاهزاده دَکل جهان یې
چه ظلوم جهول یادیږې کنت کنزًا هم پوهیږې　ته و دا ته نظر مکړه چه دا غوښې استخوان یې
چه مسجود وُ دَ ملکو ځای ئې پاس وُ په فلکو　ته خلف دَ هغه هسی خلیفه پدر نښان یې
غوښې هډ څه په کار ندی دا دَګاو دَ خره هم وی　دَګدای په ګند کښې پټه ته یو څرنګه سلطان یې
چه ئې ستا په حال پیغور شو تر ابده ئې مخ تور شو　دَ چا نوش یې دَ چا نیش ئې د چا درد دَ چا درمان ئې
د دنیا عقبیٰ باغونه پکښې واړه نعمتونه　واړه ستا دَپاره جوړ دِی ته مقصود دَکن فکان یې

---

۱. دا کلمه عیناً ولیکه شوه په ځنو نسخو کښې پیخر راغلی دی تحقیق غواړی.
۲. یعنی نل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هر څو گلونه ډېر دِي تر حساب تر شماره تیر دی    دَ فطرت په حدیقه کښ نو باده دَ گلاستان يې
نور به څه وایې خوشحاله له دې حاله له احواله!
هم دا هونبره وَیل بس دی که پوهیږې نکته دان يې

که په باغ کې رنگارنگ گلونه ډېر وِی
هسی نه چه دَ گلاب دَ گل په څیر وِی
آشنایی دَ گبینه دَه که شکری
چه خواږه ئې په څو رنګه را برسیر وِی
ستا دَور دَ سپیو څو ثنا صفت کړم
چه تر پیره میره زړه وته را تیر وی
آرزو به دَ حیوان دَ اوُبو نکا
عاشقان د چه دَ خولې په میو سیر وی
چه په عشق سَرَه ژوندی دی مرگ ئې نشته
که په گورکښ تر دا تورو خاورو زیر وی
دَ غمزی توره ئې هر چرته وژل کا
لور په لور ئې شهیدان په دا شمشیر وی
تل ئې لوبی دی د ما د زړه په وینو
ستا دَ سترگو آهو ما ته لکه شیر وی
ستا دَ زلفو هر هر پیچ وته چه وگورم
همگی په رنگ و بوی لکه کستیر[1] وی
په خوشحال دِ یو زمان لیده وَ نکا
یو زمان ورته ترکاله هم لا ډېر وی
مگر هیڅ ئې دَ زړه حال ور ښکاره ندی
چه لیده ئې دَ خوشحال سَرَه ډېر ډېر وی

که راضی می په جفا او په وفا ئې
نور را درومه چه زه ستا یم ته څما يې
بی له ما که جهان ستا شی په اوربشه
چه زه ستا شم که اوربشی خورې دارا يې
که دِ طمعه دَ مخلوق له وره پریکړه
بادشاهی دی مبارک شه که گدا يې
غاړِی غرونه خبردار دی چه مجنون یم
که جهان پدا خبر دَی چه لیلا يې
ستا دَ غم په توره مړ په وردِ پروت یم
کله کله راته گوره مسیحا يې
جگی جگی په لیمه می قدم کښیږده
چه ړندې سترگی می روغی شی طوطیا يې
کله ما و تا روزگار په یه ځای کړ
بر بر راشه دَ یار سپیه چه اشنا يې
چه یاری له یاره کړې دَ سود له مخه
په خاوند می دِ سوگند وِی بې وفا يې
چه دَ یار سَرَه پخپل غرض یاری کړې
دَ یاریِ بلا په تا شه یار دَ چا يې
چه دِ بولم معطل مکړه را درومه
که دَ باز غُندِی حاضر په بړغ دَ بیا يې
په دربار می چوتری دی دَ سرونو
راشه واروه چه پخپل وَژل شیدا يې
چه دِ خوی خصلت دَ رنگ سَرَه جوړ ندی
رنگ دِ ورک شه که هر څو په رنگ زیبا يې
پدا هسی ښایسته جمال چه ستا دَی
غم شدت فتنو آفت لره پیدا يې
په امید دی دَ لیدو په ورکښ پروت یم
که ته هر څو له خوشحاله بې پروا يې

کله خپل بشر دَ گل غُندی نما يې
کله کله دَ بلبل په ژبه وایې
چه هر هر زمان په هر شگَل جلوه کړې
عجائبه دلربایه خود نما يې
په یوه ویښته دِ نه ارزِی دوه کَونه
په غایت لکه گوهر قیمت بها يې
دَ خپل درد دوا به زه له چا نه غواړم
چه هم ته محبوبه درد يې هم دوا يې
کله ناز کله ښکنځل کړې کله مهر
له خوشحاله مَروره که پخولا يې

---

۱. دا کلمه عیناً ولیکه سوه، معنی د مشکو به وی یا یو قسم خوشبو دار گل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ئې لرې له جماله نه جلباب شي    حبطه به بې تر مخ پورې آفتاب شي
که ئې بوی دَ پیچا پیچو زلفو ورشي    په خطا کښې به بې قدره مشکناب شي
څو بوسې که له دشنام سَرَه آمیز کا    شماتت به ئې په قند و په ګلاب شي
که هر څو له زیبا مخه خاطر نیسم    زړه می بیا په اضطراب لکه سیماب شي
یکباره ئې قرارَی له ما نه واخیست    سرسته شپه په ما حرام شه که می خواب شي
دَ هغو طاعت قبول ندی نور څه دی    چه سجده ئې تل دَ ورځیو په محراب شي
دا پیاله چه ځما نوش دَه زه پرې مست وم    دا مستی می نه په بزم دَ شراب شي
دَ رندانو دَ شرابو هسی کار دی    چه زاهد ئې هم په بوی سره خراب شي
نا محرم می و صحبت ته څه هوس کا    چه ځما له محرمانو هم حجاب شي
که یو ټول دَ ښایسته وَو سَره کښېني    خو هم بویه دَ همه وُو انتخاب شي
غه روپی چه دَ ټنګ سال له لاسه نه وی    و صراف وته ظاهره په هر باب شي
دروغجن غشی که هر څو ثابت روغ کړې    خو به بیا دَ هلوکانُو تیر پرتاب شي
دَ خرما وَنه خو سازه کړی له مومو    دَ خرما غُندې به کله ترې دوښاب شي

ما خوشحال چه په پښتو شعر بیان کړ
دَ پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

که په عشق کې زړه دَ نورُو په لیده ځې    ځما زړه په اورېده تر لیده ښه ځې
نوری مینی ئې ځما له دلِه یو وړې    یکباره می په لیدو پسی لیمه ځی
هسی یاد بویه چه یَو ځله یار یاد کړې    نور دِ وینی لکه باز تر هر ویښته ځی
پکښې خیال دَ سبر قدو دَی پالم ئې    چه می هر کله تر دوو سترګو اُوبه ځی
که په زړه شوی زه په اوس دَ یار سَرَه وم    چا وې دا چه پښې هورې دروِمی چه زړه ځی
نه په زړه ده نه په پښو دَ خدای په کړه دَه    دا غریب سړَی همه دَ خدای په کړه ځی
که دَ مال وه که دَ ملک وه که د زر وه    وار په وار می دَ زړه مینه له هر څه ځی
دَ دنیا مینه په زړه باندی لوی بار ده    آزاده به بار په زړه و ګور ته نه ځی

روغ به خوب دَ بی غمیِ کا خوشحاله
چه څه خورِ دَ زړه لری خوب د هغه ځی

که می سترګې د باور کړې سَرَه لواتی    په جهان کښې خو نیکی دَه نوری باتی
که دِ لاس د نیکی نه رسی دَ زره کړه    راشه واروه "الاعمالُ بِا لنیاتی"
په جهان کښې که حجاج که نوشیروان وُ    هم دا داد، او دا بیداد شُو ځنی پاتِی
له قسمته به نه کم نه به څه زیات شي    دا دواړه اندیښنې دِی کم و زیاتی
که په څه هنر دِ هونبره توان رسیږی    چه به ته کړې د مرګی لښکری ماتی
بیا هاله په جهان خوښ ګرزه هوس کړه    ګنه نوری اندیښنې دِی بې ثباتی
د دنیا ودانی خونی چه لیدې شِی    عاقبت به ئې مرګی کاندی میراتی
له دنیا نه هم هغو ده بخره وَړې    چه ئې نوم شِی د نیکَی پکښې پاتی

سر تر پایه د خوشحال سره لباس کړې
خدای دِ واخله لباسی دنیا کم ذاتِی

که میوه دَ چندڼ نشته هسی شنډ دی    لا ئې ښه تر میوه دارُو ونو خنډ دَی
وایې زه به په تا وکړم ځنی چاری    زه د دی چاری ارمان لَرم ډېر ځنډ دی
که می ځان ځِی که جهان پرې به ئې نړدم    ما نیولې اوس دَ عشق دَ سپرو منډ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدا لار دَ شهسوارانُو ختل گران دَی     گوډه څو به باندِی خيژي ملکنه[1] دی
زه او دا دَ هر ناکس سازی ناسازی     که رشتيا وايم خپل ځان را باندِی پنډه دی
که مثال ئې په دنيا غواړي له ما نه     چه الا بلا پکښې دِی هغه ډنډه دی
دَ چرِې دَ لاره کار نشته  ناپوهه     چه تبرُونه پرې ماتيږِی هغه خنډه دی
يا سبا دَی يا غرمه دَه يا ماپښين دَی     مازديگر دَ ښکار تکل کړم ساعت لنډه دی
ځوک دَ حج، ځوک دَ تلقين ځوک دَ مکتب شول
يَو خوشحال په واړه خلقو کښې لونډه دی

کام دَ زړه که هر څو ښه دَی     تر ايمانه نه ښه نه دَی
چه ئې دا انديښنه نه وِی     هغه کس سَرِی په څه دَی
اعتبار پدا دنيا کښې     دَ سړی لکه ليمه دی
دَ هر چا چه ليمه نه وِی     که بادشاه دی خوار په زړه دی
سپی به ښه کړم تر مزری نه     سپی دَ کور مزری دَ غره دی
خر که بد دی بيا وری وړی     بد سړی بتر تر خره دی
ته ئې ويښ وينې په سترگو     غافل ويښ ندی اوده دی
په رشتيا کښې زوال نشته     دا د ما کلام په وله دی
اوليا بللی بويه     چه حلال په خوله په زړه دی
ته ئې سست وينې په سترگو
دَ خوشحال اختيار تيره دی

که په حسن دَ کشمير خوبا اوڅار دی     يا د چين او دَ ماچين يا دَ تاتار دی
پښتنې جونه چه ما په سترگو ځير کړې     هغه کل واړه خجل دَ دُوی تر کار دی
په ښايست باندِی ئې ختم دا وينا دَه     چه په اصل دَ يعوب قوم و تبار دی
هيڅ حاجت نشته دَ مښکو دَ گلابو     په پنځه وخته لمانځه عطر عطار دی
که ټيکه که کټماله که نور سنگار دی     دا همه تر تورو زلفو پوری خوار دی
که اوډنۍ[2] مقيش دوزی که سالو[3] دی     دا همه واړه تر سپين پړونی ځار دی
تر صورت ئې دَ سيرت خوبی افضل ده     تر ظاهر ئې دَ باطن خواږه بسيار دی
کل روزگار ئې سر تر پايه پرده پوښ دی     نه گريوان تر نامه څيری په بازار دی
له حجابه پورته غټ کتلی نشی     نه آموخته په ښکنځلو په پايزار دی
ما خوشحال له ډيرُو لږ دِی څه وَيلی
له دې حاله گوی مگوی وَيل بی شمار دَی

کله رند غُندی ملا واقف دَ راز دَی     دَ کتاب دَ مسلو زبان دراز دَی
زه مريَی دَ هغَه چا يم ترې ځاريږم     چه دَ زړه سَرَه ئې جوړ دَ خولې اواز دی
چه ئې رَو دَ خولې دَ زړه سَرَه يَو نه وی     که په هر لمانځه اودس کا هم بې نماز دی
وار په وار ځما په زړه کا هسې چارِی     که دَ ستگو ئې غمزې دی که ئې ناز دی
لا به ډير گلوُنه وا شی پدا باغ کښې     دَ گلزار دَ غوړيدَلُو ئې آغاز دی

---

۱. دا کلمه په يوه نسخه کښې جلا ليکلې ده مله کنه يعنی مه څه چه کنده په مخ کې ده.
۲. پړونی، چادر.
۳. که شالونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک به نه وي چه به غاو وربانديِ نکا
دَهر چا وَ ملامت ته عاشق ساز دی
ځان و تن سَرَه مثال کړه دواړه توکه
محبت که حقیقت دَی که مجاز دی
چه عزت ترې پیدا کیږی قناعت دی
چه خواری ور ځنی زیږی هغه آز دی
زه خوشحال له خپله بخته دلگیر نه یم
چه ځما ستوری ځائی دښمن گداز دَی

که هر څو پخپله پوهه کښې سقیم یې
دَ حکیم په حکم کار کړه نور حیم یې
که په خوله په غوږ په سترگو څه زده نکړې
نور ور درومه ازلی سیه گلیم یې
دَ سیرت خوبی پیدا کړه چه جوهر دَه
په صورت خو هڅ وغوښه وینه ریم یې
پیر اوستاد مرشد به واړه درته شا کا
که په جهل مرکب کښې مستقیم یې
عاقبت به دِ په بخره ندامت شی
چه دا هسی دَ جاهل سَرَه ندیم یې
دا دانش چه دَ هندو دَ شمار حساب دی
که ته دا دانش دانش کښې لیم یې
سخاوت په روایت په روخ په رنگ کړه
نه چه درسته دنیا وَبازې کریم یې
همیشه په زړه خوشحال اوسه غم مکړه
په اخلاص چه وَ دانا وَته تسلیم یی

که هر څو په هوا پرونه وَهِي چتی
بیا ئې زړه وِی په ډکی دَونی نښتی
شاه زلمی توری[1] نیزې خوری تردد کا
په بریښنا دَ توری تښتی تیر آرتی[2]
سترگه ور اور اورکښې وینی چه بریښی
نوې میاشت په سترگو نه وینی سترگ تتی
ناسوتی عالم په څو په دنیا شخ دی
هلک تل دَ مور په تی پوری وی نښتی
دَی دَ خپلی گوتی غم کاندی که نه وی
په شگون کښې عالم ښه گڼی شپږ گوتی
په هر ښکار به بې خطا چورب آلوزی
ما خپل باز دی په پهرو پهرو پرانتی
که ئې بل له بدبویی سیږمې نیسی
دَ خپل بوی په بد بوئی خوښ وی خسا گوتی
څوک به څه لَره خوشحاله ته نصیحت کا
عاشق نه دی نصیحت دَ چا نه نغتی[3]

که هر تار ئې دَکوځې مشک تاتار دَی
دَکوځې تر تار ئې ښه دَ زلفوو تار دی
هغه ځای چه می دَ زلفو بازار جوړ شی
هغه ځای می دَ ماڼیو[4]تش بازار دی
چه لذت دَ تورُو زلفو را تر زړه شی
دَ ماڼیو زیست روزگار کله په کار دی
دا خبره څه عجب دَه چا ویلې
چه دَ تورو زلفو بد سوی تاتار دی[5]
چه دَ تورو زلفو خیال ور څخه نشته
توری خاوری ئې په سر عمر ئې خوار دی
که همه دنیا پری وَښندی هم هیڅ ده
هغه کس می چه دَ زلفو خریدار دی
خوار خوشحال چه ډیر صفت کاندِی دَ زلفو
په قیمت دَ تورُو زلفو خبر دار دَی

---

۱. توری تیرې خوری.
۲. په بریښنا دُ توری تښتی تیز آرتی یا په پریښنا دَ توری نشی تیز آرتی.
۳. نغوتی.
٤. دا کلمه په یوه نسخه کښې ماڼویو لیکلې ده یعنی څوبنی چه یوې خوا او بلی خوا ته وی.
٥. ناتار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هزار ځله هنر کا هیلی بیلی[1]    څوک به نکا دَ ازل چاری تبدیلی
دَ ازل حکم په مثل دَ هاتی دَی    دَ سړی فکر مثال پړی دَ ډیلی[2]
دَ حیات اُوبه سکندر په هیلو غوښتې    خضر بیا مونده عبث شوې دَ ده هیلی
یَوه څرنگه خونریزه لار دَ عشق ده    پکښې ډیری قافلې شولې قتیلی
عشق یو هسی یودیرشم توری را زده کړ    چه په دیرش توری څکوم دَ قلم کښلی[3]
عاشقانو ته اندک دَ دنیا مال دَی    تر همت پوری کثیری دِی قلیلی
دا دلبری چه په دا کشور کښې نن دی    په کشمیر کښې به ئې نه مومې عدیلی
هغه تُرکه چه ځان جور کا را ښکاره شی    تر جمال ئې حوری هم ندی جمیلی
په ارمان ارمان می ځان راغی په شونډو    تا دَ شونډو دارُو نه راکړه بخیلی
بیا هاله دَ محبت په کوڅه پَل ږده    که دِ وینی لکه ما کړې سبیلی
خپل پردی به دِ هیڅوک سیله وَ نکا
اې خوشحاله که دِ بخت نشی په سیلی

که خاطر دِ دَ خوشحال نه دلگیر دی    په خوشحال باندی هم ستا دَ مانې ویر دی
دَ بیمار ساهه په شونډُو باندِی راغله    دارُو گر ئې لا علاج ته په تدبیر دی
دَ موسی په معجزه به څه گروهیږی[4]    دَ فرعون چه هامان غُندِی وزیر دَی
یار ځما په پالنگ ناست زه ولاړ په خوب یم    سرا سر ځما له لوریه نه تقصیر دی
ما خپل سر تر فلک ولیده په پورته    د دې خوب می معبره کوم تعبیر دی
بیا می کینه سترگه لاندی باندی راپی    مگر بیا می زړه یاریَ وته خیر دی
بې وفا سړی دِ یار دَ هیجا نشی    چه دایم ئې په یاریَ کښې تزویر دی
په ژړا پوری می خاندِی چه می وکوت    دا همه واړه د ما د بخت تاثیر دی
هیچ یَو مخ به ئې مخَی دَ ښایست نکړم    ما چه ستا جمال لیدلی په ځیر ځیر دی
د ما زړه دَ یار زلفینی سَرَه گوره
لیونی په لیونتوب کې په ځنځیر دی

که پکار دی ده دَ خدای بیژندگلی    پیروی دَ محمد (ﷺ) کړه دَ علی (رض)
هر آیت چه به راته پاسه له عرشه    لا په عرش به ئې علی وُ متلی
محمد چه هغه راز ئې په معراج کړ    یکایک وُ و علی وته جلی
په محشر به هغه تور مخونه پاڅی    چه ئې نه دِی توری خاوری دَ تلی
محمد علی چه دوه وینی په سترگو    پدا کار کې احولی دَه احولی
دَ زړه زنگ په بل صیقل نه لیری کیری    په دوستی ئې دَ علی  ده مصقلی
که دا هونبره وَیل کا ورته رخصت دی    محمد دی پیغمبر علی ولی
چه په بغض د علی یاد عمر(رض)  دی    رافضی دی خارجی دَی خللی
دَ علی دَ آل دوستی دَ ایمان زړه ده    څوک دِ شک پدا په زړه نه راولی
چه تر منځ دَ چاریارانو بد وَیل کا    په مذهب کښ دَ هغو ده درغلی

---

۱.  خپلی سیلی.
۲.  یو راض چمنی واښه دی.
۳.  یعنی خط او د گاډیَ د عربې خط.
٤.  یعنی منل او گرویدن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ علی دَ آل په مدح کښې جنت دَی
دَ خوشحال خټک پدا دَه تسلی

که رُویت ئې نا ممکن دَی په دنیا کښې — دَ اَرنی وَیل به نه وُ په موسی کښې
چه موسی وته ځواب لن ترانی وُ — څه عجب جلوه لیدله شی پدا کښې
چه په ملک په ملکوت کښې مونده نشی — هغه هسی څیز ئې ایښې دَی پما کښې
زه حیران یم پدا خلقو نه پوهیږم — تږی مری ولاړ تر حلقه په دریا کښې
چه په لا احصٰی وَیل ئې خبر دار کړم — چا د ما ژبه گویا کړه په ثنا کښې
دَ عاشق دَ معشوقې سَرَه یو راز دی — چه هیڅوک ترې خبر ندی په دنیا کښې
چه لیلی کړه دَ مجنون کونډی[1] ماته — خوار مجنون ئې سر افراز کړ په هرچا کښې
نور که هر څو پاکیزه زه گناهگار یم — غم می نشته بیا می ځای دَی په ماوا کښې
دَ خوشحال دَ هغو لار سَرَه جدا دی
چه ئی غواړِی په مسواک په مصلی کښې

که چرگان کرکره[2] دار دی — بیا و باز وته ناچار دِی
نه َیو باز دَ ښکار دَپاره — نه که چرگ چرگی هزار دی
دَ معشوقی ښیوې واړه — دَ نور چا ندی دَ یار دی
عاشق عشق لَره پیدا دی — کفر دین ئې څه په کار دی
عاشقان دَ معشوقې دی — نه دَ مور دِی نه دَ پلار دی
دَ خپل وَر عاشقان گوره — چه په څو پراته خاکسار دی
په هغو دَ خدای نظر دی — چه مَین په ښه دیدار دی
عشق ناپوه وَته اسان دی — ورته گران دی چه هوښیار دی
په خوشحال به عیب نکا
چه په حال ئی خبردار دی

که اسمان دَ چا په حکم جار وتلی — ځنی چاری به وشوې تا کتلی
په ړندو باندی لا هسی توره شپه دَه — که همه عالم ئې وینی نمر ختلی
هم ئې هیڅ راته پرې نښول هم بیا وائی — چه ډاډه اوسه لا هیڅ نه ئې نتلی
بیا ئې شکل په څه شان راته ښکاره کړ — لکه باز وِی له کریزه را وتلی
چه ادب ور څخه وِی صحبت هغه کا — بې ادب له مجالسه وِی یستلی
هغه یار می لکه باز په پرواز ولاړ شو — طالع بیا ځما تر لاسه را وستلی
ځان چه نن تر مَین ځار نکړې خوشحاله
ځان به تا وِی وَ نور چا وته ساتلی

که په کور کښې دی سردې دَ بدخشان وی — یا ږنکوری دَ انگورُو یا رمان وی
چه ئې زړه ور څخه موړ وِی نه ئې گوری — دَ وږ سترگیو ورته څو رنگه ارمان وی
موړ به څه پوښتې له نغن[3] چه نغن دی — وږی سپی خوړلی نغن ته نگران وی

---

۱. لرگینه کاسه.
۲. یعنی طره او کاکل.
۳. یعنی د تنی ډوډۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کښلی معشوقې ته نظر نه کړې — کله کوڅې درته هم راحت جان وی
په ساعت ساعت کښې حال باندې نوریږې — چه می ولیده سړی کله یو شان وی
دَ سړی فکر په مثل دَ سیماب وی — اضطراب ئې هر هر خوا ارمان ارمان وی
کله کله ښایسته شی په گلونو — کله کله لکه باغ باندې خزان وی
کله کله دَ خوښۍ په صحبت کښېنې — کله کله په غمونو کښې حیران وی
چه دایم په یَوه حال دَی هغه خدای دی — چه حالونه پرې ور درومی دا انسان وی

آخر تله دی له جهانه باور وکړه
که هر څو خوشحال ژوندی پدا آوان وی

که هر څو یې پدا خپل حسن کښې لویَ — دَ یارۍ حق هم بیژندلی بویَ
ما به زړه لتانه وتاړه په بله — که موندی شوی هسی تا غُندی دلجویَ
دَ شرابو په خوړو کښې فهم وکړ — چه دِ نه شی دا پیاله له لاسه تویَ
چه مکان ئې نا پیدا نښان ئې نشته — څوک به څه غواړي دَ شپینُو بازو هویَ[1]
د تشنه خودَ اوبو سرَه مقصود دی — که اُونه ئې دَ دریاب وِی یا له جویَ
عاقبت به برخوردار پخپل مراد شې — که دَ پلار په نصیحت کښې درومی زویَ

دَ خوشحال وَیل خواږه تر نیشکری دی
که په خوند ئې خبر دار شی وئې ژویَ

که ته خوله و ماته نه راکړی ملکیَ — بلی هم راته نومړې دَه خولکیَ
په غمونو کښې دی هسی ځنځیری[2] شوم — لکه اوړکی چه زبون شی په بلکیَ[3]
په کړکتیو[4] کښې دی ډیر زړُونه پراته دی — پدا دوه زلفو دَ زړونو یې غلگیَ
چه څراغ ورځنی دورمی پتنگ خوار شی — یو زمان له ما نه مه درومه دلکیَ[5]
ما دَ ښو مخونو ښه نندارہ وکړه — نشته تا غُندی زیبا بله جلکیَ
ما ساده پښتانه څه زده چه ئې وائی — په پارسی پارسی خبرو مغلگیَ

جدائی ئې هسی سخته په خوشحال دَه
لکه څی دَ چا له ځانه نه سلگیَ

که اشنا که نا اشنا دِی — بولاق واړه بې وفا دِی
که ئې خویښ کړې یا ئې خپل کړې — شاهی بیگ ُندی بلاَ دی
چه آصف خرم ښه نشه — نور خرم په یار دَ چا دی
خوشحالی که یار غاروه — هم دَ ده نه دا غوغا دی
که ئې ځان کړم یا ئې زړه کړم — ځان و زړه کله ځما دی
نه ئې ننگ شته نه ئې شرم — نه پخپل قول وینا دی
چه کوتک ورته ښکاره کړې — لکه بنځی واړه ستا دی
پخپل سود پخپل مقصود دی — بند په خپله مدعا دی
د سیالانو خوی ئې ندَی — په بیکار خصلت پیدا دی

---

١. ها یا هوی یعنی هگۍ او بیضه.
٢. زنځیری شوم.
٣. د وړو ماشومانو د سونو مرض.
٤. پړکه، دام، جال.
٥. د دل اسم تصغیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخامخ وتا ته خپل شی
پردی واړه پس شا دی

که په فضل شی څه غم دَی    که په عدل شِی ماتم دَی
له گناهه به خلاص نه وی    چه په نوم بنی آدم دی
چه ظلوم جهول ئې یاد گړم    که پویږې ډیر کرم دی
په لاتقنطوا تکیه دَه    گڼه اور ووری تور تم دی
زه هغه ناتوان ضعیف یم    چه میږی تر ما محکم دی
پدا ضعف هغه بار وړم    چه تری تښتی درست عالم دی
که لویئ ته می گورې    میاشت و نمر دَ ما پرچم دی
اسمانونه می خیمې دِی    پرې دَ ستوریو زینت تم دی
لا می نور باغونه نور دِی    کمکی باغ مِی دَ ارم دی
غم می هیڅ نشته خوشحال یم
که خپل بخت را سَرَه سم دی

که دَ یار دَپاره غم شدت څوک مومی    په خندا خندا دی مخی ور درومی
دَ هغه سړی یاری څه یاری نده    چه بې یاره ئې اوبه درومی تر کومی
زه له ورایه ورته گورم یار می گوره    دَ اغیار سَرَه دَ میو پیالې شومی
ما به څه پوښتې د ما دَ یار له نومه    یو بې رحم بې وفا بې مهر نومی
نه ئی زه یوازی قتل په غمزهو یم    څو ئې ما غُندی په ورکی دی لړومی
په فراق ئې دَ ما اُوښی هسی تله کا    لکه څوک چه اخته سوَی وِی په دومی
دا دواړه بدان نه گوری له کسته    په ښه مخ باندِی و مشه دانی سپومی'
که تازه یاریِ ښی نه دی خوشحاله
څوک به نه خوښوِی غوښی دَ ورغومی

که سړی په مصلحت کښ لَربر نشی    زه صامن چه دَ ده کار به ابتر نشی
و هغه ته سړی مه وایه چه پوخ[1] وی    آراسته څو سر تر پایه هنر نشی
که هر څو مشکل کارُونه درته پیښ شی    فکر مکړه چه آسان به په زر نه شی؟
ما چه ولیده څو زر دِی پدنیا کښ    څو سَړی دِ ئې په مینه کافر نشی
زویه یار که لاف کَوی باوری ندی    څو په ډیری حادثې دی باور نشی
دَ رستم دَ مړنتوب خبری اَروم    ولی څوک به بې لښکره صفدر نشی
چه دَ مرد دَ نامرد شناخت ور څخه نه وی    بد صاحب څخه دِ هیڅوک نوکر نشی
دَ خوشحال خبری واړه نصیحت دی
مگر خر وِی چه په زړه ئې اثر نشی

که تا وته حیران دی دَ لیلی حکایت کړونی    و ما وته په ځان دی دَ مجنون روایت کړونی
د هر ویښته په سر لَرم زه تا سره زر کاره    خبر ندی له حاله دا بی کار نصیحت کړونی
څه ښه وشول طالع وې چه ئې ولیدې په سترگو    تر ما پوری خجل شول دا د ما ملامت کړونی
دَ حسن یغما چه دِ د الجه راوړی وَ زړونو    پیځک دِ ستا وَ سترگو ته بیل کا قامت کړونی

۱. چه پوچ وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه درد لَری په زړه کښ دَ هغه دارو موندل شی
هیخا لیدلی ندی دَ بیدر د طبابت کړونی
چه زه دَ بت سجود کړم مخامخ راته حاضر دی
څه څیز وینی حیران یم دَ مسجد عبادت کړونی
کوم ملک دَی له ما پاتو چه می پل ندی پریښی
هر ځای به ورته یاد کړم که څوک سته سیاحت کړونی
په هسی ځای مین یم چه ئې نوم واروی وګړی
نور تښتی تار په تار شی دَ خوشحال حمایت کړونی

که هر څو په سر د خیال دستار زرین ړدی
عاقبت به سر دَ خاورو په بالین ړدې
دَ سلیمان غُندی هم پریوتل له تخته
په فرس باندِی به څو دَ زرو زین ړدې
دغه پښې به دی خوراک شِی دَ چمچیو
چه ئې اوس په شین شین په قالین ړدې
په ارمان به خالی لاس ورځنی درومې
که په کور کښ په هر لوری سره او سپین ړدې
په الا بلا که ټول دَ دنیا ګنج کړې
پخپل زړه به داغ په دم واپسین ړدې
چه کردار ئې دَ ګفتار سَره سَم نه وِی
تش ګفتار واړه په ځان باندی نفرین ړدې
تا په زړه کښ سل خدایان دِی کښېنولی
راته وایه سر و چا ته په زمین ړدې
دَ غفلت تسپې په ورځ و شپه جار باسې
څو منت به په کرام الکاتبین ړدې
هر آیت ئې دَ معنو په سترګو ګوره
دَ صورت سترګی تر کومه په یاسین ړدې
یو قدم که په رشتیا له دنیا واخلې
خدای ړو بل قدم په پاس په علیین ړدې
که اسلام دَ خلقو دا دَی اوس خو بویه
چه هندو غُندِی ټیکه پخپل جبین ړدې
زمانې څه نا انصافه را ښکاره شوې
پانیاتونه پدا دور آخرین ړدې
شاه جهان غُندِی بادشاه په بند بندی کړې
په اورنګ باندِی خطاب د محی الدین ړدې
دَ مچی لاشه هم جوړه ور سَرَه وړې
په هر حلق کښ چه خواړه دَ انګبین ړدې
دَ خوشحال خټک کوم جرم کوم ګناه دی
چه په زړه کښ ئې آهونه آتشین ړدې

که منصور غُندی کافر دَ محبت شې
ته به هاله مستقیم په شریعت شې
دَ هوښیارُو مجالس به ورته هیڅ شی
که دَ عشق دَ لیونیو په صحبت شې
دَ جهان خواړه به تا وته ترخه شی
که خبر دَ یار دَ مینی په لذت شې
فراغت به د هاله وَ زړه ته ورشی
که له خلقو کناره کنج و خلوت شې
دَ جهان په خزانو به دی صندا شیی
که تونګر په خانو دَ قناعت شې
که نظر دَ کیمیاګر دربانډِی وشی
که ته خاوری ئې تر زرو په قیمت شې
دَ بې آبی مرغلری هیڅ قیمت وِی
په زیبا سیرت به قدر دَ صورت شې
اې خوشحاله بتخانې دِی زړې[۱] ډوندی
خلیلی ناره پرې وکړه په همت شې!

که په مخ باندِی خالُونه عنبرین ړدې[۲]
هونبره داغ به په خاطر د ما مسکین ړدې
دَ پیالی اُوبه خوړی شی تر نباتو
په پیاله باندِی چه دواړه لب شیرین ړدې
خدایه زړه په ما دَ ښکلیو مهربان کړی
ته پهزړه کې دَ بتانو مهر و کین ړدې
دواړه زلفی چه وَلوَل سَرَه حلقی کړی
په هر وَل کې ئی ګلونه دَ نسرین ړدې
خدای دی نکا چه ئی یَو سر کړم یا بل سر
که تل می په دا چشم جهان بین ړدې

---

۱. دا کلمه په څنو نسخو کښ زړ ډونډی لیکلې ده، یعنی نسل، خټه، نسب.
۲. دا بدله په نورو نسخو کښ نسته، له یوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا دَ پله خاوری رنځور غُنډِی آخلم
په هر ځای چه قدمونه په زمین ږدې
ستا تمامه خندا بخت دَی څوک ئی مومی
په دا نیمه خندا طعن په پروین ږدې
گه لیدلی دی دَ عشق قمار خانه دَه
ه لمړی بازی په یار ته دل و دین ږدې
آفتین دی ه وَیَلُو شه خوشحاله
په بیاض باندِی عجب شعر رنگین ږدې

که هر څو دِی پښتنې جونی طنازی
دا دَ هند سکښی هم نه دِی بی نیازی
نه ئې جنگ نه ئې ماڼی نه ئې هوډُونه
څړه[1] مهری څړه مینی څړه نازی
خو یوه زره پړه[2] نا سازه درکا
په ماڼی کښ نه دعوې کاندی آغازی
په خدمت کښ تر صباحه لکه شمعه
په یوه قدم ولاړی ځان گدازی
په غمزو په کرشمو په مکیزونو
فرخ بخشی، غم تراشی، دلنوازی
په ادب په ظرافت په رموږ پوهی
دَ صحبت په علم څو رنگه ممتازی
که هزار جورو جفا وینی له تا نه
بیا له تا سَرَه خندا کا په خوله وازی
نَوې نَوِی شیوې کا درته جوړیږی
په څو رنگه جلوه کا جلوه طرازی
د ښو څوکی ئې نیغی ځی تر زړونوُ
چه تیره تیره کاته کا لکه بازی
په جیو جیو درته پسې خبرِی وایی
هر زمان له تا په څو رنگه همرازی
عجب سرې په پاڼو شونډِی درته خاندی
میخی غاښ په مسی تور عشوه پردازی
غټې غټې تِی لکه انار په ملا نرِیَ
سر تر پایه دَ اوُمو وریښمو سازی
دَ صورت په لطافت بې مثله روغی
په قامت تر سروِ ونی سر فرازی
خرخښې ئې دَ خوشحال له دله نه ځی
که جدا دِی دماغی باریک مجازی

گله ته چه زیبایی د دې چمن یې
خار و خس وته په څه په خندیدن یې
دَ خپل ځان په قدر ولی نه پوهیږې
پدا باغ کښ خو یَو ته نازکبدن یې
دَ بلبلو ږغ به تل دربانډِی نه وِی
کښلیه گله په وفا کښ مبرهن یې
پخپل بوی دَ بلبلانو خاطر خوښ کړه
یَو څو ورځی چه تازه پدا گلشن یې
که جفا و چاته وایم شمار ئې نشته
پدا هونبره ستمونو جان من یې
چه دَ یار له جوره چا وته ژړا کړې
دَ یاریَ بلا په تا شه دروغجن یې
په یاری پوری دِ پیچمی کا خوشحاله
فکر ښه وکړه په چا باندِی مین یې

گله ته چه په بلبلو هونبره خیال کړی
دا خیالونه همگی پخپل جمال کړی
دا جمال به دی جاوید په جهان نه وِی
ښه خو دا گڼه چه شکر په دا حال کړی
دَ انصاف په سترگو ښه ننداره وکړه
جهان څو کښلی چهرې هسی پایمال کړی
ډیرِی خونی دَ هجران په لمبو وسوې
ما لیدې چه تجلې ئې په وصال کړی
دَ بهار گلزاره ښه یې خوی دِ بد دَی
چه راتلَلَه یَو څو ورځی په درست کال کړی
تر قدرت به دِ ځاریږم ذوالجلاله
رنگارنگ گلونه ښه[3]هسِی نهال کړی

۱. سره مهری.
۲. منت.
۳. ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ بلبل دَپاره تَل وَی په چمن کښ　　د پسرلی گله تله ولی دم در حال کړی
که دِ سترگی دَ عرفان شته مبارک شه　　دَ گلزار په نندارہ چه استقلال کړی
گل ته هسِی رنگ و بوی ورکړیَ چا دَی　　دَ لاله دَ گل چا هسی پاڼی لال کړی
چه گلونه دَ گلشن همیشه گوری
لکه خضر هونبره عمر دَ خوشحال کړی

گل کرَم اغزی ترې زیږی　　نوشدارو می زهر کیږِی
چه می څراغ په اوبو بل وُ　　اوس په تیلو نه بلیږِی
که ئې مخ وِی که ئې شا وِی　　پخپل بخت هر څوک پوهیږی
هَرَه ورځ که سل غمونه　　له جهانه را رسیږِی
ځما زړه پدا ډاډمن دی　　غم ښادی واړه تیریږی
هم خزان هم به پسرلی وی　　چه اسمان په سر څرخیږی
ځما اُوښی گرمی ندی　　که سیلاب غُندِی بهیږِی
په حضور دیدن ئې وینی　　ظاهر خان ځنی بیلیږِی
اوس خو اور په خوشحال بل شو
بیا به څرنگه سړیږی

لا منت لَرَم پدا هم له اسمانه　　نندارہ دَ ابا سیند له میر کلانه
په تیراه په سوات په خوړه ور په ور شوم　　بیا می کوم لوری ته ته بیایې اسمانه
لکه گوی هسی په حکم دَ چوگان یم　　درست وجود پرهار پرهار یم له چوگانه
سر نوشت می له ازله مگر دا وُ　　زه به څه لَره ماڼه کوَم له چانه
قدیمی دَ پښتنو جهل خرتوب وَ　　اوس په طمعَ په حرص دروِمی له میانه
که رشتیا وایم شیر شاه دا هسی نه وُ　　لکه موږ یو نه پیدا له کوهستانه
پښتانه چه بې ننگی کا څوک ئې څه کا　　گورستان لَرَه به درومو له ارمانه
دَ ختکو دَ نفاق له ناپوهیَ　　یا چه غم لغرَم له خپله خاندانه
چا ته وایم څو به کښم څه هونبره ندِی　　چه تمام شِی له مذکوره له بیانه
دا داغُونه چه خوشحال لَرِیی په زړه کښ
رغیدل به ئې په تا کیږِی سبحانه!

لاس په لاس مو سرَه وَکړلې څه چاری[1]　　چه پرُون مو تور منگور وژی په لاری
دواړه پښې له تا نیوَل له ما اخستلَ　　زه به پاس په سترگو کښیږدم ستا پایزاری
څه اغزی لرې په مخ کښ زړه مِی سکښې　　ای په تور باڼه د ما د زړگی خاری
دَ ویت والی به ئې څو ثنا صفت کړم　　چه صبا کړې دَ غنچې پاڼی ویزاری
چه می پاس په غاړه پروتی څنډیدلی　　ښې وِی ستا مختولی[2] زلفی تار په تاری
چه په تا باندِی ئې جوړ کړم زړه می ښه شِی　　نوم دَ حوری دَ پریِ اې نگاری
غړول ئې هم وتا وته ښکاره دی　　چه دا تورِی سترگِی ته لرې خونخواری
څه کوَم، که ته ښکَنځَل کړې لا خوشحال شم

۱. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
۲. دا کلمه په ټولو قلمی نسخو کښ دغسی ده، مخ تولی په معنی د تورو زلفو دی چه پر مخ ځړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه کوَمه ستا دَ مخ زیبا ننداری

لکه قلپ مهر په لاس باندې بریښنا کړي
چه دَ اور په تاو کښې پریوزي ځان رسوا کړي
هیڅ ځما په زړه کښې ستا اشنایی نه وه
کومې چارې لَرَه خدای د ما آشنا کړي
که ډیر بد را سَرَه کړې په ښه ئې نیسم
خپلې مینې راته ستا ترخې حلوا کړي
چه په تا باندې مین شوم حال مې گوره
مگر خدای ځما خوارۍ لَرَه پیدا کړي
که وعده دِ دَ لیدو په ماخستن وِی
په بور جل باندِې دِ ناست په ما سبا کړي
که د ما په دوکان ناست یې کالې گوره
په زر سل ځایه په څو ځایه سودا کړي
کله مخ کله دِ شا وِی و بلبل ته
گله ته چه ښایسته شوې دا په دا کړي
په دا خوی دِ اور د ما په کوگل بل کړ
زه د شمع غُندِې ژاړم ته خندا کړي
چه وفا دِ دَ خوشحال سَرَه ونکړه
راته وایه اوس به چا سَرَه وفا کړي

لکه یار را سره یار وُ هسې ندی
چه ډیر ډیر به مینه دار وُ هسې ندی
که په څو رنگه به ما ور باندِې ناز کړ
چه دَ ناز مې به خریدار وُ هسې ندی
دَ بهار بلبلې ژاړه څو په تا شې
لکه تل تازه بهار وُ هسې ندی
شکر شکر چه ئې څه خوخوی بدل شو
چه یک لخته ستمگار وُ هسې ندی
ستا دَ مهر دَ باران باندِې کمې شو
چه مې جوړ دَ زړه گلزار وُ هسې ندی
یا ئې ویره شی له خونه یا ئې هیر کړم
چه مې مرگ ته په تلوار وُ هسې ندی
ډیرې مینې دَ خوشحال عقل تغیر کړ
لکه نور کله هوښیار وُ هسې ندی

لاله گل ئې تر جمال پورې بد رنگ دَی
دَ زلفینو ئې دَ چین له مښکو ننگ دَی
تورې ورځې ئې لیندۍ باڼه ئې غشی
دَ عاشق تر زړه ئې تللې هر خدنگ دی
دواړه سترگې ئې په تن تورې بلا شوې
همیشه ئې دَ عاشق له دِله جنگ دی
ته به وایې حبشې شکرې پیرې
هغه خال ئې چه دَ دوو شونډُو تر څنگ دی
تجله ئې دَ جمال لکه مشال شوه
خوار عاشق پِدا جمال باندې پتنگ دی
چه له غوړو ئې مقصود مومې لښتۍ ده
چه له پوزې ئې مراد مومې لونگ دی
په ښایست کې ئې تقصیر دَ صورت نشته
څه خو دا عیب لَرِی چه په زړه سنگ دی
دَ هر چا پخپل غرض پسې کوښښ دَی
دَ خوشحال ئې په جمال پسې آهنگ دی

لکه بخن[1] چه حلوا خوری
عاشق سپینه خوله دَ شا خوری
څوک دِ غاؤ ور باندِې نکا
واړه خپله خون بها خوری
زه ئې تلَ خورم خوږې شونډې
که دا نور من و سلوا خوری
دواړه تې ئې ناشپاتې دی
چه ئې یَو یَو امرا خوری
هغه هیڅ مړنی ندی
چه به توره په قضا خوری
هم عاشق مرِی ستا له لاسه
هم سوگند په سر د تا خوری
وړې څه پوښتې له حاله
چه روا که ناروا خوری

---

۱. حریص.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوله ئې پټه خوره خوشحاله
باز دَ ښکار غوښې په غلا خوري

له شیخه خبر نه یم چه په کوم عمل مشغول دی    چه عشق ئې را فرمائی هغه کار ځما قبول دی
عشق لکه بادشاه دَی زه په مثل دَ چاکر یَم    چاکر چه دَ صاحب په حکم نه وِی نامعقول دی
دَ سبا نسیمه پاځه په تلوار تلوار را درومه    په هغو می سلام وایه چه په ورکي ئې نزول دی
بل استواځی دَ عاشق د معشوقې په منځ کې نسته    پدا میدان کښې گوره محبت دَ ده رسول دی
دَ یار غم می له خلقه پټ پنهم درله په زړه کښې    ولی څه علاج ئې وکړم چه می رنگ دَ مخ پدول دی
چه په تور دَ لیونتوب می هر سړی په زَولنو شو    گرم ئې خلقو مه کړی هم هغه ځما د کول دی
هم هغه دَی همیشه ژوندون موندلَی که باورکړې    چه دَ مستی دَ غمزې او د جلویې په تیغ مقتول دی
دَ گلونو پاڼې بویه چه کمیس شِي دَ ملوکی    دَ وریښمو له کمیسه ئې نازک بدن ملول دی
گوره ښه جمال چه لا به کله ور ښکاره کا
دا چه همیشه دَ خوار خوشحال ور پسی نول دَی

لکه زلفی دَ هغو چه سودا ستا وِی    بویه دا چه ئې سرؤنه تر پا ستا وِی
لکه دَ سبر ونه لاف کا ستا تر قده    بویه دا چه دا په قدر و بالا ستا وی
هغه زړه چه تا ویشتلی زړه هغه دی    تا ویشتلی زړه به تل په هوا ستا وی
په خاطر کښې به ئې ځای دَ نور څه نه وی    په هغه زړه چه هوا تمنا ستا وی
کله وِی چه ستا له لاسه چا ته ژاړم    که هر څو بې حده جور په ما ستا وی
که په سل رنگه زیبا دَ چمن گل دَی    دَی به څرنگه په رنگ دَ لقا ستا وی
د خوشحال غُنډِی به مست گرزی په میو
چه هوا دَ برندو سترگو دَ چا ستا وی

له اوله په سر جوړی کا دړی    بیا ټیکه په وروځیو ینښې[1] خونړی
جړاوې حلقې په غوږ بیسر په پوزه    قیمتی دَ مرغلرُو دوه لړی
مرصع باهو په لاس گوتی په کوتو    ژر نگهار ئې دَ پایلو دَ څړی
په ښیوه ښیوه عاشق ته ځان ښکاره کا    په غمزه غمزه ئې زړه کا وَ ووړی
په وصال به ئې په څو رنگه هوس کا    په هجران به ئې ساه راشی تر غړی
سر تر پایه آراسته شی په څو رنگه    په لیدلو ښاپیری دَه نه سړی
دَ زلفینو ښاماران ئې هسی ندی    چه خوړلی ئې رغیږی په جړی
خلقو زه دَ تورُو زلفو لیونی یم    لا می ښه په ځنځیرونو وتړَی
زړه ئې هسی دَ هجران غمونو موړ کړ
دَ خوشحال تر ستونی ندرومی نمړی

لکه زه په یار مین یم بل نه نه وِی مین هسی    لکه زه پسی غمجن یم بل نه وی غمجن هسی
هم می ووژنی پخپله هم پما باندِی ژړا کا    څُه ښه یار دَی ښه ئې مینه وژل هسی شیون هسی
مخ ئې درست سَرَه گلزار دی رنگا رنگ لَړِی گلونه    تفرج دَ بهار گوره پکښې نشته گلشن هسی
زړه داغدار غرقه په وینو لال گل وَته وگوره    هیڅ شهید ندی راوړی له ازله کفن هسی

۱. کښېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورُو زلفو ته ئې گوره ښایسته دواړه رخساره          دَ جهان په مخ نه وِی[1] سنبل هسی سمن هسی
لکه زه ئې نندارہ کړم ورځ و شپه پخپله خونه          خوار مجنون لیدلَی نه وُ په درست عمر دیدن هسی
که دَ گل پاڼی ئې خط کړې لا به هم باندِی څرخیږی          دا نازک بدن چه ستا دَی دَ چا ندی بدن هسی
که ئې رسم یا ئې دود دَی یا وفا دَ هندوگیِ          چه له یاره سَرَه کښینی څک به وکا سوختن هسی
چه څوک ټاپ در پسی وکا سَرَه ټک وهی لاسونه          دا ژوندُون دَی مردن ندَی که دِ وشی مردن هسی
دَ ارم آرام می بیا موند ستا په غولی کښ خوشحاله[2]          خوښ له بخته له قسمته چه ئې را کړ وطن هسی
چه خوشحال خټک ئې وائی په پښتو ژبه خبری
په پارسی ژبه به نه وِی که پوهیږې سخن هسی

له غمونو به خلاص نشې دَ غم خویش یې          که بدگوی و بد آموز  بد اندیش یې
مه بد وایه مه بد اروه مه بدگوره          درویشی دِ مبارک شه نو درویش یې
ستا په زخم به دارُو مرهم نور کښیږدی          که په ځان مرهم دارُو دَ چا په ریش یې
که دِ ځان پخپله شمار تر هر چا کم کړ          نور ځما په پوهه ته تر هر چا بیش یې
یا به دد یا به منگور یا به لړم یی          که داړل کړې یا چیچل یا په چا نیښ یې
پخپل دین نظر لَره دینونه ډیر دِی          څه جاسوس دَ چا دَ دین دَ چا دکیش یې
که هر څو در ځنی غړیږم بده خویه          څه په هَره کوڅه بیا وَ ما ته پیش ې
په کردار توره مشکښی یې خوشحاله
په گفتار سَرَه دَ سپینو درو ویش یې

مخ ئې را څرگند کړ ویې هسی رنگ آفتاب وی          زلفی ئې نمود کړې ویې هسی مشکناب وی
وې می خپله عمره په شتاب له ما نه مه ځه          ویې که دِ عمر یم دَ عمر تله شتاب وِی
هسی ئې بې آبه دَگلابوگل تر مخ شو          زرمنه که وَسیځې حرام که پکښی آب وی
هجر می وژلو ته تیار دَی که خوله راکړې          هجر به هلاک شی زه به خلاص شم ستا ثواب وی
مرم دَ عشق له لاسه نه دَ مستی په غمزه مرم          کار تیره چاړه کا لاس او زړه خو دَ قضاب وی
هر چه ته ئې ولیدې په تا ئې زړه بای نه کړ          زه وایم سړی ندی هغه به هم دواب وی
نن کانده هرگوره په آزاد د زړونو مټ کړې          هسی فکر نکړې چه آزار دَ زړه عذاب وی
نور به دَ خپل یار سَرَه څرگند مهر آغاز کړم          څو می به له خپلو له پردَیُو نه حجاب وی
ستا دا بی نظیر جمال چه وَوینم په ده کښ
تر زر سحر خیزیِ ښه خوشحال ته هغه خواب وی

ما چه ستا په جمال سترگی کړې رُنی          کښلی واړه ستا دَ مخ دی رېښې
چه په داد و په فریاد می نه رسیږی          دا دلبری بې پروا دِی که کښې
گنُدی وِی چه بیا می راشی په منگل کښ          لکه باز دَ زرکی توې کا بڼې
سپنه زنه ئې مڼه سمرقندی دَه          گوره څوک به خوږ کا زړه پدا مڼې
که دِ سپین بارخو کبودکړم په چیچلُو          اوس می نه گڼی هاله مې گڼې
بخته ته که دَ خوشحال سَرَه مدد کړې
دَ رقیب په سَر ئې وَشلوه پڼې

---

۱. د جهان په باغ کښ نشته.
۲. خوشحال شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خو توبه وکړه که زړه هم را سَرَه مل شی — عشق دَی چه همیش ئې په توبه باندِی یرغل شی
ډیر کاندِی فکرونه دا سړی په ډیر رنګونه — کاشکی دَ چا چاری پدا خپل فکر فیصل شی
څو وایې پندُونه دروِمه اې نصیحت ګویه — زه څه هغه نه یم چه و ما وَته اټکل شی
هوښره رسوایئِ دم وهَل دَ پارسایئِ — راشه که ئې ګورې چه دا څه دغادغل شی
کار دَ عاشقئِ څه آسان او سهل ندی — اوس چه پشیمانی کړې دِله دا فکر اول شی
زهد په لاس واخلم چه به نه ګورم دلبر ته — خیال ئې دَ زلفینو راته بیا دَ زهد غل شی
زه وایم که تل دَ ښایسته وو ننداره کړم — شرم دَ پیریِ تر دا منځ را ته خلل شی
تل به په ارمان ارمان مګس موږِی لاسونه — یاد ئی چه په زړه دَ شاه دَ لام و بی عسل شی
اور دَ محبت دَی چه ځما په زړه کښ بل شو — ګوره پدا اور به اور په څو ځایه نور بل شی
زه په بیلتانه کښ دَ وصال نارې وهمه — څوک چه اوُبه واخلی و پایاب وته ئې زغل شی[١]
کښینمه په طعمه دَ مَین دَ مخ په اور کښ — نور ځایونه پریږده که تنور راته بورجل شی
نه رسی تر یاره هر چه ډیری اندیښنی کا — نوری کیسې پریږده دَ عشق کار په توکل شی
ګړ شم په ګلشن کښ لَمن ډکه کړم دَګلو — بیا بې خوده ولاړ شم واړه ګل را څخه تل شی
هر چه بد غلیم دَی ګرفتار په عاشقی شه — اور ئې پیدا نه ولی دَ ده سینه منقل شی

هونبره دَ خوشحال خټک تقویٰ زهد پرهیز شته
ستا چه توری زلفی په سپین مخ باندِی ولول شی

ما لیدلی دِی په دا سترګو پوهړی[٢] — لکه نخښی دَ هر چا غشِی ته بَړی[٣]
په زړه څو ځایه وړتوپڼ ئې روغی — په خوله نر ناحق و هر چا وته زیړی
په خندا خندا ئې اوښی څَیِ تر سترګو — لکه چرګه دَ مستیَ وهی چقړی
په سبا بیګاه ئې فکر نور څه نه وِی — تل ئې ذکر د ذکر دی ولپړی[٤]
هیڅ له خپله خویه نه اوړی په عمر — که ئې دَړی په تندی کړې دړی وړی
همیشه سترګی نیولی و خپل ښکار ته — و غوټې وته وار ساز کا[٥] لکه لګړی
بډغ ئې ولاړ په درست جهان د بد کاریِ — سور بیرغ د چټګی پوری په لګړی
په چووه په عطر غرقه سر تر پایه — دَ اجمیر په فلیل دواړه زلفی غوړی
د محل دننه ناستی زربفت پوښیِ — چوهړی ته ووزی پریوزی په غوشیړی[٦]
که ئې پلار نیکه له ځایه بادشاهان وِی — نه د پلار نه د نیکه په شرم اړی

مړ هندو غُندی په سرو لمبو کښ وسوی
چه ئې ولیدی خوشحال دَ اور لوخړی

مخ دِ آئینه دی باندی ندی تر سیری — آه دِ خوار عاشق دی ډار ئې وکړ دَ ډیری
سر تر پایه زیړی زعفرانی جامې اغوستی — راشه توری زلفی فلیل پوری اجمیری
تا وې چه دَ مخ قدر قیمت می پتا څو دی — څو به درته وایم په ما دوه کَونه پیری
زار دَ خوار عاشق دَی چه په شپه دَ جدایئِ — درسته شپه بې خوابه دَ اسمان ستوری شمیری
تا وَیل ځیر ځیر می مخ ته ګوره کُندی موږ شې — زه یَم هغه وړی څه له ما غواړې سیری

---

١. په ځنو نسخو کښ داسی دی: و پایاب ته ئې اړل شی. زغل به د زغستل مخفف وی، اړل په معنی د حرکت او رغبت دی.
٢. بد لمنی ښځی.
٣. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
٤. وله پړ.
٥. و غوټې ته وار ساز کا.
٦. مردار ځای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا سَرَه په سیل دَ گلونو سهیلۍ هسې نمائی کا لکه بلبل دَ سیری[1]
واړه را ښرگندې دِی دَ درست کلي دلبری ته گل دَ نرگس یې نوری گل دَ گنډیری
سترگی دِ بلا دِی چه ئې واړوې ملالی زخم پیدا نه دننه زړُونه ځنځیری
ته چه په ښه حسن جمال تیره تر لیلی یې
ځکه تر مجنون دَ خوشحال ړغ دَی دَ تیری

مزری کله پرهیز کار دَی خو راغلی په خپل ښکار دی
خوره خوروه له خپلو لیچو مزری دا کا چه رویدار دَی
چه په توره ترک تازی کا هغه هر کله کامگار دی
چه اخلاص لری په زړه کښ هغه واړه ایمان دار دی
چه ئې زړه نه وِی دَ توری هغه زړُونه څه په کار دی
ننگیالی چه په ننگ راشی نه په زویه نه په پلار دی
سل دَ ښکار تر تازی ځار شه کوټگان چه دَ بازار دی
مور دِ نشی باندی بوره چه میړُونه دَ کار زار دی
ځوک چه شته تر شرقه غربه د تورزنو خدمتگار دی
سر دِ نه غړوِی خوشحاله!
دَ بلا نه چه سردار دی

مخ دی په پلو کښ که ښراغ دَی چه بلیږِی خوله ده چه وَیل کا که شکری دِی تلیږِی
سترگی دی که ورځی که په ځو کښ تیر انداز دی شونډې دی که غاښ دی که دا لعل دُر ځلیږی
زړه دَی په کوگل کښ که دا کانی په سپین زر کښ قد دَی که شمشاد دَی چه تازه نوی ښلیږی
مهر خندا پریږده دَ دلبرو درته وایم تش خالی کا ته ئې هم په هیچا نه چلیږی
چا ئې چه په غولی باندِی یښی چیری پل دی بیا چه ځنی درومی په ځای پاتو شی شلیږی
تا ویشتلی گوره چه جدا له نوره خلقه سرې سترگی اوښتی په ژړا ژړا نخولیږی
ستغ لری هم ځوږ لری دَ غره غُندی سینه می تل باندی دَ اوښو کاروانونه دِی چلیږی
څه حساب شمار کړې چه په سرگرزی دا ژرنده ځو عالم ئې دَل[2] کړ لا به ځو عام دلیږی
لاف به میړه نکا که ئې چیری تر خولې ووت بیا که نور وَیل کا نور دَ ده ږیره کلیږی
هیچا ئې صفت دَ مخ دَ موتر سَرَه نکړ سل د سخندان په ورځ و شپه سَرَه للیزی[3]
زه خوشحال پښتون چه په پښتو په پارسی طاق یم
لا می په پښتو ژبه کښ ژبه درغلیږی

ما څه شونډې غاښ دَ هغه یار ندی ستایلی راشه که ئې گورې لعل و دُر می دِی پییلی
هر چه عاشقی کا خوب خندا باندی حرام شیِ نور عالم به څه کړې ما په ځان دی آزمیلی
ځنی عاشقان هوا هوس کا په وصال کښ ځوک جدا له یاره په آه آه کښ زیږ ځبیښلی
یو مزی ویښته په طریقت کښ لوی حجاب دی ځکه قلندر ږیره بریتونه دِی خریلی
ما پدا جهان کښ بل ستاد ندی لیدلَی پیر مرشد می عشق دی واړه عشق دی را ښیلی

---

۱. وفف سوی ځای، دَ مسجد یا زیارت دپاره کوم ځای جلا کول، چه له هغه ځایه هیڅوک ّکار او نور شخص استفاده نسی کولای.
۲. یعني ووړ او میده.
۳. لل یعنی ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سل سړه بنی دِ تر دا یو غزل ځاریږه
نن چه دا پښتو دَه کړلاښی خوشحال ویلې

ما چه وکوت دَ دنیا خلق مختوری — قابوچې دی واړه ګوری پتاو سیوری
چه ئې څه دَ دنیا سود څه ئې فایده وِی — دَ خپل زړه په یرغ نیسی هغه لوری
خپل ئې لا په بدی پاڅی تر پردَیُو — خو دِ خدای دَ بدو نکا دَ چا ستوری
یا دَ لیچو زور پکار دَی یا دَ زرُو — خوار هغه شو چه په دواړه وِی کمزوری
سر تر پایه منافق واړه بد بوی دی — که په سر ئې سپین مندیل دَی لکه اوری[1]
کال په کال چه ورته وګورم نور نشه — دَ لاله دَ زړه په داغ ختلی غوری[2]
د ناپوه بخره ښادی دَ هوښیار غم ده — څوک به وران کا دَ ازل دَ قلم توری
دَ یوه ګوله په خوله دَ بل په زړه کښی — په حساب لکه کړ وری[3] شه دوه موری
غل بې غمه ننداره کاندِی خوشحاله
په تهمت تړلی ساد[4] دروِمی سر توری

ما فراق دَ حبیبانو ژړَوِی — زړه په ما دَ رقیبانو سرَوِی
چه سیلاب څما په عقل وکړ هسی چاری — عمارت د ما صَ صبر نړَوِی
عشق څما په عقل وکړې هسی چاری — چه هلک می په خبره واړَوِی
مه هجران وَی مه دَ ده ترخه غمونه — چه می تل له خوږه عمره مړَوِی
دَ فراق په شپه ئې خوب په ما حرام کړ — دائم مالګی می په سترګو دوړَوِی
په پیغام ئې دَ وصال هسی تازه شم — لکه باد دَ ګل غوټی غوړَوِی
یمه پوخ دَ عشق پکار لکه کَودری — نور می څه دَ غم وَاورته کړَوِی
په لیدوُ پسی ئې مرم سخ دَ هغو دی — چه وَ مخ وته ئې سترګی غړَوِی
که دَ زړه په محبت شِی خوشحال ځوان دی
پدا سپین ویښته ئې خلق زړه وِی

مست دَ هغه مخ یَم چه مخموری لری سترګی — هسِی پرې غوځیږم وایی تورِی لری سترګی
یار می په ښایست کښ بې نظیره بی مانند دی — لا په درست صورت کښ ډیر مشهوری لری سترګی
ډیری کښلی سترګی ما لیدلِی دِی دَ کښلیو — تا غُندِی یَو یَو په بڼو پری لری سترګی
سل ځله دِ شیخ ملا صفت ورځنی کاندِی — ښې به ستا تر ورُو سترګو حوری لری سترګی؟
ناست دی لکه څری[5]رقیبان و خوار عاشق ته — ځکه ستا له مخه هوری دوری لری سترګی
هر چرته چه ته یې هغه لور ته مِی نظر دَی — هر چرته چه زاښی شاهین هوری لری سترګی
نشته په جهان کښ تل طلب ور پسی کړمه — یو هسی منظور چه نن منظوری لَری سترګی
نه ګوری و چا ته څو پخپل ښایست غره[6] دَه — ګوره دا خیال په څو مغروری لری سترګی
سخ دَی دَ هغه چه خوښ خورم دَ یار په وصل — هر ساعت دَ یار په مخ مسروری لری سترګی

---

١. یعنی سپلنی، خردل، چه دننه تور او دباندی سپین دی.
٢. غور په معنی د پیغور ده.
٣. یعنی پسه.
٤. پاک، سوتره، ایماندار.
٥. سید راحت لیکی، چه څریَ هغه لرګی ته وایی، چه د ستون پر سر ئې کښیږدی، او شهتیر پر واچوی مګر دغه معنا دلته ښه نه ورسره لګیږی. څری یعنی استازی، مجازا هوښیار.
٦. وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه که ئې ګورې چه خوشحال په درد و غم کښ
ورځ و شپه بې تا په اوښیو پرُی لری سترګی

مښک افشانه په کاکل یې
عنبر بیزه په سنبل یې!
چه و مخ وَته دی ګورم
په مخ درسته لکه ګل یې
تنګه خوله دِ غنچه ګل ده
په لبانو لکه مل یې
په رفتار کښِ لکه زرکه
په ګفتار لکه بلبل یې
پښتنه یې په بد جهل
ستمګره تر مغل یې
پدا تورُو شهلا سترګو
هم شاهین هم ئې منګل یې
څو خوبیِ دَ جهان دِی
آراسته په واړه کل یې
لکه سبر په چمن کښِ
په قامت په تجمل یې
دَ خوشحال وَ مرګ ته ناسته
په غمزه په تغافل یې!

مار که هر څو پیچ و خم ځِی
خپلی سوړی لَره سم ځِی
دَ غفلت له خوبه ویښ شه
شیرین عمر دم په دم ځی
مرګ به هیڅ سړی پرینږدی
وار په وار به درست عالم ځی
بی دلیله به ځان ورک کا
مسافر چه په تور تم ځی
دَ پښو وار ئې خطا کیږِی
چه قاضی لَره څوک ګرم ځی
که قضا وَته تسلیم شِی
هن پدا له دِله غم ځی
دَ دوږخ دَ اور علاج کا
چه سحر تر ِسترګو نم ځی
هغه عمر لکه باد دَی
چه په غم دَ بیش و کم ځی
چه تور مښک دِ حبطه کړِل
به کافورو څه ستم ځی
چه نه تول لَری نَه پوله[1]
هغه هر چرته خرم ځی
منډی پرې مږده خوشحاله
که دِ سر لکه قلم ځی

مګر رسم دین آئین هسی لرې
چه دا خوار زړه می غمګین هسی لرې
دا دَ زړونو مینی ورانی پرتې ښې دی
چه تل آس دَ جفا این هسی لرې
عاشقان به لکه مچ ورباندی ګرزی
دواړه لب چه شکرین هسی لرې
څه نسرین[2] دِ دَ سنبل سَرَه دسته کړه
چه دَ تورو زلفوو چین هسی لرې
دا یو ستوری دَ اسمان دی که ټیکه ده
چه ئې یښی په جبین هسی لرې
کله کله به مرهم وربانډِی کښیږدې
که همیش می په زړه خوږین هسی لرې
لکه مخ ځما دَ یار دَی ای باغوانه!
په درست باغ کښ یَو نسرین هسی لرې
په کوڅه کښ ئې څه ته ګرزې زاهده
که دا خپل عقل دوربین هسی لرې
میاشت به څه لَره اوس لافی دَ خوبیِ کا
ته دلبره چه مخ سپین هسی لرې
که هر څو ښایسته ډیر لرې کشمیره!
لکه یار یَو نازنین هسی لرې
چه ئې پورته کړې ګلونه تر ښکاره شی
یو پلو دواړه آستین هسی لرې

---

۱. چه نه پول لری نه پوله.
۲. نسترن دِ دَ سنبل سره دسته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ خوشحال په حال به چيرى ترحم کړې

مستى ته چه زړه سنگين هسى لرې

ملاحت چه صباحت سَرَه آميز شي     دَ دلبرُو حسن هاله شور انگيز شي

خداى پخپله په ښه مخ باندى مَين دى     خداى ئې واخله چه له کښليو په پرهيز شي

په زمان به د زاهد خونه اُلجه کا     که د سترگو دَ ترکانو ئې پرې خيز شي

دَ غمزې سمند ئې جوړ کړ و جولان ته     گوره بيا به ئې په چا باندې مهميز شي

دَ دوږخ لمبې به هم ور ځنى ډار کا     که دا اور مى دَ خاطر په حشر تيز شي

دَ عشق بوى مى به ولاړ نشى له هډُونو     که هر څو په تورُو خاورو کښ ريز ريز شي

چه گه ناز کا گه عتاب کا کله مهر

دا ئې واړه له خوشحال سَرَه مکيز شي

مه وَى هسى کلى چه دَ چرگو کولمې خورينه     شل خمبې[1] په کور کښ د نيستۍ له غمه مرينه

بل فکر ئې هير دَى خو په غم دَ زرو پول دى     نر ښځى ئې واړه خو ټنگې ټنگې لرينه

ډير ئې ملکان دَى پکښى ښه ملک هغه دى     هر چه بې ننگى کا دَ چا بډې رشوت خورينه

کښيني په مسجد کښ دَ سودونو کا خبرى     يا دَ خور دَ لُور دَ وَلوَرونو وَيل کړينه

لس کالونه تير کا په يوه جامه خيرنه     کوز وجود برمنډ په سر څيره کښيږدې زرينه

خاندې پروا نکا شرم نلَريى د تيښتى     ډيرې بې شرمۍ دَ ژوندُون دَپاره وړينه

جنگ لَرَه چه ورشي نور څه هيڅ نکا بې تيښتى     جوړ چار وسله تښتى سکه ورور ته نه دَرينه

هيچيرى د شولو دَ سړى برکت نه وِى     شل شِى شول شِى شوم شِى چه هميش شولى کرينه

نوم دا ودانۍ ويران ښهر دَى خوشحاله

لا ترې ويران مشه ورځ په ورځ دَه کهترينه

نصيحت دَ دانايانو دَکتاب دَى     دَ احمق ځواب هم نه ځواب ځواب دَى

چه عيسى په غرونو تښ له احمقانو     دا تعليم ئې راته پاتو پدا باب دى

لکه دد دَ صحرا ډير دِى په هر لورى     په هر ځاى دَ احمقانو څه حساب دى

سړى واړه سَرَه سم ندى په عقل     يو آفتاب دَى بل مهتاب دَى بل شهاب دى

يَو په قدر شهنشاه دَى په دنيا کښ     بل دَ دين په مرتبه قطب اقطاب دى

دَ هوښيار چه له نادانه زيست روزگار شي     که ئې گورې دا هم سخت گنده عذاب دى

دا سړى دى چه اغزى دى سر تر پايه     دا سړى دَى چه همه گل گلاب دى

ما خوشحال چه ځان له خلقه کناره کړ

دا پدا چه نادان ډير دانا ناياب دى

نه دَ عشق مدار يواځې په ديدن دى     پدا کار کښ لا په هورته شنيدن دى

ښه چه شپه دَ جدايۍ خداى آخر کړه     سبا کيږې اوس دَ صبح دميدن دى

تل په ستغ په ځوړ دَ اوښيو قاصدان دى     چه طلب ئې دَ دلبرُو دَ ديدن دى

دَ خطا آهو په بوى دَ نافې ښکار شي     راته بس دَ هغو زلفو شميدن دى

دا ستم په عاشق هغه کا نه نور څوک     چه وکښليو ئې ورکړى دا دَيدن دى

کله کله به آرام د ما دَ زړه شي     که يک لخته ئې زده کړى رميدن دى

خوند دَ شهدو دَ شکرُو راته هيڅ دى     څو مى ياد دَ هغو شونډُو مکيدن دى

---

۱. خمبه: انبار خانه، د غنمو د ساتلو کوټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور دارُو ور لَره مکوَه طبیبه!
چه خوشحال ور پسی مری هغه دیدن دَی

نفس شیطان دواړه بلا دی — را پسی څرگند په غلا دی[1]
څنی چاری لَرِی پټی — څنی چاری ئې ملا دی
دَ هغو جزا سزا کا — چه په جهل مبتلا دی
خدای ئې خلاص لَره له عُجبه — څوک چه ناست په مصلی دی
دَ دنیا دَ هوا چارِی — سر تر پایه ابتلا دی
جاه په چاه شِی وَ هغو ته — چه دَ جاه په تولا دی
دَ دنیا ښادیِ واړه — که باور کړې وا ویلا دی
اندیښنې گوره خوشحاله
چرته سری په قلا دی

ناقرار زړُونه قرار شوی — د زړه غم ئې تار په تار شوی
دَ هجران غمؤُنه لاړِی — بیا دَ وصل دندو کار شوی
هغه لاس چه بې حنا دی — بیا حنا سرَه نگار شوی
شانه ورغلی تر زلفو — رانځه سترگو سرَه یار شوی
دَ پایلو دَ څړِیِ — په هر لوری ژر نگهار شوی
په گنگو دِ زیړِ پړونی — په څو وه سرَه خالدار شوی
وار دَ غم دَ ژړا لاړِی — وار دَ بوس او د کنار شوی
په عذار دَ مهوشانو — بیا کبود کبود پرهار شوی
چه خوشحال ور پسی مرینه
ور ښکاره هغه دیدار شوی

نښتر ستا دَ قد سیالی و نه کړه دنگی — اور ئې بل کړ پخپل ځان په ننگی ننگی
سرَه ښه دَ زړه خوښی کاندی همزولی — نه دَ لوی نه د هلک، وی[2] یار دَ کنگی
په خیال خیال ئې تر پوې بدری[3] ومه خوره — وَ منډیل شملې پریښی سپور دَ جنگی
دَ خوشحال وَیل و هر چا ته ښکاره دی
نه دَ مښکؤ بوی پُټیږِی نه دَ هنگی

ناز، نخرې، مهر خندا، فتنې، جنگونه — دَ خپل یار سرَه هم تا زده دا رنگونه
کله کله خواپخوا غاړه غړِیَ — کله تښته په دوو پښو په غورزنگونه
چه ځما سرَه ئې ناسته په پالنگ وه — اوس له ما په چرته لاړ په فرسنگونه
په لیدو پسی کچکول واخلی ملنگ شِی — مینه کا دا هسی چاری آهنگونه
په نصیب دَ روغو زړُونو فراغت دی — په قسمت دَ خوږو زړونو لهنگونه
عاشقی به هغه کاندِی چه تر شا کا — زیست، روزگار، شرم، پیغور، ویره ننگونه

---

۱. را پسې په الالا دی.
۲. دِی.
۳. په ځنو نسخو کښ بودری لیکلې ده یعنی نوک خوړل او خطا وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه بوسې دَ جفا جویو دَ خولې اخلي
گنُدِي اخلي دَ یاغیانو قلنگونه

څوک مایوس څوک په امید دَ یار دَ وصل
څوک پراته غاړه غړی په پالنگونه

په لیدو به ئې دَگور مړی سر هسک کا
که پرې درومی دَ پایلو په ژرنگونه

که پستې پستې خبری دراز نکا
دَ جنت دَ حورو مه وینم رنگونه

زه خوشحال دَ آهو چشم مینی سر کړم
دَ غرڅه غُندِي په هسی گړنگونه

نن ځما کره میلمه عزیز دَ خدای دی
چه ئې پاس ځما په سترگو باندی ځای دی

پخپل ځای باندِی قائم دَی لکه قطب
همیشه دَگم گشته وُو رهنمای دی

چه پرې څه خو توجه دَ فکر وکا
یَو زه څه چه دَ هر چا مشکل کشای دی

چه گذر ئې پدا غولی باندِی وشو
سعادت ئې ور سَرَه راوړ همای دی

ما پرې اوس د غلطی کرښه وکښه
پخپل رای می چه منلی دَ ده رای دی

دَ بادشاه څخه ئې مه غواړه چه نشته
هغه گنج لکه په کور کښ دَگدای دی

تناونه به ئې ورسی تر نمره
لکه زلفی چه ئې سریښی په پای دی

دَ ښه حسن به ئې څوک کاندی ستاینه
چه دَ خپل حسن پخپله خود ستای دی

لکه عمر لارغه[1] رایشی ژر درومی
په هجران ئې دَ خوشحال ختِک هاهای دی

نن دَ یار دَ لاسه بیا یو تیر راغلی دی
بد رسا دَ ځان په وړلو خیر راغلی دی

زه چه دو اسپه له عشقه تښم پټیدلم
بیا را پسی گوره گیراگیر راغلی دی

ښه چه پکښی بند شو وَئې مشلوه له زلفو
زړه می لیونی دی په خنځیر راغلی دی

چه ته یې اې عشقه چه وربوز ئې راته مات کړې
بیا گوره که عقل په تدبیر راغلی دی

څونبره ښایسته یې چه دَ مخ په نندارو دِ
درست وگړی مات شه ما وې پیر راغلی دی

ټول محبوبه راغلې سمن بوئی سیه چشمی
ما وې چه ته راغلې درست کشمیر راغلی دی[2]

څوک که جهان نیسی په لښکرُو هغه ترک می
گښی ځان دَ زړونو په تسخیر راغلی دی

زړونه ئې زخمی کړه چه ئې گوتی په بم کښیښوې
غوړ باسه له بمه اوس په ځیر راغلی دی

وچولی چه تر یو کړې ورته نه گورې په مهر
وایه له خوشحاله کوم تقصیر راغلی دی

نادانان پخپلی چاری ښه پوهیږِی
دانایان که ئې په چارو اندوهیږی

چه نادان ئې په مخ وخوری هاله پوه شی
گڼه هونبره په خبره نه گروهیږی

کانې بوټې وچ لانده هر څه پر مخ وړی
مشیت لکه دریاب دَې چه بهیږی

چه سرې اوبه ئې کښیوزی په نظر کښ
کله تړی له سړو اوُبو سهیږی

په هغو خوړو پیښ مشې چه ئې نخورې
سړَی هسی په لیدو ورته سوهیږی

که وَیل ئې په هزار رنگه سودمن دِی
دَ خوشحال په وَیل کله څوک گروهیږِی

---

۱. یعنی رهرو، او مسافر او پر لاری تلونکی.
۲. ما وی چه په راغله ئې کشمیر راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن ځما په خیلخانه کښې څونبره غم دی     چه حیران ځموږ په کار پوری عالم دَی
ناخلف زویه اغزی کړی خپل پلار ته     د خلف زویه گلزار له عمره سم سی
ناقابل زویه دوږخ غُنډِی پیدا دی     ښه قابل زویه په خونه کښې ارم دی
ښه فرزند دَ پلار په خونه څراغ بل شی     بد فرزند دَ پلار په خونه کښې تور تم دی
په لوی والی کښې ئې خوی د دام وَ دد دَی     اوس دَ زویه خوبی هونبره وی چه کم دی
نالایق زویه ننگ نام دَ بابا ورک کا     که ولاړ ئې دَ نیکه دَ پلار علم دی
دَ قابل سَرَه به غم دَ نام و ننگ وِی     ناقابل په غم نیولی دَ شکم دی
چه دا هسی رنگه سپی ځنی پیدا شول
لا په شک یم چه خوشحال کله آدم دی

نور څوک نشته لاندی باندِی     واړه دی دَی چه څه کاندی
دَ ده حکم به نور نشِی     که ژړا کوې که خاندی
دی قادر دَی باندِی ښایی     که کیمیا کا گل د سپاندی
څو سینې ئې کړې قراری     چه په غم وې ځلبلاندی
څو ئې بیا وربانَدی پاس کړل     چه پراته وُو تر بل لاندی
خلقې ئې دِی که گورې     سَرَه یو تر بل هړاندی
په لیدو دَ یار مَړې شوې
دَ خوشحال سترگی نغلاندی

نه ئې ملک نه ئې لښکر نه ئې گنجونه     تر خانانو دماغی دِی کښلی جونه
که خانان په زر په زرو په توره ناز کا     کښلِی مخ لَرِی ښیوې غمزې غنجونه
یا دَ کښلیو دَ زړه رای دَی چه می وکوت     یا دَ لوی دریاب په څو رنگه موجونه
څوک به روغ سلامت پرې نږدی په ملک کښې     بیا ئې باندِی کړل تاختونو ته سرجونه
په رقیب شه، په غماز شه، په بد خواه شه     چه به کښلیو لَرَه ځِی هغه رنځونه
بل سر مه څه په دلبرُو کښې ئې غواړه     اُوه ستوری دَ اسمان دوولس برجونه
زه امی په دا خبره نه پوهیږم     چه عالم ئې راته کا په مخرجونه
په چا داد په لپه نمنځ کوې فلکه     په چا لونې په اوړیو په چجونه
دَ خوشحال خاطر ښیښه دی مات دِ نشِی
ستا دَ سترگو مستی وری په څو کنجونه

نه می زړه په سرداریَ درست خوشحال دی     نه ځما دَ خیلخانی څه حال احوال دَی
دَ خټک اُولس په ننگه نه پوهیږِی     کار ئې درست دَ نادیده وو په خصال دی
پښتانه لکه مگس وربانِدی گرزِی     ورته ییښی دَ مغل دَ حلوا تال دی
نور ئې واړه تکئې تار په تار خپرې شوې     اوس په منځ کښې یَو کرم دَ ذوالجلال دی
ایمل خان دریا خان واړه خورد بین ولاړل
اوس خو پاته و مغل ته یَو خوشحال دی

واژگونه شوې همگی دَ دنیا چاری[1]     چه لیدې می هَسی نه دِی واړه لاری
زوی ئې پلار سَرَه کا رُویه دَ غلیم کا     لُوهنِی مور ته لکه بَنِی دِی تیاری

---

۱.  دا بدله په چاپی دیوان کښې نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوهړی[1] پلا وشولې خوړه حلوا خوری     په سید باندې حلالی دِی مرداری
باوری دَ بادشاهانوُ لکه غله شول     رهزنان ئې په دربار کا ځنی چاری
بلبلان طوطیان حیران په بیابان گرزی     په کلزار باندې کارگان کاندې چیغاری
په وښو دَ عراقیانو ژواک ژوندوُن دَی     راتبونه[2] وهی زویَ دَ حماری
نادان خوښ بې غمه خوب په فراغت کا     په هوښیاروُ باندې راشی شل دشواری
په ځښتنو باندې حکم کا مریوُنه     تر میرمنوُ تَل وینځې دِی رویداری
په دوران دَ عالم گیر بادشاه خوشحاله
خانه زاد ئې واړه بخرې لَرِی خواری

و سړی وته دا خپل عیب وینبته دَی     دَ بل عیب ورته لا کتې تر غره دی
پخپل ځان پسندنه نیکه په بل بده     دا مذهب دَ مؤمنانو مذهب نه دی
هنرور یې نیک سیر یې لوړ اختر یې     که بل تا وته تر خپله ځانه ښه دی
چه می یَو ځله اخلاص ور سَرَه وشو     یار که سل ځله جفا کا تور لیمه دی
بیا دِ خپل مَیَن د ما له سترگو نه ځې     که په سترگو کښ می څرخ لکه بانړه دی
چه غمونه درته راوړی سترگی غوړ دَي     چه دِ ځان دَ بل مریَی کا هغه زړه دی
که خواړه خوری که اوبه څښی پدا څه شی     مرده دل که ژوندی وینې شمار په مړه دی
د ما زړه تر کانړی کلک وُښوی ترې پریووت     تر الماس ئې دَ غمزې غشې تیره دی
که یاران می تر حساب تر شماره تیر دی     په کوگل کښ می زړه یَو دَی دَ یوه دی
دَ سړی دَ صورت کار دا هسی نه وِی
چه ئې زړه دَ خوشحال یووړ لا نور څه دی

و ځراغ ته دَ اورپښتی حال معلوم دی[3]     په دا منځ کښ دَ خبری حاجت کوم دی
یو د بل له حاله نه کاندې پوښتنه     دَ دې ښهر په عالم کښ بد رسوم دی
یا یک لخُته هغه یار واړه جفا زده     یا له ما سَرَه جفا کا بخت می شوم دی
نن چه زه باندې مَیَن یم په ډیر رنگه     در ئې وښیَم چه کوم دَی څه ئې نوم دی
یَو په حسن بل په دا چه عاشق وژنی     په دا دوه توگه په درست جهان کښ سلوم دی
نندارچی ئې دَ جمال دی نور څه ندی     چه په هر لوری هر ځای خلق هجوم دی
چه گلوُنه دَ بهار باندې لیدل شِی     دَ بلبلو سیر تل په هغه بوم دی
څه به هر یَوه ته حال وایې خوشحاله
دَ لیمو په حال خبر کله ادوم دی

ورځ په ورځ دَ باغ غنچې دِی چه غوړیږی     دَ بلبلو ورِی سترگی پرې مړیږی
چه ښه مخ وته نظر کاندی لازم دی     که ئې سترگی وَ بل مخ وَته غړیږی
جگی جگی مانړی مکوَه پخولا شه     چه پما دَ رقیبانو زړه سړیږی
دَ عاشق خاطر په مثل دَ نافې دی     که کالُونه پرې تیریږی نه زړیږی
زه جدا له یاره خوب په شپه و نه کړم     وایې مالگه می په سترگو کښ دوړیږی
روغ عالم خندا خوښی هوا هوس کا     پرهار ژلی په غمونو کښ نړیږی[4]

---

١. مزدور او خاوری پاکونکی.
٢. راتب هغه مقرری دانې او خوراکې ته وایی چه آس ته یې ورکوی.
٣. دا بدله له یوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه په نورو کښ نسته.
٤. ژړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور عالم ئې تار په تار تښتي له غشيو
يو خوشحال دَی چه ئې غشيو ته برېږی

وایم خلق نه دری
زړه مې یوړ یَو مزری
دا خبره چه زه وایم
تر ویښته لا ده نریَ
چیری نه وی لیونی شم
چه په خوب وینم پری
زه له یاره سَرَه څه یم
دَ یوه مزی مریَ
چه ئې خوند دَ میوې خوړ وی
هم هغه بوټی کری
ته هم خر ور سَرَه مشه
که څوک خر شی په خری
په کهترو دِ نظر کا
څوک چه غواړی مهتری
بله نه گوری بل مخ ته
تل دَ سترگو کړم ږغری[1]
دَ وروستی پسرلی نرگس دی
دَ خوشحال قدر لَری

وایم له تا ولاړم که په ناسته می ملال یې
کبر لوئی مکړه که هر څو صاحب جمال یې
ولاړم ستا له وره ستا په یادو به مشغول وم
ولاړم له ما نه ځې دا چه ته می په زړه نهال یې
زه غریب نامرد یم څه و ما وته گواښیږې
قهر کړه هغو ته چه دی سیال دی یا ئې سیال یې
هیڅ گناه می نشته چه می وژنې یا مي ولې
واړه دی مستی ده نه تړلی په وبال یې
خدای خو خبردار دی چه له تا به ئې دریغ نکړم
لږ و ډیر مشتاق څما دَ سر که یا د مال یې
تل جور ستم کړه هغه نه یم چه زړه بد کړم
سل جور جفا کړه بیا لیمه د خوار خوشحال یې

و ښه مخ وته نظر دَی هر چا کړی
نه دا دود دَی په جهان کښ ما راوړی
زه به هیڅکله له عشقه نه وانوړم
که هر څو راته وَیل کاندی وگړی
ما وَیل چه زړه به نه ورکوَم چا ته
ولی څه کړم چه بد زړه لَرم وووړی
دَ عاشق دَ رښتینیِ نخښه دا دَه
چه په عشق کښ سر حساب کاندِی خسړی
په یو گوټ به ئې دَ عشق دَ میو هیر کړې
که دِ واړه دَ جهان لذت دی نغړی
چه په ښاخ باندی ئې اوړی ژمی گل وِی
خدای څما په زړه کښ نهال کړ هسی زړی
چه به بیا په څه علاج په لاس کښیوزی
دَ خوشحال خاطر ئې ندی هسی وړی

و مجنون ته دَ لیلا له شونډُو وایَ
لال و دُر یاقوت وَ نورُو وَته ستایَ
دَ مجنون له ودانیِ سَرَه څه کار دَی
هر چه ورانه ویرانی هورې ئې بیایَ
چه به بله اندیښنه کاندی اغیار دی
یار دِ څوک دَی چه د نه ووزی له رایَ
درست جهان دِ تیرې توری درته واخلی
یَو ویښته به دِ کندُو نکا بې خدایَ
ما دا هسی دماغ اوس ندی راوړی
زه دا هسی دماغی راغلم له ځایَ
وایې کانده به خپل مخ درته ښکاره کړم
زه په کانده مانده نه یم نن ئې نمایَ
دَ دولت شهپر کارگانو څخه نشته
که ئې غواړې خو ئې غواړه له همایَ
ته دَ زړه اَغزی په کوم طبیب وکاږې
چه وکښلی ئې اَغزَی ندی له پایَ

---

۱. ږغول، او ژغورل یوه معنا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ منصور په حال خبر نه يې خوشحاله
درته چا وې چه دَراز خبرى وایَ

ورته گوره ځما يار څه ننداره دی[1] لکه اوږمکی په ستوریو کښې ښکاره دی
څو عاشق په معقوقې باندِی مَین شی هونبره دَی معشوقې ته بیچاره دی
ما وې عشق خو یَو ښه څیز دی خبر نه وم چه دَی لا تر مست هاتی نه خونخواره دی
چه نصیب ئې دَ ښه مخ ننداره نشوه هغه څوک ځما په پوهه آواره دی
غم ځما له دلِه نه درومی بل لور ته ته به وایې چه ځما په اجازه دی
عقل، علم، هنر مه یادَوَه ما ته چه می ولیده مدار ئې ستاره دی
هغه زه یم چه دَ اوښ وری په شا وړم دَ غوایه وری ځما په پشتاره دی
چه علاج ئې په چا نشی څوک ئې څه کا چه په ما باندِی ئې زړه سنگ خاره دی
غم په نورُو یَو ځل وَر یشی بیا تیر شی خو پما باندِی ئې زړه سنگ خاره دی
چه ئې هیڅ دَ ښایسته وُو مینه نه وِی رنگ ئې مه وینې چه نفس اماره دی
دَ ښه مخ ننداره نکا خلوتی شو زاهد ځان ژاړِی بې ځایه هیچکاره دی
بادشاهان دِ هم سیالی ور سَرَه نکا:
خوشحال ستا دَ ور مرییو په شماره دی

ولاړم قلندر شوم دا می حال دا می احوال دی مات کچکول په لاس کښې بل می گند دَ دنیا مال دی
وران وگړی گوره په څو قلب کارُونه کاندِی واړه اقبال غواړی ولی لابقا اقبالَ[2] دی
زه تر هغه ځار شم چه ئې راکړه تر ځان ځاره ځار تر ما هغه چه ځار شوی تر مثقال دی
هیڅ په منځ کښې نشته په خالی دکان غوغا دَه ما چه فهم وکړ واړه وهم خوب و خیال دی
یَو په گور کښې ښځ کا، بل په گور کښې نکا فکر دری ورځی ماتم وی څلورمه ورځ بل حال دی
ما خو لاس په غوږ کړل ځنی تښتم که خلاصیږم خلق پر خواریږِی شهوت څه عظیم جنجال دی
نور عالم به څه کړې دَ خپل ځان په خلاصی مټ کړه
لاندِی یې خوشحاله دا یو څه دَ بلا جال دَی

وې مِی که زه درشم ستا تر ځایه خوله به راکړِی؟ وَیې سکه هزار سَرَه لَرې چه دا وینا کړِی
وې می چه په مخ دِ توری زلفی تور ښامارر دی وَیې تروسکه، څه لَرَه ښامار وته ویسا کړِی
وې می چه په کوم توکی به تا وته نزدې شم وَیې چه که سر له تنه بې تیغه جدا کړِی
وې می چه په تاسی هرگوره لیونَی یم وَیې چه په دا عقل به لا صورت رسوا کړِی
وې می چه ما تا سَرَه خندا په یوه وخت کړه وَیې هغه څوک وُ چه ئې تا سَرَه خندا کړِی
وې می چه هرگوره کبریا شوې خدای دِ وینی وَیې چه که کبر کړم ستا څه دَی چه غوغا کړِی
وې می چه دَ سپینی زیبا خولې عاشق دِ زه یم وَیې چه خدای څه دا عاشقیِ هم ویړیا کړِی
وې می چه له نتی دِ چارگل په پوزه زیب کا وَیې دا خبری کړه هاله که چا په تا کړِی
وې می که زه ستا په کوی کښې وَمرم ستا رضا دَه وَیې کشکی خلاص له دردِ سَرَه سپی ځما کړِی
وې می چه په څو رنگه خوشحال په تا مَین دَی
وَیې دَ ختک سړِی دَ مینی څه ثنا کړِی

۱. دا بدله په نورو نسخو کښې نه وه، له یوې قلمی څخه را نقل سوه.
۲. د "اقبال" حروفونه چه قلب شی لابقا شی یعنی چه پاتیده نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همیشه مې تر پرهار وینې بهیږي — که هر څو باندې دارو ږدم نه لږیږي
که فریاد له درده کړم ملامت نه یم — چه پرهار په پرهار وشي څو خوږیږي
همیشه مې دَ یار یاد دَ زړه سبق شو — چه ډېر ډېر ئې یادَوم زړه مې خوږیږي
زړه مې گل دَ نیلوفر مخ ئې آفتاب دَی — نیلوفر مې و آفتاب وَته کږیږي
دَ خوشحال دَ خوشحالۍ وخت هم دا دَی
چه رباب سرینده جوړ سَرَه غږیږي

هیڅ صفت ئې نه ځائیږي په تحریر کښې — چه دَ زلفو مښک عنبر کړم په نظیر کښې
ستا دَ مخ دَ شونډُو مثل را معلوم شو — لکه نهر دَ جنت شهد په شیر کښې
نه چه خوله دَننه زړه مې هم په خوږ شي — چه دِ نوم دَ شونډُو واخلم په تقریر کښې
ما چه ستا دَ څهرې ښه ننداره وکړه — څوک به ستا په حسن نه وِی په کشمیر کښې
زړه مې ستا په زلفو بند شو پرې خوشحال شوم — لیونې تړلی ښه دَی په ځنځیر کښې
که هوا دَه که سودا دَه پکښې ستا ده — بل خیال فکر مې هیڅ نشته په ضمیر کښې
زه چه ستا په تیر زخمي شوم فراغت شوم — چه عجب دارو دی یښې وه په تیر کښې
لکه بوی دَ یار دَ زلفو دَی عطاره — هسې بوی نشته په مښکو په عبیر کښې
محبت مې هډو و پلو سَرَه مخلوط شو — نا صحانو راته شا کړه په تدبیر کښې
چا به هونبره دَ عشق گنج را عنایت کړ — که مې نه وَی خپله بخره په تقدیر کښې
دَ خوشحال ویل په نورُو کښې څرگند دي
لکه بږغ دَ ویره ژلې په گڼ ویر کښې

همیشه مې له ښه مخه گفتگوی شي — چه په لوښې کښې څه دِی هغه ترې توی شي
دَ بلندې په قامت باندِی مَیَن شوم — هر چه لوئې چارې کاندی هغه لوی شي
چا خپل یار په غیږ کښې ونیوه خوښې کا — لا د چا ورپسې هسې جست و جستجوی شي
دَ منصور غُندِی به غل دَ خاص و عام شم — که ښکاره مې و عالم ته گوی مگوی شي
په زړه هونبره پروتې ندی چه ئې شمار شته — اوس ئې چا وته سپړنه موی په موی شي
خارو خس سَرَه ئې څه مهر پیوند دَی — دَ بلبلو مینه تل په رنگ و بوی شي
نه به زهد وِی نه علم نه څه نور څه — که څرگنده مې عالم ته پدا روی شي
ځکه هر کله خوشبوی او معطر دي — دَ صبا ئې چه په چم کښې تگ و پوی شي
دَ ناپوه یارې په مثل دَ ډک جام دَه — له هر څو ئې ښه ساتم را څخه توی شي
دَ خوشحال ژړا څه نر ناحقه نده:
چه ئې تیره درسته شپه په های و هوی شي

هر دم تر نقاب لاندې — و عاشق ته شیوه[1] کاندی
تازه اوربل اودلَی — توری زلفې آویزاندی
انگڼ ئې ښایسته کړ — چه راوَوَته دباندې
ځما په مرگ دِ زړه دَی — چه بې دردو سَره خاندِی
څه ظلم څه ستم کړې — چه پلو نیسې دَ وړاندې
څه عجب غزل ئې ووې
آفرین په خوشحال ناندِی

---

۱. جلوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر گناه چه په توبه په استغفار ځي
دَ هغه گناه به څه په زړه کي ډار ځي
ساقي راشه سره شراب راکړه سرې شونډې
تر چشمانو دی ځاريږم چه بهار ځي
په هر چين کي ئې دَ څوڼو مښک دَ چين دی
لخلخي ځني توئيږي چه په لار ځي
دَ خپل زړه خبری واړه ويرانی کا
يار هغه چه هميشه په زړه دَ يار ځي
جهان ځای دَ خوښۍ ندی وَ ناورين دی
چه طوطا له گلستانه په چيغار ځي
په وار وار چه په دنيا باندی راغلي
عاقبت به ځني واړه وار په وار ځي
که له درده می خبر ندی وگړی
چه می سرېويني تر سترگو په رخسار ځي
دَ هغه طبيب نوم څه اخلې په ژبه
چه بيمار ور لَره رايشي بيمار ځي
که می بيژني هغه ليونَی زه يم
چه نادان را لَره رايشي هوښيار ځي
دروغجن به هميشه وِی په خزان کښ
دَ رښتينو په مخ هر کله بهار ځي
د رقيب خلل به نه ووزی له ميانه
وخت نيژدې راغی دَ وصل دندو کار ځي
چه محروم ئې دَی له ميو يَو خوشحال دَی
گڼه واړه حريفان ځني سرشار ځي

هره مينه چه په خال په زخه کيږي
هغه واړه دَ ښه مخ له مخه کيږي
زړه[1] دلگير مشه دَ خلقو په جفا کښ
په عاشق دَ رقيبانو رخه کيږي
خاوند خدای دِ سر زنش دَ هغو وکا
چه په حال ئې دَ دردمنو سخه کيږي
غه مرغه به له هما يه څه پرواز کا
چه لا اوس ئې تن وجود په پخه کيږي
که هوس کوې خوشحال هوس ئې نهيل[2] شه
غه هوس چه به بې ستا له مخه کيږي

هر زمان چه فلک مهر بنياد شي
نامرادی د مانې[3] پخپل مراد شي
په هر شام پسی سحر شته نظر وکړه
عاقبت چه څوک عمجن شي بيا به ښاد شي
ساقي نن دَ سر شارۍ شراب راکړه
محتسب چه حاضر ندی څه هِداد شي
چه نه مَی نه معشوقه پسرلی رفتن کا
نن ځما له خپله بخته نه فرياد شي
يَو له بله زده کَوِی دَ جهان دود دَی
له اوله چه شاگرد شي بيا استاد شي
يار به مخ راته ښکاره کا لکه شمعه
عاقبت[4] به دَ رقيب خورا نامراد شي
يا ډير زر بويه يا بخت بويه يا توره
چه په سپينه ږيره څوک دَ چا داماد شي
دَ ملحد په زړه به نه لگی خبری
که وَيل دِ ورته تل دَ نون و صاد[5] شي
زمانه به ئې پرينږدِی و ثبات ته
په هوا چه دَ حباب غُنډِی پرباد شي
صورتی عمر فانی دَی باقی دا دَي
چه ئې پسله مرگه نوم دَ نيکو ياد شي
عقله ته له عشقه ليری ليری گرزه
مخالف چه سَرَه وريَشی فساد شي
دَ هغه سړی په مرگ ژړا هيڅ مکړه
چه دَ بدو نوم ئې خپور په هر بلاد شي
په هر ځای باندِی ئې زړه دَی لکه ژاولې
په خوشحال باندی ئې زړه لکه فولاد شي

---

١. ته دلگير مشه.
٢. مايوس، نا اميد، محروم.
٣. نامرادی د نړی، يا مراد دَ زمانی.
٤. عاقبت به د رقيب په سر مراد شي.
٥. نون و صاد يعنی نص چه په اسلامی احکامو کښ اساس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر سړی که رشتیا گوی وِی
نه دَی مړ که سر ئې گوی وِی
دَ لويیٔ لافی به نکا
چه په اصل هنر جوی وی
که ئې نغاړې پټ به نشی
په هر ځای چه رنگ و بوی وی
چه خپل يار له ما بيلتون کا
د ما سترگی پسی جوی وی
په بيلتون دَ مَيَنانُو
زړه تر دوو سترگو را توی وی
چه قيمت دَکالی ښونبره
پسی هونبره جستجوی وی
ښو جفا کا زه خوشحال شم
يار دِ هر کله بد خوی وِی

هر ناپوه زلموټی ښه زده، چه ښه دَه دَ عشق بازی
ترو ښه مچ ښه ئې مجال چه په هوا کا پروازی
هر قلاش چه خپل صورت په عشق کښ بای کړ که باور کړې
په مذهب دَ عاشقانو هم شهيد وی هم غازی
که دَ يار به غم کښ وَمری خاصگی ژوندون هغه دَی
که په پښو ئې تندی کښيږدی هم دغه دَه ممتازی
حقيقی سجده هغه دَه چه دَ يار په لور[1] ئې کړې
و کعبې ته چه سجده شی دا سجود دِی مجازی
تورُو زلفو ئې په باد کړه ډير سرُونه دَ مظلومو
توری سترگی ئې په زړونو کا هميشه ترکتازی
اې خوشحاله چه عاشق شوې اوس له خپله سَرَه تير شه
دا ښما خندا خندا ته بازی مه گڼه بازی

هغه دم چه دَ يار سره صحبت وی
دَ فرښتو آواز په ما باندی زحمت وی
چه له يار سَرَه باده خورم په خلوت کښ
باده! ستا دِ له غه ځايه نه رخصت وی
ښه ياران چه سَرَه ناست وِی محبت کا
چه اغيار وَر باندِی راشی قيامت وی
تل گدای په بادشاهانو مَيَن شوی
نه دا کار به له ما خواره نه بدعت وِی
عاشقی می خدای له ځايه خوی خصلت کړه
هم هغه کاندی سړی چه ئې خصلت وی
ستا د شونډُو تر لذت به نه رسيږی
که هر ښو می دَ شکرُو زيات لذت وی
ما به زړه د معشوقې له لاسه خلاص کړ
ولی دريغه که له عشقه اجازت وی
دَ زنخ دَ ښا دَ بند فراغت غواړم
په تنور کښ پراته کله فراغت وی
ښه صورت خو هم هغه چه زړه ئې يووړ
نه چه کړه او وړه ئې ښه وی ښه صورت وی
ما به سترگی لکه باز درلې اندرتی[2]
که می زده وی چه دَ سترگو بد شدت وی
خوبه مه راځه په ملک ښما دَ سترگو
گڼه ځان به دی په وينو کښ لت پت وی
شيخ به ولی دَ رندانو عيب نکا
تل له مرد سَرَه نامرد په غم غيرت وی
ستا به زلفو کښ می خوار خاطر ښاد نشو
دا مؤمن په کفرستان کښ ښه حرمت وی
مگر واړه جوهری په مرگ تام شول
چه تر دُر به دَ ژلیٔ زيات قيمت وی
بل جنت ئې شيخه تا وَته بخښلی
دَ خوشحال دِ هم دَ يار کوښه جنت وِی

هغه مخ چه ښايسته دَ ننداړو وی[3]
چه ئې وينې دَ هر چا پسی هو هو وی
دَ بلبلو له بلغاک نه دلگير مشه
هغه ځای چه رنگ و بو وی گفتگو وی
که هر ښو ښايسته ډير دی گمان نکړم
چه به بله لکه ته پاکيزه رو وی

---

١. په لوری کيږی.
٢. پټی.
٣. دا بدله له يوې قلمی نسخې ښخه وکښل سوه په نورو کښ نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تور گیسو پر همگی صورت خپاره کړه — چه دِ درست صورت همه دَ مشکو بو وی
زه به سترګی ستا له مخه نه وانخلم — مخامخ که تیر انداز راته یو څو وی
قاصدان ځما دَ اوښیو کښته پورته — همیشه دَ کښلی مخ په جستجو وی
نن چه ته لمانه ځې زړه می خوشحال کړه — یاره ستا وعده به کله دَ راتلو وی
کاتبان به ئې په کومو ګوتو کښینه — غه خبری چه سوځونکی تر لمبو وی
دَ سحر په بلا ته یاد شې اې چرګه! — ستا په بړغ دَ عاشق زړه په پرهرو وی
دَ خوشحال خټک له حاله خبر دار شوی
چه په زړه به ئې دَ عشق داغونه څو وی

هغه څه دَی روغ صورت دی — چه بهتر تر سلطنت دی
دَ دنیا دولت که ښه وی — یَو دولت نه ښه عزت دی
چه ډیر ښه دی تر توقیره — یَو عفت بل صداقت دی
چه سړی له غمه خلاص کا — هغه څه دَی قناعت دی
په طاعت که ته لوئی کړې — حبطه هغه طاعت دی
چه فایده لری بې شماره — هغه څه دی، مصلحت دی
په منت چه ورکول کا — هغه کله سخاوت دی
چه دوږخ دی په دنیا کښې — دَ ناپوه سره صحبت دی
خپل نیت ښه لره خوشحاله
که څه ښه دَی خو ښه نیت دی

هغه یار که په ظاهر له ما جدا دَی — په باطن کښې هر زمان را هویدا دَی
دَ ژوندیو سَرَه ګرزی په علم کښې — خوار عاشق په معشوقه باندی فدا دی
کښت چه وسیځی باران ور باندی مشه — که په خوارو به کرم کړې ساعت دا دی
که ئې غواړم په کوګل کښې مونده نشی — زړه می ولاړ دَ ښایسته وو په سودا دی
خدای به امن دَ هر چا له سترګو وکړه — یو عجب صحبت دَ مینی ابتدا دی
زه به زار کَوم له دلِه نه له یاره — چه په څو په بی پروا باندی شیدا دی
خپله مینه په عاشق باندِی سور اور شوه — چه پرې سیځی خبر دار باندی خدا دی
ګوره څو قرنه کالونه باندِی تیر شوه — چه فرهاد په بې ستون کښې لا صدا دی
زه خوشحال به چا ته څه وایم له حاله
دَ زړه حال دَ مخ په رنګ پوری پیدا دی

هر سړی چه دَ اخلاص په لاری درومی — که هر څو په غرونو درومی نه به نغومی
نومیدی د ښه بادشاه په درګاه نشته — هر سړَی چه خدمت کا نتیجه مومی
د ما زړه دا ټول دلبرو تر میان ورک شو — نوم دَ کوم یوې آخلم چه څه نومی
ښه چه زه په عاشقۍ کښې شهید شوم — پدا لاری کښې څه لبړ ندی لړومی
ما دَ سویو ښکار کاوه هوسۍ می ښکار کړه — د ما رزق به کله تله دَ بل تر کومی
نور دِ صافی پیالې خوری نصیب ئې غم دی
که خوشحال په درد و دوک کښې پیالې شومی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه یار چه له ما لیری په هواد[۱] دی
همیشه راته حاضر دَ زړه په یاد دَی
دَ وصال خوښی ئې هم لا هونبره نده
چه می زړه دَ ده له خیاله سَرَه ښاد دی
بیهوده له یاره زارکوَم وَ چا ته
دَ خپل یار له جوره چا موندیې داد دی
پما واړه چارِی وکړې آشنایی
په ناحق می له بیلتونه نه فریاد دی
چه می هیڅ اثر دَ آه وربانَدِی نشی
دا ناترس خاطر ئې کاڼی که فولاد دی
دَ خطا هوسیِ په بوی دَ نافې ښکار شِی
راته بس دَ هغو زلفو بوی مراد دی
ته چه ما وته ارشادکوې په عشق کښِ
کله غوړ دَ عاشقانو په ارشاد دی
چه په هیځُ توکی د ما له زړه نه نه ځِی
دَ خپل یار دَ مینی څه محکم بنیاد دی
یو زمان ورځنی خلاص نه یم په عمر
په ما خوار باندِی دَ عشق جور معتاد دی
څه عجب ښه بوی راځِی دَ یار له لوریه
نن ځما دَ زړه دمه دَ صبا باد دی
تل ګریوان په اوښیو لوند ساړه آهُونه
چه خوشحال مَین کیده دا ئې هِداد دی

هر خاطر چه نا قرار شِی
قراری ئې په دیدار شی
چه خپل زړه و چا ته ورکا
هغه څه په خواری خوار شی
هسِی سیند لَرم په سترګو
چه جمنا ورته رودبار شی
یَو څه راز لَرم په زړه کښِ
هیڅوک نشته چه راز دار شی
هسی ژاړم له بیلتونه
چه غلیم را سَرَه یار شی
زه هم عار لَرم له خلقه
له دَ خلقو له ما عار شی
واویلا علاج ئې څه کړم
پرهارُونه په پرهار شی
هونبره ډیر پیران شیخان دِی
نشته یَو چه مددګار شی
په بیلتون دَ خندا مخو
دَ خوشحال ژړا آزار شِی

هی هی توبه لتانه ستا له خویه بویه تښَی
د ما خاطر دِ وریت کړ لکه سیخ په لمبو ینښَی
له سترګو ورځیو زلفو له ښو به دی ځان څه وړم
دَ مخ سپایان دِ هسی راته جوړ لښکر زه ګُښَی[۲]
د ما په بخره نیاز دی چه عاشق یم زه به نیازکړم
دَ ناز اسباب می واړه معشوقې وته پریښَیَ
په مخ دَ مهوشانو چه څه خال و خط لیده شی
بلا دَ ځان دَ زړه دی که ئې ګورې ګُښی ګُښَیَ
عاشق په اندیښنوکښِ دَ تازی غُندی نس نغښتی
غافل په بې غمی کښِ دَ سنډه غُندی بد غوښَیَ
بد خواه دِ په قصدکړې دَه خوشحاله ملا محکمه
څه ویره څه اندوه کړې ته هم ورونه یې چابلښَیَ

هر چرته چه ته کښنیې هغه ځای دَګلو باغ شِی
چه درومې په چمن کښِ دَ لاله سینه داغ شِی
چه باد دِ توری زلفی په سپین مخ کاندی پریشانی
دَ مښکو دَ عنبرو بوی پریشان په هر دماغ شِی
په زلفوکښِ دِ ورک د ما زړګی شو مخ څرګند کړه
دَ ورک کالی غوښتنه تل په توره شپه په څراغ شِی
چه ما مزه موندلې ستا دَ شونډو دروغجن یم
که دا مزه به هم مونده دَ میو په ایاغ شِی
پیغام ځما اې باده تر شیدا بلبلو ورو‌ړه
لا شک چه پیدا باغ کښِ دَګل بوی دګل سراغ شِی
یَو دم دَ خوار خوشحال سَرَه ته هم فراغت کښینه

۱. هیواد.
۲. زه ګښ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## چه زړه ئې له دیو ډیرو اندیښنو څه خو فراغ شِی

هوسۍ سترګی لب شکری[1] — په غاښو یی مرغلری
تا به ستایم په څو رنګه — ستا ثنا دَ مخ دلبری
چه جمال وَته دِ ګورم — حیرانیږَم سمنبری
خوی دِ نن را سَرَه نور دَی — دَم واهَه نشِی له ویری
ذکر ستا دَ تنګی خولی دَی — رنګینه  پری پیکری
زړه چه ستا سَرَه یاری کړِی — سلامت به اوسِی چری[2]
شور دِ ګډ کړِ په وَګړِی — صبر وړُونیِ شور و شری
صبر وړې چه له تا دور شِی — طربناکیِ ناز پروری
ظاهر نن له تا جدا یم — عینِ ما ته برابری
قامت سَم لرې تر سرو — کج کلاهی قد عرعری
لیرِی مه درومه له ما نه — مخ په ما کړه مخ قمری
نور به ستا له وره نه ځم — وینا دا ده پرده دری

هر چه ستا رضا هغه کړِی
خوشحال وَینوې په غوری

یا ما زده یا می سترګو چه نن شپه را باندِی تیر دی — یا ما زده یا هغو زده چه وهلی په شمشیر دی
دارو ئې د درد مکړه نه ئې روغ دَ رغیدو دی — چه خود په زړه داړلی دَ خوبا دَ چشمو شیر دی
له درده نه خلاصیږم چه طبیب پسی طلب کړم — ګنه هیڅ کمی ئې نشته طبیبان په جهان ډیر شی
عاشق دِ لا دوخته خپله زیرمه دَ کفن کا — چه تور باڼه ئې غشی و کشتن ورته دلیر دی
عاشق وَته ښکاریږِی لکه مخ په آئینه کښ — دَ شاه دَ جمال نخښی که تر زر نثقَ تیر دی
څه ته و ما ته وایې اې ناصحه چه عشق هیر کړه — چه بې دَ عشق له کاره می نور ټول کارونه هیر دی

خوشحال خټک چه بیا مونده لذت دَ یار دَ شونډُو
و ده وته نور واړه دَ جهان جواړه ګنډهیر دی

یا خو مکړه لیونی سَرَه یاری — یا دَ ګند د پهوړۍ[3] کړه تیاری
چه په نور څه ئې حساب ګڼی هغه زده — زه بې یاره عمر کل ګڼم خواری
چه دَ یار دَ راغلو زیری په ما وکا — تر هغه سرِی به زه شم بلهاری[4]
په خرام کښ د هوسۍ علامت ګوره — دَګزار وار ئې خطا کړِ دَ  ښکاری
ځما حال به و هغه وته معلوم  وِی — چه تمامه شپه بیدار ستورِی شماری
خدای دِ تا په جهان تل لَرِی اې باده — چه ځما دَ یار تر منځ کړې ریباری
معطر دَ شاه دَ زلفو نه را درومی — ستا له بویه نافه ځار شه تاتاری
چه وعده دَ یار دَ وصل نیژدې کیږی — دَ عاشق له زړه نه درومی قراری

که ئی ستا د وروځیو خال په نظر کښیووت
دَ خوشحال شِی نور له غمه ویزاری

---

١. دا بدله په چاپی دیوان کښ نسته.
٢. زړه چی ستا سَرَه یاری کړم — سلامت به اوسم چرِ.
٣. پهوړۍ یا پوهړۍ یعنی بوریا.
٤. محشی ورته قربانی لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یار ځما کړَه دنَنه | زه ئې سر یم په غوښتنه
عجب حال را باندِی پیښ دَی | درومه هیڅ مکړه پوښتنه
دَ وصال په اوبه وَمړی | اور چه ولگی په ینه
که په رنگ کښ زیړ لیده شې | گنگونه یې کرکمنه
کوم ماتم در باندِی پیښ دَی | دَ اختر په ورځ خیرنه

خوشحال تل په غم کښ ښه دَی
غم دِ نه ځِی له غمجنه!

یَو قدم چه په خلاف دَ نفس روان شی | په هغه زمان ولی هغه انسان شی
چه دَ نس په حکم درومی هغه خوار وِی | سړی توب ور ځخه مه غواړه شیطان شی
دا سړی چه فرښته دی هم شیطان دَی | که سړی و خپل عمل ته نگران شی
یو په بد عمل کښ ځِی تحت الثرای ته | بل په ښه عمل کښ پاسه په اسمان شی
دا سړی دی چه په عقل کښ سړی دی | دا سړی دی چه په عقل کښ ددان شی
دا خونونه په ټوپک په توره نشی | دا خونونه چه دَ خلقو په زبان شی
تربیت که دَ باغوان له لاسه مومی | په هر ځای باندِی گلونه دَ بوستان شی
هوا ستا د سَرَه چه کښینی یَو څو ورځی | دَ هغه هنر په ده کښ نمایان شی
دَ نیکانو په صحبت کښ به ښه کیږِی | اولیا له اولیا نه را عیان شی
چه مغلو سَرَه کښیناسته مغل شه | دَ افغان سَرَه که کښینی نور افغان شی

دَ خوشحال سَرَه که کښینی یَو څو کاله
دا دَ غره خټک به واړه شاعران شِی

یا په تخت باندِی بادشاه وَی | یا درویش دَ خانقاه وَی
چه په لار دِی هغه ډیر دِی | یَو څو ما غُندی گمراه وَی
زه هر دم په بسم اللّٰه یَم | که یاران په بسم اللّٰه وَی
چه ئې کار دَ میړه نه دی | هغه نه وَی میړه داه[1] وَی
په شماره می زویه ورک دِی | که یَو څو پکښی واه واه وَی
غاړی غرُونه ځنی ډک دی | سر انجام که دَ سپاه وَی
ابلقی په کار کښ هیڅ وی | یا درست سپین وَی یا سیاه وَی
توره شپه دَه دَ غمونو | دَ ښادیِ صبح گاه وَی

په خوشحال به ئې بد نه وی
که ئې څوک په حال آگاه وَی

لمړی ټوک بشپړ سو

---

۱. محشی ورته وینځه کښلی دی، یعنی خدمتگار.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**